من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (حديث)

جواهر الشاشي

پښتو شرح

اصول الشاشي

من افادات فقيه العصر استاذ العلماء

حضرت مولانا محمد صديق صاحب نور الله مرقده

المعروف با جمير بابا

جمعه و ترتيبه

ماهر الفقه والاصول

حضرت مولانا حسين احمد صاحب مدني

مدير جامعه صديقيه الله آباد چارباغ سوات

تصحيح و تعليق

حضرت مولانا

سيد فضل حق باچا صاحب

مكتبة الاشاعت

محله جنگی پشاور

زير اهتمام

مولوی نقيب الله حنيف

0345-9459209

0300-5875425

دکتاب نوم: جواهر الشاشی شرح اصول الشاشی

مصنف: من افادات فقیه العصر استاذ العلماء
حضرت مولانا محمد صدیق صاحب نور الله مرقده
المعروف باجمیر بابا

جمعه وترتیب: ماهر الفقه والاصول
حضرت مولانا حسین احمد صاحب مدنی
مدرس جامعه صدیقیه الله آباد چهار باغ سوات

تصحیح و تعلیق: حضرت مولانا سید فضل حق باچا صاحب

ناشر: مکتبة الاشاعت
محله جنگی پشاور

د مضامينو فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

د حضرت مولانا سيد فضل الحق (باچا) صاحب مدظله العالي

مقدمة

الحمدلله والصلوٰة على رسول الله ....وبعد

پس دا خبره چه په فنونو أسلاميو او علومو شرعيو كښې أصول الفقه ډير ضرورت او ډير أهميت لري د هيڅ كس نه خفي او پټه نه ده بيا د دے فن د پاره د وخت د تدوين چه په زمانه د تبع التابعين كښې شوى دى تر اوسه د امت علماء ډير خدمت كړے دے الله عزوجل دى د دوئ خدمتونه قبول كړي ـ د دوئ د خدمتونو يو أثر مونږ سره تر اوسه د **أصول الشاشي** په نوم موجود دى چه د مذهب حنفي د أصولو يو آسان عام فهم واضح او مدلل كتاب دى ـ

اګر كه دا كتاب متن دى خو سلاسة او نرمي د شرحي لري د دے وجې نه په مروج منهج (درس نظامي) كښې ورته اهم مقام حاصل دے ـ

علماؤ په خپل وقت كښې په دى ډيرى او مهمى شرحي ليكلى دى په مختلفو ژبو باندى په حاضر دور كښې د **جواهر الشاشي** په نوم په پښتو ژبه د حضرت علامه استاذ العلماء شيخ الفقه والأصول حضرت مولانا محمد صديق (المعروف بأجمير بابا رحمه الله) درسي افادات د **مكتبة الاشاعت** له خوا چاپ شوى دى او بنده عاجز ته د دے سعادت حاصل شو چه دا افادات صفحه صفحه وګورى كله چه مدير د مكتبې مذكورى مولوى نقيب الله صاحب د دے د بيا چاپ كولو اراده وكړه ـ نو يقينا په معاصرو شرحو كښې ما دومره مفيده شرحه نه ده كتلى چه په دغو خصوصياتو مشتمله ده:

۱ـ دا چه د حضرت مولانا محمد صديق (المعروف بأجمير بابا رحمه الله) افادات دى او هغه د معرفت محتاج نه دى نو په ډيرو لطائفو د فقه او أصول فقه باندى مشتمله ده ـ

۲ـ د عبارت اسانه او سليسه ترجمه پكښې ده ـ

۳ـ شرح او حاصل د عبارت په ښه طريقه كوى ـ

٤. تفریعات د فقه دغه رنگ بله شرح کښې نه دی موجود .

٥. بی ضرورته تفصیلات پکښې نشته .

٦. تنها د أصول شاشي نه بلکه د نور الانوار او حسامي مشکلات پکښې حل کيږی . أوداسی نور ....

بیا بنده عاجز د دی لائق نه دی چه د حضرت مولانا محمد صدیق (المعروف بأجمیر بابا رحمه الله) په افاداتو څه زیاتی نکات ولیکی خو د محترم مدیر مکتبه په حکم او د دے د پاره چه په دی ثواب کښی زمونږه شرکت هم وشی نو د ضرورت په مقام کښې مو څه خال خال نکات ولیکل . د نقصان او کوتاهی په ځای کښې د اهل علم رونو څخه د تسامح أمید لرم .

والسلام

سید فضل الحق باچا صاحب

حالا مدرس: جامعه انوار محمدیه هری پور کیمپ نمبر 12

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذى اعلى منزلة المؤمنين بكريم خطابه و رفع درجة العالمين بمعانى كتابه وخص المستنبطين منهم بمزيد الاصابة وثوابه و الصلوة على النبى و اصحابه والسلام على ابى حنيفة واحبابه :

اصول الشاشي دا په فن د اصولو کښې ابتدائي کتاب دے د هر فن په ابتداء کښې لابدى وى د امور ثلاثه و نه غالبا اگرکه بعض حضرات تاسو ته امور سبعه ذکر کوى . يو تعريف د هغه فن چه د فن معرفت وشى ۲ - تعين د موضوع چه د فن موضوع معلومه شى ۳- غرض غايه په هغى ځه مرتبه . دارنگه حکم د هغه فن چه په شريعت کښې حکم ددى فن څه دے . فرض دے ، واجب دے ، سنت دے مستحب دے ، مکروه دے څه دے ؟ . دارنگه تدوين د فن چه په کومه زمانه کښې ددى تدوين شوى وو . او مرتبه د علم چه ددى فن درجه څه ده ؟

او د مصنف حال چه دے دا دکومی زمانی وو ، د کومی طبقی سرے وو دده صفات څه وو چه ددى امورو د وجى نه د کتاب اهميت هم پيدا شو .

اول د علم الاصول تعريف

د علم الاصول دوه تعريفه کوى يو ته حد لقبى وائى (۱) بل ته حد اضافى وائى ددى

---

(۱) - فوائد : ۱- هر علم مرکبه لکه عبد الله ، عبد الرحمن په دے کښې دواړه تعريفونه جارى کيږى .

۲- حد اضافى په مرتبه د منقول عنه کښې وى او حد لقبى په مرتبه د منقول اليه کښې . ددے وجے نه د دواړو ترمينځ وجه د مناسبت ضرورى ده .

۳- فائده اصول الفقه په حد اضافى سره داسے دے لکه عبد الله قبل العلمية او په حد لقبى سره داسے لکه عبد الله بعد العلمية . تدبر . سعيد فضل الحق باچا .

معنیٰ څه ده: حد اضافی معنی دا چه اصول الفقه دا اصول مضاف دے فقه ئی مضاف الیه ده تعریف د مضاف ځانله وکړی شی او تعریف د مضاف الیه ځانله وکړے شی کله چه ددے اجزاؤ معرفت وکړے شو نو خامخا ددے مجموعه معرفت حاصلیږی. حد لقبی معنیٰ دا وی چه ددے مجموعه تعریف وشی ددے دواړو تعریفونه شوی دی حد لقبی د علم الاصول.

علم اصول الفقه څه ته وائی: [هو علم بقواعد لیتوصل بها الی الفقه] - (۱) دا علم دے په یو څو قواعدو باندے چه دغه قواعد انسان زده کړی نو دے په دے وسیله نیسی ددے لپاره وسیله او ذریعه شی معرفت د احکامات جزئیه فرعیه او عملیه وته.

فقه څه ته وائی: احکامات جزئیه فرعیه، عملیه - نو تاسو ته به معلومه شی چه دا حکم په اشارة النص سره ثابت دے یا په عبارة النص سره ثابت دے یا اقتضاء النص دے یا حقیقت دے یا مجاز دے یا صریح دے یا کنایه ده یا ظاهر دے یا نص دے یا خاص دے یا عام دے په یو طریقے سره د دغه طریقو نه تاسو ته معلوم شی نو هو علم بقواعد الخ.

نو بعض حضراتو ددے تعریف کړے دے حد اضافی ددے.

حد اضافی معنی دا چه د مضاف ځانله تعریف وشی او د مضاف الیه ځانله وشی اصول مضاف دی او فقه ئے مضاف الیه ده، نو اصول جمع د اصل ده قانون او قاعده دا وی چه خفاء د جموعو په اعتبار د خفاء د مفرداتو سره وی او وضاحت د جموعو په اعتبار د وضاحت د مفرداتو سره وی نو چه د مفرد وضاحت وشی نو د جمعے وضاحت خپله کیږی نو اصول جمعه د اصل ده او اصل په کنړو معانو باندے راځی یو معنی د اصل: مَا یبتنیٰ علیه الغَیر ته وائی چه غیر پرے بناء وی او دا معنی لغوی ده کله به دا بناء حسی وی او کله غیر حسی وی ګویا کښ دا تقسیم په اعتبار د طرفینو سره دے چه دواړه طرفین حسی وی نو دیته وائی ابتناء حسی او که دواړه طرفین حسی نه وو نو بیا عامه ده او که یو طرف حسی او بل نه وو نو دا ده ابتناء غیر حسی او ددے تعبیر په ابتناء عقلی سره کیږی نو

(۱) - دا تعریف سید شریف جرجانی په تعریفات کښ او بهاری په مسلم الثبوت کښ کړیدے

سید فضل حق

ابتناء دوه قسمه شوه . حسي او عقلي . ابتناء حسي لکه ابتناء د سقف په جدرانو چه دا دیوالونه مبنيٰ علیه دي او دا لپاسه چت پرے مبني دے بناء دے، نو دے جدار ته به اصل ووایو ځکه چت پرے بناء دے نو دا ابتناء حسي ده ځکه دا دواړه د مبصراتو د قبیلے نه دي او کله کله ابتناء غیر حسي راشي ما یبتنی علیه الغیر لکه ابتناء د احکاماتو په دلائلو باندے نو دواړه حسي نه دي او کله به داسي وي چه یو به حسي وي او بل به نه وي لکه ابتناء د واجب الوجود په دے عالم باندے ځکه عالم حسي دے او واجب الوجود خو په نظر نه راځي نو غیر حسي شو نو ابتناء دَ عالم په واجب الوجود باندے یو حسي او بل غیر حسي شو نو دے ته عقلي وائي دا تقسیم په اعتبار د طرفینو سره چه وشو نو په دے سره دفعه د اعتراض اوشوه چه تقسیم د ابتناء دے دوه نوعینو ته دا صحیح نه دے ځکه اقسام ددے لپاره درے پکار دي یو هغه چه طرفین ددے دواړه حِسین وي دویم هغه چه دواړه طرفین حسي نه وي دریم هغه چه یو طرف حسي وي او بل نه وي نو انواع محصله ددے نه درے دي او تا تقسیم د دوه و ته وکړو نو دا صحیح نه دے ؟

نو **جواب** وشو چه یو تحقق /وجود/ثبوت د کل دے او یو رفعه د کل ده تحقق د کل چه کیږي نو په ټولو اجزاؤ سره کیږي او رفعه د کل چه کیږي نو دا په یو جزء سره کیږي که دواړه اجزاء ترے پورته کړے نو هم رفعه د کل وشوه او که یو جزء ترے پورته کړے نو هم رفعه د کل وشوه نو دا تقسیم چه ما کړے دے په اعتبار د طرفینو سره چه یو جزء ترے پورته شي نو هم رفعه د کل وشوه نو ځکه ئے تنوع وشو جزئینو ته بل دغه اعتراض پرے هم دفعه شو چه ستا دا تقسیم د ابتناء حسي او غیر حسي ته دا تقسیم د شي راغے الی نفسه او الی غیره ته او دا نه ده جائز ځکه دا ابتناء خو یو امر اعتباري انتزاعي شي دے په مابین د دوو شیئینو کښ نو دا تقسیم ستا دے دوه شیئینو ته لایصح؟

جواب : دا تقسیم مونږ په اعتبار د طرفینو سره کوو د ابتناء من حیث الابتناء دا تقسیم مونږ نه کوو چه ستا اعتراض وارد شي نو حاصل دا شو چه اصل په معنی د ما یبتنی علیه الغیر سره وي او کله په معنی د قاعدے کلیے سره مستعملیږي لکه تاسو وایئ: (کل فاعل مرفوع، اصل من اصول النحو ای قاعدة من قواعد النحو) دا یوه قاعده ده د

قواعدو د نحو نه کله کله اصل په معنی د راجح سره راځي لکه وائي تاسو : (ان الاصل في الاستعمال الحقيقة ـ معنى ان الراجح في الاستعمال الحقيقة) ـ معنى راجح په استعمال کښې حقیقت دے کله اصل په معنی د مقیس علیه سره او کله قیاس د مایکون وشي په ماکان باندے مثال لکه یو سړی په بیابان کښې روان وی او په لوښي کښې ئے اوبه اوموندلے. ده ته مخبر هم ندے راغلے چه دا اوبه نجسے دی او دده په حضور کښې نجاست هم ندے غورځیدلے او په ده باندے وقت د صلاة راغے نو دے به په دغه اوبو باندے اودس کوی او که نه دے به تیمم کوی نو دے وقت کښې تاسو وایئ: چه (ان الاصل في الماء الطهارة) یعني ما کان په اوبو کښې طهارت وو ﴿ وانزلنا من السماء ماء طهورا ﴾ طهور فعول وزن دے په خپله هم پاکی او غیر لره هم پاکونکی دی نو دلته اصل په اعتبار د ماکان سره تاسو واخستو (۱) چه ماکان په اوبو کښې طهارت وو نو اوس هم دا پاکی دی هلته فقهاء ذکر کوی چه دده لپاره تیمم جائز نه دے بلکه دے به په دغه اوبو اودس وکړی او مونځ به وکړی او کله اصل په معنی د دلیل سره راځي لکه آتوا الزكاة اصل وجوب الزكوة اى دليل وجوب الزكوة، نو اصول چه جمع د اصل شوه نو اصل په معنی د ما یبتنی علیه الغیر سره (۲) اصل په معنی د دلیل سره اصل په معنی د قاعدے کلیه سره اصل په معنی د

---

(۱) – فائده : دیته د اصولو په اصطلاح کښې مستصحب وئیلے شي. سید فضل الحق.

(۲) زده کړه دا خبره چه شارح رحمه الله دلته ښه تحقیق کړے دے. البته أسهل ترتیب دلته دا دے : چه تعریف اضافی د اصول الفقه په دے ترتیب اُوکړو : اصول مضاف او فقه مضاف الیه. اصول جمع د اصل ده په لغت کښې ما یبتنی علیه الغیر سواء کان الابتناء حسیا او عقلیا. مثال د اول لکه ابتناء د سقف په جدرانو یا د جدران په قواعدو او بنیادونو. مثال د ثانی لکه ابتناء د حکم په دلیل.

او اصل په اصطلاح کښې په دغه معانیو سره راځي.

۱ – القاعدة والقانون : كما يقال الاصل ان الفاعل مرفوع

۲ – الراجح : كما يقال الاصل في الكلام الحقيقة.

۳ – الدليل : كما يقال : اصل وجوب الصلاة : اقيموا الصلاة.

٤ – المستصحب. كما يقال : طهارة الماء اصل.

٥ – المقيس عليه. كما ذكر مثاله الشارح. سيد فضل الحق.

راجح سره او اصل په معنی د اعتبار د ماکان سره هم استعمالیږی او کله کله اصل په معنی د مقیس علیه سره هم استعمالیږی روسته په بحث د قیاس کښې به تاسو ته راشی هلته شرائط د قیاس ذکر کوی پنځه شرائط مصنف ذکر کړیدی وائی : [وان لا یکون الاصل مخالفا للقیاس] حکم د مقیس علیه به مخالف د مقتضاء د قیاس نه نه وی بیا د هغې لپاره مثال ذکر کوی چه تعدیت به قائس یعنی مجتهد هغه ځائے کښې کوی چه مقیس علیه کښې دا حکم د قیاس نه مخالف ثابت نه وی که د قیاس نه دا حکم په مقیس علیه کښې مخالف ثابت وو نو دغه تعدیت بیا بره محل فرعی ته نشی کولے ددے لپاره مثال لکه قهقهه چه په مانځه کښې وشوه نو دا ناقض د مانځه لپاره ده او ناقض د اودس هم ده اوس دیکښې یو مقتضیٰ د قیاس ده او بل مقتضیٰ د استحسان ده قیاس تقاضا ددے خبرے کوی چه دده اودس ډے مات نشی ځکه چه نقض د اودس چه راځی نو دا په خروج د نجاست سره راځی د احد السبیلین نه په اتفاق د ائمه اربعه و سره اګرکه امام مالك رحمه الله ورسره د معتاد قید هم لګوی چه خروج د نجاست د احد السبیلین نه په طریقی د معتاد سره او که په طریقے معتادے سره نه وو نو نقض الوضوء نه راځی عند الامام مالك.

بهر حال چه خروج د نجاست دا ناقض دے بالاتفاق او خروج د نجاست د غیر سبیلینو نه ناقض د وضوء دے عند الامام ابی حنیفه رحمه الله که وینه ووتله د بدن نه او که زوه وغیره نو ناقض دے لیکن قهقهه چه یو سړی وکړه نو دا خو خروج د نجاست نه د سبیلینو نه شوے دے او نه غیر د سبیلینو نه نو قیاس تقاضا کوی چه اودس ډے مات نشی لیکن حکم راغے مخالف القیاس چه حدیث دے چه نبی علیه السلام په مسجد نبوی کښې مونځ کولو او روسته عبد الله بن ام مکتوم صحابی رضی الله عنه راغے ړوند وو خپه ئے ونخته او راوغورځیدلو نو صحابو وخندل نبی علیه السلام چه کله مونځ ختم کړو نو صحابو ته ئے وفرمایل : [الا من ضحک منکم فی الصلاة فلیعد الوضوء والصلوة جمیعا] نو مونځ خو ئے مات شو ځکه یو عمل منافی د مانځه سره وشو دا د عقل سره موافق خبره ده لیکن اودس ئے هم مات شو ځکه نبی علیه السلام حکم د اعادے د اودس او د مانځه دواړو وکړه نو دا حکم راغے مخالف القیاس نو ددے تعدیت د دغه محل نه بل

وکړه نو دا حکم راغې مخالف القياس نو ددې تعديت د دغه محل نه بل محل ته مونږ کولې نه شو لکه دا قهقهه يو دون شې دې حد پرې نه لازميږي خو مونږ پرې مات شو نو کوم يو شې چه هغه ددې نه فوق وي چه په هغه سره حد لازميږي نو په هغې سره په طريقه اولیٰ اودس ماتيږي مثلا لکه يو سړي په بل باندې په مانځه کښې تهمت د زنا ولګولو او دده لپاره ګواهان نه وو نو دده لپاره به حد قذف ورکولې کيږي نو دده مونږ خو مات شو ځکه يو منافي شي د مانځه سره وشو ليکن ده چه دا تهمت ولګوو نو دلته مونږ دا حکم کولې شو چه دده اودس هم مات شو چه دا قياس مونږ وکړو چه دې خندا وکړه په مانځه کښې نو دا ناقضه لپاره د اوداسه ده دون شي دې چه حد پرې نه لازميږي او تهمت د زنا خو يو فوق شي دې په هغې حد لازميږي نو په طريقې اولیٰ سره پرې اودس ماتيږي نو دې به اودس کوي نو دا قياس مونږ نشو کولې دا حکم متعدي کوو بره فرعې ته دلته هم نقض الوضوء وکړو ځکه حکم په مقيس عليه کښې مخالف القياس دې او مسئله په شرائطو د قياس کښې دا ده چه وان لايکون الاصل مخالفا للقياس نو هلته اصل په معنی د مقيس عليه سره دې حاصل دا شو چه اصل په معنی د مقيس عليه سره راځي ۔

نو فان اصول الفقه ۔ اصول جمع د اصل ده په قرينې د مقام سره په معنی د ادلو سره ځکه موضوع د علم الاصول ادله دی (ای فان ادلة الفقه) ځکه د اصول اطلاق ادله و باندې هم کيږي نو تعين تاسو ته وشو نو د فقهي معنی تاسو ته وشوه چه علم په هغې احکاماتو شرعيه فرعيه و باندې چه مستنبط وي د ادله تفصيليه و نه يا (معرفة النفس مالها وما عليها) (۱) يا (معرفة الحلال والحرام) نو ديته فقه وائي نو دا ادله د دغه احکاماتو جزئيه فرعيه و دي ۔

(۱) دا تعريف امام ابوحنيفه رحمه الله ته منسوب دې۔ سيد فضل الحق۔

موضوع د علم الاصول

دے کښې دوه مذهبه دي يو مذهب د جمهور اصوليينو دے بل د محققينو دے جمهور وائي : چه موضوع د علم الاصول ادله مع الاحكامات دي ادله هم موضوع ده او احكامات هم دي ځکه موضوع ديته وائي چه ما يبحث فيه عن عوارضه الذاتية او په اصولو کښې د ادله او احکاماتو نه بحث کيږي نو دا موضوع د علم الاصول ده دے باندے مشهور اعتراض دے چه موضوع ډيے ادله هم کړه او احکامات ډيے هم کړه نو قاعده دا ده چه تعدد د موضوع مستلزم وي تعدد د فن لره پکار دا ده چه دا دے دوه فنين شي او حال دا چه دا خو فن واحد دے جواب ذا چه منم دا خبره چه تعدد ذ موضوع مستلزم وي تعدد د فنينو لره خو هله چه محيث په حيثيت واحده سره نه وي او دلته خو محيث په حيثيتِ واحده سره دے په دے شان سره چه موضوع د علم الاصول ادله دي من حيث انه مثبِت (بصيغة الفاعل) موضوع د علم الاصول احكامات دي من حيث انه مثبَت (بصيغة المفعول)، که ته اعتراض وکړے چه دا خو بيا هم شيئين شو په صيغه د اسم فاعل او اسم مفعول سره ترے تعبير کوی نو جواب دا چه دلته ترے نه زه تعبير کوم په مصدر سره چه موضوع د علم الاصول ادله دی او احكامات دي من حيث الاثبات بيا اثبات مصدر دے او مصدر کله مبني للفاعل راځي او کله مبني للمفعول راځي نو نسبت چه ئے کله مونږ ادله وته کوو نو من حيث انه مثبِت به ئے اخلو او نسبت چه ئے کله احکاماتو ته کوو نو من حيث انه مثبَت به ئے اخلو خو من حيث الاثبات نو محيث په حيثيتِ واحده سره شو (۱) نو تعدد پکښې رانغے لکه موضوع د علم منطق چه موصل تصوری او موصل تصديقي دے من حيث الايصال نو هلته هم تعدد رانغے دا مذهب د جمهورو اصوليينو دے۔

---

(۱) فائده : امور کثيره چه محيث شي په حيثيتِ واحده سره نو موضوع حقيقة کښې دا حيثيت واحده مشترکه شي۔ تدبر۔ سيد فضل الحق۔

او د محققینو اصولینو مذهب دا دے چه موضوع د علم الاصول صرف ادله دی نه احکامات، په دوی اعتراض واردیږی چه موضوع ادله شو نو پکار دا ده چه په علم الاصول کښې دِے بیا بحث داحکاماتو ونه شی او حال دا چه لکه څنګه دیکښې بحث د ادله وِنه کیږی نو دغه رنګه بحث دوی د احکاماتو نه کوی احکامات تاسو منقسم کوی دوه نوعینو ته احکامات وضعیه ـ ما یتعلق به احکام الوضع بیا احکامات وضعیه تقسیم کوی څلورو ته او ما یتعلق به احکام الوضع تقسیم کوی څلورو ته نو اته انواع جوړه وی نو بیا ددے نه بحث ولے کوی د محققینو له طرفه جواب دا دے چه کله کله بحث د یو شی نه تبعاً او طرداً کیږی نه اصالةً دلته هم بحث طرداً شوے نه اصالةً نو اصل موضوع د علم په رائے د اصولینو باندے هغه ادله دی بیا په ادله و کښې دوی د کتاب الله، سنت رسول ﷺ، اجماع الامة، او قیاس نه بحث کوی خو په دوی کښې کتاب الله مقدم کوی ځکه دا کتاب الله دے او سنت رسول کلام الرسول دے او اجماع کلام الامت دے نو کلام الله فوق دے د کلام الرسول او کلام الامت نه نو په اجمال کښې ئے هم مقدم کوی او په تفصیل کښې ئے هم مقدم کوی۔

دویم دا چه مشروعیت د سنت معلومیږی د کتاب الله نه او مشرعیت د اجماع معلومیږی د کتاب الله نه لکه قرآن کریم فرمائی : ﴿ اطیعوا الله واطیعوا الرسول ﴾ ﴿وما آتاکم الرسول فخذوه وما نهاکم عنه فانتهوا ﴾۔

اثبات الاجماع من الکتاب : ﴿ ویتبع غیر سبیل المؤمنین ﴾ نو سبیل المؤمنین کښې اجماع ته اشاره ده دارنګه : ﴿کنتم خیر امة اخرجت للناس تأمرون بالمعروف﴾ کښې اجماع ته اشاره ده نو ددے حجتیت معلوم شو د کتاب الله نه

نو ګویا چه کتاب الله مثبِت شو او دا نور اشیاء ثلاثه چه سنت اجماع او قیاس دی دا ورلره مثبَت شو او قانون دا دے چه درجه د مثبِت مقدم وی په مثبَت باندے نو دوی ځکه کتاب الله مقدم کوی په ټولو باندے بیا سنت رسول دوی مقدم کوی په اجماع باندے ځکه سنت رسول کلام الرسول وی او اجماع کلام د مجتهدینو وی کلام الرسول فوق وی د کلام د مجتهدینو نه بیا اجماع دوی مقدم کوی په قیاس ځکه

اجماع د تولو مجتهدینو وی او قیاس د یو فرد وی۔
بلہ دا چہ اجماع یقینی وی او قیاس ظنی وی غالبا نو یقینی مقدم وی پہ ظنی باندے بیا دوی چہ کلہ پہ کتاب اللہ کښ تقسیم کوی نو څلور تقسیمات کوی اول تقسیم کوی بحسب الوضع دویم تقسیم کوی بحسب البیان دریم تقسیم کوی بحسب الاستعمال څلورم تقسیم کوی بحسب الاستدلال ۔ اقسام ماحصلہ ددینہ شل دی اول تقسیم باعتبار الوضع څلور اقسام ددے ذکر کوی خاص، عام، مشترك، مؤول۔
وجہ د حصر پہ دے څلورو کښ دا دہ چہ دا لفظ موضوعہ بہ خالی نہ وی یا بہ واضع وضع کړے وی د واحد المعنی دپارہ او یا بہ واضع وضع کړے وی د متعدد المعنی دپارہ کہ اول وہ بیا بہ خالی نہ وی یا بہ پدے کښ لحاظ د انفراد وی یا بہ نہ وی کہ پدے کښ لحاظ د انفراد وو نو دیتہ خاص وائی او کہ لحاظ د انفراد نہ وو نو دیتہ عام وائی او کہ واضع وضع کړے وو د متعدد المعنی لپارہ نو بیا بہ خالی نہ وی یا بہ ترجیح د بعض معنی پہ بعضو باندے راغلے وی یا بہ نہ وی راغلی کہ ترجیح راغلی وہ نو دیتہ مؤول وائی او کہ نہ وہ راغلے نو دیتہ مشترك وائی ۔ دا شو اول تقسیم ۔
دویم تقسیم بحسب البیان معنی عامہ واخلے بیان بالفعل، بیان بالقوہ د بیان بالفعل لپارہ څلور اقسام دی : ظاہر، نص، مفسر، محکم، د بیان بالقوہ لپارہ څلور اقسام خفی، مجمل، مشکل متشابہ او یا کہ داسے وائے چہ دا څلور اقسام د بیان دی او دا څلور اقسام ئے متقابلات دی ځکہ د اصول الشاشی مصنف ترے نہ تعبیر پہ متقابلات سرہ کړے دے نو څلور اقسام شو د بیان بالفعل لپارہ۔
وجہ د حصر پدے څلورو کښ دا دہ چہ دا لفظ بہ خالی نہ وی چہ کوم ظاہر المراد دے یا بہ ظہور د معنی مرادے د نفس صیغے نہ وی او یا بہ نہ وی او یا داسے ووایہ چہ دا لفظ چہ کوم ظاہر المراد دے دا بہ یا محتمل د تاویل وی یا بہ نہ وی کہ محتمل د تاویل وو نو بیا بہ خالی نہ وی یا بہ دا ظہور د نفس صیغے نہ وی یا بہ دا ظہور د نفس صیغے نہ نہ وی کہ اول وہ دیتہ ظاہر وائی ځکہ د ظاہر تعریف دوی کوی چہ ما ظہر المراد بنفس الصیغۃ ددے مثال لکہ (احل اللہ البیع وحرم الربا یا فانکحوا ما طاب لکم من النساء مثنی

وثلث ورباع) چه د هغې نه جواز د بيع معلومېږي اګر که سوق د کلام ئې لپاره د تفرقې دې په بيان د بيع او ربوا کښې او ددې دويم آيت سوق لپاره د بيان العدد دې اګرچه جواز د نکاح د نفس صيغې نـه معـلـومېږي او که ظهور د معنى مرادې د نفس صيغې نه نه وو بلکه سوق د دغـه کـلام د دغـه معنى لپاره شوې وو نو ديته نص وائي او که محتمل د تاويل نه وو نـو بيا بـه خالي نه وي يا به ديکښې احتمال د نسخ وي يا به نه وي که احتمال د نسخ وو نـو ديتـه مـفسـر وائي او که احتمال د نسخ نه وو نو ديته محکم وائي دا څلور اقسام د بيان بـالـفعل شو او دا څلور اقسام د بيان بالقوه دا دي او يا بل تعبير په متقابلات وکړئ : خفي، مجمل، مشکل متشابه۔

وجه د حصر پـدې څـلـورو کـښې دا ده چه دا خفاء پدې خفي کښې به يا د نفس صيغې د وجې نـه وي يا بـه د نـفس صـيغې دو جې نه نه وي که دا خفاء غير د نفس صيغې د وجې نه راغـلـې وه نـو ديته خفي وائي او که دا خفاء د نفس صيغې د وجې نه راغلې وه نو بيا به خالي نـه وي يا بـه دا خفاء زائله کيږي په تامل بعد الطلب سره يا به نه زائله کيږي که خفاء زائله کيـده پـه تأمل بعد الطلب سره نو ديته مشکل وائي او که نه زائله کيده نو بيا به خالي نه وي يا به د هغې وضاحت له طرفه مُجْمِلُ (بصيغة الفاعل) نه وي يا به نه وي که وضاحت د مُجْمِلُ د طرفه وو نو ديته مجمل وائي او که نه وو نو ديته متشابه وائي۔

څلور انـواع ذکـر کـوي د دريـم تـقسيم بحسب الاستعمال : حقيقت، مجاز، صريح، کـنـايه ـ وجه د حصر پدې څلورو کښې دا ده چه دا لفظ موضوعه مستعمله به خالي نه وي يا بـه دا مستـعـمـل وي پـه مـعنى موضوع له کښې يا به نه وي که مستعمل وو په معنى موضوع له کښې نو ديته حقيقت وائي او که مستعمل په معنى موضوع له کښې نه وو نو ديـتـه مـجاز وائي هر واحد ددې دواړو نه به خالي نه وي يا به په طريقې د وضوح سره وي يا به نه وي که اول وو نو صريح او که ثاني وو نو کنايه۔

نـو وجـه د حـصـر چه په دې طريقې سره بيان شوه نو پدې سره اعتراض دفع شو هغه دا چه په مابين د اقسام د مقسم واحده کښې تباين وي يو قسم د بل قسم سره نه جمع کيږي او دلتـه خـو دا بعض اقسام د بعضې سره جمع کيږي دې کښې خو تباين رانغې نو تاسو د

هغې نه جواب وکړو۔ او حاصل د جواب دا دے چه دا دوه اقسام صریح او کنایه دا په اصل کښ اقسام الاقسام دی یعنی اقسام د حقیقت او د مجاز دی او قسم خو د خپل مقسم سره جمع کیږی دا خو څه مضائقه نه لری۔

اعتراض چه دا اقسام الاقسام شو نو دا خو اقسام ثانویه شو نو که ته اقسام ثانویه ذکر کوی نو دا خو بیا د شلو نه هم زیاتیږی ددے نورو لپاره هم اقسام ثانویه شته هغه بیا ذکر کړه او حال دا دے چه هلته خو تاسو اقسام ثانویه نه ذکر کوی ؟۔

جواب دا دے چه دا اقسام ثانویه دوی ذکر کوی او دا ئے گرځولی دی په شان د اقسام اولیه و باندے د وجے د کثرت تعلق د احکاماتو نه په دوی پورے دا کثیر الابحاث دی ډیر احکامات په دوی پورے متعلق دی په خلاف د نورو اقسامو ثانویه و نه هغه کثیر الابحاث نه دی نو ځکه دوی دا ذکر کوی او د هغه نورو انواعو اقسام ثانویه نه ذکر کوی دا د بعضے اصولینو رائے ده اگر که صاحب د تلویح والا خپله طریقه بدله وی حاصل د هغے دا چه دا اول دوه اقسام چه حقیقت او مجاز دا اقسام د استعمال دی او دا صریح او کنایه دا اقسام د جریان دی نو دا دوه د یو مقسم اقسام شو او دا دوه د بل مقسم اقسام شو نو اوس د یو مقسم اقسام د بل مقسم د اقسامو سره جمع کوه نو دا څه مضائقه نه لری څه باك نه لری خو په دوی دا اعتراض دے چه دا دوه اقسام تا د استعمال واخسته او دا دوه اقسام تا واخسته د جریان نو دا خو منم چه دا بعضے اقسام د بعضے سره جمع کوه څه نقصان نه کوی خو بل نقصان دے وکړو چه خرق اجماع دی وکړه اجماع منعقد ده په دے چه تقسیمات په کتاب الله کښ اربعه دی او ستا په تقسیم کښ خمسه شو نو جواب دا چه تقسیمات خمسه نه دی بلکه اربعه دی په دے شان سره چه دا استعمال او جریان الفاظ مترادفه معنی ئے واحده ده نو رجعه ئے شی واحد ته کیږی یعنی کله چه نسبت ئے فاعل ته وکړے نو دیته استعمال وائی او چه نسبت ئے مفعول ته وکړے نو دیته جریان وائی۔

نو تقسیمات اربعه پاتے شو او د فرق اعتباری د وجے نه بعض اقسام د بعض سره جمع کوی نو دا څه مضائقه نه لری، باك نه لری۔

څلورم تقسیم په اعتبار د استدلال سره اقسام ماحصله څلور دی۔ عبارة النص،

اشارة النص، دلالة النص، اقتضاء النص.

وجه د حصر پدې څلورو کښې دا ده چه دا مستدِل به خالي نه وي يا به دا مستدِل استدلال کوي د کلام منطوق نه يا به ئې د کلام منطوقه نه نه کوي که د کلام منطوق نه ئې کوو بيا به خالي نه وي يا به ئې سوق شوي وي يا به ئې نه وي شوي که سوق وو نو دا د دوي په اصطلاح کښې مسمى دې په عبارة النص سره او که سوق نه وو نو دا د دوي په اصطلاح کښې مسمىٰ دې په اشارة النص سره او که استدلال د مستدِل په مفهوم سره وو نو دغه معنى به يا مفهومه لغةً وي يا به مفهومه لغةً نه وي که اول وه نو دا دلالة النص او که ثاني وه اقتضاء النص نو دا څلورم تقسيم شو کله چه دا تقسيمات ذکر کړې نو ددې نه روسته به تاسو ته احکامات ذکر کوي دوه نوعين و ته احکامات وضعيه ما يتعلق به احکامات الوضعيه يو ته احکامات وضعيه وائي ما يتعلق به احکامات الوضعيه احکامات وضعيه تقسيم کوي دوو ته عزيمت، او رخصت ته.

د عزيمت لپاره څلور انواع دي: فرض، واجب، سنت، مستحب، او د رخصت لپاره هم څلور انواع دي: رخصت حقيقي، او مجازي هر واحد ددې نه احق او اکمل ما يتعلق به احکام الوضعيه څلور انواع ددې ذکر کوي علل دي، اسباب دي، شرائط دي، او علامات دي نو دا تقسيمات په کتاب الله کښې څلور کوي بيا به احکامات ذکر کړي بيا به بحث د سنت ذکر کړي، سنت درې قسمه دي خبر مشهور، خبر متواتر، خبر واحد.

د خبر مشهور او خبر متواتر تعريفات به صرف وکړي نو د مزيد تحقيق نه کوي څکه هغه خو مفيد لپاره د علم يقيني دي البته خبر واحد لپاره به شرائط ذکر کوي ثمانيه. د څلورو شرائطو تعلق د راوي سره دې او د څلورو شرائطو تعلق د مروي عنه سره دې رويت سره دا اته شرائط به ذکر کړي په خبر واحد کښې بيا به درته ذکر کړي چه کله خبر واحد مخالف د قياس نه راشي نو آيا دلته به مونږ مقتضىٰ د قياس مقدم اخلو او که خبر واحد به مقدم اخلو نو ديکښې يوه رائے د امام مالكؒ ده او بله رائے د امام ابو حنيفةؒ ده امام مالكؒ تقديم د قياس وائي په خبر واحد باندې او امام ابو حنيفةؒ تقديم د خبر واحد وائي په قياس باندې روسته د هغې نه اجماع متنوع کوي دوه نوعينو ته يو اجماع مرکب او بل اجماع

غیر مرکب بحث د قیاس بیا ذکرکوی او ددے لپارہ شرائط اربعہ ذکر کوی دا د ټول کتاب خلاصہ شوہ ۔

غرض او غایہ

پہ دے څہ مرتب دہ نو غایہ پہ دے ملکہ د استنباط راپیدا کول چہ سړے دا قواعد زدہ کړی نو پہ ھغے کښې بہ ملکہ د استنباط راپیدا شی چہ دا حکم پہ څہ سرہ ثابت دے پہ دلالۃ النص سرہ ثابت دے او کہ پہ اشارۃ النص سرہ یا دا حقیقت دے یا مجاز دے دا دے غرض او غایہ دہ ۔

احوال د مصنف :

دا د متقدمینو نہ دے صوفی عالم وو حنفی المذھب ددہ خپلہ نسخہ پہ کتب خانہ آصفیہ دھلی کښې دا موجودہ دہ پہ ھغے کښې دے خپل نوم ندے لیکلے بعض حضراتو ددے تحقیق کړے دے چہ ددہ خپل نوم اسحاق بن ابراھیم الشاشی السمرقندی دے د سمرقند اوسیدونکے دے لیکن مولانا عبد الحیؒ پہ الفوائد البھیہ کښې پہ دے خبرہ رد کړے دے ھغہ وائی چہ ددہ اصل نوم نظام الدین الشاشی السمرقندی دے شاش ددہ د کلی نوم دے پہ سمرقند کښې پہ کتاب باندے ئے نوم نہ لیکلو وجہ دا وہ چہ دہ شهرت نہ خوښہ وو نو ددے وجے ئے پہ خپل کتاب نوم ندے لیکلے دا خو روستہ علماؤ تحقیق کړے دے چہ ددہ څہ نوم دے نو اصح قول دا دے چہ ددہ نوم نظام الدین الشاشی دے ۔

د اصول الشاشی پہ اول ھم نظام الدین الشاشی لیکلے شوے دے ۔

اوس حکم ددے علم دا فرض کفایہ دے چہ بعضے خلک ئے زدہ کړی نو دے سرہ د نورو غاړہ بری کیږی ۔

رتبہ او مرتبہ:

د فن د موضوع نہ معلومیږی چہ موضوع د فن ادلہ او احکامات دی نو حد بہ حد رتبہ د فن اوچتہ دہ ۔

تدوين (۱)

ددے په کومه زمانه کښې شوے دے نو مدوّن اول د فقه لپاره امام ابوحنيفةؒ وو او د فقه تدوين بغير د اصولو نه دا ممکن نه وو نو ددے تدوين هم په زمانه د امام ابوحنيفةؒ کښې شوے دے نو د فقه تدوين او د اصول الفقه تدوين په زمانه د امام ابوحنيفةؒ کښې شوے دے.

بسم الله الرحمن الرحيم

مصنف رحمه الله د خپل کتاب شروع په بسم الله سره وکړه د وجو هاتو اربعو نه کوم چه په ابتدائي کتابونو کښې ذکر کيږي يو چه موافقت راشي د کتاب الله سره دويم چه موافقت راشي د کتب د سلفو صالحينو سره دريم چه رد راشي په هغه مشرکينو باندے چه هغوی به شروع کوله په اسم د لات ، منات، عزیٰ باندے نو ده شروع وکړه په اسم د الله، رحمن، رحيم باندے.

څلورم چه عمل راشي په هغه حديث باندے چه کل امر ذي بال لم يبدأ فيه ببسم الله فهو اقطع.

ثانياً مصنف دا شروع وکړه په حمد باندے د وجے د وجوه ثلاثه و نه يو موافقت د کتاب الله سره دويم د وجے د موافقت د کتب د سلف صالحينو سره. دريم د وجے د موافقت د هغه حديث سره چه کل امر ذي بال لم يبدأ بحمد الله فهو اجزم. دلته لفظ د اجزم راغلے او بسم الله کښې لفظ د اقطع دواړه الفاظ مترادف معنی واحده ده کوم کار چه په حمد د الله شروع نشي نو هغه کارے برکته وي په هغے کښې خير نه وي.

---

(۱) فائده : بعض علماء د فقه د تدوين نسبت امام محمد بن الحسن الشيباني رحمه الله ته کوی او د اصول الفقه د تدوين نسبت دده شاګرد امام شافعي رحمه الله ته. سيد فضل الحق.

بیا مشهور اعتراض دا دے چه ابتداء ته په بسم الله وائے نو صحیح ده خو ابتداء په حمد باندے رانغله نو عمل کوم ځائے په حدیث راغے چه کل امر ذی بال لم یبدأ بحمد الله فهو اجزم ۔ بعض حضراتو ددے نه جواب داسے کړے دے چه ابتداء دوه قسمه ده ۔ یو ابتداء حقیقی ده او بل ابتداء اضافی چه عرفی ورته وائی۔

نو حدیث د بسم الله مونږ حمل کوو په ابتداء حقیقی باندے چه په مقصود او غیر مقصود باندے مقدم وی او حمد مونږ حمل کوو په ابتداء اضافی باندے چه د مقصود نه مقدم وی اګرکه د غیر مقصود نه مؤخر شی نو څه مضائقه نه لری۔

خو اصل جواب چه عکس مونږ نه کوو چه بسم الله مونږ حمل کوو په ابتداء اضافی باندے او حمد مونږ حمل کوو په ابتداء حقیقی باندے ۔ (۱) بسم الله مونږه حمل کوو په ابتداء حقیقی باندے نو عمل په حدیث د حمد باندے هم راځی ځکه چه حمد نه مقصود اظهار د صفاتو د کمال د باری تعالی دے هغه په بسم الله کښ وشو او که عکس وشی نو بیا په حدیث د بسم الله باندے عمل نه راځی نو ځکه مونږ حدیث د بسم الله حمل کوو په ابتداء حقیقی او حدیث د حمد حمل کوو په ابتداء اضافی باندے۔

خو اصل جواب ددے نه صاحب د مرقات ملاعلی قاری رحمه الله کړے امام نووی متصل سند حدیث نقل کړے دے چه الفاظ ئے دا دی : کل اُمر ذی بال لم یبدأ بذکر الله فهو اجزم نو ذکر د الله تعالی عام دے برابره خبره ده که په صورت د بسمِ الله کښ وی او که په صورت د حمد کښ وی او که په بل صورت سره وی نو دلته کښ مقصود ذکر د الله دے هغه په حمد سره هم وشو او په بسم الله سره هم وشو الحمد لله جنس حمد جنس حامد نه په جنس زمانه کښ ثابت مختص دے الله لره ۔

﴿ الذی اعلی منزلة المؤمنین ﴾ هغه الله چه اوچته کړے ئے ده مرتبه د مؤمنانو ﴿ بکریم خطابه ﴾ ۔ په استعانت د خطابِ کریمه خپل سره یا په سبب د

(۱) فائده : په حمد کښ ابتداء حقیقی نه ده جائز ځکه لازم به شی خلاف الاجماع فتدبر۔ سید فضل الحق۔

امتثال د خطابِ کریمه د الله سره ـ دلته کښ درے ترجمے دی ۱ – اوله ترجمه: هغه حمد چه الله ویلی دی په نفس خپل په ازل کښ اظهار د عجز ترے نه کړے دے نبی علیه السلام پدے الفاظو سره [لا احصی ثناء علیک انت کما اثنیت علی نفسک] دغه حمد ثابت مختص دے الله لره۔

۲ – دویمه معنی : تمام حمدونه ثابت مختص دی الله لره ـ دا درے معانی چه مونږ اوکړے نو دا په اعتبار د الف لامو سره تاسو ته معلوم ده چه الف لام په دوه قسمه دی الف لام اسمی، او الف لام حرفی ـ الف لام اسمی داخلیږی په اسم فاعل او اسم مفعول باندے اتفاقی مسئله ده او په صفت مشبه باندے خو دیکښ اختلاف دے بعض وائی چه کوم الف لام په صفت مشبه باندے داخل شی نو الف اسمی دی او بعض وائی چه نه حرفی دی او الف لام حرفی دیته وائی چه مدخول ئی (۱) اسم فاعل او اسم مفعول صفت مشبه نه وی نو دلته مدخول حمد وو مصدر وو نو الف حرفی شو دا الف لام حرفی څلور قسمه دی

۱ – الف لام جنسی۔ (۲) ۲ – استغراقی ۳ – عهد ذهنی ٤ – عهد خارجی۔

چه جنسی واخلے نو دلته مونږ معنی وکړه چه جنس حمد د جنس حامد نه په جنس زمانه کښ جنس حمد دا د الف لام جنسی و نه معلوم شو د جنس حامد نه تعمیم په حامد کښ وشو د وجے د نه ذکر کولو د یو حامد خاص نه او په جنس زمانه کښ تعمیم په زمانه کښ وشو د وجے د جملے اسمیے نه څکه چه جمله اسمیه دلالت کوی په دوام او استمرار باندے جمله اسمیه دلالت کوی په دوام او استمرار باندے ددے مطلب دا دے چه د جملے اسمیے نه مونږ قصد او اراده کوو د استمرار نو دا قصد او اراده ترے نه صحیح کیږی په خلاف د جملے فعلی نه چه ددینه مونږ قصد او اراده د دوام او استمرار کوو نو ددے جملی

---

(۱) فائده : په دے کښ اشکال شته فتدبر۔ جواب : د شارح خبره په غالب بناء ده۔ سید فضل حق۔

(۲) فائده : چه په الحمد لله کښ الف لام د جنس دپاره شو نو دا به قضیه طبعیه یا مهمله قدمائیه شی او که عهد خارجی شی نو قضیه شخصیه ده او که استغراقی شی نو محصوره موجبه کلیه شوه۔ فتدبر۔ سید۔

فعلی نه نه صحیح کیږی دا قصد او اراده د دوام او استمرار ۔

او یا الف لام پدے کښې داخلے عهدی معهود په دے سره خاص حمد داخلے هغه حمد چه د هغے نه اظهار د عجز تریے نه نبی علیه السلام کړے دے په دے الفاظو سره چه لا احصی ثناء علیك انت کما اثنیت علیٰ نفسك دغه حمد ثابت مختص دے الله لره الف لام شو عهدی یا الف لام داخلے استغراقی نو تمام حمدونه برابره خبره ده چه که په مقابله د کسب کښې وی او که په مقابله د خلق کښې وی دا ټول ثابت مختص دی الله لره کوم تعریفات چه هغه د مخلوق کیږی نو هغه هم د وجے د اقدار نه کیږی الله ورلره قدرت ورکړے دے په هغه صفاتو باندے۔

بکریم خطابه کښې اضافت د کریم خطابه ته شویدے دا د قبیلے د جرد قطیفة نه دے دا په اصل کښې قطیفة جرد وو، موصوف صفت وو ترکیب توصیفی وو بیا عدول وکړے شو د ترکیب توصیفی نه ترکیب اضافی ته پدے شان سره چه اضافت د جرد اوشو قطیفة ته (څادر د وړئ) دارنګه بکریم خطابه هم په اصل کښې ترکیب توصیفی وو (اعلیٰ درجة المؤمنین بخطابه الکریم) وو نو عدول ئے وکړو د ترکیب توصیفی نه ترکیب اضافی ته په دے شان سره چه اضافت د کریم ئے اوکړو خطاب ته دپاره د تخصیص د مومنانو په خطاب کریمه د الله سره ۔

نو بیا اعتراض دا شو چه ترکیب توصیفی وو نو د هغے نه ئے عدول ولے وکړو ترکیب اضافی ته او ترکیب اضافی تریے جوړ شو ؟ ۔ جواب : ددے لپاره به تاسو نکتے ذکر کړی یو مقصود پدے سره کریم والے دے دا اهتمام د کرامت د وجے نه ورنه نفس خطاب خود کفارو سره هم دی دارنګه د مشرکینو سره هم وی خو خطاب کریمه خو ندے او د مومنانو سره چه کوم خطاب دے نو دا خطاب کریمه دے نو ددے وجے ئے تریے ترکیب اضافی جوړ کړه۔ دویم لحاظ د سجعی وشو عبارت روسته چه ذکر کوی ۔

﴿ ورفع درجة العالمین بمعانی کتابه وخص المستنبطین منهم بمزید الاصابة وثوابه ﴾ : کله کله په عبارت کښې لحاظ د فواصلو کیږی او کله پکښې د سجع کیږی لکه په قرآن کریم کښې چه لحاظ د فواصلو شوے دے الله تعالیٰ

فرمائي : الرحمن علی العرش استوىٰ نو علی العرش جار مجرور دے متعلق په استوىٰ پورے دے اصل کښې ترکیب دارنګه دے الرحمن استوىٰ علی العرش لیکن دلته جار مجرور مقدم شو لحاظ د فاصلي شوے دے او دلته لحاظ د سجعي وشو نو ځکه عدول وشو مرکب اضافي ته۔

بکریم خطابه کښې دا باء دیکښې دوه احتماله دي یو احتمال دا چه دا باء لپاره د استعانت شي نو مونږ معنی دا وکړه چه حمد ثابت دے الله لره هغه الله چه پورته کړے ئې ده مرتبه د مومنانو په استعانت د خطابِ کریمه خپل سره چه دا ورلره سبب لپاره د علو (وچتوالي) د مومنانو جوړ شو۔

دویم احتمال دا چه دا باء سببیه شي نو معنی به دا شي چه اوچته کړے ئې ده مرتبه د مومنانو په سبب د خطابِ کریمه خپل سره او خطاب کریمه خو خطاب د الله دے هغه څنګه سبب د علو (اوچتوالي) د مومنانو وګرځیدلو تاسو به د هغے نه جواب وکړئ چه دلته په عبارت کښې تقدیر دے ای بسبب امتثال کریم خطابه په سبب د امتثال د خطابِ کریمه دباری تعالی سره دا مومنان ولګیدل او د الله خطاب کریمه چه وو د هغے امتثال ئې وکړه د هغه اتباع ئې وکړه هغه ئې ومنه نو دا سبب جوړ شو لپاره د وچتوالي د مرتبے د مومنین۔

﴿ ورفع درجةِ العالمين بمعاني كتابه ﴾ : پورته کړے ئې ده درجه د علماؤ چه هغه عالمین دي په معاني د کتاب د الله باندے یا په سبب د فهم د معانیو د کتاب د الله سره دلته رفع صیغه ئې صحیح نه ذکر کړه او هلته ئې صیغه د ناقصو نه ذکر کړے وه چه اعلی وو اشاره ئې وکړه لګ دون والي (کموالے) درجے د عامو مومنانو ته او وچتوالي د درجے د علماؤ ته چه ددے وجے نه هلته ئې لفظ د (منزلة) استعمال کړه او دلته ئې لفظ د (درجة) استعمال کړو ځکه درجه د درج نه ماخوذ دے او درج صعود ته ویلے شي۔

اعلی منزلة المومنين : صله د هغے محذوف ده مومنین په څه وي ای مومنین په کتاب د الله مومنین په الله باندے مومنین په رسول باندے کله کله د شهرت د وجے نه د تعمیم د وجے نه د مفعول ذکر نه کوي د صلے ذکر نه کوي نو دلته هم لفظ د الله او د رسول ذکر نه شو۔ ورفع درجة العالمين بمعاني كتابه : کښې دا جار مجرور یا خو دا متعلق دی

په عالمین پورے نو چه دا عالمین دی په معانی د کتاب د الله باندے یا د ابمعانی متعلق دے رفع پورے دا لپاسه میم غوندے چه شوے دے دے کښ تعلق ته اشاره ده چه ددے تعلق ددے مخکښ رفع پورے دے نو بیا معنی دا شوه چه پورته کړے ئے ده مرتبه د علماؤ په سبب د معانیو د کتاب د الله سره نو معانی د کتاب خو د کتاب معانی شو دا څنګه سبب د رفعے د علماؤ وګرځیدل ؟ نو تاسو به د هغے نه جواب وکړئ چه دلته په عبارت کښ تقدیر دے نو تقدیر دارنګه شو چه په سبب د فهم د کتاب د الله سره چه دے علماؤ فهم د کتاب د الله وکړه نو دا ورلره سبب د وچتوالی د درجے شو بیا په دوی کښ چه څوك عالم وی په فهم د معانی و د کتاب باندے نو دا نور علوم چه واخلے په طریقه اولیٰ سره به هغوی په دے عالمین وی یا په دے کښ تعریض دے دے خبرے ته چه کوم عالم نحوی محض وی یا صرفی محض وی نو په حقیقت کښ دے عالم ندے عالم به هغه وی چه فهم د کتاب لری نو هغه ته عالم ویلے شی نو دا خو په منزله د یو کسب په شان لکه دا نور کسبونه چه انسان زده کوی هان کوم سړے چه عالم نحوی وی او فهم ئے په کتاب الله سره وی یا عالم صرفی وی او فهم ئے په کتاب الله سره وی یا عالم منطقی وی او فهم ئے په کتاب الله سره وی نو د دوی په اصطلاح کښ دیته عالم وائی۔

﴿ **وخص المستنبطین** ﴾ دا عطف دے په مخکښ اعلی باندے ای هغه الله چه هغه خاص کړی مستنبطینو لره دلته صیغه د مضاعف ئے مختاره کړه اشاره ئے وکړه تضاعف د اجر د مجتهدینو ته څکه چه اګرکه مجتهد خطاء شی نو د هغه لپاره د هغه د اجتهاد اجر او ثواب شته او کله که دے مصیب وی نو دیته دوه اجره ملاویږی ۔

﴿ **منهم بمزید الاصابة** ﴾ ۔ ددے عامو علماؤ نه په سبب د زیادت اصابت د دوی حق ته څکه دا عام علماء چه واخلے نو هغوی خو په ظاهری عبارت سره حکم معلوموی لم او تحقیق او تفتیش خو نه کوی او دا مستنبطین چه دی نو دوی د هغے علت او لم معلوم کړی چه ددے حکم علت څه دے ؟ نو دغه منصوص نه واخله غیر منصوص کښ هغه حکم ثابت کړی نو زیادت اصابت د دوی حق ته شو څکه حکم هم معلوم شو او علت هم معلوم شو او د عامو علماؤ خو حکم معلوم کړو د ظاهری نص نه ۔

﴿ **والصلاة علی النبی** ﴾ دأب د مصنفینو دا وی چه چونکه الله په انتهائی درجه د تنزه کښې دے او مخلوق په درجه د تکدر کښې دی نو مینځ کښې یوه واسطه داسے پکار شوه چه د دغه واسطے تعلق د خالق سره هم وی او د مخلوق سره هم وی نو دا ندی مگر انبیاء علیهم السلام دی نو د مصنفینو دأب دا وی چه دوی درود لیږی په انبیاء باندے ای افاضه د خیر دِے وی په نبی علیه السلام باندے ۔ صلاة ډیرے معانی دی کله په معنی د رحمت سره کله په معنی د استغفار سره کله په معنی د دعا سره کله په معنی د تسبیح او تهلیل سره دا معانی بدلیږی رابدلیږی په اعتبار د منسوب الیه سره نسبت ئے کله الله ته وشی او کله ئے نسبت وحوش او طیورو ته وشی او کله ئے نسبت فرشتو ته وشی او کله ئے نسبت انسانانو ته وشی نو د هریو معنی بدله رابدله شی نو دلته کښې عموم مجاز واخلے نو عموم مشترك دے دا د احنافو په نیز جائز ندے او عموم د مجاز جائز دے عموم د مجاز معنی دا چه مونږ یوه ثالثه معنی واخلو معنی حقیقی او معنی مجازی فردین ادعائین وگرځو د معنی ثالثے لپاره تولو ته دا شامله شی نو دلته د صلاة معنی دا چه افاضه د خیر دِے وی دا په ضمن د دعا کښې وی که په ضمن د استغفار کښې وی او که په ضمن د تسبیح او تهلیل کښې وی او که په ضمن د رحمت کښې وی تولو ته شامله شوه ۔

ای افاضه د خیر دِے وی په نبی علیه السلام باندے لفظ د نبی ئے مختاره کړو د وجے د کتاب الله نه چه قرآن فرمائی : یا ایها النبی لم تحرم ما احل الله لك ۔ هلته کښې خطاب په نبی سره شوے دے ۔

دارنگه ان الله وملائکته یصلون علی النبی نو هلته هم لفظ د نبی ذکر شوے دے نو دلته هم مصنف لفظ د نبی ذکر کړه د وجے د اتباع د کتاب الله نه بیا لفظ د نبی او لفظ د رسول بعضے حضرات وائی چه الفاظ مترادفه معنی واحد او بعض فرق کوی نبی خاص وی او رسول عام وی د بشر نه وی او که د غیر بشر نه وی په یوه معنی سره چه واخلے رسول خاص دے چه د هغه سره کتاب شریعت متجدد وی او نبی عام دے چه د هغه سره کتاب متجدد او شریعتِ متجدده وی او که نه وی صاحب د هدایه هم هلته ترادف ته اشاره کړے ده چه وبعث رسلا وانبیاء لفظ د رُسل او د انبیاؤ دواړه ئے ذکر کړی دی ترادف ته

اشاره ده دا فرق صاحب کشاف کړے دے او د هغه متبعین فرق کوی۔

﴿ **واصحابه** ﴾ او په اصحابو د نبی باندے صلاة ویل مستقل په اصحابو باندے ندے جائز البته بالتبع جائز دے لکه والصلوة علی النبی وابی بکر والصلاة علی النبی وعمر ۔ نو دا صلاة بالتبع جائز وی او ابتداء بغیر د پیغمبر نه په بل چا نه دے جائز چه الصلاة علی ابی بکر وغیره۔ پاتے شو لفظ د سلام۔

﴿ **والسلام علی ابی حنیفة واحبابه** ﴾ سلامتیا د آفاتو د دارینو دِے وی په امام ابوحنیفةؒ او په احبابو د هغے باندے ۔ د سلام اطلاق مستقلا په غیر د نبی نه په بل چا هم جائز دے دا به تاسو ته په کنز اخیر په اخیر بحث مسائل شتی کښې راشی لفظ د صلاة لفظ د سلام لفظ د رضی ددے استعمال طریقے چه د چا په حق کښې ددے استعمال جائز دے او د چا په حق کښې ندے جائز نو هلته به تاسو ته ذکر کړی چه لفظ د سلام مستقلا بغیر د نبی نه استعمالوی نو جائز دی نو ځکه مصنف لفظ د سلام ههنا مستعمل کړه دامام ابوحنیفةؒ لپاره چونکه دا حنفی عالم دےاو بل مدوِن اول د فقهے لپاره امام ابوحنیفةؒ وو نو ځکه ئے تخصیص د هغه وکړه په ذکر سره او وے وئیل چه سلام دِے وی په امام ابوحنیفةؒ او په احبابو د هغه۔

احباب ئے تلامذه او شیوخ د امام ابوحنیفةؒ دی دارنګه د هغه اقران، هم عصری دی په دے ټولو دِے سلامتیا وی د آفاتونه دنیوی هم، اخروی هم ۔

﴿ **وبعد فان اصول الفقه اربعة کتاب الله وسنة رسوله واجماع الامة** ﴾ :

پس د جملو ثلاثو نه مخکښې درے جملے ذکر شوے بسم الله ذکر شوه حمد ذکر شو صلاة ذکر شو ددے جملو ثلاثو نه بعد فان اصول الفقه اربعة (یقیناً ادله د فقهے څلور دی) کتاب الله سنت رسول، اجماع الامة، قیاس ۔

﴿ **فلا بد من البحث فی کل واحد من هذه الاقسام** ﴾ : پس لابدی ده د بحث او د تلاش نه د هر واحد ددے اقسام مذکوره و نه دا ددے لپاره چه ﴿ **لیعلم بذلك طریق تخریج الاحکام** ﴾ چه معلوم شی په دے سره طریقه د استنباط د احکاماتو چه د حکم فرعی د استنباط طریقه معلومه شی چه آیا دا د کتاب الله په کوم یو نوعی سره ددے

حکم استنباط کوو په عبارت سره ئے کوو، په اشاره سره ئے کوو په دلالت سره ئے کوو الخ۔

تحقیق : ...... بعد : د ظروفو زمانیه و د قبیلے نه دے او لازم الاضافت دے مضاف الیه ددے کله مذکور وی او کله محذوف وی دا محذوف کله منوی وی او کله نسیاً منسیاً وی کله چه محذوف منوی وی نو دا بیا مبنی علی الضمه وی نو دلته هم محذوف منوی دے ماقبل کښ درے جملے ذکر شوے چه بسم الله، حمد ،صلاة دی نو دا ورله محذوف په حذف منوی سره وگرځیده نو مبنی علی الضمه شو ۔

فان اصول الفقه الخ : په دے کلمه د فاء باندے مشهور اعتراض دے هغه دا چه کله دا فاء راځی لپاره د شرط یعنی په جزاء د شرط کښ راځی او کله راځی لپاره د تعلیل یعنی مدخول ددے به علت وی لپاره د ماقبل یا معلول وی او کله فاء تفصیلیه وی ماقبل کښ اجمال وی نو مابعد د فاء تفصیل وی لپاره د ماقبل ۔ نو دلته خو یوه هم نه صحیح کیږی ؟ نو حاصل د اعتراض دا چه ذکر کول د مصنف فاء لره دلته صحیح نه دی ؟ جواب دا چه دلته دا بناء دے په تقدیر د امّا باندے ای اما بعد فان اصول الفقه الخ ۔

بعض حضرات جواب کوی چه دا بناء په توهم د اما چه مصنف ته توهم د اما پیدا شو چه ما مخکښ اما ویلے دے نو ځکه ئے کلمه د اما وویله لیکن دا جوابونه کمزوری دی ځکه دے چه د اوس نه توهمات شروع کړی نو چه صرف بعد ئے ذکر کړه او وهم ورته راغے چه ما اما ویلے ده یا نه ده ویلے نو ځکه ئے فاء ذکر کړه نو دا خو مونږ ته روسته اصول الشاشی پرته ده په هغے کښ به دا خو مره توهمات کوی نو دا خو مونږ ته تول کتاب شکی شو نو اصل جواب (۱) دا چه دیته فاء زائده تنبیهیه ویلے کیږی یعنی دا کلمه د بعد خو لازم الاضافت ده نو واهم به وهم کولو چه دا مابعد جمله به مضاف الیه ددے بعد لپاره وی حال دا دے چه امر خو دارنګه نه وو ددے توهم د ختمولو لپاره ئے فاء ذکر کړه چه د اما بعد مضاف الیه د بعد لپاره نه دے او حصرئے د فاء په انواعو کښ ضروری نه دے چه

(۱) فائده : بنه جواب د لاهوری وغیره محققینو دے چه بعد ظرف جاری مجری الشرط دے۔ د قبیلے د واذ لم یهتدوا به فسیقولون آه۔ نه دے۔ سید فضل حق

خامخا دِے فاء په جزاء او شرط کښې واقع شي يا دِے تفصيليه وي بعد الاجمال يا دِے تعليليه وي دا خو څه لازمي خبره نه ده نو کله کله دا فاء زائده لپاره د تنبيه راځي لکه دلته فان اصول الفقه اربعة ۔يعني ادله د فقهے څلور دي۔

دا ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه دے اصول الفقه اسم د ان دے اربعه ورلره خبر دے خو ظاهر کښې اعتراض په ماتن باندے راځي چه اصول الفقه اسم د ان شو او اربعه ئے خبر شو نو قاعده دا ده چه خبر د ان حمل وي په اسم د ان باندے او دلته حمل نه صحيح کيږي ځکه چه اربعه متعدد دي نو حمل د متعدد راغے په اصول الفقه باندے چه مفرد دے وذلك لايجوز او دا اصول مفرد ولے دے ځکه چه اصول فعول وزن دے دا د اوزانِ مفرده و د قبيلے نه دے لکه جلوس، قعود چه فعول اوزان دي او مفرد دي نو اصول الفقه مفرد شوه او اربعة متعدد شو تاسو به د هغے نه جواب وکړئ چه منم دا خبره چه اصول فعول وزن دے خو دا دِے نه منم چه دا د اوزانِ مختصه د مفرداتو نه دے لکه څرنګه چه دا په اوزان مفرده کښې مستعمليږي نو دارنګه په اوزان جموع کښې هم مستعمليږي لکه قبور وزن فعول دے، زروع وزن فعول دے او جمع د قبر او د زرع ده نو فعول وزن مشترك بين المفرد والجمع دے نو اصول جمع شو او حمل د متعدد راغے په متعدد باندے نو اعتراض وارد نشو بيا اصول مضاف دے او الفقه ئے مضاف اِليه دے ددے تحقيق مخکښې ذکر شوے دے د اصول الفقه او د فقه دواړو۔

اصول جمع د اصل ده او د اصل ګنړے معاني دي كما مرّ في التعريف ۔

سوال : جميع معاني د اصل خو دلته اراده کولے نشي ځکه چه دا لفظ مشترك دے که جميع معاني ترينه اراده کړے شي نو بيا عموم د مشترك لازميږي او دا خو باطل دے او که يوه معنى ترينه اراده کړو نو بيا ترجيح بلا مرجح لازميږي ؟ ۔

جواب : دلته مراد د اصول نه ادله دي او قرينه مرجحه پرے شته چه موضوع د علم اصول ادله دي نو اصطلاح د اصولينو قرينه مرجحه ده دپاره ددے چه مراد دلته د اصول نه ادله دي ۔ معنى دا شوه : فان ادلة الفقه اربعة ۔

فقه : الاحكامات الجزئية المستنبطة من ادلة تفصيلية) ته وائي او بعض د فقه تعريف

کوی په معرفة النفس ما لها و ما علیها) سره او بعض حضرات د فقه تعریف کوی په معرفة الحلال والحرام) سره ۔

نو د اصول او فقه مضاف مضاف الیه دواړو تعریفونه معلوم شول اګرکه دلته د اصول فقه نه مراد حدِ لقبی دے او حد لقبی د اصول فقه دا دے : [هو علم بقواعد یتوصل بها الی الفقه کما مرّ ۔

﴿ **کتاب الله وسنة رسوله الخ** ﴾ : اصول د فقه اربعه دی کتاب الله، سنت د رسول الله ﷺ او اجماع د امت او قیاس دی ۔

په اعراب د کتاب الله کښ دوه احتماله دی (۱) چه کتاب مرفوع دے بناء بر بدلیت د اربعه نه او د بدل او مبدل منه اعراب یو وی نو اربعه خو مرفوع وو بناء بر خبریت نو کتاب الله هم مرفوع شو ۔ (۲) یا مرفوع دے بناء بر خبریت دپاره د مبتداء مقدرے تقدیر د عبارت دارنګه شو احدها کتاب الله وثانیها سنة رسول الله وثالثها اجماع الامة ورابعها القیاس ۔

(۳) یا کتاب الله وسنه رسوله الخ څلور واړه منصوب دی بناء بر مفعولیت دپاره د فعل محذوف تقدیر د عبارت به دارنګه شی : اعنی کتاب الله واعنی سنة رسوله واعنی اجماع الامة واعنی القیاس ۔ او په ټه کښ ضمیر اصول الفقه اربعة ته راجع دے ۔

سوال : کتاب الله دلته تاسو مثبت ګرځولیدے دپاره د احکامتو او جمیع کتاب الله خو مثبت للاحکامات ندے ځکه کتاب الله مشتمل دے په مواعظو، قصصو، امثالو وعد او وعید او ادله سره نو داټول خو مثبت ندی دپاره د احکامو د شرع ؟ ۔

جواب : دلته مراد د کتاب الله نه جمیع کتاب الله ندے بلکه بعض کتاب الله مراد دے چه هغه (۵۰۰) آیاتونه دی صاحب د نور الانوار دا (۵۰۰) واړه آیات په خپل تفسیر احمدی کښ راجمع کړی دی ۔

وسنة رسوله : ۔ دارنګه مراد د سنت رسول نه هم بعض سنت دی چه هغه تقریبا (۳۰۰۰) احادیث دی خو دا حصر استقرائی دے تتبع په دے (۳۰۰۰) احادیثو کښ شویده که د چا تتبع د دینه سوا شی او نور احادیث هم مثبت للاحکام پیدا کړی نو څه مضائقه نشته دے دلته حصر عقلی نه دے چه عقل دِے مجوز د قسم آخر نه وی بلکه حصر

استقرائی دے او په حصر استقرائی کښې عقل مجوز د قسم آخر وی۔

﴿اجماع الامة﴾ : **سوال** وارديږی په ماتن باندے چه پکار ده عبارت ئے په نمط واحده باندے ذکر کړے وے او والاجماع ئے وئیلے وے د اضافت د اجماع امت ته ولے اوکړو؟۔

جواب : چه اضافت د اجماع ئے کړيده امت ته پديکښې اشاره ده دے خبرے ته چه اجماع ددے امت دليل ده او اجماع د امم سابقه و دليل نه وو، دا امتياز ددے امت دے کچرے ماتن والاجماع مطلق ذکر کړے وے نو واهم به وهم کولو چه اجماع د امم سابقينو به هم دليل وی په شان د امت محمدی ﷺ والامر ليس كذلك۔

دويم جواب : دا دے چه ماتن رد کړے دے په هغه چا چه هغوی قائل دی په تخصيص باندے بعض حضرات وائی چه اجماع د اهل مدينه حجت دے او دا قول منسوب دے امام مالك رحمه الله ته او دے دليل نيسی پدے قول د نبی ﷺ چه فرمائی : ان المدينة كا الكير ينفی خبثها كما ينفی الكير خبث الحديد ۔

ترجمه : مدينه په شان د بنئ د هنګر (لوهار) ده لرے کوی خيرے زنګ لکه څنګه چه بنئ د انګر زنګ د وسپنی لرے کوی نو لهذا چه اهل مدينه په کوم يو حکم حادثه اتفاق اوکړو نو هغه به حجت وی او اجماع د غير به حجت نه وی۔

بعض وائی : چه اجماع د اصحاب کرامو حجت ده د غير اصحابو حجت نه ده دوی استدلال نيسی پدے قول د نبی کريم ﷺ چه الصحابة كلهم عدول۔

بعض وائی : چه اجماع د اهل (خاندان) د نبی ﷺ حجت دے د غير اهل اجماع حجت ندے اګر که اصحاب کرام وی۔

دوی استدلال پدے حديث د نبی ﷺ سره نيسی چه فرمائی : [انی تركت فيكم الثقلين لن تضلوا ما تمسكتم بهما كتاب الله وعترتی] ما په تاسو کښې دوه مضبوط شيونه پريخودی دی هيچرے به ګمراه نه شئ تاسو تر څو چه منګولے لګوی تاسو په هغے کتاب د الله دے او ځما عترت دے نو مصنف رد وکړو په دے باندے چه اجماع د ټول امت دليل دے ځکه کوم نصوص چه دلالت کوی په حجيت د اجماع باندے نو هغه مطلق دی " ويتبع غير سبيل المؤمنين " ۔ کښې اجماع ته اشاره ده۔

دارنگه کنتم خیر امة اخرجت للناس تأمرون بالمعروف وتنهون عن المنکر په دے کښ اجماع ته اشاره ده دارنگه لن یجتمع امتی علی الضلالة (الحدیث) نو دا ټول نصوص عام دی ټول امت ته شامل دی او تاسو چه کوم لائل ذکر کړو نو دا فضائل جزئیه دی او دارنګه دا فضائل جزئیه دلالت نه کوی چه ګنے قول د غیر دے معتبر نه وی دا فضائل جزئیه په نفی د ماعدا دلالت نه کوی ۔

لکه څنګه چه صاحب مشکاة په اخیره کښ د خاص خاص اصحابو فضائل جزئیه ذکر کړی دی نو هغه نفی د ما عدا نه کوی ۔

﴿**والقیاس**﴾ : هغه قیاس دے چه مستنبط وی علت د هغه ددے دلائل ثلاثه و مذکوره و نه صاحب حسامی په قیاس کښ قید لګولے دے چه والقیاس المستنبط من هذه الاصول ۔ په دے باندے دا اعتراض واردیږی چه داسے قیاس چه د هغے علت هم د کتاب الله نه ثابت وی او هم د سنت نه او هم د اجماع نه نو دداسے قیاس خو نظیر نشته نو د هغه نه جواب دا دے چه دلته عبارت په حذف د مضاف سره دے چه المستنبطة علتها من احد هذه الاصول ۔ یا به ئے علت مستنبط وی د کتاب الله نه یا د سنت رسول الله نه او یا د اجماع نه صاحب د نور الانوار به ددے امثله در وخائی ۔

سوال : په ماتن واردیږی چه پکار ده دا لره چه ده هم پشان د حسامی د قیاس سره قید د المستنبط من هذه الاصول لګولے وے ؟ ۔

جواب : چه مصنف په قیاس باندے الف لام عهدی داخل کړی دی او پدے سره هغه معهود قیاس مراد دے چه قیاس اصولی دی او قیاس اصولی نه وی مګر مستنبط وی علت د هغے من هذه الاصول وکل متکلم یتکلم باصطلاحه ۔ اګرکه د قیاس دپاره انواع متعدد دی چه قیاس منطقی، قیاس شبهی او قیاس اصولی ۔ او صاحب د حسامی چه د قیاس سر قید د المستنبطة لګولے دے نو هغه ئے دپاره د اخراج د ماورا لګولے دے چه قیاس شبهی او لغوی او منطقی ترینه خارج شی ۔

﴿**فلا بد من البحث فی کل واحد**﴾ : پس لابدی ده د تفتیش نه په هر واحد ددے اقسامو اربعه و کښ چه معلوم شی پدے بحث سره طریقه د استنباط د احکاماتو ۔

تخریج الاحکام: لفظ د تخریج یا په معنی د استنباط سره دے نو تقدیر د عبارت دارنګه شو لیعلم بذلك طریق استنباط الاحکام او تخریج په معنی د تفریع سره دے معنی دا شوه ددے دپاره چه معلوم شی پدے بحث سره طریقه د تفریع د احکاماتو۔

﴿ المبحث الاول فی کتاب الله ﴾ بحث په لغت کښ تفتیش ته وائی او په اصطلاح (۱) کښ مقابلة المتخاصمین لاظهار الحق ته وائیٰ۔ په مناظره کښ هم بحث وی د متخاصمینو دپاره د اظهار حق۔ دلته د بحث نه معنی لغوی مراد ده۔

سوال: تفصیل کښ ئے کتاب الله ولے مقدم کړو په باقی ادله ؤ باندے۔

جواب: ځکه کتاب الله په اجمال کښ مقدم کړو دپاره ددے چه تفصیل موافق شی د اجمال سره ځکه چه اجمال او تفصیل خو کلام واحد وی صرف فرق په اجمال او تفصیل کښ وی۔ **سوال:** په اجمال کښ ډے کتاب الله ولے مقدم کړے وو په باقی ادله ؤ باندے؟۔

جواب: ځکه چه کتاب الله کلام د الله تعالی دے نو ځکه ئے مقدم کړو یا ځکه چه حجیت د سنت او د اجماع او د قیاس دا معلومیږی د کتاب الله نه نو ګویا چه کتاب الله په منزله د مثبِت (بصیغة الفاعل) دے او ادله ثلاثه مثبَت (بصیغة المفعول) دی او مرتبه د مثبِت مقدم وی په مثبَت باندے۔

اطیعوا الله واطیعوا الرسول۔ ددینه حجیت د سنت ثابت شو دارنګه وما آتاکم الرسول فخذوه الخ ددینه حجیت د سنت ثابتیږی دارنګه کنتم خیر امة اخرجت الخ او ویتبع غیر سبیل المؤمنین الخ دا مثبت دی دپاره د حجیت د اجماع۔ دارنګه فاعتبروا یا اولی الابصار دا مثبتْ دے دپاره د حجیت د قیاس ځکه اعتبار رد الشئ الی النظیر ته وائی او په قیاس کښ هم رد الشئ الی النظیر وی په نور الانوار کښ به ددے تفصیل راشی چه پدے آیاتونو کښ قرآن د امم سابقه و عقوبات او حالات ذکر کړیدی او روسته وائی:

---

(۱) فائده: د بحث اصطلاحی معنی سید شریف جرجانیؒ داسے ذکر کړیده: هو اثبات النسبة الایجابیة او السلبیة بین الامرین۔ او ددے نه هم مختصر تعریف دا دی: اثبات المحمولات للموضوعات او د شرح تعریف د مباحثه دی فتدبر سید فضل الحق۔

فاعتبروا یا اولی الابصار که پتاسو کښې هم دغه خصلتونه موجود شي نو د کوم عقوبت چه هغوی مستحق شوی وو نو د هغې به تاسو هم مستحق شئ نو قیاس کښې هم دا وی چه مقیس قیاس کړے په مقیس علیه باندے د وجے د علت مشترکه نه نو کوم حکم چه د مقیس علیه دے نو هغه په مقیس کښې هم ثابت شي۔

وجه د حصر پدے ادله اربعه کښې دا ده چه دا ځلور دی چه دا مثبت د حکم شرعي دپاره دا به خالي نه وی یا به وحي وی او یا به غیر وحي وی که وحي وه نو یا به متلو (جلي) یا به غیر متلو (خفي) وی که جلي وه نو دا د دوی په اصطلاح کښې مسمی ده په کتاب الله سره او که خفي وه نو دا د دوی په اصطلاح کښې مسمی ده په سنت سره او که دا مثبت د حکم شرعي غیر وحي وه نو بیا به خالي نه وی یا به کلام د جمیع مجتهدینو وی او یا به نه وی که اول وو نو اجماع او که ثاني وو نو قیاس۔

سوال: حصر پدے اربعه و کښې صحیح نه دے ځکه چه مثبت د احکام شرعیه و دپاره ادله اربعه نور هم شته چه یو د هغې نه قول د اصحابو دے دویم شرائع د من قبلنا دارنګه استصحاب۔ او ځلورم استحسان پدے باندے هم اثبات د حکم شرعي کیږی نو ستاسو حصر صحیح نه شو په اربعه کښې؟۔

جواب: چه قول د صحابي به خالي نه وی یا به معقول المعنی وی او یا به غیر معقول المعنی وی که معقول وی نو په قیاس کښې داخل دے او که غیر معقول وو نو په سنت کښې داخل دے نو مستقل ذکر کولو ته حاجت رانغي لکه قول د عائشه په باره د الوانو د حیض کښې چه ما سوی د بیاض خالص نه نور ټول رنګونه د حیض دی نو پدے کښې عقل دپاره دخله نشته دا محمول دی په سماع باندے چه دے به د نبي علیه السلام نه اوریدلي وی۔

او شرائع د من قبلنا به خالي نه وی یا به ددے بیان کتاب الله کړے وی او یا به رسول الله ﷺ کړے وی که بیان ئے کتاب الله کړے وو نو بیا به خالي نه وی یا به په طریقے د رد او انکار سره وی یا به نه وی که په طریقے د رد او انکار سره وو نو دا خو بیا دلیل نه دے او که په طریقے د رد او انکار سره نه وو نو دا په کتاب الله کښې داخل دے مستقل ذکر ته ئے ضرورت نشته او یا به بیان د شرائع د من قبلنا سنت ذکر کړی وی نو بیا به خالي نه وی یا به ئے بیان

پـه طریقه د رد او انکار سره وی او یا به نه وی که په طریقه د رد او انکار سره وی نو دا خو بیا دلیـل نـه دے او کـه په طریقه د رد او انکار سره نه وو نو دا بیا په سنت کښې داخل دی او یا په مثبتاتو کښې سنت ذکر کړے دے ۔

او د استـصحاب نه **جواب** دا دے چه استـصحاب حجت عندنا ندے دا مثبت د حکم شرعی دے عـنـد الشـافـعـی ۔ البتـه مونږ په استصحاب باندے صرف ترجیح ثابتوو دا د مـرجحاتو نه دے۔او د استحسان نه **جواب** دا دے چه دا داخل دے په قیاس کښې قیاس دوه قسمه دے یو دے قیاس جلی او بل دے قیاس خفی او قیاس خفی استحسان دے۔

اصول الفقه اربعة : سـوال : تـاسو ادله دلتـه اربعه ذکر کړه کتاب الله، سنت رسول الله، اجـمـاع، او قیاس او استـحسـان مـو ذکـر نـکړو حالانکه چه استحسان هم دلیل دے حکم شرعی پرے ثابتیږی په شان د قیاس ؟ جواب : چه استحسان نوعه د قیاس ده قیاس په دوه قسـمه دے قیاس جلی او قیاس خفی د قیاس جلی نه اصولین تعبیر کوی په قیاس سره او د قیـاس خـفـی نه تعبیر کوی په استحسان سره نو دا داخل دے په قیاس کښې مستقلا ذکر ته ئے حاجت پاتے نه شو ۔

په کتاب الله کښې تقسیمات اربعه :

په کتاب الله کښې تقسیمات اربعه دی او اقسام ماحصله ددے اربعه و نه عشرین دی ۔

اول تـقسیـم د کتـاب الله پـه حسـب د وضـع سره دے ۔ دویم تقسیم بحسب البیان دے۔ دریـم تـقسیـم بـحسـب الاستـعـمـال دے، او څـلـورم تقسیم بحسب الاستدلال دے کله کله اصـولین نسبت استدلال ته کوی او کله کله نسبت وقوف ته کوی د وقوف نه مراد وقوف د مجتهد دے۔

اول تقسیم بـحسـب الـوضـع دے ځکه وضع د استدلال او د بیان او استعمال درے واړو نه مقدمه وی ځکه استعمال او بیان او استدلال پس د وضع نه کیږی نو ځکه دلته تقسیم د کتاب الله بحسب الوضع مقدم کوی اقسام ماحصله د کتاب الله نه باعتبار الوضع څلور دی

خاص، عام، مشترك، مؤول ۔ **وجه د حصر** په دے اربعه وكښې دا ده چه دا لفظ موضوعه به خالي نه وي يا به واضع وضع كړے وي د واحد المعنى دپاره او يا به واضع وضع كړے وي د متعدد المعنى دپاره كه وضع كړے شوے وو د واحد المعنى دپاره نو بيا به خالي نه وي يا به پكښې لحاظ د انفراد وي او يا به پكښې نه وي كه لحاظ د انفراد پكښې وو نو دا د دوي په اصطلاح كښې مسمي دے په خاص سره او كه لحاظ په كښې د انفراد نه وو نو دا د دوي په اصطلاح كښې مسمىٰ دے په عام سره او كه واضع وضع كړے وو د متعدد المعنى دپاره نو بيا به خالي نه وي يا به ترجيح د بعض معنى په بعض معنى باندے راغلے وي او يا به نه وي كه ترجيح د بعض معنى په بعضو باندے راغلي وي نو دا مسمىٰ دے د دوي په اصطلاح كښې مسمي دے په مؤول سره او كه ترجيح د بعض معنى په بعض نه وه راغلے نو دا مسمىٰ دے د دوي په اصطلاح كښې په مشترك سره ۔

دويم تقسيم بحسب البيان دے د هغے دپاره اقسام ماحصله بالفعل څلور دي : ظاهر، نص، مفسر، محكم او د بيان بالقوه دپاره هم څلور احكام دي د هغے نه دوي تعبير كوي په متقابلاتو سره هغه خفي، مشكل، مجمل، متشابه دي ۔

د بيان بالفعل په څلور اقسامو كښې **وجه د حصر** دا ده چه دا لفظ موضوعه ظاهر المراد به خالي نه وي يا به محتمل د تاويل وي او يا به نه وي كه محتمل د تاويل وو نو بيا به خالي نه وي يا به ظهور د معنى مراد د نفس صيغے نه وي او يا به ظهور د معنى مراد دے د نفس صيغے نه نه وي كه اول وو نو دا د دوي په اصطلاح كښې مسمىٰ دے په ظاهر سره او كه ثاني وو نو دا د دوي په اصطلاح كښې مسمىٰ دے په نص سره، كچرے محتمل د تاويل نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به په كښې احتمال د نسخ وي او يا به نه وي كه احتمال د نسخ په كښې وو نو دا د دوي په اصطلاح كښې مسمىٰ دے په مفسر سره او كه احتمال په كښې د نسخ نه وو نو دا د دوي په اصطلاح كښې مسمىٰ دے په محكم سره ۔

څلور اقسام د بيان بالقوة دي چه ديته متقابلات وائي **وجه د حصر** په څلورو كښې دا ده چه دا خفي به خالي نه وي يا به په دے كښې خفاء د وجے د امر عارض نه وي غير د صيغے د خفي نه او يا به دا خفاء د نفس صيغے د خفي د وجے نه وي كه دا خفاء د امر عارض غير د

صیغے د خفی د وجے نه وه نو دا د دوی په اصطلاح کښې مسمیٰ دے په خفی سره او که دا خفاء د نفس صیغے د وجے نه وه نو بیا به خالی نه وی یا به ازاله د خفاء په تأمل بعد الطلب سره ممکن وی او یا به نه وی که ازاله د خفاء په تأمل بعد الطلب سره ممکن وه نو دا مسمیٰ کولے شی په اصطلاح د دوی کښې په مشکل سره او که ازاله د خفاء په تأمل بعد الطلب سره ممکن نه وه نو بیا به خالی نه وی یا ئے توقع د بیان د جانبه د متکلم نه وی په دنیا کښې یا به نه وی که توقع د بیان ئے د جانبه د متکلم نه په دنیا کښې وه نو دا د دوی په اصطلاح کښې مسمیٰ دے په مجمل سره او که توقع د بیان ئے د جانبه د متکلم نه په دنیا کښې نه وه نو دا مسمیٰ دے د دوی په اصطلاح کښې په متشابه سره ۔

دا متشابه به کله داسے وی چه معنی لغوی به ئے معلومه وی خو معنی مراده به ئے معلومه نه وی او کله به داسے وی چه معنی لغوی او معنی مراده دواړه به ئے معلومے نه وی دا به یو سِر وی په مینځ د الله او د رسول کښې ۔

۳- **دریم تقسیم** په کتاب الله کښې اصولین په اعتبار د استعمال سره کوی د دوی اقسام ما حصله هم څلور دی : حقیقت، مجاز، صریح، کنایه ۔

وجه د حصر په دے څلورو کښې دا ده چه دا لفظ موضوعه مستعمله به خالی نه وی یا به مستعمل وی په خپل معنی موضوع له کښې او یا به مستعمل نه وی په خپل معنی موضوع له کښې که مستعمل وو په خپله معنی موضوع له کښې نو دا مسمی دے د دوی په اصطلاح کښې په حقیقت سره او که مستعمل په خپله معنی موضوع له کښې نه وو نو دیته بیا مجاز وائی هر واحد ددے دواړو نه به یا په طریقے د وضوح سره وی او یا به په طریقے د وضوح سره نه وی که په طریقے د وضوح سره وی نو دا مسمیٰ کولے شی د دوی په اصطلاح کښې په صریح سره او که په طریقے د وضوح سره نه وی نو دا مسمیٰ کولے شی د دوی په اصطلاح کښې په کنایه سره ۔

دا صریح او کنایه په نفس الامر کښې اقسام الاقسام شول ځکه چه په مابین د اقسامو د مقسم واحد کښې تباین وی بعض اقسام د بعضو اقسامو سره نه جمع کیږی دلته کښې صریح د حقیقت سره او کنایه د مجاز سره جمع کیږی نو دا اقسام د مقسم واحده نه شول

بلکه دا اقسام الاقسام شو دیته اقسام ثانویه هم وائی ۔

بیا پدے باندے **اعتراض** دے چه دا اقسام ثانویه په دے تقسیماتو کښ نه شی ذکر کیدلے نو دلته ډے ولے ذکر کړه ؟۔ **جواب** دا دے : چه د وجے د کثرت د تعلق د احکاماتو نه په دوی پورے دا کثیر الابحاث دی نو دا گرځیدلی دی په شان د اقسام اولیه وو نو که دا د خپل مقسم سره جمع شی نو څه مضائقه نه لری ۔

٤- څلورم تقسیم بحسب الاستدلال دے یا باعتبار ما به الوقوف سره او د وقوف نه مراد وقوف د مجتهد دے ددے هم څلور اقسام دی ۔

عبارة النص، اشارة النص، دلالة النص او اقتضاء النص

وجه د حصر په دے اربعه و کښ دا ده چه دا مستدل به خالی نه وی یا به استدلال نیسی د کلام منطوق نه او یا به استدلال نیسی د کلام غیر منطوق (مفهوم) نه که استدلال ئے کولو د کلام منطوق نه نو بیا به خالی نه وی یا به سوق د کلام شوے وی ددے معنی دپاره او یا به نه وی شوے که سوق د کلام دے معنی دپاره شوے وو نو دا مسمیٰ کولے شی د دوی په اصطلاح کښ په عبارة النص سره او که سوق د کلام نه وو شوے ددے معنی دپاره نو دا مسمیٰ کولے شی په اصطلاح د دوی کښ په اشارة النص سره ۔

او که دا استدلال مستدِل د کلام غیر منطوق نه کوه (یعنی د معنی مفهوم نه ئے کوه) نو دغه معنی به یا مفهوم مه لغةً وی او یا به مفهوم مه عقلًا او شرعاً وی که دا معنی مفهوم مه لغةً وه نو دا مسمیٰ کولے شی د دوی په اصطلاح کښ په دلالة النص سره او که دا معنی مفهوم مه عقلا او شرعا وه نو دا د دوی په اصطلاح کښ مسمیٰ دے په اقتضاء النص سره۔

د اقتضاء النص دویم تعبیر : جعل د غیر منطوق په حکم د منطوق باندے لتصحیح المنطوق دا تقسیمات اربعه شول او اقسام ماحصله ترینه عشرین شول ۔

□□□□□□□□

المبحث الاول فی کتاب الله :

دا تقسیم د کتاب الله دے بحسب الوضع چه : خاص، عام، مشترك، مؤول دی ـ

اعتراض : په مصنف باندے واردیږی چه ده لره پکار وه چه اول ئے تعریف د کتاب الله کړے وے نو روسته به ئے تقسیم کوه ځکه تقسیم فرع د تعریف ده اول تعریف پکار دے او روسته تقسیم پکار دے او که بغیر د تقسیم نه تعریف اوشی نو دا تقسیم دے په مجهول کښ او تقسیم په مجهول کښ خو جائز نه دے ؟ ـ

جواب : دا دے چه کله کله د یو شی ترك د شهرت د وجے نه کیږی دلته مصنف ترك د تعریف د کتاب الله د وجے د شهرت نه کړے دے تعریف د کتاب الله دا دے :

هو القرآن المنزل علی رسول الله ﷺ المکتوب فی المصاحف المنقول عنه نقلاً متواتراً بلا شبهةٍ "

یا بل تعریف ئے دا دے : **المجموعة بین الدفتین** ـ چه اول ئے فاتحه او آخرئے سورت ناس دے نو پدے معنی سره خو تعریف د کتاب الله هر واحد ته معلوم دے ـ

او دا تقسیم فی المجهول نه دے بلکه معرفت د کتاب الله حاصل دے بوجهٍ مّا او دا کافی دے د تقسیم دپاره ـ

۲ـ **دویم جواب** دا دے چه مقصود اصلی د کتاب الله نه تقسیم دے او تقسیم هم اصل مقصود نه دے بلکه ددینه اقسام معلومیږی او اقسام هم بالذات مقصود نه وی بلکه ددینه احکام ثابتیږی نو مقصود بالذات احکام وی او د احکامو دپاره اقسام ...... او تقسیمات (۱) حاصلیږی د اقسامو نه دا ولره سبب دے نو دوی ځکه بحث د اقسامو نه کوی ـ

---

(۱) بلکه اقسام حاصلیږی د تقسیماتو نه او تقسیم سبب دے او اقسام مسبب دی ـ فتدبر ـ سید فضل الحق ـ

﴿ فصل فی الخاص والعام ﴾

فصل کائن دے په اقسامو د خاص او عام کښې۔

خاص او عام ئے دواړه په یو فصل کښې ذکر کړه د دوه وجو نه اول دا چه دا دواړه اقسام د واحد المعنی دی دویمه وجه دا ده چه لکه څنګه خاص قطعی دے نو دارنګه عام هم قطعی دے په قطعیت کښې علی السویه دی نو ځکه ئے په فصل واحد کښې ذکر کړیدی۔

په ماتن باندے په ظاهر کښې مشهور اعتراض واردیږی چه فصل مظروف دے او فی ظرفیه دے او خاص او عام ئے ظرف دی او حال دا دے چه فصل خو ظرف دپاره د خاص او عام نه دی بلکه خاص او عام فی فصل دی فصل ظرف دے او خاص او عام ورلره مظروف دی نو ظرفیت د خاص عام د فصل دپاره صحیح نه دے ؟

جواب: ددینه محشی کړیدے چه ظرف په دوه قسمه دے، ظرف حقیقی او ظرف مجازی۔

ظرف حقیقی په دوه قسمه دے ظرف زمان او ظرف مکان نو دا خو نه ظرف زمان دے او نه ظرف مکان دے او دویم قسم ظرف مجازی دے او ظرف مجازی اشتمال ته وائی (۱) نو دلته هم ظرف مجازی دے چه دا فصل مشتمل دے په بیان د خاص او د عام باندے۔

د قبیلے د زید فی النعمه نه دے دلته دا معنی نه ده چه زید مظروف دے او نعمت ورلره ظرف دے بلکه نعمت مشتمل دے په زید باندے دا ظرف مجازی دے۔

سوال: خاص ئے ولے مقدم کړو په عام باندے ؟

جواب: دا دے چه په خاص کښې لحاظ د انفراد دے او په عام کښې لحاظ د عموم او د شمول دے لحاظ د انفراد په کښې نشته او منفرد مقدم وی په عموم او شمول مشتمل باندے۔

دویم جواب: دا دے چه حکم د خاص قطعی دے بالاتفاق او حکم د عام قطعی دے بالاختلاف عند الاحناف حکم د عام قطعی الثبوت دے او عند الشافعی حکم د عام ظنی الثبوت دے نو ځکه ئے خاص مقدم کړیدے چه اتفاقی واجب التقدیم وی په اختلافی باندے۔

---

(۱) فائده: دلته تسامح ده ځکه اشتمال معنی د ظرفیت مجازی ده نۀ د ظرف. فتدبر. سعد

﴿فالخاص لفظ وضع لمعنی معلوم او لمسمی معلوم علی الانفراد﴾

خاص د خصوص نه ماخوذ دے او خصوص په لغت کښې انفراد ته وائی او خاص اصطلاحی ته هم ځکه خاص وائی چه په دے کښې لحاظ د انفراد دے او خاص په اصطلاح د اصولینو کښې هغه لفظ دے چه وضع کړے شویدے دپاره د یو عرض (قائم بالغیر) چه **هغه معلوم المراد دے او یا معلوم البیان دے**

او لمسمی معلوم او دا دپاره د یو عین (جوهر قائم بالذات) چه هغه معلوم المراد او **معلوم البیان وی په طریقے د انفراد سره۔**

دویمه معنی دا ده چه فالخاص لفظ خاص هغه لفظ دے چه وضع کړے شوے وی دپاره د یو معنی (مفهوم، مدلول، مسمی) معلوم دپاره دا الفاظ مترادفه معنی ئے واحده ده۔

او لمسمی معلوم : اویا د مسمی معلومی دپاره دا معنی چه مونږ اوکړه نو په دے سره دفع د اعتراض اوشوه چه کوم په متن د ماتن باندے واردیده کما مر۔

لفظ په منزله د جنس دے او روسته قیودئے په منزله د فصولو دی دپاره د اخراج د غیر نو تعریف جامع مانع شو۔ لفظ عام دے موضوع او مهمل دواړو ته شامل دے۔

وضع چه ئے اووئیل نو دا فصل اول دے پدے سره ترینه لفظ مهمل خارج شو خو لیکن یو مصداق د مهمل دے او بل مفهوم د مهمل دے۔ د مفهوم د مهمل معنی ده ما لا معنی له او مصداق د مهمل لکه دیز مقلوب زید دا یو مهمل لفظ دے مصداق ئے نشته۔

وضع سره مهمل ځکه خارج شو چه وضع تعین اللفظ للمعنی بحیث تدل علیه بلا قرینه ته وائی۔ **سوال :** مصنف لره پکار وو چه خاص نظمٌ ئے وئیلے وے ځکه په ذکر د نظم کښې لحاظ د حسن ادب دے او په ذکر د لفظ کښې سوءِ ادب دے ځکه چه نظم جمع اللؤلؤ فی سلك ته وائی (ملغلرے په مزی کښې جمع کول) او لفظ خو په لغت کښې رمی ته وائی نو دیکښې سوءِ ادب دے؟۔

جواب : چه مصنف دلته تعریف د خاص بما هو الخاص کوی قطع لحاظ د دینه چه هغه خاص د کتاب الله وی او که د غیر کتاب الله وی البته که ده تعریف د خاص د کتاب الله کولے نو بیا پکښې رعایت د حسن ادب پکار وو، بیا پکار وه چه نظم ئے ویلے

وے (خو دے دلتہ تعریف د مطلق خاص کوی د خاص مطلق تعریف نہ کوی) نو لحاظ د حسن ادب ضروری ندے۔

او لمسمی معلوم : کښ تنویع د خاص تہ اشارہ دہ او تنویعیہ دے چہ خاص دوہ قسمہ دے یو خاص فی الاعراض دے او بل قسم خاص فی الاعیان دے پدے سرہ دفع د توهم اوشوہ چہ تاسو پہ تعریف کښ کلمہ د "او" راوړیدہ او او دپارہ د شك راځی (او تعریف دپارہ د تیقن وی او پہ مابین د شك او تیقن کښ تنافی دہ)

جواب وشو چہ کلمہ د او د تنویع دہ د تشکیك نہ دہ۔

لمعنی معلوم : کہ مراد د معلوم نہ معلوم المراد شی نو دا فصل دے مشترك ترینہ خارج شو البتہ عام پہ کښ داخل دے نو روستہ علی الانفراد چہ اوویل نو دا بل فصل دے پدے سرہ ترینہ عام هم خارج شو ۔ او کہ مراد د معلوم نہ معلوم البیان شی نو بیا مشترك هم معلوم البیان دے نو بیا پہ دے سرہ اخراج د مشترك رانغے نو بیا پہ علی الانفراد سرہ عام او مشترك دواړہ خارج شول۔ ځکہ مراد د انفراد نہ انفراد د معانی او د افرادو دواړو نہ دے نو انفراد د افرادو سرہ ترینہ عام خارج شو او پہ انفراد د معانیو سرہ ترینہ مشترك خارج شو کلہ کلہ یو قید دپارہ د اخراج د شی واحد وی او کلہ کلہ یو قید دپارہ د اخراج د اشیاء متعددہ ؤ وی۔

لمسمی معلوم : پہ دے معلوم کښ هم هغہ دوہ احتمالہ دی : او یا مراد د لمعنی نہ مفهوم او مدلول دے نو دا بیا عام دے عرض او جو هر دواړو تہ شامل دے نو بیا سوال واردیږی چہ روستہ لمسمی معلوم ویل لغو دے ځکہ چہ د مسمی نہ خو مراد جو هر قائم بالذات دے او ذات او عرض خو دواړہ پہ معنی کښ ذکر دی ځکہ چہ لمعنی مونږ پہ معنی د مفهوم او مدلول سرہ اغستے دے۔

نو بیا جواب دا دے چہ مصنف لمسمی معلوم روستہ شرافةً ذکر کړیدے چہ خاص درے قسمہ دے خاص جنسی، خاص نوعی، خاص شخصی ۔ پہ خاص جنسی او نوعی کښ احتمال د اشتراك وی او پہ خاص شخصی کښ احتمال د اشتراك نہ وی، نو اهتماما او شرافۃ او لمسمی معلوم ذکر کړو اگرکہ دا پہ لمعنی کښ شامل وو لکہ قرآن کښ الله

وائی : من کان عدوا لله وملائکته وجبریل ومیکال ۔ نو دلته په ملائکته کښې میکائیل او جبرئیل داخل دی خو روسته ئے مستقلا د شرافت د وجے نه ذکر کړیدی

﴿ کقولنا فی تخصیص الفردیة زید وفی تخصیص النوع رجل وفی تخصیص الجنس انسان ﴾ : لکه قول زمونږ په تخصیص د فرد کښې لکه زید او په تخصیص د نوعه کښې لکه رجل او په تخصیص الجنس کښې انسان۔

سوال : چه ستاسو په مثال د نوعی کښې رجل او په مثال د جنس کښې انسان ذکر کول صحیح نه دی ځکه چه د نوعی تعریف دا دے چه کلی مقول علی کثیرین متفقین بالحقائق نه وائی مثال ئے لکه انسان او د جنس تعریف : هو کلی مقول علی کثیرین متخلفین بالحقائق لکه حیوان ؟۔

جواب : دا اصطلاح د مناطقه وه ځکه د دوی په ملِ نظر حقائق او ماهیت وی نو دوی د نوع او د جنس په مینځ کښې فرق په اعتبار د ماهیت سره کوی نو د جنس دپاره مثال حیوان سره ذکر کوی او د نوع مثال په انسان سره ذکر کوی ۔

او اصطلاح د اصولینو جدا ده د اصولینو په نزد د جنس تعریف دا دے :

هو کلی مقول علی کثیرین مختلفین بالاغراض ۔ مثال ئے لکه انسان چه د انسان تحت رجل هم دے او امرأه هم ده او د رجل نه یو قسم اغراض دی او د مرأی نه بل قسم اغراض دی او تعریف د نوع په نزد د اصولینو دا دے : هو کلی مقول علی کثیرین متفقین بالاغراض لکه رجل نو د رجل اطلاق په زید عمرو، بکر وغیره باندے علی السویه کیږی او دا ټول متفق بالاغراض دی ۔ د اصولینو ملِ نظر اغراض دی نو ځکه د جنس او د نوعی فرق په اعتبار د اغراضو سره کوي نو اصطلاح د مناطقه و جدا ده او د اصولینو اصطلاح جدا ده ۔

﴿ والعام کل لفظ ینتظم جمعاً من الافراد ﴾ : (۱) عام په لغت کښې شمول

---

(۱) فائده : په عبارت د شارح کښې تسامح ده ځکه شمول معنی لغوی د عموم ده نهٔ د عام۔ فتدبر۔
سید فضل حق

تـه وئيلـے کيږی د عموم نه ماخوذ دے او په عام اصطلاحی کښ هم شمول وی افرادو متعددو ته او په اصطلاح د اصولينو کښ کل لفظ الخ ته وائی عام هر هغه لفظ دے چه شامـل وی يو جماعت ته د افرادو نه او دا انتظام به يا لفظا وی لکه مسلمون او مشرکون او يا به انتظام معنوی وی لکه من او ما شو۔

سوال : پـه مـاتـن بـانـدے واردیږی چـه ده لـره لفظ د کل ذکر کول صحيح نه دی ځکه کـلـمـه د کـل دپاره د احاطی د افرادو راځی او تعريف د جنس بالجنس کيږی تعريف الافراد بالافراد جائز نه دے او تعريف د افرادو بالجنس هم جائز نه دے او تعريف د جنس په افرادو بانـدے هم جائز نه دے تعريف د جنس بالجنس ځکه کيږی او د افرادو په افرادو سره ځکه جائز نه دے ځکه چه افراد غير منضبط دی ۔

جواب : پـه تـعريف کښ کلمه د کل زائده مقحمه ده او زائد مقحمه ديته وائی چه په سقـوط د هغـے سـره خـلـل پـه کلام کښ نه واقع کيږی نو اصل کښ تعريف دا دے : والعام لفظ ينتظم جمعا الخ ۔

سوال : هر کله چه کلمه د کل زائد مقحم ده نو بيا ئے ذکر کولو ته څه ضرورت دے ؟ ۔

جواب : کـلـمـه د کـل ئے پـه تـعـريف کښ د جامعيت او مانعيت دپاره ذکر کړيده چه تعريف جامع مانع شی۔

سوال : چه جامعيت او مانعيت خو د تعريف نه پخپله معلوميږی کله چه جامع مانع نه وی نو هغه خو تعريف نه وی نو بيا کلمه د کل ذکر کولو ته څه ضرورت دے ؟ ۔

جواب : مـنـم دا خبره چه جامعيت مانعيت د تعريف نه معلوميږی خو ضمناً او کلمه د کـل دلالـت پـه جـامعيت او مانعيت باندے کوی صراحةً نـو ديـتـه تـصريح بما علم ضمناً وائی خو دا جواب په طريقه د مناطقه و دے۔

او **جواب** اصلـی ددے نـه دا دے چـه کـلـمـه د کـل د احاطی د افرادو دپاره راځی پـه اصطـلاح د مـنـاطقه و باندے او په اصطلاح د اصولينو کښ کلمه د کل د احاطی د افرادو دپاره نه راځی ولا مناقشة فی الاصطلاح ۔

سوال : په هر تعريف کښ لابدی وی د جنس او فصل نه چه جنس دپاره د شمول وی او

فصل دپاره د اخراج وی تعریف د عام کښې مهملات داخل شو ځکه چه هغه هم الفاظ دی۔ په تعریف د خاص کښې ږې قید د وضع لګولے وو او په تعریف د عام کښې ږے ذکر نه کړو؟۔ **جواب**: دلته مراد د لفظ نه لفظ موضوعه دے ځکه چه دا تقسیم زمونږ په کتاب الله کښې په اعتبار د وضع سره دے او قانون دا دے چه مقسم معتبر وی په اقسامو کښې نو مقسم وضع ده نو دا به په خاص کښې هم معتبر وی او عام کښې به هم معتبر وی او په مشترك او مؤول کښې به هم معتبر وی۔

یا دویم **جواب** دا دے چه دلته اکتفاء شویده په احد العدیلین باندے په احد القسمین باندے په احد النظیرین ځکه خاص او عام د یو بل عدیلین، قسیمین او نظیرین دی نو که یو قید په قسیمینو کښې په یو قسم کښې معتبر کړے شی نو هغه به په قسم آخر کښې هم معتبر وی ځکه دا متن دے او بناء د متونو په اختصار باندے وی۔

ینتظم جمعا: ینتظم د انتظام نه دے او انتظام شمول ته ویلے کیږی دفعةً واحدةً ۔ یو انتظام په مشترك کښې هم دے خو هلته انتظام دفعةً واحدةً نه دے بلکه په طریقے د تعقب سره وی چه یو لفظ په یو باندے صادقیږی بیا په بل صادقیږی یکے بعد دیګرے او دلته د انتظام نه مراد شمول دے دفعةً واحدةً ۔

﴿ **جمعا من الافراد** ﴾ پدے سره ئے احتراز کړیدے د خاص نه ځکه هغه شامل دے فرد واحد ته، دارنګه د تثنیه او اسماء اعدادو نه احتراز دے ځکه تثنیه جماعت د افرادو ته شامل نه ده دارنګه احتراز ئے اوکړه د اسماء اعدادو نه ځکه هغه شامل دی جماعت ته خو د اجزاؤ په اعتبار سره نه ده افرادو په اعتبار سره نو تثنیه او اسماء اعداد د خاص د قبیلے نه دی هغه عام نه دی ۔

﴿ **اما لفظاً واما معناً** ﴾ په دے سره تنویع کوی د عام نوعینو ته چه یو عام لفظی دے او بل عام معنوی دے سوال لفظا او معنا منصوب دی او منصوبات (۱۲) دی دا کوم قسم دے د منصوباتو نه ؟ ۔

جواب: چه دا منصوب دے بناء بر تمیز، تمیز اصل کښې فاعل وی د فعل مذکور نه فعل مذکور دلته ینتظم دے نو د لفظا او معنا نه به تعبیر په فاعل سره کیږی تقدیر د

عبارت دارنګه شه ینتظم لفظه جمعا من الافراد وینتظم معناه جمعا من الافراد ـ چه لفظ ئے یو جماعت ته د افرادو شامل وی او دویم قسم د عام دا دے چه معنیٰ ئے جماعت ته د افرادو شامل وی ـ د عام لفظی مثال لکه مسلمون او مشرکون څکه په دیکښ عموم په اعتبار د لفظ سره دے او مثال د عام معنوی لکه ما او من چه په دے کښ عموم په اعتبار د معنی سره راغلے دے من هر کس او ما هر څیز ـ

سوال : مثال دپاره د وضاحت د ممثل وی نو د وضاحت دپاره خو یو مثال کافی وو مصنف مثالین ولے ذکر کړل ؟ ـ

جواب : مثال په منزله د شاهد وی او په حکم شرعی کښ شواهد کم از کم دوه پکار وی نو څکه ئے دوه مثاله ذکر کړل ـ

﴿ وحکم الخاص من الکتاب وجوب العمل به لا محالة ﴾ : اثر مرتبه په خاص د کتاب الله نه وجوب د عمل دے په دے خامخا په طریقے د قطعیت سره نه په طریقے د ظنیت سره۔ مراد د حکم نه حکم نحوی دے (۱) چه په معنی د اثر مرتبه سره دے چه په خاص باندے مرتب وی او حکم شرعی ترینه ندے مراد چه هغه خطاب متعلقه د افعالو د مکلف سره دے څکه که حکم شرعی (۲) ترینه مراد شی نو بیا فساد فی المعنی المراد راځی۔

وجوب العمل به لامحاله : دا په مذهب د علماو د عراق دے او د قاضی ابی زید او

---

(۱) فائده : په کتابونو د فنونو مختلفو کښ چه کله عنوان د یو شی ذکر شی بیا ئی تعریف او ماهیت بیان شی نو ورپسی چه وحکمه ذکر شی نو اکثر دا حکم په معنی د اثر مرتبه سره وی چه حکم نحوی ورته وئیلے شی۔ سید فضل الحق۔

(۲) د حکم شرعی چه اصولی ورته هم وئیلی شی پوره تعریف داسے دی : خطاب الله تعالیٰ المتعلق بافعال المکلفین اقتضاء او تخییراً

او عند الفقهاء حکم په معنیٰ د ما یترتب علی الخطاب سره راځی چه وجوب، حرمت او اباحت وغیره دی۔ سید فضل الحق۔

شیخینو دے ځکه مقصود د وضع د الفاظو نه دلالت علی المعانی دے که دلالت علی المعانی ونکړی نو بیا خو د وضعی فائده نشته ـ

شیخین چه په باب د فقه کښ ذکر شی نو امام ابوحنیفه او امام ابویوسف رحمهما الله ترینه مراد وی او که په باب د حدیث (۱) کښ ذکر شی نو ابوبکر صدیق او عمر فاروق – رضی الله عنهما – ترینه مراد وی او که په اصطلاح د اصولینو کښ شیخین ذکر شی نو شمس الایمه سرخسی او شمس الائمة حلوائی ترینه مراد وی او د علماو د سمرقند چه اصحاب د امام شافعیؒ دی د هغوی رائے دا ده چه جکم په عام باندے په طریقے د قطعیت سره نه وی بلکه په طریقے د ظنیت سره وی ځکه هر لفظ کښ احتمال د دے خبرے وی چه مراد کړے شی په دے سره غیر معنی مراده مجازاً ـ

مونږ جواب کوو چه دا احتمال ستاسو غیر ناشی عن دلیل دے او هر احتمال غیر ناشی عن دلیل قادح (نقصانی) په قطعیت کښ نه وی د مصنف مختار مذهب هم رائے د علماؤ د عراق او د قاضی ابی زید او شیخینو ده ـ

﴿ **فان قابله الخبر الواحد** ﴾ : بناء پدے که چرے د خاص د کتاب الله سره معارضه د خبر واحد راغله چه ظنی دے او یا ورسره معارضه د قیاس راغله چه دا هم ظنی دے نو مونږ به ګورو که عمل په دواړو دلیلونو باندے ممکن وو نو مونږ به عمل په دواړو باندے کوو ځکه چه اصل په دلائلو کښ اعمال دے نه اهمال او که عمل په دے دواړو دلیلینو ممکن نه وو نو بیا به دلیل ظنی په مقابله د خاص د کتاب الله کښ متروك وی برابره خبره ده چه که هغه خبر واحد وی او که قیاس وی او که قاعده نحویه وی ـ

کتاب الله کښ چه واخلے نو په دے کښ شبهه نه وی نو دا قطعی شو نو کله چه ظنی مزاحم شی د قطعی سره او عمل په دواړو ممکن نه وی نو قطعی به معمول بها وی او غیر قطعی به د هغے په مقابل کښ مونږ پریږدو ـ

---

(۱) فائده : او په اصول حدیث کښ شیخین امام بخاریؒ او امام مسلمؒ ته اکثر استعمالیږی ـ سید فضل الحق ـ

﴿ **ویترک ما یقابله** ﴾ او پریخودلے کیږی به هغه دلیل چه هغه مقابل د کتاب الله وی برابره خبره ده که هغه بیا خبر واحد وی او که قیاس وی مثال لکه چه کتاب الله سره مقابل راغلے وی قیاس او قاعده او عمل په دواړو باندے ممکن نه وی نو هلته به مونږ ترك کوو ددے نظیر موجود دے په دے قول د الله کښ چه ﴿ والمطلقات یتربصن بانفسهن ثلاثة قروء ﴾ . چه مطلقاتِ به انتظار کوی په خپلو نفسونو باندے درے قروء دلته لفظ د قرء کښ احتمال دا دے چه ددے اطلاق په حیضونو او اطهارو دواړو باندے کیږی امام شافعیؒ ئے په اظهارو باندے حمل کوی او احناف ئے په حیضونو باندے حمل کوی د احنافو دپاره متعدد قرائن دی صاحب د نور الانوار او د مولوی والا هغه قرائن ذکر کړیدی.

امام شافعیؒ ئے په اطهارو باندے حمل کوی او وجه ورلره دا وائی چه دلته ...... درے عدد په ثلاثة بالتاء راغلے دے او قانون په اعدادو کښ دا دے چه په عدد اقل کښ چه کله عدد مذکر وی نو معدود به د هغے مؤنث وی او چه کله معدود مؤنث وی نو عدد به ئے مذکر وی نو دلته ثلاثة بالتاء راغلے دے نو معلومه شوه چه دلته قروء جمع د قرء په معنی د اطهارو سره دے مذکر دے ځکه که چرے په معنی د حیض سره وے نو حیض مؤنث دے بیا خو پکار ده چه ثلاث مذکر بالتاء نه وے راغلے نو معلومه شوه چه دلته د قروء نه مراد حیضونه دی امام شافعی دلته په قیاس عمل کوی .

او امام ابو حنیفه رحمه الله دپاره متعدد قرائن دی دلته چه صاحب د اصول شاشی په کومه طریقه باندے تلے دے نو د هغے حاصل دا دے چه کچرے دلته مونږ قروء لفظ په اطهارو باندے حمل کړو نو بیا په ثلاثه باندے عمل نه راځی ځکه مسنون په طلاقو کښ طلاق فی طهر لا وطی فیه دے او په حیض کښ طلاق ورکول خو طلاق بدعی دے نو چه په کوم طهر کښ چه طلاق ورکړے شوے دے نو مونږ ستا نه تپوس کوو چه دا طهر به یا په عدت کښ حسابوے او یا به ئے نه حسابوے او که حسابوے ئے نو په طلاق ورکولو کښ به خو لږه حصه د دے طهر تیره شوی وی دوه طهره به ددے نه روسته تیر کړے نو پوره درے طهره نه شو بلکه لږ کم شو او ثلاثه اسم عدد دے ددے اطلاق کیږی په یو خاص مقدار باندے چه هغه مافوق الاثنین او ما تحت الاربعه دے نو بنا په حمل د قروء علی الاطهار

ثلاثه باندے عمل نه راځي او که هغه طهر چه په هغې کښې طلاق ورکړے شوی دی دا نه حسابوے په عدت کښې او د هغې نه روسته درے طهرونه عدت شماری نو بیا اطهار ثلاثه نه شول بلکه څه دپاسه درے طهره شول نو بیا په ثلاثه باندے عمل رانغلو ۔

او هر کله چه قروء لفظ په حیض باندے حمل شي نو بیا په ثلاثه باندے عمل راځي ځکه طلاق مسنون في طهر لا وطی فیه دی نو په کوم طهر کښې چه ښځې ته طلاق ورکړے شوی وو نو د هغې نه روسته به درے قروء عدت تیروی او د قروء نه مونږ مراد حیض واغستل نو روسته د طهر نه به حیض راشي دا به حساب بیا به طهر راشي بیا به حیض راشي دوه شو بیا به طهر راشي او بیا به حیض راشي نو درے حیضه پوره شول نه کم او نه زیات نو که مونږ په قیاس باندے عمل کوو نو بیا پرے عمل نه راځي او ثلاثه خاص د کتاب الله دے او عمل په قیاس او په خاص د کتاب الله دواړو باندے ممکن نه دے نو مونږ به خاص د کتاب الله واخلو او ددے په مقابله کښې به قیاس متروك وي اگرکه دویم جواب ددے نه هم ورکړے شوے دے چه دلته چه په لفظ د ثلاثه کښې چه دا تاء راغلے ده نو دا په اعتبار د لفظ د قروء ده چه قروء مذکر دے او قاعده دا ده چه د تذکیر د یو لفظ نه تذکیر د بل لفظ نه لازمیږی دارنگه د تانیث د یو لفظ نه هم تانیث د لفظ آخر هم نه لازمیږی لکه بُرٌّ او حِنطَةٌ دا الفاظ مترادفه دی او معنی ئے واحده ده اطلاق ئے په غنمو باندے کیږی او حنطة مؤنث دے او برّ مذکر دے نو د تذکیر د احدهما نه تذکیر د آخر او د تانیث د احدهما نه تانیث د آخر نه لازمیږی نو که قروء مونږ حمل کړو په حیض باندے نو په خاص د کتاب الله باندے هم عمل راغے او په قیاس قاعده باندے هم عمل راغے ۔

بل دلیل زمونږ دپاره حدیث هم دے نبی علیه السلام فرمائی : (طلاق الامة ثنتان وعدتها حیضتان) ۔ طلاق مغلظ د وینځې دوه دی او عدت ئے دوه حیضه دی فرق بین الحره والامه بالتنقیص وی چه د حری عدت او طلاق درے او د امی دوه وی خو چه کوم عدت بالحیض د امی دپاره دے نو هغه عدت بالحیض د حُری دپاره هم دے۔

دارنگه قروء جمع ده او اقل د جمع ثلاثه وی نو چه مونږ د قروء نه حیض واخلو نو حیض درے برابریږی نو اطلاق د جمعے پرے صحیح شو او که د قروء نه مراد مونږ اطهار

واخلو نو بيا پرے اطلاق د قروء نه صحيح كيږي ځكه بيا خو څه دپاسه دوه طهره جوړيږي درے نه، اګركه دا جواب هم ضعيف دے خو مؤيد دے ځكه چه د جمع اطلاق كله كله په اثنين ما فوق الواحد باندے هم كيږي لغةً لكه نور الانوار كښې وائي : چه قرآن كښې ويلي دي الحج اشهر معلومات د حج په مياشتو باندے ئے اطلاق د اشهر كړے دے او حال دا دے چه د حج دپاره خو درے مياشتے مكمل نه دي بلكه شوال او ذي القعده او لس ورځي د ذي الحجي دي دوه مياشتے او لس ورځے دي او پدے ئے د اشهُر اطلاق كړے دے او اشهُر جمع ده.

بلـه دا چـه قـروء جـمـع او انتـقـال تـه وائي او جمع او انتقال خو هله متحقق كيږي چه مـونږ دَ قروء نه حيض واخلو او كه اطهار ترينه واخلو نو بيا پكښې معنى د جمعي او انتقال نه متحقق كيږي نو دا متعدد قرائن شو زمونږ دپاره پدے باندے چه دا قروء مونږ په حيض باندے حمل كړو او په اطهارو باندے ئے حمل نه كړو.

﴿ **فان لفظة الثلاثة** ﴾ ځكـه دا لـفـظ د ثلاثه چه دے دا خاص دے په بيان د هغه عدد معلوم كښې چه هغه مافوق الاثنين او ما تحت الاربعه دے.

﴿ **فيجب العمل به** ﴾ نو عمل پدے باندے لازم شو.

﴿ **ولـو حـمـل الاقراء على الاطهار كما ذهب اليه الشافعي** ﴾ او كه حمل شي لفظ د اقراء په اطهار باندے لكه چه دے احتمال ته ذهاب كړيدے امام شافعيؒ پدے اعتبار سره چه ﴿ **ان الـطـهـر مذكر دون الحيض** ﴾ چـه طهر مذكر دے او حيض مؤنث دے ﴿ **وقد ورد الكتاب** ﴾ او وارد شـويـدے كتاب په لفظ د تانيث سره چه ثلاثة قروء دے نو دے دلالت وكړو چه ﴿ **انه جمع المذكر** ﴾ چـه دا قروء جمع مذكر ده ځكه چه د عدد معدود مذكر وي نو عدد مؤنث وي او كه معدود مؤنث وي نو عدد ئے مذكر وي (دائے هغه قياس ته اشاره وكړه).

﴿ **وهو الطهر** ﴾ .او دا طهر دے.﴿ **لزم** ﴾ دا حـمـل دے په هغه مخكښې باندے چـه ولـو حـمـل الاقراء على الاطهار كچرے حمل شي اقراء په اطهار باندے نو لازم به شي ددينه ﴿ **ترك العمل بهذا الخاص** ﴾ ترك د عمل په خاص د كتاب الله باندے په هغے به بيا عمل نه لازميږي ځكه :

﴿ **لان من حمله على الطهر لا يجب ثلاثة اطهار بل طهرين وبعض الثالث وهو الذي وقع فيه الطلاق** ﴾ ځکه هغه څوك چه هغه لفظ د قروء په طهر باندے حمل کوی نو نه ثابتوی درے طهره مکمل بلکه ثابتوی دوه طهرين او څه حصه د دريم طهر او هغه طهر دے چه واقع شويدے په هغے کښ طلاق نو دلته عمل په خاص د کتاب الله باندے راځی نه نو مونږ به قياس پريږدو ځکه دا دليل ظنی دے او خاص د کتاب الله به واخلو نو قروء به په حيض باندے حمل کړو چه په ثلاثه باندے عمل راشی چه دا خاص د کتاب الله دے نو بناء په دے باندے تفريعات متعدد کوی -

﴿ **فيخرّج على هذا حكم الرجعة في حيضة ثالثة** ﴾نو متفرع کولے شی په دے باندے حکم د رجعت په دريم حيض کښ -

چه يو سړے خپلے ښځے ته طلاق ورکړه او دوه حيضه ئے تير شو او په دريم حيض کښ ده نو امام ابو حنيفه وائی چه که دا سړے دے ښځے ته په دريم حيض کښ رجوع کوی نو عدت لا وتلے نه دے رجوع ئے صحيح کيږی او چه کله عدت ختم شو نو بيا دا ښځه بائنه کيږی د زوج دپاره بيا د خاوند دپاره حق د رجوع نه پاتے کيږی البته په عدت کښ دننه ورته حق د رجوع شته دے او امام شافعیؒ وائی چه په حيض ثالث کښ زوج خپلے ښځے ته رجوع نشی کولے ځکه عدت خو درے طهره دی او هغه تير شويدی عدت ختم دے په دريم حيض کښ عدت پاتے نه دے نو دده حق د رجوع نشته دے-

﴿ **وزواله وتصحيح نكاح الغير** ﴾ دارنګه زوال د حکم د رجوع په نزد د امام شافعی او تصحيح د نکاح د غير په نزد د امام شافعی باندے -

امام شافعیؒ وائی چه عدت ختم شويدے کچرے بل سړے ئے په نکاح اخلی نو نکاح ورسره صحيح ده ځکه دا معتده د زوړ خاوند نه ده او امام ابو حنيفهؒ وائی چه ددی ښځے سره د بل سړی نکاح نه صحيح کيږی ځکه په دے دريم حيض کښ دا ښځه د زوړ خاوند معتده ده د هغه د عدت نه لا وتلی نه ده اثرات د نکاح لا باقی دی او د معتدة الغير سره په دوران د عدت کښ نکاح د زوج آخر تر هغے جائز نه ده ترڅو چه عدت وتے نه وی -

﴿ **وحكم الحبس** ﴾ دارنګه متفرع کيږی په دے باندے حکم د حبس -

ښځـه لا پـه دریـم حیـض کـښې ده نـو عـدت لا باقی دے نو خاوند ئے د خروج او بروز نه منـعـه کـولے شـی ۔ دده دپاره حق د حبس کولو شته امام شافعی وائی چه عدت ختم دے ددے خاوند دپاره حق د حبس کولو ددے ښځې په کور کښې نشته دےځکه دا ښځه وتلے شی ۔

﴿ والاطلاق ﴾ (۱) او حـکـم د اطـلاق، نو حکم الحبس عندنا دے او حکم الاطلاق عـنـد الشافعی دے۔ ﴿ والمسکن ﴾ (عـنـدنـا) پـه دریـم حیـض کـښې په خاوند باندے د اوسیـدو ځائے ددے ښځې په خاوند باندے په نیز زمونږ لازم دے ځکه چه لا په عدت کښې ده او امام شافعیؒ وائی چه خاوند باندے مسکن نشته ځکه چه عدت ختم شویدے ۔

﴿ والانفاق ﴾ دارنـګـه عـنـدنـا انفاق ددے ښځے په حیض ثالث کښې په خاوند باندے لازم دے ځـکه چه عدت ختم نه دے او امام شافعی وائی : انفاق په خاوند باندے لازم نه دے ځـکه چه عدت ختم شوے دے دا دده د نکاح نه وتلے ده نفقه ددے ښځے په خپل ځان باندے ده ۔ ﴿ والخلع ﴾ دارنـګـه متـفـرع کیږی پدے باندے حکم د خلع کچرے دا ښځه په دریم حیض کښې د خاوند سره خلع کوی نو صحیح ده یعنی چه دا ښځه خاوند ته وائی چه زه به تـالـره څه عوض درکړم او ته ما لره بل طلاق راکړه چه زه آزاده شم نو اثرات د نکاح لا باقی دی نـو خـاونـد ورسره خـلـعه کولے شی (عندنا) او امام شافعی وائی چه عدت ختم دے دا ښځه اجنبیه ګرځیدلے ده خلع ورسره نه کیږی ۔

﴿ والطلاق ﴾ دارنـګـه متـفـرع کیږی په دے باندے حکم د طلاق او امام ابو حنیفه وائـی چـه پـه حـیـض ثـالـث کـښې اثر د نکاح لا باقی دے معتده ده طلاق ورلره ورکولے شی خـاونـد ئے مالك د طلاقو دے اګرکه په حیض کښې دا طلاق طلاق بدعی دی او امام شافعی وائی چـه خاوند طلاق نشی ورکولے ځکه اثر د نکاح ختم دے عدت ختم شویدے دا ښځه اجنبیه ده او اجنبی ته طلاق نشی ورکیدے ځکه طلاق سبق دخول فی النکاح غواړی ۔

﴿ وتزوج الزوج باختها ﴾ دارنـګـه نکاح کول د خاوند ددے ښځے د خور سره امام شافعیؒ وائی چه په حیض ثالث کښې عدت ختم شو نو که اوس دا خاوند ددے ښځے د خور

---

(۱) فائده : اطلاق مقابل د حبس دی، حبس بندول او منع کول او اطلاق آزاده وڼ او خوشی کول۔ سید فضل الحق۔

سره نکاح کوی نو جائز ده جمع بین الاختین نه راځی او امام ابوحنیفه وائی چه عدت اثر د نکاح دے او په حیض ثالث کښ عدت باقی دے نو اثر د نکاح هم باقی دے په دے کښ دا خاوند ددے ښځے د خور سره نکاح کولے نه شی ځکه دا جمع بین الاختین ده او جمع بین الاختین نصا حرامه ده۔

﴿ واربع سواها ﴾ دارنګه متفرع کیږی په دے باندے د څلورو ښځو سره نکاح کول علاوه ده د مطلقی ښځے نه۔

امام شافعی وائی چه په حیض ثالث کښ دښځے عدت ختم دے د نکاح نه وتے ده که اوس دا خاوند د نورو څلورو ښځو سره نکاح کوی نو جائز ده ځکه چه دده په نکاح کښ پنځه ښځے نه جمع کیږی او امام ابوحنیفه وائی کچرته دا خاوند د څلورو نورو ښځو سره نکاح کوی نو دا نه ده جائز ځکه فی الحال د معتدی ښځے نکاح لا ختم نه ده اثر د نکاح باقی دے ځکه چه په حیض ثالث کښ دا ښځه لا معتده ده او څلور ښځے نورے شوے او یوه معتده شوه نو پنځه ښځے ذده په نکاح کښ شولے او حال دا دے چه دده دپاره اجازت د طرف د شارع نه صرف د څلورو ښځو دے ما وراء د څلورو ښځو نه نه دے۔

﴿ واحکام المیراث مع کثرة تعدادها ﴾ دارنګه متفرع کیږی پدے باندے احکام د میراث سره د کثرت د تعداد د هغے نه۔ (۱)

که پدے دروان کښ ترینه خاوند وفات شو نو دا ښځه مقدره منکوحه حسابیږی مستحقه دِ میراث ده او که په دے دوران کښ دا ښځه وفات شوه نو دا خاوند ئے مستحق د میراث دے د امام ابوحنیفه په نزد او امام شافعی وائی چه په حیض ثالث کښ عدت ختم دے ښځه اجنبیه ده که په دے دوران کښ ښځه مړه شوه نو خاوند ئے مستحق د میراث

---

(۱) فائده: مع کثرة تعدادها:

یعنی سره د زیات تعداد او شمار د مسائلو د میراث نه ځکه که دا ښځه وارثه شی یا ددی نه میراث صحیح شی دپاره د خاوند نو د هغی دپاره خو مختلف صورتونه راځی کما فی المیراث۔

همدارنګه دِوصیت مسائل ځکه وصیت ورته د امام ابوحنیفةؒ په نیز نه دی صحیح او د امام شافعیؒ په نیز صحیح دی۔ فتدبر سید فضل۔

ندے او که خاوند مړ شو نو ښځه ئے د میراث مستحقه نه ده۔

﴿ **وكذلك قوله تعالى قد علمنا ما فرضنا عليهم في ازواجهم خاص في تقدير الشرعي** ﴾ دا وس دويمه مسئله ذکر کوی قاعده ئے دا ذکر کړے وه چه حکم د خاص ده کتاب الله نه قطعي دے وجوب العمل دے پدے خاص د کتاب الله باندے خامخا که په مقابل ددے خاص د کتاب الله کښ قیاس راشي یا خبر واحد راشي چه دلائل ظنیه دی که عمل پدے دواړو دلیلونو باندے ممکن وو نو عمل به په دواړو کوو ځکه اصل په دلیلونو کښ اعمال دے نه اهمال او که عمل په دواړو دلیلینو باندے ممکن نه وو نو دلیل ظنی به ترك کولے شی او د هغے په مقابل کښ چه کوم خاص د کتاب الله دے په هغے به عمل کولے شی ددے دپاره ئے یو نظیر د ثلاثة قروء ذکر کړو۔

اوس دويم نظير په دے آيت کښ ذکر کوی چه دلته هم امام شافعي په قياس باندے عمل کوی او مونږ په خاص د کتاب الله باندے عمل کوو۔

قد علمنا ما فرضنا عليهم : نو دا فرضنا خاص د کتاب الله دے ای ما قدرنا عليهم مونږ ته پته ده چه څومره مقدر کړے دے په خاوندانو باندے په باره د بی بیانو د هغوی کښ ۔ لیکن هغه مقدر دے څومره د هغے بیان کتاب الله ندے کړے د هغے بیان په حدیث د جابر بن عبد الله کښ دے چه نبی علیه السلام فرمائی : الا لا يزوج النساء الا الاولياء ۔په نکاح باندے به زنانه نه ورکوی مگر اولیاء به ئے ورکوی کله چه په هغے باندے ولایت شرعي وی او ولایت شرعي دپاره اسباب درے دی۔

۱ – صغر چه زنانه وړه وی نو په هغے باندے ولی ولایت جبری کولے شی چه چا ته ئے په نکاح په زوره ورکړی اگرکه دا پرے رضا نه وی۔

۲ – سبب رقیت دے چه زنانه وینځه وی نو په هغے باندے ولایت جبری د مولا دے چه په زور باندے ئے مولا چا ته په نکاح باندے ورکولے شی اگرکه دا پرے راضی نه وی ۔

۳ – سبب د ولایت دپاره جنون دے چه ښځه لیونۍ وی نو پدے باندے ولایت جبری کولے شی چه چا ته ئے په نکاح باندے په زور ورکړے اگرکه دا پرے راضی نه وی ۔

نو د ولایت دپاره اسباب ثلاثه شو نو د حدیث مطلب دا شو چه که دا درے قسمه ښځے

وی نو دا به په نکاح نه ورکوی مگر اولیاء به ئے ورکوی او په کومه ښځه کښې چه یو سبب ددے اسباب ثلاثه و نه متحقق نه شو نو دوی خپل ځان چا ته په نکاح خپله سره ورکولے شی خو ولایزوجن الا من الاکفاء ۔ دوی به خپل ځان په نکاح باندے خپل کفو ته ورکوی ځکه که د غیر کفو سره ئے نکاح وکړه نو صاحب شرح وقایه پدے کښې د امام ابوحنیفه نه قولین ذکر کړیدی یو قول حسن بن زیاد دده امام ابوحنیفه نادر قول رانقل کړیدے د عدم انعقاد چه دا نکاح نده شوے او دویم قول دا دے چه نکاح منعقده ده خو د ولی دپاره حق د اعتراض شته او ددے دپاره وجه صاحب هدایه ذکر کوی چه رب واقع لا یرفع ۔ دیر ځله داسے یو شی وی چه هغه واقع شی نو هغه بیا پورته کیږی نه کله چه ښځه د غیر کفو سره نکاح اوکړی نو ولی به اظهار د مافی الضمیر نشی کولے قاضی ته تلے نشی او که لاړ شی نو کله قاضی ددے ولی په مرضی فیصله نه کوی نو د هغه دپاره پیغور پاتے شی ۔ نو د ولی دپاره حق د اعتراض شته چه دا نکاح قاضی ته پورته کړی خو دلته مونږ پدے کښې بحث نشته بلکه په دے روسته جمله کښې بحث دے چه :

ولا مهر اقل من عشرة دراهم : جائز نه دے مهر کم د لسو روپو نه نو ما فرضنا په آیت کښې په معنی د ما قدرنا سره دے نو معنی ئے معلومه شوه خاص دے د کتاب الله نه دارنګه په فرضنا کښې نسبت الله خپل ځان ته کړیدے نو وس دا مقدر مجمل شو دده بیان نبی علیه السلام کړیدے چه لا مهر اقل من عشرة دراهم نو د لسو روپو نه به کم مهر نه وی لس روپئ شرعی اقل مقدار د مهر دے او د اکثر مقدار د مهر دپاره حد نشته هر څومره مقدار چه مقرر کوی نو مقرر کولے شی لیکن دا تعین کله په طرفینو کښې وی کله په طرفینو کښې نه وی کله په یو طرف کښې وی او په بل کښې نه وی دلته تعین په جانب اقل کښې شته او تعین په جانب اکثر کښې نشته نو د لسو روپو نه کم مهر مقرر کول جائز نه دی ځکه که مهر مونږ کم د لسو نه مقرر کړو او نکاح قیاس کړو په عقود مالیه و باندے ځکه چه عقود مالیه هم مشتمل دی په ایجاب او په قبول باندے او نکاح هم مشتمل ده په ایجاب او قبول باندے۔

دارنګه په عقود مالیه و کښې هم مبادله ده او په نکاح کښې هم مبادله ده لیکن دومره

خبره ده چه په عقود مالیه و کښې مبادلةالمال بالمال ده او په نکاح کښې مبادلة غیر المال بالمال ده په شان د عقد اجاره باندے نو په عقد مالی کښې چه په څومره مقدار باندے رضاء د بایع او مشتری راځی عقد صحیح دے نو په هغه مقدار باندے مونږ په نکاح کښې هم هغومره مقدار باندے نکاح صحیح ده چه دا نکاح هم یو عقد مالی دے نو دا مونږ نشو کولے ځکه که دا مونږ قیاس کړو په عقد مالی باندے بیا په خاص د کتاب الله باندے عمل نه راځی چه فرضنا دے۔

او خاص د کتاب الله قطعی دے پدے باندے به مونږ لا محاله عمل کوو او ددے په مقابل کښې چه کوم قیاس دے چه قیاس کوئے په عقد مالی باندے نو دا ترك کوو۔

امام شافعی وائی چه نکاح یو عقد دے په شان د عقود مالیه و په هغے باندے ئے قیاس کوی نو هغه وائی نکاح مقدار مفوض دے رائے د زوجینو ته په هر څومره مقدارئے چه رضاء راغله نو نکاح صحیح ده په شان د عقد مالی نو پدے باندے متعدد تفریعات کوی۔

نو امام شافعیؒ وائی چه تخلی للعبادات النفلیة دا اولیٰ ده د اشتغال بالنکاح نه ځکه چه د عقد مالی د اشتغال نه تخلی عبادت نفلی ته اولیٰ ده او نکاح هم یو عقد مالی دے معامله ده مونږ وایو چه اشتغال بالنکاح اولیٰ ده د تخلی للعبادة النفلیة نه ځکه یو خو پدے کښې تحصن د فروجو راځی زنا به نه کیږي دویم عمل به راشي په سنت د انبیاؑ علیهم السلام دریم پدیکښې انفاق کیږی او انفاق عبادت متعدی دے په بل خرچ کیږی نو دا ټول منافع په نکاح کښې حاصلیږی او عبادت نفلی خو عبادت نفسی دے (لازمی دے) او نکاح عبادت متعدی دے۔

دویمه تفریع دا ده چه امام شافعیؒ وائی چه که خاوند ښځے ته طلاق په هر طریقه ورکوی نو ورکولے شی که جمعاً ئے ورکوی (درے واړه په یو ځائے) او که تفریقاً ئے ورکوی (جدا جدا) یعنی که په یو طهر کښې په الفاظ ثلاثه و سره ورته وائی: انت طالق انت طالق، انت طالق۔ او که تفریق کوی چه په یو طهر کښې ورته اوویل: انت طالق په بل طهر کښې ورته بیا اوویل: انت طالق او په بل طهر کښې ورته بیا اوویل: چه انت طالق او که ارسال د طلاقو کوی چه ورته ووائی انت طالق ثلاثاً نو په هر یو کیفیت سره چه دا طلاق ورکوی نو ورکولے

شی ځکه دا عقد مالی دے په عقود مالیه و کښې مالك هر قسمه تصرف کولے شی ۔

امام ابو حنیفه وائی چه درے پیرے طلاق ورکول دا طلاق بدعی دی ځکه طلاق خو ابغض المباحات دی دده دپاره یو طلاق ورکول پکار دی که حاجت ئے پیخ شو نو دوه طلاقه دِے ورکړی ځکه که دے خپیمانه شی نو رجوع به کولے شی او که درے واړه طلاق ئے جملةً واحدةً ورکړه نو ده لره خو بیا رجوع ممکن نه ده ترڅو چه د بل خاوند سره نکاح اونکړی نو مونږ د خاوند دپاره اباحت د طلاقو مطلقا نه وایو مقید ئے وایو او امام شافعی قائل دے په اباحت مطلقا باندے۔

﴿ وکذلک قوله تعالی قد علمنا ما فرضنا علیهم فی ازواجهم ﴾

دغه رنګه په شان د ثلاثه قروء دا قول د الله دے چه قد علمنا ما فرضنا ۔ دا ما فرضنا لفظ هم خاص د کتاب الله دے صاحب د نور الانوار وائی چه نسبت د فرض الله ځان ته کړیدے بناء په دے نسبت دا خاص د کتاب الله دے او که دا فرض په معنی د قدرنا سره دے نو دا قدرنا هم خاص دے په تقدیر شرعی کښې۔

﴿ فلا یترک العمل به ﴾ نو نه به شی پریخودے عمل په دے خاص باندے پدے اعتبار سره چه قیاس اوکړو مونږ چه ﴿ انه عقد مالی ﴾ چه دا عقد مالی دے۔

﴿ فیعتبر بالعقود المالیة ﴾ نو دا نکاح به مونږ قیاس کړو په عقود مالیه و باندے ۔

﴿ فتکون تقدیر المال فیه اولیٰ الی رأی الزوجین ﴾ نو مقدار د مال به مفوض وی رائے د زوجینو ته ﴿ کما ذکره الشافعی ﴾ لکه دا قول چه ذکر کړیدے امام شافعی نو داسے نه ده بلکه عمل به په خاص د کتاب الله کیږی او ددے مقابل کښې به قیاس متروك وی ﴿ وفرع علی هذا ان التخلی لنفل العبادة افضل من النکاح ﴾ او متفرع ده پدے باندے دا خبره چه ځان وزګارول نفلی عبادت ته بهتر ده د نکاح نه د امام شافعی په نزد باندے ۔

﴿ واباح ابطاله بالطلاق کیف ما شاء الزوج من جمع وتفریق ﴾

او مباح کړیده امام شافعی باطلول د نکاح په طلاقو سره ځنګه چه خوښ شی د خاوند د جمع نه او د تفریق نه (په شان د عقود مالیه و) ۔

﴿ واباح ارسال الثلاث جملة واحدة ﴾ او مباح کړيدی امام شافعي واقع کول د درې طلاقو په يو ځل چه انت طالق ثلاثا ووائی -

﴿ وجعل عقد النكاح قابلاً للفسخ بالخلع ﴾-

دارنګه امام شافعي عقد نکاحی ګرځولے دے قابل دپاره د فسخ په خلع سره او مونږ په خاص سره فسخ د زور نکاح نه نه وايو بلکه مونږ وايو چه خلع مستقل طلاق دے -

﴿ وكذلك قوله تعالى حتى تنكح زوجا غيره خاص في وجود النكاح ﴾

واو حرف عاطف دے او کاف د تشبيه دپاره دے ددے معطوف عليه متعدد دے نو ستا اختيار دے که معطوف عليه ورلره قريب ګرځوے چه قد علمنا ما فرضنا دے او که معطوف عليه ورلره بعيد ګرځوے چه ثلاثة قروء دے معنى دا شوه لکه څنګه چه ما فرضنا خاص د کتاب الله دے دارنګه حتى تنكح هم خاص د کتاب الله دے يا لکه څنګه چه ثلاثه خاص د کتاب الله دے نو دارنګه حتى تنكح زوجا غيره هم خاص دے چه په حتى تنكح کښې چه نسبت د نکاح ښځے ته شويدے نو دا خاص دے په وجود د نکاح کښې د زنانه و نه - ﴿ فلا يترك العمل به ﴾

نو نه به پريخودے کيږي عمل پدے خاص باندے په هغه خبر واحد چه روايت کړے شوے دے د نبی عليه السلام نه چه کومه ښځه چه په نکاح ورکړی ځان خپل بغير د اذن د ولی نه نو نکاح د هغے باطله ده باطله باطله ده -

په ايما امرأة کښې لفظ د ما زائد مقحم دے اصل کښې عبارت دارنګه دے : اى امرأة نكحت نفسها بغير اذن وليها -

تشريح : دا هم يوه مسئله اختلافيه ده په مينځ زمونږ او د امام شافعي کښې امام شافعي وائی چه نکاح بعبارات النساء صحيح نه ده او امام ابوحنيفه وائی چه نکاح بعبارات النساء منعقد ده -

امام شافعي استدلال کوی په حديث د حضرت عائشه رضى الله عنها- باندے چه نبی عليه السلام وائی : ايما امرأةٍ نكحت نفسها بغير اذن وليها فنكاحها باطل باطل باطل نو دا نکاح منعقد نه ده او حلال والے د استمتاع د منافعو د بُضع پرے نه راځی-

امام ابوحنیفه وائی چه نکاح که بعبارات النساء جائز نه شی ددے خبر واحد د وجے نه نو ترك العمل به راشی په خاص د کتاب الله باندے چه تنکح دے په دے شان سره چه په تنکح کښ نسبت د نکاح زنانه ته شویدے، خاص د کتاب الله دلالت کوی په دے خبره چه نکاح بعبارات النساء منعقد ده او ددے په مقابل کښ خبر واحد دے چه هغه دلالت کوی په عدم انعقاد د نکاح بعبارات النساء نو مونږ په خاص د کتاب الله باندے عمل اوکړو او مقابل کښ خبر واحد به متروك کړو ځکه عمل په دواړو ممکن نه دے۔

دویم جواب دا دے چه د اصول الحدیث مسئله دا ده چه د کوم راوی فعل چه د هغه د مروی عنه نه مخالف راشی نو دا د لالت کوی په نسخ ددے روایت باندے، نو عائشه چه روایت ددے حدیث کړے دے خپله وریره د عبد الرحمن بن ابی بکر لور منذر رضی الله عنه ته په نکاح ورکړه او عبد الرحمن موجود نه وو شام ته تلے وو، د تجارت دپاره دا نکاح دے په حضور د اصحابو کښ کړے وه او یو صحابی هم پرے رد ونه کړو نو عائشه چه ولیه نه وه او خپله وریره ئے په نکاح ورکړه او دا نکاح منعقد وه نو که ښځه خپل ځان پخپله چا ته په نکاح سره ورکړی نو دا نکاح خو په طریقه اولیٰ سره صحیح ده ځکه زنانه د خپل ځان دپاره په مصالحو د نکاح باندے خه پو هیدونکی وی نو دا عمل د عائشه رضی الله عنها۔ دلیل د انتساخ ددے خبر واحد دے چه مخکښ پرے عمل کیده او بیا منسوخ شویدے۔

﴿ **ويتفرع منه الخلاف في حل الوطى** ﴾ متفرع کیږی د دینه خلاف په حلال والی د وطی کښ چه زنانه ځان چا ته په نکاح ورکړو امام ابوحنیفه وائی نکاح منعقد ده او حِل د استمتاع د منافعو د بضعی د خاوند دپاره پرے مرتب دے او امام شافعی وائی چه نکاح د سره مرتب نه ده نو د خاوند دپاره استمتاع د بُضعی نه جائز نه دے۔

﴿ **ولزوم المهر** ﴾ دارنګه په دے باندے متفرع کیږی خلاف زمونږ او د امام شافعی ترمینځ لزوم د مهر۔ مونږ وایو نکاح بعبارات النساء منعقد شو مهر په خاوند باندے لازم دے۔ امام شافعی وائی چه نکاح منعقده نه ده نو لزوم د مهر په خاوند د کوم ځایه راغلو که دا ښځه د خاوند نه مهر غواړی نو نشی غوختے۔

﴿ **والنفقة والسكنى** ﴾ دارنګه مونږ په دے خاوند باندے نفقه د ښځے او هغے ته د

اوسیدو ځائے ورکول لازم گنړو ځکه چه نکاح شرعا معتبر شو نو نفقه او سکنیٰ په خاوند لازم شو او امام شافعي وائی چه نکاح منعقد نه ده نو نفقه او سُکنیٰ په خاوند لازم نه ده.

﴿ **ووقوع الطلاق** ﴾ ۔ دارنګه مونږ وايو چه دا خاوند دے ښځے ته طلاق ورکولے شی ځکه طلاق سبق نکاح غواړی او نکاح خو بعبارات النساء منعقد شویده او امام شافعي وائی چه دا.خاوند طلاق نشی ورکولے ځکه دده په نزد خو نکاح بعبارات النساء منعقد نه ده او طلاق خو تقاضا کوی د سبق نکاح او نکاح منعقد نه ده نو په اجنبیه خو طلاق نه واقع کیږی. ﴿ **والنکاح بعد الطلقات الثلاثة** ﴾ او نکاح پس د درے طلاقو نه امام ابوحنیفه وائی چه نکاح بعبارات النساء منعقد ده کچرے دے خاوند دے ښځے ته درے طلاقه ورکړل (مغلظه) نو دا خاوند تر هغے پورے ددے ښځے.سره بیا نکاح نشی کولے تر څو چه د بل خاوند سره ئے نکاح کړے نه وی او هغه په خپله خوښه طلاق کړے نه وی او عدت ئے تیر شوے نه وی.

او امام شافعي وائی چه نکاح بعبارات النساء خو منعقد نه دے که دے خاوند ورله درے طلاقه ورکړه نو دا خو اجنبی لره طلاق ورکول دی کچرے دا خاوند ورسره روسته د طلاق ثلاثه و نه نکاح کوی نو کولے شی ۔

﴿ **علی ما ذهب الیه قدماء اصحابه** ﴾ بناء په هغے چه هغے ته ذهاب کړیدے قدماو د اصحابو د امام شافعي چه هغے قول د جواز د نکاح کړیدے ۔

﴿ **بخلاف ما اختاره المتاخرون منهم** ﴾ په خلاف د هغے چه مختار کړیدے متاخرینو علماو د شوافعو نه ۔ متاخرینو قول په عدم جواز د نکاح کړیدے ۔

پس د طلاق ثلاثه و نه دوی قول د احتیاط کړیدے ګویا چه متاخرین علماؤ د شوافعو پدے مسئله کښ د احنافو سره موافق دی.

﴿ **واما العام فنوعان** ﴾ مصنف دوه نوعین ذکر کړی وو خاص او عام د خاص تعریف او حکم ئے بیان کړو اوس د عام تعریف او حکم بیانوی ۔

د عام دوه نوعی ئے مخکښ بیان کړی وے چه عام لفظی او عام معنوی وو د عام لفظی مثال ئے په مسلمون او مشرکون سره ذکر کړل او د عام معنوی مثال ئے په من او په ما سره

ذکر کړو دا اوس دویم تقسیم کوی چه عام کښې به یا تخصیص د بعض افرادو په دلیل قطعی سره راغلے وی او یا به په کښې تخصیص د بعض افرادو په دلیل قطعی سره نه وی راغلے اول ته عام مخصوص البعض وائی او ثانی ته عام غیر مخصوص البعض وائی په عام غیر مخصوص البعض کښې اقوال اربعه دی دلته اصول شاشی والا قول مختار عند الاصولین ذکر کوی۔ ۱- **اول قول**: په عام غیر مخصوص عنه البعض کښې توقف دے چه په دے کښې به مونږ توقف کوو وجه دا ده چه دا عام غیر مخصوص البعض مراتب معلوم ندی لکه اقتلوا المشرکین) مشرکین لفظ عام دے ددے اطلاق په ثلاثه او مافوق د ثلاثه و کیږی چه درے مشرکان قتل کړئ څلور قتل کړئ پنځه قتل کړئ لس قتل کړئ وغیره نو ددے یو خاص مقدار معلوم نه دے نو ددے په یو خاص مقدار باندے مونږ عمل نه شو کولے نو دا واجب التوقف دے په شان د مشترك لکه په مشترك کښې چه تعین د یوے معنی نوی راغلے نو هلته حکم توقف وی دازنګه په عام غیر مخصوص البعض کښې هم حکم توقف دے۔

۲- **دویم قول** دا دے چه دا لازمه وی ثبوت د حکم اخص الخصوص ته عام لفظی کښې به مونږ شمول د حکم ثلاثه وته کوو ځکه د ثلاثه و نه دون چه ترے اخلو نو بیا خو عام عام نه پاتے کیږی ۔ او په عام معنوی کښې اخص الخصوص واحد دے نو یو ته به مونږ حکم شامله وو کچرے یو نه ځکته ته ئے شامل کړو نو بیا خو عام عام پاتے نه شو نو دویم مذهب والا وائی چه اخص (تحت) ته به ئے مونږ حکم شامله وو (او مافوق) ما وراء ته به مونږ حکم نه شامله وو۔ ۳- **جواب دریم قول** دا دے چه عام غیر مخصوص البعض کښې ثبوت د حکم دے خو په طریقے د ظنیت سره نه په طریقے د قطعیت سره ځکه ما من عام الا وقد خص منه البعض داسے یو عام نشته چه د هغے نه تخصیص د بعض افرادو نه وی شوی نو احتمال په کښې راغلو نو قطعیت ئے پاتے نه شو۔

دا رائے د امام شافعی ده چه په دے عام غیر مخصوص البعض کښې ثبوت د حکم په طریقے د ظنیت سره وائی۔

٤- **څلورم قول** د احنافو مفتیٰ به کوم چه اصول شاشی ذکر کړیدے چه عام غیر

خصوص البعض قطعي دے لکه څنګه چه خاص قطعي دے او کوم احتمال چه امام شافعي ذکر کوی نو دا احتمال غير ناشي عن دليل دے او کوم احتمال چه ناشي عن غير دليل وی نو هغه نقصانده په قطعيت کښې نه وی ددے مثال داسے دے چه يو سړے د جوړ ديوال د لاندے ناست وی او نا څاپه دا ديوال راپريوځی او سړے مړ کړی نو ده ته قاتل د خپل نفس نه ويلے کيږی ـ البته که ديوال کوږ وو چا وډلے وو راغورځيدهٔ او ده خه اوليدو چه دا ديوال راغورځيږی او بيا هم ترينه د لاندے کيناست او ديوال پرے راپريوتو نو دا سړے قاتل د خپل نفس دے۔ نو کوم احتمال چه ناشي عن دليل وی نو هغه قادح وی په قطعيت کښې او کوم احتمال چه ناشي عن دليل نه وی نو هغه قادح نه وی په قطعيت کښې ـ

﴿ واما العام فنوعان ﴾ هر چه عام دے نو دا دوه قسمه دے يو هغه عام دے چه د هغے نه تخصيص د بعض افرادو شوے وی او بل هغه عام دے چه د هغے نه تخصيص د څه شی نه وی شوی۔

﴿ فالعام الذی لم يخص عنه شیء ﴾ پس هغه عام چه د هغے نه تخصيص د څه شی نه وی شوی نو دا په منزله د خاص دے په حق د لزوم العمل کښې په ده باندے په طريقے د قطع او يقين سره لکه څنګه چه خاص د کتاب الله قطعي وی نو دغه رنګه به عام غير مخصوص عنه البعض هم قطعي وی ـ

﴿ وعلى هذا قلنا ﴾ بناء پدے قاعده چه عام غير مخصوص البعض موجب د عمل دے په طريقے د قطع او د يقين سره ـ

﴿ اذا قطع يد السارق بعد ما هلک المسروق عنده لا يجب عليه الضمان ﴾ ـ کله چه قطع کړے شی لاس د سارق پس د هغے نه چه هلاک شوے وو مال مسروق دده سره نو نه واجبيږی په ده باندے تاوان د مال ځکه دا قطع جزاء د جميع ما اکتسب ده ـ (السارق والسارقة فاقطعوا ايديهما) سارق سړے او سارقه ښځه چه کله د هغے سرقه ثابته شی په احد البينتين سره چه يا اقرار سره ئے ثابته شوه او يا ئے په ګواهانو سره سرقه ثابته شوله نو لاسونه ترينه پريکړئ .

﴿ جزاء بما کسبا ﴾ دا قطع د يد جزاء د جميع ما کسبا ده نو ما کسبا خو دلته دوا

شیـونـه دی یـوه سرقه د سارق ده او بله اهلاك د مسروقی دے دا دواړه مکسوب ددے سارق دی او پدے باندے جزاء مرتب شوه قطع د ید اوس کچرے په ده باندے مونږ وجوب د ضمان اووایـو په شان د غصب د غاصب چه غصب مونږ مقیس علیه کړو او سرقه د سارق ورلره مقیس کړو او علـت مشترکه په مابین ددے دواړو کښی اخذ د هر واحد کړو مال د غیر لره بغیر د اذن د مالك نـه نـو هلتـه حکم وجوب الضمان دے نو دلته په سرقه کښی هم مونږ حکـم وجـوب الـضـمـان علی السارق اوکړو په قیاس باندے چه دلیل ظنی دے نو په عام د کتـاب الله بـانـدے عـمـل نـه راځی چه جزاء بما کسبا کښی ما عام دے او دا قطعی دے په دے بانـدے بـه مونږ عمل اوکړو او قیاس به ئے په غصب باندے نه کوو البته که مال مسروقه د سارق سره وو نو هغه خو عین مال د مالك دے هغه به مالك ته واپس کیدے شی ـ

﴿ **فان کلمة ما عامة** ﴾ـ ترجمه : ځکه کلمه د ما عامه ده شامله ده جمیع ما وجد مـن الـسـارق تـه او پـه تـقـدیـر د ایـجـاب الضمان سره به جزاء مجموعه وی (هم قطع او هم ضمان) نو بیا په عام د کتاب الله باندے عمل رانغلو او عام خو قطعی دے ـ

﴿ **ولا یتـرک العمل به** ﴾ حـروف جاره دیـو بل په معنی راځی نو دلته دا واو په معـنـی د فـاء دے فـلا یتـرك الـعـمـل به نو نه به شی پریخودے عمل په عام د کتاب الله په قیاس علی الغصب باندے۔

﴿ **والدلیل علی ان کلمة عامة** ﴾ ـ دا عبارت جواب د سوال مقدر دے چه تاسو وایئ کـلـمـه د ما په جزاء بـمـا کسبـا کښی عـامـه ده پدے څه دلیل دے ما دِ خاص شی نو مـصـنف جواب کوی : ترجمه : او دلیل پدے خبره باندے چه کلمه د ما عامه ده هغه قول دے چه ذکـر کـړے دے هغـے لـره امام محمد کله چه اووائی مولا خپلے ښځے ته کچرے وی جمیع هغـه چـه سـتـا پـه خیټه کښی دی غلام نو ته آزاده ئے نو هغے وینځے غلام او جاریه وزیـږولـه نـو حـکـم دا دے چـه دا نـه آزادیږی ځکه چه شرط د اعتاق موجود نه شو ځکه شرط د اعتـاق دا دے کـچـرے مـجـمـوعه ما فی بطنك غلام وی نو ازاده به شی او دلتـه خو مجـمـوعه ما فی البطن غلام نه شو بلکه بعض ما فی البطن غلام او بعض ما فی البطن جاریه ده نـو مـعـلـومـه شوه چـه کلمه د ما عامه ده کچرے عامه نه وی نو بیا پکار ده چه

...ينځه آزاده شوے وے نو دا عدم ترتب د مطلق پدے قول د مولیٰ دلیل دے ددے خبرے چ...
...كلمه د ما عامه ده ـ

سوال : قول د امام محمد دپاره د عموم د ما ذکر کول صحیح نه دی ځکه امام محمد...
خو امام د فقهې دے امام د لغت نه دے ؟ ـ

جواب : امام محمد لکه څنګه چه امام د فقه دے دارنګه امام فی اللغت هم دے نو...
استدلال دده په قول باندے په لغت کښ صحیح دے ـ

﴿ وبمثله نقول فی قوله تعالی فاقرأوا ما تیسر من القرآن فانه عام ﴾

ترجمه : او په مثل دمذکور باندے (یعنی لکه څنګه چه کلمه د ما په جزاء بما کسبا...
کښ عامه وه) نو دغه رنګه مونږ قول کوو په دے قول د باری تعالی کښ چه فاقرأوا ما
تیسر من القرآن ـ لولئ هغه چه کوم آسان وی تاسو ته د قرآن نه برابره خبره ده چه هغه
فاتحه وی او که غیر فاتحه وی ځکه کلمه د ما عامه ده ـ فانه عام فی جمیع ما تیسر من
القرآن ـ ځکه دا عام دے په جمیع ما تیسر من القرآن کښ نو بعض د ضروریاتو ددے
عموم نه عدم توقف د جواز د قراءت دے په فاتحه باندے یعنی چه مونځ په لوستو د
فاتحه باندے موقوف نشی په غیر د فاتحه باندے دے هم جائز شی ـ

﴿ وجاء فی الخبر ﴾ او په حدیث کښ راغی چه جائز نه دے مونځ بغیر د فاتحه
نه نو مونږ عمل په دواړو دلیلینو باندے اوکړو پداسے طریقے چه حکم د کتاب الله پدے خبر
واحد سره متغیر نشی په ذے شان سره چه خبر به مونږ حکم کړو په نفی د کمال باندے ـ
یعنی لا صلاة کاملة الا بفاتحة الکتاب ـ

﴿ حتی یکون مطلق القراء ة ﴾ ـ ترجمه : تردے چه مطلق قرائت به فرض شی
په حکم د کتاب سره او قرائت د فاتحے به واجب اوګرځوو په حکم د خبر سره ـ نو قرائت د
فاتحه واجب ده خو په حق د منفرد او د امام کښ او د مقتدی په حق کښ قرائت د فاتحه
واجب نه ده د وجے د هغه حدیث نه چه من کان له امام فقراء ة الامام قراء ة له دا یو
اختلافی مسئله ده د قراءت خلف الامام په هدایه کښ به راشی خو مسائل اختلافیه فی
الصلاة که جهر د تامین دے او که رفع الیدین دی او که وضع الیدین ما تحت السره دی دا...

ټول بناء دی په اولویت او په عدم اولویت باندے نو که رفع الیدین اوشو یا جهر بالتامین اوشو یا وضع الیدین علی الصدر اوشو نو احناف په فساد د صلاة قائل نه دی او که رفع الایدی اونه شو جهر بالتامین اونه شو وضع الایدی تحت السره اوشو نو هم شوافع د فساد د صلاة قائل نه دی لیکن مسئله د قرائت خلف الامام د جواز او د عدم جواز ده او د جابینو دپاره دلائل دی هدایه کښ به راشی ۔ (۱)

﴿ **وقلنا کذلک** ﴾ دا بله مسئله ذکر کوی پدے چه د عام کتاب الله مقابل کښ خبر واحد راشی نو په کتاب الله به عمل کوو او خبر واحد به ترك کوو کله که په دواړو عمل ممکن نه وو وقلنا کذلك : ترجمه : او وایو مونږ دارنګه کلمه د ما عامه ده په شان د فاقرأوا ما تیسر کښ پدے قول د الله تعالی کښ ﴿ **ولا تأکلوا مما لم یذکر اسم الله علیه** ﴾ کښ ۔ مه خورئ د هغه ذبائحو نه چه نوم د الله پرے نه وی یاد شوے۔

﴿ **انه یوجب متروک التسمیة عامداً** ﴾ ترجمه : نو دا آیت واجبوی حرمت د متروك التسمیه عامداً چه قصداً ئے په ذبح کښ تسمیه اونه ویله نو هغه حرامه ده او په حدیث کښ دی چه د رسول الله ﷺ نه د متروك التسمیه عامداً متعلق پوښتنه وشوه نو هغه ورته وویل ﴿ **کلوه فان تسمیة الله فی قلب کل امرأ** ﴾ خورئ تاسو دغه مذبوحه ځکه تسمیه په زړه د هر مسلمان کښ موجوده ده (بسم الله ئے اوویله او که وئے نه ویله)۔ ﴿ **فلا یمکن التوفیق بینهما** ﴾ نو توفیق په مابین د دے دواړو دلیلنو کښ ممکن نه دے ځکه آیت حرمت ثابتوی او حدیث حلت ثابتوی (او حل او حرمت دواړه جمع کیدے نه شی) ﴿ **لانه لو ثبت الحل الخ** ﴾ ځکه کچرے ثابت کړو حل په ترك د

---

(۱) فائده : اختلافات مذکوره زمونږه او د شوافعو ترمینځ که هغه په اولی غیر اولی کښ وی او که په جواز او عدم جواز کښ دا فرعی اختلافات دی په دے کښ نسبت د ضلال احد هما آخر ته نه شی کولی ځکه مذاهب اربعه ټول اهل السنة والجماعة دی، دا اختلافات داسی نهٔ دی لکه اختلاف د معتزلو، خوارجو، روافضو او نورو فرقو ضالو سره فتدبر۔ سید فضل الحق ۔

تسمیه عامدا باندے نو ثابت به شی حل په ترك التسمیه ناسیا باندے هم (نو هر کله چ
مذبوحه بترك التسمیه عامداً او ناسیاً دواړه حلاله شوه)۔

﴿ فحینئذ یرتفع حکم الکتاب ﴾ نو په دے وخت کښ حکم د کتاب پورته شو
بالکلیه نو دآیت لاندے مصداق پاتے نه شو نو بیا به په آیت کښ نسخ راشی او نسخ په
خبر واحد دکتاب الله خو جائز نه ده ۔

﴿ فیترک الخبر ﴾ نو مونږ به په عام د کتاب الله باندے عمل اوکړو او ددے
مقابل کښ خبر واحد چه ظنی دے هغه به ترك کړو چه متروك د تسمیه عامدا حرامه د
په عام د کتاب الله سره او متروك التسمیه ناسیا حلاله ده پدے خو اجماع منعقده ده ۔

﴿ وکذلک قوله تعالی وامهاتکم اللاتی ارضعنکم ﴾

دغه رنګه دا قول د الله تعالی چه میاندے ستاسو هغه چه تاسو لره پئ درکړیدی ۔ د
هم په اعتبار د عموم سره تقاضا کوی د حرمت د نکاح د مرضعی او په حدیث کښ راځی
چه نه ثابتوی حرمت یو ځل چوپل د بچی تی لره او یا دوه ځل چوپل او نه یو پیره دننه
کول د تی د مرضعی په خوله د ماشوم کښ او نه دوه پیرے ۔ مص فعل د رضیع دے او
املاج فعل د مرضعی دے۔

ابتداء نه خو حدیث د عائشه رضی الله عنه وو چه محرم د نکاح دپاره لس رضاعات
وو خو روسته دا بیا منسوخ شول په پنځه رضاعاتو سره نو معنی د حدیث دا ده چه د
پنځه رضاعاتو نه کم وی نو پدے سره حرمت د مرضعی نه ثابتیږی ۔ او آیت تقاضا ددے
کوی چه مطلق ارضاع سبب د حرمت دے چه ارضعنکم مطلق ارضاع حرمت د نکاح
ثابتوی نو آیت تقاضا کوی د حرمت او حدیث تقاضا کوی د عدم حرمت عمل په دواړو
دلیلنو باندے ممکن نه دے نو مونږ به خبر پریږدو۔

﴿ واما العام الذی خص عنه البعض ﴾ تر اوسه پورے ئے بحث د عام غیر
مخصوص عنه البعض اوکړو اوس بحث د عام مخصوص عنه البعض په دلیل قطعی
کوی پدے کښ هم اقوال اربعه دی۔

۱- قول دا دے چه عام مخصوص البعض واجب التوقف دے برابره خبره ده که دلیل

مخصص مجهول المراد وی او که معلوم المراد وی چه دلیل مخصص معلوم المراد وی ددے مثال لکه اقتلوا المشرکین ولا تقتلوا اهل الذمة دے دلته دلیل مخصص معلوم المراد دے او مثال د هغے چه دلیل مخصص مجهول المراد وی لکه اقتلوا المشرکین ولا تقتلوا بعضهم ۔ دوی قیاس کوی په استثناء مجهوله باندے لکه له علیٰ الف الا بعضه نو مونږه په دے باندے تر هغے پورے عمل نه کوو چه د بعضه بیان نه وی شوے چه دا څومره روپئ دی چه هغه ترینه مونږ مستثنی کړو او ما بقیه روپئ لازم کړو په ذمه د مقر باندے نو په استثناء کښ خو توقف وو نو په دے کښ هم شو خو پدے مذهب والو باندے اعتراض دے چه قیاس کولو د دلیل مخصصه مجهول المراد خو په استثناء مجهوله باندے خو صحیح دے ځکه چه علت مشترکه بینهما موجود دے چه هغه جهالت دے لیکن هر کله چه دلیل مخصصه معلوم المراد وی نو ددے قیاس په استثناء مجهوله باندے دا قیاس مع الفارق دے علت مشترکه بینهما نشته خو دا حضرات ددے اعتراض نه جواب کوی چه کوم دلیل مخصصه معلوم المراد وی نو دا خو کلام مستقل دے او په هر کلام مستقل کښ احتمال د علت وی (معلول بالعلت وی) او هغه علت معلوم نه دے نو پدے کښ جهالت په اعتبار د عدم معرفت د علت سره راغلی دی۔ نو مناسبت ئے د استثناء سره راغلو۔

۲- **دویم قول** دا دے چه حکم د عام مخصوص البعض قطعیت دے لکه څنګه چه قبل د تخصیص نه حکم قطعي وی دغه رنګه بعد التخصیص هم حکم قطعي دے برابره خبره ده چه دلیل مخصصه معلوم المراد وی او که مجهول المراد وی ۔

دوی قیاس کوی په ناسخ مجهوله باندے او علت مشترکه ئے استقلال دے چه لکه څنګه چه ناسخ کلام مستقل مقرن وی نو دغه رنګه دلیل مخصصه هم ندے مګر کلام مستقل دے نو پدے استقلال استقلال کښ مناسبت د احد هما د آخر سره دے، نو حکم په ناسخ مجهوله کښ ماقبل کښ قطعیت وی نو په عام مخصوص البعض کښ به هم حکم په ماقبل کښ قطعیت وی۔ په دوی باندے اعتراض مذکوره دے چه کله دلیل مخصصه مجهول المراد وی نو قیاس ئے په ناسخ مجهوله باندے صحیح دے ځکه چه دواړو کښ

جهالت شته خو چه کله دلیل مخصصه معلوم المراد وی نو ددے قیاس په ناسخ مجهول
باندے قیاس مع الفارق دے۔

دوی **جواب** کوی چه کیدے شی چه هغه دے معلوم بالعلة وی او هغه علت معلوم
نه دے نو د جهالت د علت د وجے نه پدے دلیل مخصصه معلوم المراد کښ هم جهالت
راپیدا شو مناسبت ئے راغلو د ناسخ مجهوله سره۔

۳- **مذهب** دا دے چه عام مخصوص البعض کښ کچرے دلیل مخصصه معلوم
المراد وی نو بیا حکم قطعیت دے لکه استثناء معلوم ۔ او که دلیل مخصص
مجهول المراد وی نو بیا حکم توقف دے لکه استثناء مجهوله ۔ استثناء چه معلوم
وی نو ماقبل کښ حکم قطعی وی او چه مجهوله وی نو ماقبل حکم توقف وی نو په
عام مخصوص البعض کښ به هم داسے وی۔

٤- **خلورم قول** : مختار عند الاحناف او د عام اصولینو په نیز دا دے چه عام
مخصوص البعض ذو شبهین دے من وجه مناسبت ئے د استثناء سره دے په اخراج کښ او
من وجه مناسبت ئے د ناسخ سره دے په استقلال کښ نو یو تقاضا کوی د عدم وجوب
العمل او دا بل دلالت کوی په وجوب العمل باندے نو مونږ به په دواړو شبهینو باندے
عمل اوکړو واجب العمل به ئے وایو خو په طریقے د ظنیت سره نه په طریقے د قطعیت سره۔

مصنف دا ذکر کوی : ﴿ **وما العام الذی خص عنه البعض** ﴾

ترجمه : هر چه هغه عام دے چه د هغے نه تخصیص د بعض افرادو شوے وی نو اثر مرتبه
ددے دا دے چه واجبیږی عمل پدے باندے په باقی کښ سره د احتمال نه۔ ﴿ **اذا قام
الدلیل** ﴾ کله چه قائم شی دلیل په تخصیص د باقی باندے نو بیا واجب دے تخصیص
ددے په خبر واحد او قیاس باندے تردے پورے چه لاندے د هغه عام نه درے پاتے شی (ځکه
د د دریو نه زیات تخصیص که ئے وشی نو بیا به عام عام پاتے نه شی) خو دا په عام لفظی
کښ او تر یو پورے به تخصیص جائز وی په عام معنوی کښ زیات ددینه به تخصیصات
جائز نه وی ځکه چه بیا خو عام عام نه پاتے کیږی بلکه نسخ جوړیږی ۔

﴿ **فیجب العمل به وانما جاز ذلک** ﴾ دا تخصیص د عام په خبر واحد سره او په

قیاس سره پس د تخصیص نه په دلیل قطعی سره جائز دے ځکه چه دلیل مخصصه (چه هغه آیت وی که حدیث او یا اجماع وی)

﴿ **الذی اخرج البعض** ﴾ هغه چه هغه اخراج د بعض افرادو کړے وی د مجموعه نه کچرې دے اخراج اوکړو د بعض مجهول (غیر معین) افرادو نو ثابتیږی په هر فرد معین کښ (لکه اقتلوا المشرکین ولا تقتلوا بعضهم) نو اوس زید فرد معین دا احتمال لری چه دا دے داخل شی لاندے د حکم د اقتلوا او دا احتمال هم لری چه دا دِے داخل شی لاندے د حکم د لا تقتلوا نه۔

﴿ **فجاز ان یکون باقیا تحت حکم العام** ﴾ نو جائز ده چه دا فرد دے باقی وی لاندے د حکم د عام نه چه اقتلوا دے او دا هم جائز ده چه دا فرد معین دے لاندے د دلیل د خصوص نه چه لا تقتلوا دے نو دخول او خروج برابر شول طرفین په حق د فرد معین کښ۔

﴿ **فاذا قام الدلیل** ﴾ ۔ هر کله چه دلیل شرعی موجود شو پدے چه دغه فرد معین د جملے د هغه افرادو نه دے چه داخل دی لاندے د دلیل د خصوص نه نو ترجیح به ورکړے شی جانب د تخصیص ته نو دا به د حکم د عام نه خارج شی یعنی د اقتلوا نه به خارج شی بلکه په ولا تقتلوا کښ به داخل شی ۔

﴿ **وان کان المخصص** ﴾ ۔ ترجمه : دلیل مخصص اخراج کړے وی د بعض افرادو معلومو د دے مجموعے افرادو نه (لکه اقتلو المشرکین ولا تقتلوا اهل الذمة نو اهل الذمه معلوم افراد دی چه دائے اوویستل) نو اوس احتمال دا شته چه :

﴿ **جاز ان یکون معلولا بعلة** ﴾ ۔ چه دا دے معلوم په علت سره وی یعنی په اهل الذمه کښ حکم د لا تقتلوا ځکه دے چه دا محاربین نه دی د مسلمانانو سره نو هغه ځوك چه په هغے کښ علت د عدم المحاربه موجود شو نو هغه به داخل وی لاندے د حکم د لاتقتلوا نه۔

﴿ **موجودة فی هذا الفرد المعین** ﴾ چه دغه علت دِے موجود وی پدے فرد معین کښ لکه زید شو مثلا نو هر کله چه دلیل شرعی موجود شو په وجود د دغه علت باندے په غیر ددے فرد معین نه په بل یو فرد کښ نو ترجیح به ورکولے شی جهت د تخصیص ته نو عمل به کولے شی پدے باندے سره د وجود د احتمال نه چه دا دے د دلیل

مخصصه د لاندې داخل نه وی چه لا تقتلوا دې بلکه لاندې د حکم د عام نه داخل وی چه اقتلوا دې مثلاً .

□□□□□□□□□□□

□□□□□□

﴿ فصل فی المطلق والمقید ﴾

هر کله چه فارغ شو مصنف د بحث د خاص او د عام نه نو شروع ئے وکړه په مطلق او مقید کښ . **سوال** : دا دے چه بحث د اقسامو د وضع کښ وو چه هغه خاص، عام، مشترك او مؤول وو نو مصنف نوعین د وضع ما قبل کښ ذکر کړل چه خاص او عام وو نو پکار وه چه اوس ئے نوعین آخرین ذکر کړی وے چه مشترك او مؤول دی نو شروع د مصنف په مطلق او مقید کښ دا خروج من البحث دے او خروج من البحث د طریقے د فصحاؤ بلغاؤ نه مخالف دے؟

جواب : دلته خروج من البحث نه دے شوے بلکه اقسام د وضع کښ مصنف قسمین ذکر کړل خاص او عام خو خاص او عام دوه قسمین دی اتفاقی او اختلافی مخکښ مصنف خاص او عام اتفاقی ذکر کړل اوس مصنف خاص او عام اختلافی ذکر کوی

مطلق په نزد د امام شافعی د عام د قبیلے نه دے او مقید په نزد دده د خاص د قبیلے نه دے او په نزد د احنافو مطلق او مقید دواړه د خاص د قبیلے نه دی .

مطلق هغے ته وائی چه په هغے کښ تعرض د ذات بما هو الذات د شی ته شوے وی قطع لحاظ د صفت نه او مقید هغے ته وئیلے شی چه په هغے کښ تعرض ذات د شی ته کړے شوے وی سره د لحاظ د صفت نه مثال د مطلق لکه په کفاره د یمین کښ چه راځی چه فتحریر رقبة دلته تعرض ذات د رقبی ته شویدے قطع لحاظ د صفت نه یعنی دا تقید ئے نه دے کړے چه دا رقبه به مومنه وی که کافره یا به سپینه وی یا به توره وی یا به سالم الاعضاء وی او که غیر سالم الاعضاء وی نو مطلق رقبه ده تقید د وصف په کښ نشته او مثال د مقید لکه په کفاره د قتل خطاء کښ چه راځی فتحریر رقبة مؤمنة . دلته تعرض ذات د رقبے ته شویدے خو سره د لحاظ د صفت نه چه دا رقبه به مومنه وی .

﴿ **ذهب اصحابنا الی ان المطلق من کتاب الله** ﴾ : هر کله چه مطلق او مقید عندنا د قبیلے د خاص د کتاب الله نه دی نو حکم د خاص خو مخکښ تیر شوے وو

چه وجوب العمل لا محالة نو حکم د مطلق او مقید به هم وجوب العمل وی لا محاله دا به هم قطعی وی په شان د خاص او ددے په مقابل کښې به هم خبر واحد او قیاس متروك وی په شان د خاص ـ یعنی که د مطلق او مقید په مقابله کښې خبر واحد یا قیاس راشی نو که عمل پدے دواړو دلیلینو ممکن وو نو مونږ به په دواړو عمل کوو ځکه اصل په ادله و کښې اعمال دے نه اهمال او که عمل بالدلیلین ممکن نه وی نو مونږ به په مطلق او مقید باندے عمل کوو ځکه دا قطعی دے او خبر واحد او قیاس به ددے په مقابل کښې مونږ ترك کوو په شان د خاص ځکه که دلیل ظنی مونږ متروك نه کړو نو زیادت راځی په کتاب الله کښې په دلیل ظنی سره او دا ناجائز دے ځکه نسخ د وصف د اطلاق د کتاب الله راځی په دلیل ظنی سره او دا ناجائز دے۔

فصل فی المطلق والمقید : ترجمه : فصل کائن دے په بیان د احکامو د مطلق او مقید کښې ذهب اصحابنا : ذهاب کړیدے ملگرو زمونږ (احنافو) دے خبرے ته چه مطلق د کتاب الله نه (دارنگه مطلق د خبر مشهوره نه)۔

﴿ اذا امکن العمل ﴾ کله چه ممکن وی عمل په اطلاق د هغے بغیر د ضرورت نه تقید د کتاب الله او خبر مشهوره ته۔

﴿ فالزیادة علیه بخبر الواحد والقیاس لا یجوز ﴾ نو زیادت په مطلق د کتاب الله او خبر مشهوره په خبر واحد او په قیاس سره جائز نه دے ځکه کچرے مونږ تقید د کتاب الله یا د خبر مشهور په خبر واحد یا قیاس سره اوکړو نو نسخ د وصف د اطلاق د کتاب الله راځی په دلیل ظنی سره او دا جائز نه دے ځکه حکم د مطلق په شان د خاص قطعی دے واجب العمل دے ـ مثال ددے لکه په کتاب الله کښې راځی :

﴿ فی قوله تعالی فاغسلوا وجوهکم ﴾ الخ ترجمه : مثال ددے چه موجود دے په دے قول د الله کښې چه : اووینځئ مخونه خپل ﴿ فالمامور به ﴾ ـ نو مامور به په آیت کښې غسل دے مطلقا بغیر د شرط د نیت او د ترتیب او د موالات او د تسمیئے نه)

﴿ فلا یزاد علیه شرط النیة ﴾ ـ نو نشی زیاتی کولے پدے باندے شرط کول د نیت او د ترتیب او د موالات او د تسمیئے په خبر واحد سره ـ

تشریح : په قرآن کښې مامور به مطلق غسل دے که په اودس کښې مونږ نیت شرط کړو لکه امام شافعي چه نیت په اودس کښې شرط وائي پدے خبر واحد سره چه انما الاعمال بالنیات وانما لامرئ ما نوی الحدیث : دارنګه ترتیب په اودس کښې شرط کړو په دے خبر واحد سره چه نبي علیه السلام په ترتیب سره اودس اوکړو او بیا ئے اوفرمایل : هذا وضوء لا یقبل الله الصلاة الا به یا موالات په اودس کښې شرط کړو لکه امام مالك چه وائي پدے خبر واحد سره چه د یو سړي پونده کښې وچه ځائے وو نو نبي علیه السلام ورته په اعاده د مانخه او اودس حکم وکړو یا تسمیه په اودس کښې شرط کړو پدے حدیث سره چه لا وضوء لمن لم یذکر اسم الله علیه (رواه ابوداود) نو نسخ د وصف د اطلاق د کتاب الله به راشي په اخبار احادو سره او دا ناجائز ده نو ځکه مونږ اودس کښې نه نیت شرط وایو او نه ترتیب او نه موالات او نه تسمیه۔

﴿ **ولکن یعمل بالخبر** ﴾۔ ترجمه : لیکن عمل به کولے شي په اخبارو باندے په داسے طریقې چه حکم د کتاب پرے متغیر نه شي (ځکه اصل په ادله و کښې اعمال دے نه اهمال) ۔ ﴿ **فیقال الغسل المطلق فرض** ﴾ نو ویلے به شي چه غسل مطلق د اعضاء مذکوره في الکتاب فرض دے په حکم د کتاب سره او نیت او ترتیب او موالات او تسمیه ویل په اودس کښې سنت دي په اخبار احادو سره۔

﴿ **وکذلک قلنا في قوله تعالی الزانیة والزاني الخ** ﴾۔ ترجمه : لکه څنګه چه فاغسلوا مطلق وو نو دغه رنګه وایو مونږ پدے قول د الله تعالی کښې چه زنا کاره ښځه او زنا کار سړے چه کله غیر محصن احرار وي او د هغے نه زنا صادره شي په احدی البینتین سره چه اقرار دے یا ګواهي ده نو اووهي هر واحد د دوی نه سل دوري نو کتاب الله اوګرځوه وهل د (۱۰۰) دورو حد دپاره د زنا نو زیاتے به نشي کیدے په دے باندے جلا وطن کول د یو کال د جهت د حد نه ﴿ **لقوله** ﴾ د وجے ددے قول د نبي علیه السلام نه چه ﴿ **البکر بالبکر** ﴾ ۔ چه حد د زنا د باکرے په مقابله د باکره کښې دوري دي سل او جلاوطني ده د یو کال ۔ ﴿ **بل یعمل** ﴾ بلکه عمل به کولے شي په خبر واحد باندے پداسے طریقه چه بدل نشي په هغے سره حکم د کتاب الله نو شي به سل دورے وهل حد

شرعي په حکم د کتاب الله سره او جلاوطنی د يو کال به روا شي سياسة مصلحةً ـ يعنى حکم د خبر سره دا به مفوض وى رائے د امام ته ـ

تشريح : الزانية والزاني کښې الف لام عهدي دى معهود پدے سره زانيه او زاني غير محصن دى ځکه د محصن دپار حد زنا رجم دے د غير محصن دپاره حکم د جلد دے.

دويم شرط دلته دا دے چه دا زانيين به احرار وى غلامان به نه وى ځکه رقيت منقص دے لکه څنګه چه تنقيص په نعمو کښې راولى نو دغه رنګه تنقيص په عقوبت کښې هم راولى نو چه د حر دپاره حکم د (۱۰۰) دورو شو نو د عبد دپاره به حکم د (۵۰) دورو وى نو د کتاب الله نه معلوميږى چه حد د زنا د غير محصن چه حر وى صرف سل (۱۰۰) دورى دى او په حديث کښې راغلى چه د غير محصن دپاره حد زنا سل دورے او تغريب عام دے نو اوس که مونږ تغريب عام هم جز د حد اوګرځوو نو په مطلق د کتاب الله باندے به زيادت راشى په خبر واحد سره نو نسخ د وصف د کتاب الله به راشى په دليل ظنى سره او دا جائز نه دے نو مونږ تغريب عام جز د حد نه نه ګرځوو بلکه تغريب عام مونږ حکم سياسةً يعنى مصلحت ته به حاکم وقت ګورى که په تغريب عام کښې مصلحت وو نو تغريب عام به اوکړى او که مصلحت په کښې نه وو نو نه به ئے کوى او سل دورى به ورکوى

او دليل پدے باندے چه تغريب عام جز د حد الزنا نه دے دا قول د عمر رضى الله عنه دے چه ده يو سړى ته سل دورے سزاء ورکړه او د يو کال دپاره ئے جلا وطن کړو نو سړے مرتد شو او د اهل روم سره ملحق شو نو عمر رضى الله عنه چا خبر کړو نو هغه قسم اوخوړو چه که آينده دپاره چا نه زنا صادره شوه نو زه به فقط سل دورے سزاء ورکوم او جلاء وطن کوم به ئے نه نو اوس که تغريب عام جز من حد الزنا وے نو عمر به قسم په عدم تغريب باندے نه کوو نو معلومه شوه چه تغريب عام جزء د حد د زنا نه دے بلکه دا حکم مشروع سياسةً دے ـ

﴿ **وکذلک قوله تعالى وليطوفوا بالبيت العتيق** ﴾ ـ ترجمه : او هم دغه رنګه چه مونږ په مطلق د کتاب الله باندے زيادت نه شو کولے په خبر واحد سره دا قول د الله تعالى دے چه طواف دے اوکړى دوى د بيت الله نه چه عتيق دے ـ د لفظ عتيق ګنړى

معانی دی ۱ - عتیق بمعنی القدیم کما قال تعالی : ان اول بیت وضع للناس للذی ببکة دا اولنے کور دے چه وضع شوید ے دپاره د خلکو او د خیر نه ډک دے ۔

۲ - عتیق بمعنی المعتق چه دا د لاسونو د جبابرو نه آزاد کړے شوید ے ۔

۳ - عتیق بمعنی عتیق زائره : زائرین د بیت الله معتق دی د اور نه خو په شرط د ایمان سره چه مسلمان به وی ۔

۴ - عتیق بمعنی القوی لکه په محاوره کښ ویلے شی عتقة الطیر اذا قوی علی الطیران کله چه بچی د مارغانو مضبوط شی او د الوتلو قابل شی نو عتقة الطیر ویل شی نو بیت الله هم قوی دے ۔

نو ولیطوفوا دلته مطلق دے قیودات په کښ نشته چه اووه چکری کوی یا ابتداء د حجر اسود نه کوی یائے په اوداسه کوی نو که طواف یو چکر اوشو نو هم کافی ده که د حجر اسود نه شروع نه شو نو هم صحیح ده او که بغیر الوضوء اوشو نو هم صحیح دے ځکه حکم مطلق دے البته طواف به هغه شرعاً معتبر وی چه اووه چکره وی او ابتداء ئے د حجر اسود نه شوی وی او په اوداسه سره به وی او که دا شروط پکښ نه وی نو دا طواف به شرعا معتبر نه وی ځکه ددے شرائطو زیادت په اخبار مشهوره سره شوید ے او قاعده دا ده چه زیادت په کتاب الله په خبر مشهور سره جائز دے صاحب نور الانوار وائی (لعله ثبت باالاخبار المشهورة) ۔ شاید چه دا تسبیع د طواف او شروع من الحجر الاسود ثابت شوی وی په اخبار مشهوره ؤ سره او اودس شرط شوید ے دپاره د طواف په خبر واحد سره چه نبی علیه السلام فرمائی : انما الطواف بالبیت مثل الصلوة حکم د طواف بالبیت په شان د مونځ دے صرف دومره فرق دے چه په صلوة کښ خبرے جائز نه دی او په طواف کښ جائز دی نو د صلوٰة دپاره خو وضوء شرط وو نو اوس که د طواف دپاره هم مونږ وضوء شرط وګرځوو نو زیادت په کتاب الله راځی په خبر واحد سره او دا جائز نه دے ځکه نسخ د وصف د اطلاق د کتاب الله راځی په خبر واحد سره او دا جائز نه ده ۔

مطلق فی مسمی الطواف بالبیت دا ولیطوفوا مطلق دے په مسمی د طواف بالبیت کښ نو زیادت د شرط د اودس به په دے باندے نشی کیدے په خبر واحد سره

چه انما الطواف بالبيت كالصلوه دے - ﴿ **بل يعمل** ﴾ - بلكه عمل به كيږي په خبر واحد باندے په داسے طريقے سره چه بدل نشي په هغے سره حكم د كتاب الله -

﴿ **بان يكون مطلق الطواف فرضاً** ﴾ پداسے شان سره چه مطلق طواف به فرض شي په حكم د كتاب الله سره او اودس به واجب شي په حكم د خبر واحد سره -

﴿ **فيجبر النقصان اللازم بترك الوضوء الواجب بالدم** ﴾

نو پټيږي به لګولے شي د هغه نقصان چه لازم شوے دے د وجے د پريخودلو د اودس نه چه لازم وو (١) په دم سره او ادنى مقدار د هغے دم شاة دے يعنى كه طواف بالبيت چا بغير د وضوء اوكړو نو شاة به وركوي -

﴿ **وكذلك قوله تعالى واركعوا مع الراكعين** ﴾ - دغه رنګه په شان د طواف دا قول د الله تعالى دے چه واركعوا لكه څنګه چه وليطوفوا مطلق وو نو دغه رنګه واركعوا هم مطلق دے ځكه ركوع مطلق انحناء ته ويلے كيږي او سجده وضع الجبهه على الارض ته ويلے كيږي نو پدے كښې قيد د طمانينت په كتاب الله كښې نشته نو مونږ تعديل د اركان شرط نشو ويلے په هغه خبر واحد سره چه نبى عليه السلام مسجد نبوى كښې ناست وو يو اعرابى لمونځ اوكړو او بيا راغلے او په نبى عليه السلام باندے ئے سلام اوكړو نو نبى عليه السلام د سلام جواب وركړو او بيا ئے ورته اوويل : صل فانك لم تصل - نو دے اعرابى درے كرته دا عمل اوكړو او نبى عليه السلام ورته حكم د اعادے اوكړو په دريم ځل چه كله هغه راغے نو هغه اوويل يا رسول الله ما ته خو دا طريقه د مونځ معلومه ده بله طريقه راته نده معلومه - نو نبى عليه السلام ورته طريقه د مانځه اوخودله چه كله ركوع او سجده كوے نو تعديل او طمانيت كوه - نو معلومه شوه چه تعديل الاركان د لوازماتو نه دے كه نه وى نو نبى عليه السلام به هغه اعرابى ته حكم د اعادے د صلاة نه وے كړے ليكن كه مونږ پدے باندے عمل اوكړو او تعديل د اركانو فرض دپاره د مانځه اووايو نو به

---

(١) يعنى د وضوء واجب په ترك سره چه كوم نقصان لازم شوى دى د هغى جبيره به دم وى چه ادنى مقدار د هغى شاة دى- سيد فضل الحق-

مطلق د کتاب الله باندے به زیادت راشی په خبر واحد باندے ځکه وارکعوا مطلق دے برابره خبره ده چه که تعدیل الارکان پکښې وی او که نه وی اوس که مونږ تعدیل الارکان فرض کړونو زیادت به په کتاب الله راشی او نسخ د وصف د اطلاق د کتاب الله به راشی په خبر واحد سره او دا جائز نه ده نو تعدیل الارکان فرض نه دے البته واجب دے په حکم د خبر واحد سره او رکوع او سجده فرض شوه په کتاب الله سره دومره قدرے خبره ده چه په ترك د تعدیل الارکان سره سجده سهوه نه لازمیږی دا مفتیٰ به قول د احنافو دے او صاحب د هدایه ذکر کړیدے ځکه واجب دوه قسمه دی یو هغه دی چه د هغے وجوب د وجے د غیر نه راغلے وی او یو قسم هغه واجب دی چه د هغے وجوب د وجے د غیر نه نه وی راغلے نو کوم واجب چه د هغے وجوب د وجے د غیر نه راغلے وی نو د هغے په ترك سره سجده سهوه نه لازمیږی او د تعدیل الارکان وجوب د وجے د غیر نه راغلے دے چه هغه ارکان دی نو ددے په ترك سره سجده سهوه نه لازمیږی ۔

وکذالك قوله تعالی وارکعوا مع الراکعین الخ : ترجمه : دغه رنګه دا قول د الله تعالی چه وارکعوا مع الراکعین مطلق دے په مسمی د رکوع کښې نو زیادت به نشی کولے په دے باندے شرط د تعدیل الارکان په حکم د خبر واحد سره لیکن حکم به په خبر واحد سره کیږی پداسے طریقے سره چه متغیر نه شی په هغے سره حکم د کتاب الله نو مطلق رکوع به فرض شی په حکم د کتاب الله سره او تعدیل الارکان به واجب شی په حکم د خبر واحد سره ۔

﴿ وعلی هذا قلنا یجوز التوضی بماء الزعفران ﴾ ۔

ترجمه : بناء پدے قاعده باندے مطلق په خپل اطلاق باندے جاری کیږی چه اودس جائز دے په اوبو د زعفران باندے ۔ اضافت د ماء زعفران ته داسے دے لکه اضافت چه د ماء اوشی بیر ته دارنګه اضافت اوشی بیر او بحر ته ۔ ماء البیر ماء البحر ماء العین اوویل شی دا اضافت د تقرر دپاره وی پدے اضافت سره زعفرانو ته دا اوبه د وصف د ماء نه ندی وتلی نو دے فاقد د اوبو نه دے نو تیمم به نه کوی بلکه په ماء الزعفران به اودس کوی ۔

﴿ وبکل ماء خالطه شیء طاهر ﴾ ۔ دارنګه جائز دے اودس په هر هغه اوبو

باندے چه خلط شی د هغے سره شی طاهر نو متغیر شی په هغے سره یو د اوصافو داوپو
ځکه شرط دپاره د صیرورت تیمم ته عدم مطلق الماء دے۔
﴿ **وهـذا تبقى ماء مطلقاً** ﴾ ۔ او دا خو مطلق اوبه باقی پاتے دی ځکه قید د
اضافت د ماء زعفرانو ته ندے زائله کړے د دینه اسم د مطلق الماء بلکه مقرر کړے ئے دے نو
داخل دی لاندے د حکم د مطلق اوبو نه۔
﴿ **وكان شرط بقائه على صفة المنزل من السماء** ﴾ او دے شرط د بقاء
ددے اوبو په هغه صفت چه منزل من السماء وی قید دپاره ددے مطلق اوبو۔ یعنی که
مونږ اووایو چه اوبه مطلق هغه دی چه وصف د المنزل من السماء په کښې موجود وی او
ماء الزعفران خو په وصف د المنزل من السماء ندی نو دا به قید شی دپاره ددے مطلق نو
په خپل اطلاق به جاری نه شی نو داسے مونږ نشو کولے۔
﴿ **وبه يخرج حكم ماء الزعفران** ﴾ ۔ او په دے باندے متفرع کیږی حکم د ماء
الزعفران او د ماء الصابون او ماء الاشنان وامثاله چه پدے باندے اودس کول جائز دی۔
﴿ **وخرج من هذه القضية النجس الخ** ﴾ دا دفع د اعتراض ده اعتراض دا دے
چه د ماء اضافت النجس ته دے هم په شان د اضافت د ماء شی زعفران ته او په ماء النجس
باندے دے هم توضئ جائز شی والامر ليس كذلك ؟۔
نو دے جواب کوی وخرج عن هذه القضيه : ترجمه : او خارج دے ددے حکم نه ماء
النجس پدے قول د الله سره چه ولكن يريد ليطهركم ۔ الله غواړی چه تاسو پاك كړی په
اوبو سره او ماء النجس خو دپاره د تطهير نه دی نو هغه ترینه پدے قول د الله سره خارج
شوی ځکه نجاست دوه قسمه دے حقیقی او حکمی او ماء النجس نه مزیل دپاره د
نجاست حقیقی دے او نه د حکمی نو اثر د ماء پکښې باقی پاتے نه شولو نو اودس هم په ماء
النجس سره جائز نه شو۔
﴿ **وبهذه الاشارة علم ان الحدث شرط لوجوب الوضوء** ﴾ سوق ددے
آیت چه یرید لیطهرکم دے دا دپاره رفع الحدث شویدے خو په اشارة النص ۔ سره ترینه دا
معلومیږی چه حدث شرط دے دپاره د وجوب الوضوء ځکه تحصیل د طها۔ بدون

وجود الحدث محال دے یعنی مخکښې به حدث وی نو هله به طهارت راځی چه حدث نه وی او اودس کوی نو دا خو نده مگر تحصیل د حاصل دے۔

نو شرط د وجوب الوضوء دپاره حدث دے اودس هله واجب دے چه سړے بے اودسه وی البته فقهاء چه ذکر کوی چه الوضوء علی الوضوء نور علی نور نو دا حکم وجوبی نه دے بلکه حکم استحبابی دے۔

﴿قال ابو حنیفة المظاهر اذا جامع امرأته فی خلال الاطعام﴾

اوس مصنف یوه مسئله اختلافیه ذکر کوی چه حمل د مطلق په مقید باندے جائز دے او که نه دے جائز پدے کښې د احنافو او د شوافعو اختلاف دے پدے کښې ټول پنځه صورتونه دی دوه صورتونه اتفاقی دی او درے اختلافی دی۔

اتفاقی دا دی ۱- چه حادثه یوه وی او حکم هم یو وی خو یو حکم راغلے وی مطلق او بل مقید نو دلته اتفاقی خبره ده بین الاحناف والشوافع چه حمل د مطلق په مقید باندے جائز دے لکه په کفاره د یمین کښې تحریر رقبه دے که ددے وس نه لری نو بیا لسو مسکینانو ته طعام ورکول دی یا کپړے د هغوی سحر ماښام خوراك ورکول دی یا په مقدار د نیم اوړی باندے مړه ول شرط ندی که ددے طاقت ئے نه وو نو بیا به روژے نیسی۔ نو په کفاره د یمین کښې دوه قرائتونه دی یو قرائت متواتره دے چه فصیام ثلاثة ایام۔ د متتابعات قید په کښې نشته او قرائت مشهور دا دے چه فصیام ثلاثة ایام متتابعات نو دلته کښې حمل د مطلق په مقید باندے جائز دے چه درے ورځے روژے به پرله پسے نیسی کچرے مینځ کښې ئے روژه اونه نیوله او جدا جدا ئے اونیولے نو کفاره نه ادا کیږی۔

۲- **دویم صورت** دا دے چه حادثه جدا وی او حکم هم جدا وی نو دا هم اتفاقی صورت دے چه حمل د مطلق په مقید باندے جائز نه دے۔ لکه حادثه د یمین حکم د تحریر رقبه دے او حادثه د ظهار چه حکم ئے صوم شهرین متتابعین دی۔

درے صورتونه اختلافی دی ۱- **اول صورت** دا دے چه حادثه یوه وی او حکم جدا جدا وی خو بعض حکم مطلق وی او بعض حکم مقید وی نو امام ابو حنیفه وائی چه پدے صورت کښې مطلق په خپل اطلاق جاری کیږی او مقید به په خپل تقیید جاری کیږی

مثال ددے لکہ کفارہ د ظھار تحریر رقبة من قبل ان یتماسا ۔ دوہ میاشتے پرلپسے روژے نیول دی مخکښ د جماع نه او ددے طاقت ئے نه وو نو بیا شپیته مسکینانو ته خوراک ورکول دی خو دا مقید په قید د من قبل ان یتماسا نه دی ۔

دلته امام ابوحنیفه او د امام شافعی اختلاف دے امام شافعی حمل د مطلق علی المقید کوی نو په طعام کښ هم من قبل ان یتماسا شرط لګوی او احناف وائی چه مطلق به په خپل اطلاق جاری کیږی او مقید به په خپل تقیید جاری کیږی په طعام کښ من قبل ان یتماسا شرط نه دے که (۳۰) مسکینانو ته ئے روټئ ورکړے وه او بیا ئے جماع اوکړه نو استیناف د طعام پرے نشته

۲- **دویم صورت اختلافی** چه حادثتین جدا جدا وی خو حکم یو وی یو مطلق وی او بل مقید وی په دے کښ هم شوافع حمل د مطلق علی المقید کوی او مونږ ئے نه کوو لکه کفاره د قتل او کفاره د یمین او د ظهار بالعتق دا جدا جدا حادثے دی خو حکم یو دے چه په کفاره د قتل کښ هم کفاره عتق ده او په یمین او ظهار کښ هم کفاره عتق ده خو په کفاره د قتل کښ مقید دے په قید د مومنه سره او په کفاره د یمین او ظهار کښ مقید نه ده په قید د مومنه سره دلته مونږ وایو چه المطلق یجری علی اطلاقه والمقید علی تقیده او شوافع حمل د مطلق علی المقید کوی نو په کفاره د یمین او ظهار کښ هم تحریر د رقبے مومنے شرط کوی۔

۳- **صورت اختلافی** دا دے چه اطلاق او تقید چه داخل شی په اسبابو باندے نو دلته هم امام شافعی حمل د مطلق علی المقید باندے قائل دے او احناف ندی قائل لکه حدیث کښ راځی : ادوا عن کل حر وعبد ۔ مولیٰ ته حکم دے چه تاسو صدقة الفطر د هر حر او غلام نه اداء کړئ نو دا حدیث عام دے مطلق دے چه غلام مومن وی او که کافر وی خو صدقه به ترینه اداء کوی او بل روایت کښ راځی چه ادوا عن کل حر وعبد من المؤمنین دا حدیث مقید دے په قید د ایمان سره نو امام شافعیؒ وائی چه که عبد مؤمن وو نو صدقة الفطر ئے په مولیٰ باندے واجب ده او که مومن نه وو نو واجب نه ده دے حمل د مطلق علی المقید کوی اووائی چه کچرے مونږ حمل د مطلق په مقید باندے اونکړو نو بیا فائده د

تقید نه راځی ۔ او احناف وائی چه صدقة الفطر په مولیٰ باندے واجب ده که عبد مومن وی او که عبد کافر وی ځکه المطلق یجری علی اطلاقه والمقید یجری علی تقیده ۔

نشر المرجان کښ څلور صورتونه د حمل د مطلق علی المقید ذکر کړیدی خو دا غلطی د کاتب ده ۔

﴿ قال ابوحنیفة الخ ﴾ ترجمه : وائی امام ابوحنیفه چه مظاهر چه کله جماع اوکړی د خپلے ښځے سره په مینځ د اطعام کښ نو اطعام به سر دوباره کوی نه ځکه کتاب مطلق دے په عدم د جماع باندے په حق د اطعام کښ نو نه شی سوا کیدے په دے باندے شرط د عدم د جماع په قیاس سره په کفاره بالصیام باندے چه هلته قید من ان یتماسا دے بلکه مطلق په خپل اطلاق جاری کیږی او مقید په خپل تقید باندے جاری کیږی ۔

تشریح لفظی : المظاهر : هغه خاوند چه ښځے ته ووائی : انت علی کظهر امی نو دا ظهار دے او دا خاوند مظاهر دے مظاهر هر هغه خاوند دے چه د خپلے منکوحے تشبیه ورکړی د مور د یو داسے عضو سره چه هغه ته کتل جائز نه وی برابره خبره ده چه ظهر وی که بطن وی او که فخذ وی۔

﴿ وکذلک قلنا الرقبة فی کفارة الظهار والیمین مطلقة الخ ﴾ دا دویم مثال دے اختلافی ۔ ترجمه : دغه رنګه وایو مونږ چه رقبه په کفاره د ظهار او د یمین کښ مطلقه ده قید د ایمان په کښ نشته ۔

﴿ فلا یزاد الخ ﴾ نو نشی زیاتولے پدے باندے شرط د ایمان په قیاس کولو سره په کفاره ده قتل باندے حاصل دا شو چه کفاره د قتل مقیس علیه شی او کفاره د ظهار او د یمین مقیس شی او علت مشترکه پدے دواړو کښ کون کل واحد منهما کفارة عتق شی نو په کفاره د قتل کښ خو رقبه مقیده ده په قید د ایمان سره نو په کفاره د ظهار او د یمین کښ هم مقید شی په قید د ایمان سره (کما ذهب الیه الشافعی) نو دا قیاس مونږ دلته نشو کولے ځکه تقید د مطلق به راشی په قیاس سره او دا جائز نه دے ځکه بیا نسخ د وصف د اطلاق د کتاب الله راځی په دلیل ظنی سره او دا جائز نه دے ځکه چه مطلق د خاص د قبیلے نه دے او خاص قطعی دے عندنا په هغے کښ زیادت په دلیل ظنی سره نشی کیدے ۔

﴿ فان قيل ان الكتاب فى مسح الرأس الخ ﴾

دلته مصنف دوه اعتراضونه ذكر كوى چه تاسو خو وائى چه مطلق په خپل اطلاق
جارى كيږى او مقيد په خپل تقيد جارى كيږى او مطلق په دليل ظنى سره نشى مقيد
كيدے نو څه به درته اوخايم چه مطلق به تاسو مقيد ګرځولے وى په دليل ظنى سره لكه
حكم د كتاب الله په وامسحوا برؤوسكم كښ مطلق دے او دا تاسو مقيد ګرځولے ده په مقدار
د ربع الرأس سره په حديث د مغيره بن شعبه باندے چه نبى عليه السلام كندر د يو قوم ته
راغلے او اودس ئے مات كړو او اودس ئے اوكړو مسح على الناصيه مسح ئے په ربع الرأس
وكړه نو تاسو وائى چه مسح د ربع الرأس فرض ده په اودس كښ۔

دارنګه دويم اعتراض دا دے چه يو سړى ښځے ته درے طلاقه وركړه نو دا حرمت
مغلظه انتهاء ته رسى په نفس نكاح سره ځكه چه په قرآن كښ دى چه حتى تنكح زوجا
غيره چه بل زوج سره نكاح قدرے اوكړى نو دا حرمت للزوج الاول انتهاء ته رسى د اولنى
زوج دپاره ورسره دوباره نكاح جائز ده او تاسو په واقعه د امرأة رفاعه سره جماع د زوج ثانى
شرط لګوئ دپاره د انتهاء حرمت غليظه نو دا مطلق د كتاب الله تاسو مقيد كړو په خبر
واحد سره دے به جواب اوكړى چه په صورت اولى كښ كتاب الله مطلق ندے بلكه مقيد
دے ځكه مطلق هغے ته وائى چه په هر فرد د افرادو د مطلق باندے چه اتيان اوكړے شى نو
هغه اتيان وى په مامور به باندے او دلته چه په هر فرد د افرادو د مطلق باندے اتيان وشى
نو دا اتيان په مامور به باندے ندے نو دلته كتاب الله مجمل دے نو خبر واحد كه قولى وى
او كه فعلى وى نو هغه مجمل او بيان واقع كيدے شى د كتاب الله دپاره۔

د دويم اعتراض جواب دا دے چه كتاب الله چه حتى تنكح زوجا غيره كښ مطلق نه
دے بلكه لفظ د نكاح حمل دے په وطى باندے او عقد د نكاح د لفظ د زوجا نه معلوميږى
نو تاسيس فى الكلام به راشى او كه تنكح مونږ په عقد باندے حمل كړو نو د زوجا نه هم
عقد معلوميږى نو بيا په كلام كښ تاكيد راغلے او تاسيس اولى دے د تاكيد نه۔

دويم جواب دا دے چه حديث د امرأة رفاعه دا خبر مشهور دے خبر واحد نه دے او تقيد
د مطلق د كتاب الله په خبر مشهور سره عند الاحناف جائز دے ځكه حديث د امرأة رفاعه

امت تلقی بالقبول کړیده ۔ فان قیل ان الکتاب الخ : کـه څوك اعتراض کښ اووائی چه کتـاب الله پـه مسح د سر کښ واجبوی مسح د مطلق بعض او تاسو دا مقید ګرځولے دے په مقدار د ناصیه باندے په خبر د مغیره بن شعبه سره دارنګه کتاب الله مطلق دے په انتهاء د حرمت غـلیـظـه کښ په مطلق نکاح سره چه حتی تنکح زوجا غیره دے ۔ او تاسو مقید کړیدے په دخول د زوج ثانی سره چه د انتهاء د حرمت غلیظه دپاره دخول د زوج ثانی شرط دے په حدیث د امرأه رفاعه سره او حدیث د امرأة رفاعه دا دے چه حضرت عائشه رضی الله عنها وائی چه یوه زنانه راغله او رسول الله ﷺ ته ئے اوویل چه زه د رفاعه ښځه وم هغه ما لره طلاق ثلاثه راکړه د هغے نه روسته ما د عبد الرحمن بن زبیر (بوزن امیر کما فی حاشیة نـور الانـوار) سره نـکـاح وکړه وما وجدت عنده الا کهدبة ثوبی هذا ۔ نو نبی علیه السلام ورتـه اوویـل چه تـه دا غـواړی چه رفاعـه تـه واپـس شے نو هغے اوویل نعم ۔ نو نبی علیه السـلام ورتـه اوویل : لا حتی تذوقی من عسیلته ویذوق هو من عسیلتك ۔ چه ترڅو تا د هغے خواږه او هغه ستا خواږه نه وی څکلی دا کنایه ده د وطی نه ۔

﴿ قلنا ﴾ سره جـواب کـوی چه کتـاب الله پـه باب د مسح کښ مطلق نه دے ځکه حـکـم د مـطـلـق دا دے چـه هـر یو فرد د مطلق باندے آتی وی په حکم د مامور به باندے او دلتـه آتـی پـه هـر بـعـض باندے آتی په مامور به باندے نه ګرځی کچرے ده مسح اوکړه په نصف الـرأس بـانـدے او یـا ئے مسح وکړه په ثلثینو باندے نو دا کل نصف او یا کل ثلثین فرض نه ګرځی۔ نو معلومه شوه چه دا مجمل دے او مطلق نه دے ۔

﴿ وبه فارق المطلق المجمل ﴾ او په دے سره مطلق د مجمل نه جدا کیږی ځکه په مجمل کښ آتی په هر فرد د افرادو د مجمل باندے آتی په مامور به باندے نه وی ۔

﴿ واما قید الدخول ﴾ تـرجـمـه : او هر چه قید د دخول شرط شویدے په انتهاء د حرمتِ غـلیـظـه کښ نـو بـعـض علماؤ ویلی دی چه لفظ د نکاح چه په حتی تنکح کښ راغلے دے نو دا حمل دے په وطی باندے ځکه عقد مستفاد دے د لفظ د زوج نه او پدے سره سوال زائـل شو ځکه چه دلته تقیید د کتاب الله په حدیث سره ندے راغلے بلکه کتاب الله دلتـه مـقیـد دے په قید د وطی سره نو تقید د وصف د کتاب الله په کتاب الله سره شو نه په

حدیث سره او بعض علماؤ دا جواب کړیدے چه قید د دخول په کتاب الله سره ندے ثابت په
خبر سره ثابت دے لیکن دا خبر خبر مشهور دے نو نه لازمیږی په دے باندے زیادت
کتاب الله په خبر واحد سره او زیادت د خبر مشهور په کتاب الله جائز دے۔

فصل فی المشترک والمؤول

هر کله چه فارغ شو مصنف د خاص او عام اختلافی نه نو شروع ئے اوکړه په هغه دو
نوعینو اخرینو د وضع کښې چه مشترك او مؤول دی۔

سوال: چه ظرفیت د مشترك او مؤول د فصل دپاره نه صحیح کیږی ځکه چه فصل
خو په مشترك او مؤول کښې ندے بلکه مشترك او مؤول په فصل کښې دی؟

جواب: ظرف دوه قسمه دے ظرف حقیقی او ظرف مجازی دلته ظرف مجازی مراد
دے ظرف مجازی په معنی د اشتمال سره وی لکه زید فی النعمة نو دا نعمت مشتمل دے
په زید باندے دارنګه دلته هم ظرف مجازی دے چه دا فصل مشتمل دے په خاص او عام
باندے۔ مشترك محصل دے دپاره د مؤول چه ترجیح د احد المعنیین په آخر باندے راشی
په مشترك کښې نو مؤول ترینه جوړ شی نو هر کله چه مشترك محصل وو دپاره د مؤول
نو ځکه مصنف په اجمال او تفصیل دواړو کښې مشترك مقدم کړو په مؤول باندے۔

﴿ ما وضع لمعنیین مختلفین او لمعان مختلفة ﴾۔

مشترك د اشتراك نه ماخوذ دے په لغت کښې اختلاط ته ویلے کیږی او په اصطلاح د
اصولینو کښې ما وضع لمعنیین الخ ته وائی۔

سوال: چه شمارل د مصنف مشترك لره د اقسامو د وضع نه صحیح نه دی ځکه
اقسام د وضع خو اقسام د نظم (لفظ) وی او مشترك خو معنی ده؟

جواب: مراد د مشترك نه مشترك فیه ده او مشترك فیه نظم دے۔

سوال: چه مشترك خو معنی ده او ما وضع لمعنیین الخ دا خو لفظ دے نو حمل د ما
وضع په المشترك باندے صحیح نه شو ځکه حمل د لفظ راغلے په معنی باندے نو معنی

خو لفظ نه وی او په حمل کښې خو اتحاد ضروری وی او دلته اتحاد نشته ؟

جواب : مراد د مشترك نه دلته مشترك فيه دے او دا لفظ دے نو حمل د ما وضع په مشترك باندے صحيح شو ۔

المشترك ما وضع : مشترك هغه لفظ دے چه وضع شوے وی د دوه مدلولينو، مفهومينو دپاره او دا مفهومين عام دی چه اعيان وی او كه اعراض وی پدے سره اشاره اوشوه ديته چه مشترك په دوه قسمه دے مشترك فی الاعيان او مشترك فی الاعراض ددے دواړو امثله به مصنف بيان کړی ۔

او لمعان مختلفة : دا دفع د وهم ده كچرے مصنف ما وضع لمعان مختلفه ويلی وے نو واهم به دا وهم كولو چه معان جمع ده او اقل د جمع ثلاثه وی نو مشترك به هر هغه لفظ وی چه كم از كم درے معانی پكښې وی كه ددينه كم وی نو په هغے كښې به اشتراك نه متحقق كيږی والامر ليس كذلك۔ (۱)

نو مصنف ما وضع لمعنيين او لمعانی اوويل چه اشتراك پكښې مافوق د واحد نه وی بيا عام دے چه دوه وی او كه زيات د دوو نه وی مثال د مشترك فی الاعيان لكه دا قول زمونږ جارية نو دا لفظ مشترك دے اطلاق ئے په جاريه او سفينه دواړو باندے كيږی او دا دواړه جواهر دی ځكه چه قائم بنفسه دی قائم بالغير نه دی ۔

﴿ **والمشترى** ﴾ يا مثال د مشترك فی الاعيان لكه لفظ د مشتری شو ځكه دده اطلاق په قابل د عقد بيع باندے كيږی دارنګه ددے اطلاق كيږی په ستوری د اسمان باندے هم او دا دواړه هم اعيان دی ۔

﴿ **وقولنا بائن** ﴾۔ دا مثال د مشترك فی الاعراض دے چه قائم بالغير وی ۔

ترجمه : لكه دا قول زمونږ شو بائن نو دا احتمال لری د بينونت (جدا والی) او دارنګه احتمال لری د بيان هم ۔

---

(۱) فائده : لكه لفظ د قروء د الفاظو مشتركه څخه دی بين المعنيين چه حيض او طهر دی۔ سيد فضل الحق۔

﴿ وحكم المشترك ﴾ او اثر مرتبه د مشترك دا دے چه شان دا دے چه كله معنى واحده متعين شوله د جهته د مراد نه نو اعتبار د ارادے د غير به ساقطيږی يعنى چه يو لفظ مشترك وى په مينځ د معنيينو كښ چه كله د قرائنو او دلائلو خارجيو د وجے نه يوه معنى متعين شوه نو نورے معانى به نه اراده كيږى بلكه هغه به ساقطے وى ځكه كچرے نورے معانى هم مونږ ددے لفظ مشترك نه اراده كړو نو لازميږى عموم د مشترك او دا جائز نه دے عندنا وعند الشافعى خو كله چه معنيين متضادين وى۔

او كچرے معنيين متضادين نه وى نو بيا امام شافعى په هغے په عموم د مشترك باندے قائل دے مثال د هغے لكه دا محاوره شوه چه لاتنكح ما نكح ابوك اوس لفظ د نكاح مشترك دے په مابين د نكاح عقد او د وطى كښ نو اوس دلته دواړه معانى جمع كيدل جائز دى چه منكوحه د اب سره هم نكاح نشى كولے او موطوءه يعنى مزنيه د پلار سره هم نكاح جائز نه ده۔

او عند الاحناف عموم د مشترك جائز نه دے برابره خبره ده كه په متضاد معانى وكښ وى او كه په غير متضاد معانيو كښ وى او په لاتنكح ما نكح ابوك كښ مونږ دواړه معانى اخلو په اعتبار د عموم د مجاز سره چه مونږ يو معنى ثالثه اخلو او معنى حقيقى او مجازى مونږ فردين ادعائين ګرځوو دپاره د هغه معنى ثالثى۔

نو د مانكح ابوك معنى مونږ مانسب ابوك اخلو نو منسوب الى الاب عامه ده برابره خبره ده چه په عقد نكاح سره وى او كه په وطى زنا سره وى خو نكاح ورسره جائز نه ده۔

﴿ ولهذا اجمع العلماء رحمهم الله الخ ﴾ او ددے وجے نه اتفاق كړيدے علماؤ چه لفظ د قروء چه مذكور دے په كتاب الله كښ يا به محمول وى په حيض باندے لكه دا مذهب زمونږ دے او يا به ئے حمل كوو په طهر باندے لكه چه دا مذهب د امام شافعى دے۔

﴿ وقال محمد اذا اوصى ﴾ اوس تائيد ذكر كوى په قول د امام محمد چه عموم مشترك جائز نه دے ۔ امام محمد لكه څنګه چه عالم د فقه دے نو دغه رنګه عالم د لغت هم دے نو تائيد كښ قول دده ذكر كول صحيح دى۔

ترجمه: ويلى دى امام محمد چه كله يو سړے وصيت اوكړى دپاره د مواليو د بنى

فلان او د بنی فلان دپاره موالی من اعلی او موالی من اسفل دواړه وی او لفظ د مولیٰ مشترك دے په مابین د مولیٰ اعلیٰ او مولیٰ اسفل دواړو کښ اعلیٰ معتِقین (بصیغة الفاعل یعنی آزادونکی) ته وائی او موالی اسفل معتَقین (بصیغة المفعول) ته وائی ۔
(آزاد کړی شوی (آزاد کرده شده) ته وئیلی شی۔ سید۔

﴿ **فمات بطلت الوصیة** ﴾ ۔ ترجمه : نو دا وصیت کونکے مړ شو (قبل د بیان نه) نو وصیت ئے باطل دے په حق د دواړو فریقینو کښ ځکه چه لفظ د موالی مشترك دے بین المولی الاعلی والاسفل نو دواړه خو ترینه نشو اراده کولے ځکه بیا عموم د مشترك لازمیږی او ترجیح احدهما لره په آخر باندے هم نشو ورکولے ځکه بیا ترجیح بلا مرجح لازمیږی ۔

﴿ **وقال ابو حنیفة** ﴾ ۔ ترجمه : امام ابو حنیفه وائی چه کله خاوند اوویل خپلے ښځے ته چه ته په ما باندے په شان د مور زمائے (بغیر د نیت د ظهار نه) نو دا سړے مظاهر نه ګرځی ځکه چه لفظ د مثل مشترك دے په مابین د کرامت او د حرمت کښ یعنی لکه څنګه چه مور په ما محترمه ده نو داسے راباندے ته هم محترمه ئے او دا معنی هم صحیح ده چه ته په ما داسے حرامه ئے لکه چه مور راباندے حرامه ده ۔

نو دا په اوله معنی مظاهر نه ګرځی او په دویمه معنی کښ مظاهر دے نو دواړه معانی نشو اراده کولے او یوه معنی هم نشو اراده کولے ځکه بیا ترجیح بلا مرجح لازمیږی ۔ ﴿ **فلا یترجج جهة الحرمة** ﴾ نو ترجیح به نه ورکول کیږی جهت د حرمت ته مګر په نیت سره ۔ ﴿ **وعلی هذا قلنا لا یجب النظیر** ﴾ ۔ ترجمه : او بناء په دے چه عموم د مشترك جائز نه دے وایو مونږ چه ندے واجب نظیر په جزاء د قتل د ښکار کښ د وجے د دے قول د الله تعالی نه :

﴿ **فجزاء مثل ما قتل من النعم** ﴾ ځکه لفظ د مثل مشترك دے په مابین د مثل صوری او په مینځ د مثل معنوی کښ او دا قیمت دے او مثل من حیث المعنی خو ترینه اراده شوے دے په دے نص سره په قتل د حمامه او عصفور کښ او په مثل ددے دواړو کښ په اتفاق سره چا حمام یا عصفور قتل کړو نو قیمت به ورکوی بالاتفاق ۔

﴿ فلا يراد المثل من حيث المعنى ﴾

نو نـه به شي اراده کولے ددے نه مثل من حيث الصورة ځکه عموم د مشترك جائز نه دے نو ساقطيږي اعتبار د مثل صوري د وجے د استحالے د جمع نه ـ

﴿ ثم اذا ترجح بعض وجوه المشترك ﴾ بيا کله چه ترجيح ورکړے شي بعض وجوهو د مشترك ته په غالب الظن سره يعني په دليل ظني سره ـ

سوال : چه هر کله ترجيح مشترك لره اوشوه په غالب الرأى سره نو غالب الرأى عموما په قياس کښ مستعمليږي يعني چه ترجيح په قياس سره راشي نو ديته به مونږ مؤول وايو او چه په قياس سره ئے ترجيح نه وي راغلي نو ديته به مونږ مؤول نه وايو والامر ليس کذلك. **جواب** : مراد د غالب الرأى نه دليل ظني دے ځکه کله ذکر د خاص او مراد ترينه عام وي او کله ذکر د عام او مراد ترينه خاص وي دلته ذکر د خاص دے چه غالب الرأى دے او مراد ترينه عام دے چه دليل ظني دے مطلقا برابره خبره ده چه قياس وي او که خبر واحد وي او که سياق وي او که سباق وي ـ

﴿ وحکم المؤول وجوب العمل به ﴾ ـ او حکم د مؤول وجوب د عمل دے په مؤول باندے سره د احتمال د خطاء نه مثال د هغے په شرعياتو کښ دا قول زمونږ دے چه کله ثمن مطلق ذکر شي په بيع کښ نو دا به محمول وي په غالب نقد البلد باندے (يعني پدے کلي کښ چه کومے غالبے پيسي دي نو هغه به مشتري ورکوي بائع ته) ـ

﴿ وذلک بطريق التاويل ﴾ او وي به دا په طريقے د تاويل سره يعني قرينه مرجحه ورلره نقد البلد دے چه د ثمن نه مراد مروّج ثمن دی ـ

﴿ ولو کانت النقود مختلفة فسد البيع ﴾ ـ کچرے نقود البلد مختلف وو نو بيا بيع فاسده ده دا مسئله مربعه ده څلور صورتونه پکښ متصور کيږي پدے څلورو صورتونو کښ يو صورت د فساد دے او درے صورتونه د صحت دی ـ

۱ – صورت چه مختلف الماليت هم وي او مختلف الرواج هم وي

۲ – صورت : نه مختلف الماليت وي او نه مختلف الرواج وي ـ

۳ – صورت : مختلف الماليت وي خو مختلف الرواج نه وي ـ

٤ - صورت : مختلف الرواج وی خو مختلف المالیت نه وی ۔

درے صورتونه د صحت دی چه مختلف المالیت وی او مختلف الرواج هم وی نو مونږ به ئے حمل کوو په ما هو الاروج باندے نو نزاع ختم شو او که مختلف المالیت او مختلف الرواج نه وی نو هم نزاع نشته ځکه که هر یو مالیت والا چه ئے وکړو نو صحیح ده - چه مختلف المالیت نه وی خو مختلف الرواج وی نو بیا ئے مونږ په ما هو الاروج باندے حمل کوو نو نزاع نشته خو نزاع صرف پدے صورت کښ ده چه مختلف المالیت وی او مختلف الرواج نه وی نو دلته خو ما هو الاروج شته نه چه په هغے ئے حمل کړو او دے مختلف المالیت نو بائع به ترینه مطالبه کوی د ډیر مالیت والا او مشتری به د کم مالیت والا ورکوی نو دلته نزاع جوړه شوه او کوم جهالت چه مفضی الی النزاع وی نو هغه مفسد للعقد وی ۔

ولو كانت النقود فی البلد مختلفه : کچرے نقود په بلد کښ مختلف وو فی المالیت دون الرواج یعنی چه مختلف المالیت وی او مختلف الرواج نه وی نو فسد البیع : بیع فاسده ده خو صاحب د شرح وقایه ویلی وو الا اذا بین احد هما ۔ که پدے صورت کښ هم بیان د احد هما ئے وکړو نو بیا هم فساد ختم شو ځکه کوم جهالت چه مفضی الی النزاع وو نو هغه ختم شو نو فساد هم ختم شو۔

﴿ **وحمل الاقراء علی الحیض** ﴾ او حمل د اقراء په حیض باندے دارنګه حمل د نکاح په حتی تنکح زوجا غیره کښ په وطی باندے او دارنګه حمل د کنایاتو د طلاقو په طلاقو باندے په حال د مذاکرے د طلاقو کښ بین الزوجین ددے قبیلے د تاویل نه دی، یعنی که قرینه موجوده شوه او یو جانب ته ترجیح ورکړے شوه نو د مؤول د قبیلے نه دی په قروء کښ د احنافو دپاره قرائن وو نو په حیض ئے حمل کړو نو مؤول شو دارنګه لفظ د تنکح په آیت کښ په وطی حمل شو د وجے د تاسیس نه دارنګه کنایات د طلاقو په حین د مذاکرے د طلاقو کښ په طلاقو مونږ حمل کوو مؤول شو ورنه د الفاظ کنائی اطلاق په طلاق او غیر طلاق دواړو کیږی خو مذاکره د طلاقو قرینه مرجحه شوه چه مراد ددینه طلاق دی۔

﴿ **وعلى هذا قلنا الدين المانع من الزكوة** ﴾ او بناء په دے قاعده چه محتمل به صرف کیږی احد المحتملین ته نو وایو مونږ چه دین مانع من الزّکوٰة به مونږ صرف کوو ایسر د مالینو ته په اعتبار د قضاء د دین سره - په دے دواړو مالینو کښ چه د قضاء د دین په اعتبار سره آسان وی نو مونږ به قرض هغے ته صرف کوو -

﴿ **وفرع محمد على هذا فقال اذا تزوج امرأة على نصاب الغ** ﴾ ترجمه : اوامام محمد پدے قاعده باندے تفریع کړے ده نو ویلے ئے دی چه یو سړی نکاح اوکړه د یوے زنانه سره په نصاب باندے او ددے سړی یو نصاب دے د ګډو بیزو نه (څلویښت بیزی ورسره دی او ده لره نصاب دے د دراهمو نه هم (۲۰۰) درهم ورسره هم شته - نو حمل دا دے چه صرف کولے به شی دین دراهمو ته دا دراهم به مونږ په قرض کښ مصروف کړو چه مهر د زنانه دے دا هم یو دین دے او نصاب د ګډو بیزو کښ به زکو ة - ورکوی - کچرے کال پرے تیر شو نو زکوة فی الغنم به واجب وی او په دراهمو کښ به زکوة واجب نه وی ځکه دراهم خو مصروف بالدین دی چه مهر دے-

﴿ **ولو ترجح بعض وجوه المشترک الغ** ﴾ کچرے ترجیح راغله د بعض وجوهو د مشترك په بیان سره د طرفه د متکلم نه نو ګرځی دا مفسر-

﴿ **وحكمه انه يجب العمل** ﴾ بیا حکم ددے دا دے چه عمل به پرے واجب وی یقیناً او قطعاً مثال د هغے لکه یو سړی اقرار وکړو چه د فلانکی سړی په ما باندے لس روپۍ قرض دی د نقد د بخارئ نه نو دا قول دده چه من نقد بخارئ دا تفسیر دے ددے قول خپل چه له علیّ عشرة دراهم -

﴿ **فلو لا ذلک** ﴾ کچرے دا من نقد بخارئ ده نه وے ذکر کړے نو وی به دا عشرة دراهم منصرف غالب نقد البلد ته په طریقے د تاویل سره یعنی مؤول به وے مفسر به نه وے-

﴿ **فيترجح المفسر** ﴾ نو مونږ به مفسر ته ترجیح ورکوو مؤول تقاضا ددے کوی چه دا عشرة دراهم دے حمل کړے شی په غالب نقد البلد باندے لیکن مفسر تقاضا ددے کوی چه دا دے حمل شی په نقد د بخارئ باندے نو مفسر قطعی دے او مؤول ظنی دے هر کله چه مقابله د ظنی او قطعی راشی نو ترجیح ورکولے شی قطعی ته -

﴿ **فلا یجب نقد البلد** ﴾ نو نقد البلد به په دے مقر باندے نه واجبیږی بلکه نقد بخارئ به دده په ذمه باندے واجبیږی ۔

□□□□□

□□□□□□□□

فصل الحقیقة والمجاز

تهول اصولین تقسیم بحسب الوضع مقدم کوی او اول تقسیم ئے گرځوی خو بعض اصولین تقسیم بحسب الاستعمال دویم تقسیم گرځوی لکه نور الانوار او صاحب اصول شاشی دوی دے مناسبت ته گوری چه د وضع تعلق هم د کلمے سره دے او د حقیقت او مجاز صریح او کنایه تعلق هم د کلمے سره دے ۔نو دا ځکه مقدم کوی او د بیان او استدلال تعلق دے د کلام سره او کلمه مقدمه وی په کلام باندے نو د کلمے سره چه د کوم شی تعلق دے نو هغه هم مقدم پکار دے نو د کلمے سره چه د کوم تعلق دے هغه ئے مقدم کړل چه تقسیم بحسب الوضع او تقسیم بحسب الاستعمال دے او تقسیم بحسب البیان والاستدلال ئے مؤخر کړو ځکه دا تعلق د کلام سره ساتی ۔

او بعض اصولین وائی چه وضع مقدمه ده او استعمال او عدم استعمال فرع د بیان ده بیان اظهار د مافی الضمیر ته ویلے شی نو استعمال په معنی موضوع له یا غیر موضوع له کښ دا روسته راځی د اظهار د ما فی الضمیر نه نو دوی په دویم نمبر کښ تقسیم بحسب البیان ذکر کوی او په دریم نمبر کښ تقسیم بحسب البیان ذکر کوی او په څلورم نمبر کښ تقسیم بحسب الاستدلال ذکر کوی ۔

د تقسیم بحسب الاستعمال اقسام ماحصل څلور دی : حقیقت، مجاز، صریح او کنایه ۔ وجه د حصر پدے څلورو کښ دا ده چه دا لفظ موضوعه به خالی نه وی یا به مستعمل وی په خپله معنی موضوع له کښ او یا به نه وی کچرے مستعمل وو په خپله معنی موضوع له کښ نو دیته حقیقت وائی او که لفظ مستعمل په خپله معنی موضوع له کښ نه وو دیته مجاز وائی هر واحد ددے دواړو نه به یا په طریقے د وضوح سره وی او یا به په طریقے د وضوح سره نه وی نو که په طریقے د وضوح سره وی نو دیته صریح وائی او که په طریقے د وضوح سره نه وی نو دیته کنایه ویلے کیږی ۔

سوال : قانون دا دے چه په مابین د اقسامو د مقسم واحده کښ تباین وی او دا د یو بل

سره جمع کیږی نه لکه اقسام د وضع چه خاص، عام، مشترك او مؤول دی نو دوی په مینځ کښی تباین دے خاص د عام سره نه جمع کیږی مشترك د مؤول سره نه جمع کیږی دارنګه مؤول د خاص او عام سره نه جمع کیږی او خاص ، عام د مشترك سره نه جمع کیږی -

او په تقسیم بحسب الاستعمال کښی بعض اقسام د بعضو سره جمع کیږی تباین پکښی نشته صریح د حقیقت سره جمع کیږی کنایه د مجاز سره جمع کیږی نو دا اقسام د مقسم واحده جوړول صحیح نه دی ؟ -

جواب : اول دا دے چه بعض اصولین صریح او کنایه اقسام الاقسام ګرځوی چه صریح او کنایه اقسام د حقیقت او مجاز دی او حقیقت او مجاز ورله مقسم دی او قانون دا دے چه په مابین د اقسامو د مقسم واحده کښی تباین وی خو قسم د خپل مقسم سره جمع کیدے شی په دوی کښی تباین نه وی نو دلته حقیقت مقسم دے دپاره د صریح او مجاز مقسم دے دپاره د کنایه ګویا که دا اقسام ثانویه شول -

سوال : اقسام ثانویه خو ته نه ذکر کوے دا ولے ذکر کړه ځکه ددے نورو انواعو دپاره هم اقسام ثانویه شته دے هغه دے ولے نه دی ذکر کړی ؟ -

جواب : مونږ هغه اقسام ثانویه نه ذکر کوو چه په هغے پورے تعلق د ابحاث کثیره و نه وی او کوم اقسام ثانویه چه کثیر الابحاث وی نو هغه په شان د اقسام اولیه و دی هغه مونږ ذکر کوو نو صریح او کنایه هم کثیر الابحاث دی په شان د اقسامِ اولیه و ګرځیدلی دی نو ځکه مو ذکر کړل-

جواب ثانی : دویم جواب دا دے چه جقیقت او مجاز اقسام د استعمال دی او صریح او کنایه اقسام د جریان دی نو د یو مقسم اقسام د بل مقسم د اقسامو سره جمع کیدے شی څه مضائقه نشته په مابین د اقسامو د مقسم واحده کښی تباین وی دلته کښی خو دا اقسام د مقسم واحده ندی بلکه اقسام د مقسمینو دی-

خو په دوی بانديے دا اعتراض واردیږی چه اجماع منعقده ده په دے باندے چه تقسیمات په کتاب الله کښی اربعه دی او ستاسو په نیز تقسیمات په کتاب الله کښی خمسه

شول ۱- تقسیم بحسب الوضع ۲- تقسیم بحسب الاستعمال ۳- تقسیم بحسب الجریان ٤- تقسیم بحسب البیان ٥- او تقسیم بحسب الاستدلال شو.

نو دوی جواب ورکوی چه دا استعمال او جریان الفاظ مترادفه معنی ئے واحده دی صرف فرق اعتباری دے نو تقسیمات اربعه شول او خرق د اجماع رانغله.

سوال: حقیقت او مجاز مو په صریح او کنایه ولے مقدم کړل عکس به مو کړے وے؟

جواب: چه حقیقت او مجاز اقسام اولیه دی حقیقةٌ او صریح او کنایه اقسام ثانویه دی او اقسام اولیه مقدم ذکر کول پکار دی په اقسام ثانویه و باندے.

الحقیقة و المجاز: حقیقةٌ د فعیلةٌ وزن دے مبنی للفاعل دے ماخوذ دے د حق الشیء اذا ثبت نه او حقیقت ته هم حقیقت ځکه ویلے کیږی چه دا ثابت دے په خپله معنی موضوع له کښ یا حقیقةٌ فعیلةٌ ـ وزن مبنی للمفعول دے لکه جریح بمعنی المجروح دے نو دا بیا ماخوذ دے د حققت الشیء نه دا په هغه وخت کښ ویلے کیږی اذا اثبته.

او حقیقت ته هم حقیقت ځکه وئیلے کیږی چه دا ثابت کړے شوے دے په خپله معنی موضوع له کښ فعیل چه کله بمعنی الفاعل سره شی نو بیا تاء (۱) د حقیقةٌ دپاره د فرق بین المذکر والمؤنث ده او که فعیل بمعنی المفعول شی نو بیا تاء د حقیقة دپاره د فرق د شبه التانیث ده ځکه فعیل چه بمعنی المفعول وی نو هلته فرق بین المذکر والمؤنث بالتاء نه وی بلکه هلته فرق د مذکر او د مؤنث باعتبار الموصوف وی او فعیل بمعنی المفعول د مذکر او مؤنث دپاره علی السویه وی لکه رجل جریح او امرأة جریح نو امرأة جریحةٌ نشی ویلے البته چه کله فعیل بمعنی الفاعل وی نو بیا هلته فرق بین المذکر والمؤنث بالتاء وی.

﴿**کل لفظ وضعه واضع اللغة بازاء شیء**﴾ حقیقت په اصطلاح کښ هر هغه لفظ ته وائی چه وضع کړے وی هغے لره واضع د یو لغت په مقابله د یو مفهوم

---

(۱) فائده: اظهر قول دا دی چه تاء دپاره د نقل شی د وصفیت نه اسمیة ته په دواړو صورتینو کښ. سید فضل الحق.

(معنی) کښې ۔ واضع عام دے برابره خبره ده که واضع د لغت وی او که واضع د شرعی وی او که واضع د عرف عام وی او که واضع د عرف خاص وی ۔

ځکه چه حقیقت متنوع دے انواع اربعه وته کله به واضع ددے دپاره اهل لغت وی او کله به واضع ددے دپاره اهل شرع وی او کله به واضع ددے دپاره عرف عام وی او کله به عرف خاص وی ۔ لکه صلوة چه مونږ په ارکان مخصوصو کښې مستعملوو نو دا په اصطلاح د اهل شرع کښې دے ۔

لکه فعل چه په معنی د کلمة تدل علی معنی فی نفسها مقترن باحد الازمنة الثلاثة۔ دے نو دا اصطلاح د عرف خاص ده چه صرفیان نحویان دی ۔

یا لکه دابة بمعنی ذات القوائم الاربعة نو دا اصطلاح د عرف عام ده نو کچرے یو لفظ مستعمل کړے شو په خپله معنی موضوع له کښې په جمیع اوضاعو سره نو دیته حقیقت کامله وائی او که په جمیع اوضاعو کښې نه وو نو دا بیا حقیقت کامله (۱) نه دے بلکه حقیقت قاصره (۲) دے۔

بازاء شيء: دلته شيء عبارت دے د مفهوم او معنی نه ۔ ﴿ **فهو حقيقة** ﴾ نو دا به حقیقت وی ﴿ **ولو استعمل فی غیره یکون مجازاً** ﴾ او که دغه لفظ مستعمل کړے شی په معنی غیر موضوع له کښې نو دیته به مجاز وائی ۔ که په جمیع اوضاعو کښې مستعمل وو په معنی غیر موضوع له کښې نو دیته مجاز کامل وائی او که په جمیع اوضاعو کښې نه وو بلکه په بعضو اوضاعو کښې مستعمل وو نو دیته بیا مجاز قاصر وائی ۔ مثلاً لکه لفظ د صلوة چه مستعمل کړے شی په دعاء کښې نو دا مجاز دے خو دے حیثیت نه چه شارع دے لره وضع کړے دے دپاره د ارکان مخصوصه و او مستعمل شو په دعا کښې او که ددے حیثیت نه ئے واخلے چه لفظ د صلوة اهل لغت وضع کړے دے دپاره د

---

(۱) فائده: حقیقت کامله یعنی باعتبار جمیع الاوضاع۔

(۲) حقیقة قاصره یعنی باعتبار بعض الاوضاع۔ فائده: ددے حقیقة قاصره څخه مراد د شیخ هغه اصطلاح مشهوره نۀ ده چه کله د یو لفظ نه جزء د موضوع له مراد کړی شی۔ سید فضل الحق۔

دعا نو دا بیا حقیقت دے مجاز نه دے۔

سوال : پکار ده مصنف لره چه قید د حیثیت ئے ذکر کړے وے چه من حیث ان هذا اللفظ وضع له ئے ویلے وے او مصنف ذکر نه کړو سره ددینه چه دا قید معتبر دے په تعریف د حقیقت او مجاز کښ ؟

جواب : دا متن دے او بناء د متونو په اختصار وی نو مصنف قید د حیثیت ذکر نه کړو او اکتفاء ئے وکړه په شهرت باندے ځکه چه قید د حیثیت دلته مشهور دے۔

﴿ **ثم الحقيقة مع المجاز لا يجتمعان ارادةً من لفظ واحد في حالة واحدة** ﴾ بیا دا حقیقت سره د مجاز نه نه جمع کیږی ارادةً د یو لفظ نه په یو حالت کښ ۔ چه هم مونږ معنی حقیقی اراده کړو او هم معنی مجازی اراده کړو نو اجتماع د امرینو متنافیینو لازمیږی ځکه حقیقت استعمال د لفظ ته وائی په معنی موضوع له کښ او مجاز استعمال د لفظ ته په وائی په معنی غیر موضوع له کښ نو دا لفظ هم مستعمل دے په معنی موضوع له کښ او هم مستعمل دے په معنی غیر موضوع له کښ نو دا نه ده مګر اجتماع د امرینو متنافیینو ده۔ (١)

دویم دا چه حقیقت قرینه نه غواړی او مجاز قرینه غواړی نو که مونږ دواړه اراده کړو نو هم به وایو چه ددے دپاره قرینه شته او هم به وایو چه نشته نو بیا اجتماع د متنافیینو راغله نو حقیقت سره د مجاز نه جمع کیدے نه شی عند الاحناف۔ او د امام شافعی په نزد جمع کیدے شی لکه لاتنکح ما نکح ابوك شو نو لفظ د نکاح حقیقت دے په وطی کښ او مجاز دے په عقد کښ او یا حقیقت دے په نکاح کښ او مجاز دے په وطی کښ دلته دواړه معنیٰ ګانے اراده کړے شوی دی نو امام شافعی وائی جمع بین الحقیقة والمجاز جائز ده مونږ وایو چه دلته معنی حقیقی او معنی مجازی جمع شوی دی په اعتبار د عموم د مجاز سره او عموم د مجاز عند الاحناف هم جائز دے عموم د مجاز دیته وائی چه مونږ یو معنی ثالثه واخلو او دواړه معانی حقیقی او مجازی ورلره فردین ادعائین وګرځوو نو دلته

---

(١) ځکه لازمیږی کونه فی محله او لا فی محله او دا نه ده مګر اجتماع د متنافیینو ده۔ سید

مونږ معنی ثالث اغستی دے چه لاتنکح ما نسب الی ابیك ـ نکاح مه کوه د هغه ښځو سره چه ستا پلار ته ئے نسبت شویدے او ما نسب الی ابیك عام دے چه په اعتبار د عقد سره ئے ابیك ته نسبت شوے وی او که په اعتبار د وطی سره ئے ابیك ته نسبت شوے وی د هغے سره نکاح مه کوه ـ نو منکوحة الاب سره نکاح کول جائز نه شو او د موطوئة الاب سره هم نکاح کول جائز نه شول۔

﴿ ولهذا قلنا لما اريد مايدخل بقوله عليه السلام ﴾ ـ دا تفريع ده پدے چه حقیقت او مجاز د یو لفظ نه یوځائے نشی اراده کولے ـ ترجمه : ددے وجے نه وایو مونږ هر کله چه اراده کړے شوے دے هغه شے چه داخلیږی په صاع کښ پدے قول د نبی علیه السلام کښ چه لاتبيعوا الدرهم بالدرهمين مه خرڅوئ یوه روپئ په دوه روپو باندے او نه یو اوږے په دوه اوږو باندے ـ پدے اوله جمله کښ زمونږ کلام نشته بلکه په دویمه جمله کښ زمونږ کلام دے چه ولا الصاع بالصاعين دے نو دلته د صاع یوه معنی حقیقی ده او بله ئے معنی مجازی ده معنی حقیقی د صاع خشب منقوره دے هغه تو کلے شوے لرگے چه د هغے نه پیمانه جوړه کړے شوی وی ـ او معنی مجازی د صاع ذکر د محل (۱) او مراد ترینه حال دے ذکر د صاع دے او مراد ترینه ما یحل فی الصاع دے او دا عام دے چه که د قبیلے د مطعوماتو نه وی او که د قبیلے د غیر مطعوماتو نه وی نو دلته خو ترینه اجماعا ما یحل فی الصاع اراده کړے شوے دے چه ما یحل فی الصاع په دوه اوږو باندے مه خرڅوئ نو دا عام دے چه که د قبیلے د مطعوماتو نه وی نو هم ئے مه خرڅوئ نو اوس که یو خشب منقوره څوك په دوه خشبینو منقورینو باندے خرڅوی نو دا سود نه دے ځکه دلته مونږ په حدیث کښ یو ځل معنی مجازی اراده کړے ده اوس کچرے معنی حقیقی هم اراده کړو نو جمع راځی په مینځ د حقیقت او د مجاز کښ او دا جائز نه ده۔

﴿ سقط اعتبار نفس الصاع ﴾ نو ساقط شو اعتبار د نفس الصاع ترد ے چه جائز ده بیع د یو صاع ددینه په دوه صاعینو باندے۔

(۱) فائده : او دا یوه علاقه ده د علاقود مجاز مرسل څخه ـ بسند فضل الحق۔

﴿ ولما اريد الوقاع من آية الملامسة سقط اعتبار ارادة المس باليد ﴾

هر كله چه اراده كړے شوه وطی د آيت د ملامسے نه نو ساقط شو اعتبار د مس باليد ـ آيت دا دے ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ﴾ نو د لمس دپاره دوه معنیٰ ګانے دی يو لمس بمعنی الوقاع ای الجماع او دويم لمس باليد دے نو معنی حقيقی ئے وقاع ده (١) او معنی مجازی ئے لمس باليد دے نو هر كله چه دلته د لمس نه جماع مراد ده معنی حقيقی نو معنی مجازی ترينه نشی اراده كولے چه لمس باليد دے ځكه بيا جمع بين الحقيقة والمجاز راځی او دا باطل ده ـ

﴿ قال محمد اذا اوصی لمواليه وله موال اعتقهم ولمواليه موال ﴾

اوس تائيد نقل كوی په قول د امام محمد او امام محمد لكه څنګه چه امام د فقه دے نو دارنګه امام فی اللغة هم دے ـ

ترجمه : كله چه يو سړی وصيت اوكړو د خپلو موالی د دپاره او موالی وو دده دپاره چه ده آزاد كړی وو او دده د معتقين دپاره (بصيغة المفعول) هم معتقين وو نو وصيت به باطل حق د معتقينو ددے كښ قبليږی په حق د موالی د موالی ددے كښ به نه قبليږی ـ

دا مسئله ده مخكښ هم ذكر كړے وه چه سړی وصيت اوكړو دپاره د مواليو او دپاره موالی اسفل او موالی اعلی دواړه وو او تعين موصی نه وو كړے نو وصيت به باطل وی دلته خبره بالعكس ده چه يو سړی زيد غلام آزاد كړو او دے غلام بيا بل غلام آزاد كړو نو اولنی غلام ددے زيد معتق بالذات دے او دا دويم غلام دده معتق بالواسطه دے نو زيد چه وصيت اوكړو دپاره د موالی او دده معتقين بالذات او بالواسطه دواړه وو نو ددے معتقين بالذات اراده كيږی چه دا د موالی دپاره معنی حقيقی ده نو معتق المعتق به ترينه نشی اراده كولے ځكه دا معنی مجازی ده بيا جمع بين الحقيقة والمجاز لازميږی ـ

﴿ وفی السير الكبير لو استامن اهل الحرب علی آبائهم ﴾

---

(١) فائده : خبره بالعكس ده يعنی وقاع او جماع معنی مجازی ده او لمس باليد معنی حقيقی ده ـ فتدبر ـ سيد فضل الحق ـ

ترجمه : په سير كبير كښې هم امام محمد ذكر كوي كه امان طلب كړو اهل حربو په خپلو آباؤ باندې نو نه داخليږي اجداد په امان كښې ـ دا هم تفريع ده په دې خبره باندې چه جمع بين الحقيقة والمجاز جائز نه ده كه د لفظ نه معنى حقيقي اراده كړې شوه نو معنى مجازي به ترينه په آن واحده كښې نشي اراده كولې او كه معنى مجازي ترينه اراده كړې شوه نو معنى حقيقي به ترينه نشي اراده كولې ـ

صورت د مسئلې داسې دې چه يو حربي سړې محصور شي او دې امان طلب كړي د امير د مسلمانانو نه او ووائي چه آمنونا على آبائنا ـ مونږ ته امان راكړئ په اباؤ زمونږ باندې نو پدې امان كښې به اباء حقيقي داخل وي او اجداد به داخل نه وي ځكه اطلاق د اب په اب بالذات باندې حقيقت دې او اطلاق د اب په جد باندې (اب الاب) دا مجاز دې نو دلته ترينه معنى حقيقي اراده كړې شوې ده چه اب دې اوس كه مونږ اب الاب هم په امان كښې داخل كړو نو جمع بين الحقيقة والمجاز راځي ـ

﴿ ولو استأمنوا على امهاتهم لا يثبت الامان على الجدات ﴾

ترجمه : دغه رنګه كه اهل حربو امان طلب كړو په امهاتو باندې نو نه به ثابتيږي امان په جداتو باندې ځكه اطلاق د ام په ام بالذات باندې حقيقت دې او اطلاق د ام په جده باندې مجازاً دې نو دلته مونږ معنى حقيقي اراده كړې ده كه معنى مجازي هم اراده كړو او امان د جداتو دپاره هم ثابت كړو نو جمع بين الحقيقة والمجاز به راشي ـ

﴿ وعلى هذا قلنا اذا اوصى لابكار بني فلان الخ ﴾

دا بله تفريع ده پدې باندې چه جمع بين الحقيقة والمجاز جائز نه ده ـ

ترجمه : بناء پدې قاعده مذكوره باندې مونږ وايو چه كله يو سړي وصيت اوكړو د ابكارو د بني فلان دپاره نو نه داخليږي په حكم د وصيت كښې هغه جينۍ چه هغې ته اصابة كړې شوې وي بالفجور اى بالزنا ځكه دا باكره نه ده د باكرې دپاره دوه معنىٰ ګانې دي حقيقي او مجازي حقيقي باكره هغه چا ته ويلې كيږي چه مصيب هغه ته اول مصيب وي او باكره مجازًا هغه چا ته وائي چه مصيب هغې ته ثانيا مصيب وي په زنائې بكر زائله شوې وي په نكاح سره نه وي نو ديته هم مجازاً باكره ويلې شي خو دلته مونږ د باكرې نه

معنی حقیقی اراده کړے ده اوس کچرے معنی مجازی هم ترینه اراده کړو چه مصایبه بالزنا هم په وصیت کښ داخله کړو نو جمع بین الحقیقة والمجاز لازمیږی۔

﴿ ولو اوصی لبنی فلان وله بنون وبنو بنیه ﴾

دا بله تفریع ده په قاعده مذکوره۔ ترجمه : کچرے یو سړی وصیت اوکړو د بنی فلان دپاره او د فلان دپاره ځامن او نوسی دواړه وو نو وصیت به په حق د ځامنو کښ وی نه د نوسو په حق کښ۔ ځکه د ابن اطلاق په ابن بالذات باندے حقیقت دے او د ابن اطلاق په ابن الابن باندے هم کیږی مجازا نو مونږ دلته معنی حقیقی د ابن اراده کړے ده چه ابن بالذات مو ترینه اغستے دے نو اوس که ابن الابن هم ترینه اراده کړو نو جمع بین الحقیقة والمجاز لازمیږی۔

﴿ قال اصحابنا لو حلف لا ینکح فلانة وهی اجنبیة ﴾ دا بله تفریع ده

ترجمه : وئیلی دی اصحابو زمونږ کچرے یو سړی قسم اوخوړو چه زه به نکاح نه کوم د فلانکی زنانه سره او هغه اجنبیه وه نو دا قول ددے به حمل کیږی په عقد باندے کچرے زنائے د هغے اجنبیے سره اوکړه نو نه حانثیږی نو اطلاق د نکاح په عقد باندے حقیقت دے او په وطی باندے مجازاً دے نو ددینه مونږ معنی حقیقی اراده کړے ده چه عقد دے نو اوس کچرے مونږ ترینه معنی مجازی هم اراده کړو او په وطی بالزنا باندے ئے هم حانث کړو نو جمع به راشی په مینځ د حقیقت او مجاز کښ او دا باطله ده

﴿ ولئن قال اذا حلف لا یضع قدمه فی دار فلان یحنث لو دخلها حافیا ومتنعلا او راکباً ﴾

اوس دلته مصنف دفع د اعتراض کوی چه تاسو وایئ چه جمع په مابین د حقیقت او مجاز کښ جائز نه ده زه به درته دیر داسے مسائل اوښایم چه تاسو هلته جمع په مابین د حقیقت او مجاز کښ کړے ده لکه چه یو سړے قسم اوخوری چه زه به قدم په کور د فلانکی کښ نه گدم نو د وضع القدم حقیقی معنی دا ده چه سړے قدم کیدے متنعلًا او معنی مجازی ئے دا ده چه دے دخول دے دار ته اوکړی په هره طریقه چه وی متنعلًا وی او که حافیا وی او که راکبا وی او راجلا وی نو یو سړی چه داسے قسم اوخوړ چه والله لا اضع

القدم فی دار فلان ۔ نو که دے خپے ابله خپے دار فلان ته داخل شو نو حانث ؤے شی ځکه دا د وضع القدم حقیقی معنی ده او که متنعلا یا راکبا دار فلان ته داخل شو نو حانث ؤے نه شی ځکه دا وضع القدم معنی مجازی ده او تاسو وایئ چه جمع بین الحقیقة والمجاز جائز نه ده او حال دا دے چه که داسړے حافیاً یا راجلًا یا متنعلًا یا راکباً دار د فلان ته داخل شو نو تاسو دے حانث وایئ نو دا نده مګر جمع بین الحقیقة والمجاز ده؟

نو مصنف د هغے نه جواب کوی چه دلته مونږ جمع بین الحقیقة والمجاز په اعتبار د عموم د مجاز سره کړیده او عموم د مجاز دیته وائی چه مونږ یوه معنی ثالثه واخلو او معنی حقیقی او مجازی د هغے دپاره فردین ادعائین اوګرځوو نو دلته لا یضع قدمه کنایه ګرځیدلے ده د دخول نه او دخول بیا عام دے دخول حافیا او مترجلا او متنعلا ټولو ته وائی۔

﴿ ولئن قال اذا حلف لا یضع قدمه الخ ﴾ ترجمه: که څوك په اعتراض کښې اووائی چه کچرے یو سړی قسم اوخوړه چه دے به قدم په کور د فلانکی کښې نه ګدی نو دے حانثیږی کچرے داخل شو خپے ابله خپے یا پیزار (څپلئ) په خپو او یا راکباً۔

﴿ ولو حلف لا یسکن دار فلان ﴾ ۔ دا هم دفع د اعتراض ده چه یو سړی قسم اخوږ چه زه به په دار د فلان کښې نه اوسیږم نو معنی حقیقی د دار فلان دا ده چه دا دار د هغه مملوك وی او معنی مجازی دا ده چه دا دار د هغه سره عاریةً وی یا په کرائی سره وی نو هم ورته دار فلان ویلے کیږی نو پکار ده چه دے ؤے حانث شی په سکنی د دار فلان ملکیةً سره نه په دار عاریةً او اجرةً سره او حال دا دے چه تاسو دے حانث وائی کچرے په دار د فلان عاریةً یا اجرةً یاملکیةً د دار د فلان کښې اووسیده۔

ددے نه هم جواب دا چه دلته مونږ جمع بین الحقیقة والمجاز په اعتبار د عموم د مجاز سره اخلو چه د دار فلان نه مراد مونږ دار مسکونه د فلان اخلو او دار مسکونه د فلان عام دے چه که مملوکه وی او که عاریةً وی او که اجارةً وی۔

﴿ وکذلک لو حلف لا یسکن دار فلان یحنث لو کانت الدار الخ ﴾

ترجمه: او دغه رنګه کچرے یو سړی قسم اوخوږ چه نه به اوشیږی په دار د فلان کښې نو حانثیږی دے اګرکه کور د فلان ملکاً وی او یا په اجرت سره وی او یا عاریةً وی او دا جمع ده

په مينځ د حقيقت او د مجاز کښې ۔

﴿ **وكذلک لو قال عبده حر يوم يقدم فلان** ﴾ دا دريم اعتراض دے ۔

ترجمه : او هم دغه رنګه کچرے سرى داسے اووئيل چه عبد زما ؤ ازاد وى په کومه ورځ چه فلانکى راغلے نو که فلان د ورځے راغے يا د شپے نو دے حانثيږى او عبد ئے آزاديږى۔ نو پکار خو دا ده چه که فلان د ورځے راشى نو دے ؤ حانث شى کچرے د شپے راغلو نو حانث ؤ نه شى ۔

صاحب د نور الانوار په دے مسئله کښې څلور صورتونه ذکرکړى دى خو صاحب شاشى دلته يو صورت راخلى۔

جواب دا دے چه قانون په لفظ د يوم کښې دا دے چه کله ددے نسبت اوکړے شى فعل (۱) غير ممتد ته نو مراد د هغے نه مطلق وقت وى او فعل غير ممتد ديته وائى چه د هغے تقدر نه کيږى په يوم پورے په عرف کښې ۔ نو دلته هم ده د يوم اضافت کړے دے قدوم ته او

---

(۱) فائده : فعل ممتد هغه فعل دى چه مقدر بمدة ګرځى لکه رکوب شو ځکه صحيح دى چه اُووئيلى شى : رکبت هذه الدابة يوما۔

او فعل غير ممتد هغه دى چه مقدر بمدة نه ګرځى لکه قدوم، حرية۔ او شارح وقاية وائى چه په فعل ممتد کښې مطلق امتداد نه وى معتبر۔ بلکه داسى امتداد معتبر وى چه مستوعب ګرځى نهار لره عادةً او عرفاً ځکه دوى تکلم ته فعل غير ممتد وائى او حال دا چه ممتد دى زماناً طويلاً۔ لکن په دى طريقه ممتد نه دى چه مستوعب شى نهار لره عادةً او عرفاً۔ کذا فى قمر الاقمار۔

فائده (۲) : کوم فعل ته اعتباردى عامل ته او که مضاف اليه ته۔ ضابطه دا ده چه که دواړه فعلين ممتدين وى لکه امرك بيدك يوم يركب زيد نو مراد به په يوم سره نهار وى او که دواړه غير ممتدين وى لکه عبدى حر يوم يقدم فلان نو مراد به په يوم سره مطلق وى او که يو فعل ممتد وى بل غير ممتد وى لکه امرك بيدك يوم يقدم فلان۔ او انت طالق يوم يركب زيد۔ نو اعتبار فعل عامل لره دى دون المضاف اليه۔ کذا فى نور الانوار۔ سيد فضل الحق۔

قدوم د فعل غیر ممتد د قبیلې نه دے نو مراد د یوم نه دلته مطلق وقت دے او مطلق وقت چه څنګه په یوم کښې متحقق دے نو دغه رنګه په لیل کښې هم متحقق دے نو که فلان د شپې راشي او که د ورځې راشي نو مطلق وقت متحقق شو نو دے به حانث وي ۔

﴿ فلنا وضع القدم صار مجازاً عن الدخول ﴾

دا جواب د اولنی اعتراض کوي۔ ترجمه : وايو مونږ په جواب د اول اعتراض کښې چه دا وضع د قدم مجاز ګرځيدلے دے د دخول نه په حکم د عرف کښې او دخول متفاوت نه وي په دوارو فصلينو کښې چه هغه دخول حافياً دے او يا دخول غير حافياً دے ۔

﴿ ودار فلان صار مجازاً ﴾ دا د دويم اعتراض جواب دے ۔

ترجمه : او دار د فلان مجاز ګرځيدلے دے د دار مسکونه د فلان نه او دار مسکونه عام دے چه حقيقةً وي او که مجازاً وي ۔ او دار د فلان نه متفاوت کيږي په مينځ ددوی کښې چه دا دار دده ملکاً وي او يا په اجرت سره وي ۔

﴿ واليوم فى مسألة القدوم ﴾ ۔ دا د دريم اعتراض جواب دے ۔

ترجمه : او يوم په مسئله د قدوم کښې عبارت دے د مطلق وقت نه څکه د يوم اضافت چه کله داسے يو فعل ته اوکړے شي چه هغه ممتد نه وي، نو دا يوم به عبارت وي د مطلق وقت نه لکه څنګه چه په عرف کښې دی ۔

﴿ فكان الحنث بهذا الطريق ﴾ ترجمه : نو دا حانث کيدل پدے طريقے سره راغلل نه په طريقه د جمع بين الحقيقت والمجاز سره ۔

﴿ ثم الحقيقة انواع ثلاثة ﴾

اوس مصنف د حقيقت درے انواع بيانوی ۔ ترجمه : بيا حقيقت په درے نوعو سره دے حقيقت متعذره، حقيقت مستعمله، او حقيقت مهجوره ۔

متعذره دلته په معنی د متعسر سره دے او متعسر هغے ته وائی : ما لايمكن الوصول اليه الا بكلفة ومشقةٍ ۔ دا دفع د اعتراض ده چه روسته تاسو د حقيقت متعذره دپاره مثال ذکر کوئ چه والله لا آكل من هذه الشجرة ۔ نو د شجر اکل خو متعذر نه دے په کلفت سره خو خوړے شي نو جواب اوشو چه متعذر بمعنى المتعسر دے ۔

او حقیقت مهجوره به یا مهجور شرعا وی او یا به مهجور عادةً وی
او حقیقت مستعمله کښې ذوه رائے دی بعض وائی چه مراد د استعمال نه استعمال فی العرف دے او بعض وائی چه مراد د استعمال نه استعمال فی التفاهم دے نو ثمرهٔ د اختلاف په دے کښې راوځی چه یو سړی قسم اوخوړ چه زه به غوښه نه اخلم نو غوښه یوه هغه ده چه په تعامل د خلقو کښې وی او بله هغه ده چه په تفاهم کښې وی کچرے دے سړی په بازار کښې غوښه د انسان واغستله نو په عرف کښې خو غوښه د انسان نه خرڅیږی نو چه څوك د استعمال نه استعال فی التعامل اخلی نو د هغے په نزد نه حانثیږی او چه کوم حضرات د استعمال نه استعمال فی التفاهم اخلی نو د هغوی په نزد بیا دے حانثیږی ځکه په تفاهم کښې غوښه هغے ته وائی چه د وینے نه پیدا شوی وی او شدت پکښې وی نو په تفاهم کښې په لحم د انسان باندے هم اطلاق د لحم کیږی

ثم الحقیقة انواع ثلاثة : ترجمه : بیا دا حقیقت په خپل کور کښې متنوع دے انواع ثلاثه وته یو دے حقیقت متعذره او بل حقیقت مهجوره دے (او مهجور بیا عام دے که مهجور عادةً وی او که شرعاً وی) مثال د مهجور عادةً لکه لا اضع القدم نو وضع د قدم حافیاً مهجور دی او مراد ترینه مطلق دخول دے دار د فلان ته او مطلق دخول علم دے چه حافیاً وی او که غیر حافیاً وی او مثال د مهجور شرعاً لکه وکالت بالخصومة شو نو دا مهجور شرعاً ده دا به موثر صرف کوو مطلق جواب ته

﴿ومستعملةٌ﴾ دریم قسم د حقیقت حقیقت مستعمله دے او په اولینو دوارو قسمینو کښې به صیرورت مجاز ته کولے شی بالاتفاق حقیقت چه متعذر شی یا مهجور شی نو صیرورت به کیږی معنی مجازی ته

﴿ونظیر المتعذرة اذا حلف لا یأکل من هذه الشجرة الخ﴾

ترجمه : او کله چه سړی قسم اوخوړ چه به نه خوری ددے ونے نه یا ددے کتوی نه ځکه اکل د شجر او د قدر متعذر دے نو صیرورت به کیږی د میوو ددے ونے نه او ما یحل فی القدر ته عادةً اگر که عقلاً عین خوړل ددے ونے او کتوئ ممکن دی بنوع تکلف خو چه دا ونه مُثمره وه او کچرے ونه مثمره نه وه لکه کیکر سفیدار وغیره شو نو بیا به دا موثر

صرف کوو قیمت د هغے تہ کچرے هغه ونه خرخه شوه او د هغے پیسے ئے اوخوړلے یا د مثمرے ونے میوے ئے اوخوړے نو حانثیږی او که چرے بنوع تکلف ئے لرګی او پوستکی د هغه ونے اوخوړل نو تہ حانثیږی ځکه معنی حقیقی دلته متعذره ده نو معنی مجازی ترینه اراده کړے شوے ده ۔

په متن د ماتن باندے اعتراض واردیږی چه ستا مثال مطابق د ممثل سره ندے ځکه ستا ممثل حقیقت متعذره دے او مثال کښ لایأکل من هذا الشجرة ذکر کوی نو عدم اکل د شجرے خو متعذر نه دے بلکه اکل الشجرة متعذر دے نو پکار دا ده چه ته مثال د اکل الشجر ذکر کړے ؟

جواب : چه دا بناء دے په یوه قاعده باندے قاعده دا ده چه یمین چه کله متوجه شی یو کلام ته چه هغه منفی وی په حرف نفی سره نو دا یمین متوجه کیږی منفی ته نه نفی ته نو نفی دلته لا دے او منفی اکل دے نو دلته یمین اکل ته متوجه دے نو مثال موافق د ممثل سره شو ځکه اکل د شجر خو متعذر دے یعنی متعسر دے ځکه چه لایمکن الیه الوصول الا بکلفة ومشقة دے ۔

﴿ **حتی لو اکل من عین الشجرة او من عین القدر بنوع تکلف** ﴾ ۔

کچرے وے خوړه دے سرې عین هغه ونه او یا کوډرۍ د هغه کټوئ په نوع تکلف سره نو نه دے حانث ۔

﴿ **وعلی هذا قلنا لو حلف لا یشرب من هذا البیر** ﴾ ترجمه : او بناء پدے باندے مونږ وایو چه کچرے یو سړی قسم اوخوړو چه دے به نه ځکی ددے کوهی نه نو منصرف کیږی دا قول دده په لپو ځکلو یا په لوخی کښ ځکلو ته تردے کچرے په خوله ئے د هغه کوهی نه اوبه اوځکلی بنوع تکلف نو دے نه حانثیږی ۔

چه کله حقیقت متعذر شی نو صیرورت کیږی معنی مجازی ته معنی حقیقی ددے دا ده چه دے د کوهی په اوبو باندے پریوځی او په خوله ترینه اوبه اوسکی نو دا معنی متعذره ده نو موږ ترینه شرب اغترافاً اراده کړو یعنی چه په لپه کښ ئے د کوهی نه اوبه اوسکلے یا ئے په لوخی کښ اوسکلے او د کوهی نه ئے په بوقه یا موټر وغیره باندے

راوستلے۔ (موټر نه مراد د اوبو ماشين دی۔ سيد)

بالفرض کچرے دا سرے کوهی ته کوز شو او په اوبو پريوتو او يا ئے کوهی ته ځان اوېزان کړو په رسۍ باندے او خوله باندے ئے اوبه اوسکلے نو دے به نه حانثيږی ځکه دلته معنی مجازی اراده کړے شوے ده او حقيقت مهجوره دے۔

﴿ ونظير المهجورة لو حلف لا يضع قدمه فی دار فلان ﴾۔

ترجمه: نظير د حقيقت مهجوره دپاره دا دے چه کچرے يو سړی قسم اوخوړ چه نه به ږدی قدم خپل په کور د فلانکی کښ نو بيشکه اراده د کيخودو د قدم خپے ابله خپے مهجور دی عادةً نو صيرورت به کيږی معنی مجازی ته چه هغه دخول فی دار فلان دے۔

﴿ وعلى هذا قلنا التوكيل بنفس الخصومة ينصرف الى مطلق جواب الخصم ﴾۔ دا مثال د مهجور شرعاً دے۔

ترجمه: او بناء په دے قاعده چه حقيقت مهجوره به صرف کولے شی معنی مجازی ته وايو مونږ چه وکيل نيول په نفس خصومت باندے دا به صرف کيږی مطلق جواب د خصم ته تردے چه جائز دی وکيل لره چه جواب ورکړی په نعم سره لکه څنګه چه جائز ده لره چه جواب خصم ته په لا سره ورکړی ځکه چه توکيل په نفس خصومت سره دا مهجور دی شرعاً او عادةً کما فی قوله تعالىٰ: ولا تنازعوا۔

يعنی يو سړی وکيل اونيولو بالخصومة چه ته به زما د خصم سره جګړه کوے او د هغه خبرے ته به لا وائے دا معنی حقيقی د وکيل بالخصومة ده نو ده د قاضی په مخکښ چه کله ئے دلائل د خصم واوريدل اقرار ئے اوکړو نو مؤکل ئے قاضی ته وائی چه دے خو ما وکيل بالخصومة کرځولے دے ده چه نعم ويلے دے زما خصم ته ددے اجازت خو ده ته نه وو ما ته دده اقرار منظور نه دے نو قاضی به د وکيل نعم معتبروی ځکه چه وکالت بالخصومة شرعاً مهجور دے ځکه چه دا مفضی کيږی شر او فساد ته او الله فساد نه خوښوی نو ددينه به مجازی معنی اراده کيدے شی چه هغه مطلق جواب دے۔

﴿ ولو كانت الحقيقة مستعملة فان لم يكن لها مجاز متعارف ﴾۔

ترجمه: کچرے حقيقت مستعمل وو کچرے نه وو د هغے دپاره مجاز متعارف نو

هلته حقیقت اولیٰ دے بغیر د خلاف نه (صورتونه په کښې متعدد دی یو هغه حقیقت دے چه د هغې دپاره مجاز نه وی دویم هغه حقیقت چه هغه دپاره مجاز وی خو متعارف نه وی ۔ دریم هغه حقیقت دے چه د هغې دپاره مجاز متعارف شته نو کوم حقیقت چه د هغې دپاره مجاز نه وو یا هغه حقیقت چه د هغه دپاره مجاز وی خو متعارف نه وی نو په دے دواړو صورتونو کښې عمل په حقیقت باندے دے ۔

خو دریم قسم د حقیقت چه د هغه دپاره مجاز متعارف وی نو په دے کښې اختلاف دے د امام ابوحنیفه په نزد عمل په حقیقت اولیٰ دے او د صاحبینو په نزد باندے عمل په مجاز متعارف باندے اولیٰ دے ۔

﴿ وان کان لها مجاز متعارف فالحقیقة اولیٰ ﴾ ۔ او کچرے د حقیقت دپاره مجاز متعارف وو نو حقیقت اولیٰ بالعمل دے په نزد د امام ابوحنیفه او په نزد د صاحبینو باندے عمل په عموم المجاز باندے اولیٰ دے ۔

﴿ مثاله لو حلف لا یأکل من هذه الحنطة ینصرف ذلک الی عینها ﴾

ترجمه : کچرے یو سړی قسم اوخوړ چه نه به خوری ددے غنمو نه نو منصرف کیږی به دا عین د دغه حنطے ته په نزد د امام ابوحنیفه باندے تردے کچرے وے ئے خوړله روټئ حاصله شوے ددے غنمو نه نو نه حانثیږی عند ابی حنیفةؒ ۔

او په نزد د صاحبینو باندے به دا مونږ صرف کوو هغه شی ته چه متضمن دے هغے ته حنطه په طریقے د عموم د مجاز سره نو دے به حانثیږی په خوړلو د عین غنمو سره هم او په اکل د روټئ حاصله شوے سره هم ۔

د حنطه معنی حقیقی غنم دی او معنی مجازی ئے ما حصل من الحنطه دے چه که هغه وره وی او که حلوا وی وغیره نو په نزد د امام ابوحنیفه باندے عمل کول په حقیقت اولیٰ دی د مجاز نه نو په اکل د عین حنطه به حانثیږی او په اکل د ماحصل من الحنطة به نه حانثیږی او په نزد د صاحبینو باندے عمل کول په عموم د مجاز باندے اولیٰ دی نو کچرے غنم ئے اوخوړل یا ئے وره حلواء وغیره اوخوړل نو هم حانث دے ۔

﴿ وکذا لو حلف لا یشرب من الفرات ینصرف الی الشرب منها کرعاً ﴾

ترجمه: او هم دغه رنګه کچرې یو سړی قسم اوخوړ چه دې به نه څکی د نهر فرات نه نو صرف کیږی به (یعنی ګرځی به. سید) دا قول دده شرب من الفرات ته کرعاً (کرعه دیته وائی چه په اوبو باندې پړې وځی او اوبه وسکی) په نزد د امام ابوحنیفه باندې څکه دا حقیقت مستعمله دې اهل البوادی چه کله اوبه سکی نو هغوی کرع کوی په اوبو دپاسه پړې وځی او اوبه سکی نو کچرې د نهر فرات نه ده په کرعه سره اوبه اوسکلې نو حانث دې او که په لپه یا لوخی سره ئې اوسکلې نو نه حانثیږی په نزد د امام ابوحنیفه

﴿ وعندهما الى المجاز المتعارف ﴾ او په نزد د صاحبینو باندې به دا صرف کیږی مجاز متعارف ته او هغه سکل د اوبو د فرات دی په هره طریقه چه وی که په طریقه د کرع سره ئې اوسکلې او که په طریقه د اغتراف سره ئې اوسکلې او که په لوخی کښې ئې اوسکلې نو حانث دې.

﴿ ثم المجاز عند ابی حنیفة خلف عن الحقیقة ﴾: دلته مقدمات خمسه ذکر کوی څلور مقدمې اتفاقی دی او یوه مقدمه اختلافی ده.

څلور مقدمې اتفاقی دا دی: ۱- حقیقت اصل دې او مجاز خلف دې دا اتفاقی مقدمه ده.

۲- چه کله حقیقت متعذر شی نو هله به صیرورت کیږی معنی مجازی ته کچرې حقیقت متعذر نه وو نو بیا صیرورت معنی مجازی ته نه کیږی دا هم اتفاقی مقدمه ده.

۳- حقیقت به متصور الوجود وی کچرې حقیقت متصور الوجود نه وو نو بیا مونږ صیرورت معنی مجازی ته نشو کولې دا مقدمه هم اتفاقی ده.

٤- حقیقت او مجاز دا صفات د لفظ دپاره دی بالذات او صفات د معنی دپاره دی خو بالواسطه. توصیف د لفظ په حقیقت او مجاز سره دا اصالةً دې یعنی چه لفظ ته حقیقی او مجازی ویلې شی نو دا اصالةً. او معنی چه موصوف کیږی په حقیقت او مجاز سره چه ویلې شی دا معنی حقیقی ده او دا معنی مجازی ده نو دا توصیف بالواسطه دې اصالةً نه دې دا هم اتفاقی ده.

٥- مقدمه اختلافی ده چه مجاز خلف دې د حقیقت نه خو دا خلف په تلفظ کښې دې او که خلف په حکم کښې دې امام ابوحنیفه وائی چه مجاز خلف د حقیقت نه دې په تلفظ

کښې او په نزد د صاحبینو مجاز خلف د حقیقت نه دے خو په حکم کښې۔

ثم المجاز خلف عن الحقیقة فی حق اللفظ الخ ۔ ترجمه: بیا مجاز په نزد د امام ابو حنیفه باندے خلف دے په حق د لفظ کښې۔ خلف په سکون د لام سره نا اهله ته ویلے شي او خلف په فتحے د لام سره قائم مقام ته وائي (فخلف من بعدهم خلف اضاعوا الصلاة واتبعوا الشهوات)۔

﴿ **وعندهما خلف عن الحقیقة** ﴾ او په نزد د صاحبینو باندے حقیقت خلف دے د مجاز نه په حق د حکم کښې تردے کچرے حقیقت ممکن وو فی نفسها مگر عمل پدے حقیقت باندے ممتنع گرځیدلے وی د مانع د وجے نه نو صیرورت به کولے شي مجاز ته او کچر ته حقیقت ممکن نه وو نو بیا به کلام لغوه شي او اثر به پرے مرتب نه وی۔

﴿ **وعنده یصار الی المجاز** ﴾ او په نزد د امام ابو حنیفه باندے به صیرورت کولے شي مجاز ته اگر که حقیقت ممکن فی نفسها نه وی۔

﴿ **مثاله اذا قال لعبده وهو اکبر سنا منه** ﴾ ۔مثال ددے دپاره دا دے چه کله مولیٰ عبد ته اوویل: هذا ابني او هغه عبد دده نه په عمر کښې مشر وو نو صیرورت به معنی مجازي ته نه کیږی په نزد د صاحبینو باندے د وجے د محال والی د حقیقت نه ځکه اکبر سناً د اصغر سناً ابن نشي کیدے نو کلام به دده لغوه وی۔

﴿ **وعنده یصار الی المجاز** ﴾ او په نزد د امام ابو حنیفه باندے به صیرورت کیږی معنی مجازي ته تردے چه غلام دده به ازاد وی ځکه دا قول دده کنایه ده د عتق نه۔

سوال: مونږ اتفاقی مقدمه ذکر کړے وه چه حقیقت به متصور الوجود وی او دلته یو مانع موجود شي نو مونږ به صیرورت کوو معنی مجازي ته او که حقیقت متصور الوجود نه وی نو بیا مونږ صیرورت معنی مجازي ته نه نشو کولے نو بناء په دے قاعده باندے رائے د صاحبینو صحیح ده پکار ده چه دا کلام لغوه شي ځکه اکبر سناً د اصغر سناً ابن نشي کیدے نو حقیقت متصور الوجود نه شو نو پکار ده چه دلته مونږ ق لغویت ددے کلام باندے؟۔

جواب: دلته امام ابو حنیفه جهت د خلافت متعین کړو چه مجاز قائم م

دے پہ تلفظ کښې نو هذا ابنی د هذا حر نه خلف دے نو دلته خو حقیقت متصور دے او صاحبین خو جهت د خلافت د مجاز په حکم کښې وائی چه په حکم تعذر دے۔

﴿ **وعلی هذا یخرّج الحکم فی قوله له علیّ الف** ﴾ ترجمه : او بناء پدے قاعده باندے متفرع کیږی حکم پدے قول د سړی کښې چه اووائی د فلانکی په ما باندے (١٠٠٠) روپۓ دی یا پدے جدار باندے دی نو جدار خو صلاحیت نه لری د وجوب د دین نو اقرار دده په خپل ځان باندے صحیح شو ۔

﴿ **وقوله عبدی (١) او حمار حر** ﴾ ۔ او دا قول د سړی چه عبد زما یا حمار زما ږ حر وی نو دلته خو ترتب د حریت د عبد په حق کښې صحیح دے خو په حمار باندے ترتب د حریت نه کیږی۔

﴿ **ولا یلزم علی هذا اذا قال لامرأته هذه ابنتی ولها نسب معروف** ﴾

او نه لازمیږی اعتراض پدے باندے چه سړے ښځې خپلے ته ووائی هذه ابنتی دا زما لور ده او د هغے نسب معلوم وو د غیر نه نو نه حرامیږی په ده باندے (دلته صیرورت معنی مجازی ته نه کیږی چه هذه ابنتی کنایه شی د هذه طالق نه) ۔

﴿ **ولا یجعل ذلک مجازا عن الطلاق** ﴾ او دا مجاز د طلاق نه نه گرځی برابره خبره ده که هغه زنانه وړه وی په عمر کښې د خاوند نه او که غټه وی ځکه که دا لفظ (چه هذه ابنتی دے) کچرے صحیح شی نو وی به منافی د نکاح نه او منافی به وی د حکم د نکاح سره چه طلاق دے ځکه طلاق سبق نکاح غواړی او نکاح ددے سره هډو شوے نه ده۔

﴿ **ولاستعارة مع وجود التنافی** ﴾

---

(١) نو په دی مثال او ماسبق مثال دواړو کښې په نزد د صاحبینو معنی حقیقی ممکن نه ده چه لزوم د الف دی په أحد هما او حریة د احد هما دی بلا تعین او جدار په اول مثال کښې او حمار په دوم مثال کښې صلاحیت د لزوم د الف او د حریة نه لری نو کلام لغو شو او په نیز د امام ابو حنیفه به ما یحتمله الحریة او لزوم الالف وی او أو به په معنی د واو سره شی مجازاً۔ سید

او مجاز سره د وجود د تنافی نه نه صحیح کیږی ـ **سوال :** بحث زمونږ په مجاز کښی دے او تاسو خو لا استعاره اوویل استعارے ته اووتلی دا خو خروج من البحث دے ؟ ـ

جواب : په نزد د اصولینو استعاره مرادف د مجاز ده او په اصطلاح د اهل معانیو کښی د مجاز او استعارے په مینځ کښی فرق دے دوی وائی هر هغه شیئین چه په هغے کښی علاقه وی نو هغه استعاره ده او که علاقه پکښی نه وی نو هغے ته مجاز وائی او معانیو والا د استعارے بیا څلور اقسام ذکر کوی ـ ۱- استعاره مکنیه ۲- مصرحه ۳- تخییلیه ٤- ترشیحیه ـ خو عند الاصولین استعاره او مجاز الفاظ مترادفه او معنی ئے واحده ده ـ

﴿ بخلاف هذا ابنی فان البنوة لا تنافی الملک ﴾

ترجمه : په خلاف ددے قول نه چه هذا ابنی دے ځکه بنوت نه منافی کیږی د ثبوت الملك سره دپاره د پلار بلکه ثابتیږی ملك پلار لره او بیا پرے آزادیږی او د بنتیت خو منافات دے د نکاح سره نو ځکه ئے مونږ مجاز د طلاق نه نه گرځوو ـ

﴿ فصل فی تعریف طریق الاستعارة ﴾

په نزد د اصولینو استعاره او مجاز یو شے دے نو اوس طریق د استعارے (۱) بیانوی ـ

ترجمه : فصل دے په بیان د تعریف د طریقه د استعاره کښی ـ

﴿ اعلم ان الاستعارة فی احکام الشرع مطردة بطریقین ﴾ :

پوهه شه چه استعاره په احکام د شرع کښی شائع ده په دوه طریقو سره یو ددے دواړو نه دوجے د وجود د اتصال نه په مینځ د علت او د حکم کښی (د حکم نه مراد معلول دے) ـ

دویمه طریقه د وجے د اتصال نه په مابین د سبب محض او د حکم کښی ـ سبب ئے دلته

(۱) : او دلته چه مصنف دوه طریقی ذکر کړی دی دا په فن بیان کښی د مجاز مرسل د قبیلی څخه دی ـ سید فضل الحق ـ

مقید کړو په قید د محض سره پدے سره احتراز مقصود دے د هغه سبب بمعنی العلة نه ځکه چه کوم ځائے کښې سبب بمعنی العلة وی نو د هغے حال بیا د علت معلول پشان دے نو هلته بیا استعاره د جانبینو نه صحیح کیږی۔

﴿ والاول منها ﴾۔نو دا اول اتصال (چه په مابین د علت (۱) او د معلول کښې وو) ثابتوی صحت د استعاری د طرفینو نه۔

دلته یو جب بمعنی یثبت دے ذکر د خاص مراد ترینه عام دے وجوب اصطلاحی ترینه مراد نه دے چه کچرے دے استعاره اونکړی نو گناهگاریږی به نه په علت معلول کښې ذکر د علت مراد ترینه معلول او ذکر د معلول مراد ترینه علت دواړه صحیح دی۔

﴿ والثانی یوجب صحة الاستعارة من احد الطرفین ﴾

ترجمه: او دا دویم استعاره چه اتصال دے په مابین د سبب او مسبب کښې ثابتوی صحت د استعارے د یو د طرفینو نه نو ذکر د سبب او مراد ترینه مسبب دا استعاره صحیح ده خو ذکر د مسبب او مراد ترینه سبب دا استعاره صحیح نه ده۔

﴿ وهو استعارة الاصل ﴾۔ او دا استعاره د اصل ده چه ذکر د سبب چه اصل دے او مراد ترینه مسبب چه فرع ده وجه ددے دپاره صاحب د مولوی ذکر کړیده چه دارومدار د استعارے دا بناء وی په احتیاج باندے په علت معلول کښې احتیاج د جانبینو نه وی او په سبب او مسبب کښې احتیاج د یو طرفنه دے نو ذکر د محتاج الیه او مراد ترینه محتاج دے ، ذکر د سبب دے او مراد ترینه مسبب دے خو ذکر د مسبب چه محتاج دے او مراد ترینه سبب چه محتاج الیه دے دا ندے صحیح

---

(۱) فائده: علة وئیلی شی ما یوجب الحکم ویوجده ویکون خارجاً مؤثراً فیه او سبب ما یکون طریقاً مفضیاً الی الحکم ولا یضاف الیه وجوده ولا وجوبه۔ علاقه بین العلة والمعلول قوی ده ځکه افتقار او احتیاج من الجانبین وی نو استعاره هم من الجانبین جائز شوه ځکه دار مدار د استعاری په افتقار دی او سبب مسبب کښې افتقار د جانب واحده نه دی، مسبب محتاج دی سبب ته او سبب محتاج نهٔ دی۔ نو استعاره هم من جانب واحد جائز ده۔ سید۔

﴿ مثال الاول فيما اذا قال ان ملكت عبداً فهو حر ﴾۔

مثال د اول لکه مولیٰ اووائی کچرے زه مالك شوم د عبد نو هغه به حر وی نو دے مالك شو د نیم عبد او هغه ئے خرخ کړو بیا مالك شو د نصف آخر نو حکم دا دے چه دا عبد په ده باندے نه ازادیږی ځکه دده په ملك کښ کل عبد جمع نه شو دے مولیٰ ته مالك العبد نشی ویلے ځکه په ملکیت کښ جمیع اجزاء د مملوك په ید د مالك کښ شرط دی ده ته به مالك العبد هله ویلے کیږی چه جمیع اجزاء د عبد دده په ید کښ راشی۔

﴿ ولو قال ان اشتريت عبدا فهو حر ﴾

او کچرے اوویل مولیٰ کچرے ما واخستو عبد نو هغه دے آزاد وی نو نیم عبد ئے واخستو نو هغه ئے خرخ کړو بیا ئے نصف آخر واخستو نو دا نصف ثانی آزادیږی ځکه د شریٰ دپاره دا ضروري نه ده چه جمیع اجز اء د مشتریٰ به په ید د مشتری کښ وی ده ته مشتری العبد په عرف کښ ویلے شی۔

﴿ ولو عنى بالملك الشراء وبالشراء الملك صحت نيته بطريق المجاز ﴾

مصنف مخکښ توطیه او تمهید ذکر کړو اوس استعارے ته راغے۔

ترجمه: کچرے ده اراده په ملك سره د شراء لره او په شراء سره ملك لره اوکړه نو نیت ئے صحیح دے په طریقے د مجاز سره (استعارے سره)۔ په اول صورت کښ چه ده اوویل ان ملکت عبداً فهو حر او ده ذکر د ملکیت او مراد ئے ترینه اشتریت وو۔

﴿ او بالشراء الملك ﴾ ترجمه: او یا ذکر د شراء اوکړه او مراد ئے ترینه ملك واخستو نو صحیح دے نیت دده۔ ﴿ لان الشرء علة الملك والملك حكمه ﴾۔

ترجمه: ځکه شراء علت دے دپاره د ملك او ملك ئے معلول دے نو استعاره عامه شوه په مابین د علت او معلول کښ د طرفینو نه۔ یعنی ذکر د علت او مراد ترینه معلول یا عکس ددے دواړه صحیح دی۔

﴿ الا انه فيما يكون تخفيفاً فى حقه لا يصدق في حق القضاء خاصة ﴾

ترجمه: مگر په هغه ځائے کښ چه هلته تخفیف په حق ددے قائل کښ راتلو نو هلته به دده د نیت تصدیق نشی کیدے په حق د قضاء کښ خاصةً۔

چه دے وائی ان اشتریت عبداً فهو حر دے وائی چه زما د شراء نه ملك مراد دے نو بیا خو نصف ثانی د عبد خو په ده باندے نه آزادیږی نو دا نه ازادیدل د عبد یو قسم تخفیف دے په ده باندے نو پدے صورت کښ به دده نیت قضاء معتبر نه وی۔

خاصةً قید ئے ځکه ذکر کړو چه دده نیت دیانةً معتبر دے کچرے دے د مفتی څنګ ته لاړو نو پدے صورت کښ به هم مفتی د هغه نیت معتبروی ځکه دا استعاره د علت او د معلول په مینځ کښ ده او استعاره د علت او د معلول ترمینځه د جانبینو نه صحیح ده۔ نو فیما بینه وبین الله دده نیت صحیح دے خو ظاهر تهمت په ده کښ دے نو ځکه به قاضی دده دا نیت نه معتبروی۔

﴿ لمعنی التهمة لا لعدم صحة الاستعارة ﴾ د وجے د معنی د تهمت نه نه د وجے د عدم صحت د استعارے نه۔

﴿ ومثال الثانی اذا قال لامرأته حررتک ونوی به الطلاق یصح ﴾۔

مثال د ثانی کله چه یو سړے اووائی ښځے خپلے ته ما ته ازاده کړے ئے او نیت اوکړی ددے سره د طلاقو نو صحیح کیږی نیت دده۔

ځکه تحریر وضع کړے شوے دے دپاره د آزاد والی د ملك رقبی په واسطه د ازالے د ملك رقبی سره ازاله د منافعو د بضعے اوشوله ځکه په مابین د سبب او مسبب کښ واسطه وی او د علت او معلول په مینځ کښ واسطه نه وی نو دا تحریر خو واضع وضع کړے دے دپاره د ازالے د ملك رقبی نو ازاله د ملك رقبی چه اوشی نو په واسطه د ازاله د ملك رقبی سره ازاله د ملك متعی اوشوله او طلاق وضع شویدی دپاره د ازالے د ملك بضعی پدے سره ازاله د منافعو د بضعی راځی نو چه دے ذکر د تحریر کوی او مراد ترینه طلاق اخلی نو ذکر د سبب دے او مراد ترینه مسبب دے نو دا استعاره صحیح ده۔

﴿ لان التحریر بحقیقته یوجب زوال ملک البضع بواسطة الخ ﴾۔

ځکه تحریر په اعتبار د معنی حقیقی وضعی سره ثابتوی زوال د ملك بضعی په

واسطه د زوال د ملك رقبي سره نو شو دا تحرير د زوال د ملك متعي دپاره سبب محضه وګرځيدو دپاره د زوال د ملك متعي۔

﴿ فجاز ان يستعار عن الطلاق الذي هو مزيل ﴾

نو جائز شوه چه دا لفظ د حررتك مونږ استعاره کړو د طلاقو نه هغه طلاق چه هغه مزيل د ملك متعي دپاره دی۔

﴿ ولا يقال لو جعل مجازا عن الطلاق ﴾ دا دے څوك په اعتراض كښې نه وائي چه كله كه دا مونږ مجاز ګرځوو د طلاقو نه نو پكار ده چه كوم طلاق چه پدے سره واقع شول هغه دے طلاق رجعي وی په شان د طلاق صريحي څكه تا حررتك كنايه وګرځوله د طلاقونه او كوم طلاق صريحي چه واقع شي نو هغه رجعي وی او تاسو خو پدے سره طلاق رجعي نه واقع كوئ بلكه طلاق بائن واقع كوئ؟ ۔

﴿ لانا نقول لا نجعله مجازاً عن الطلاق ﴾ څكه چه مونږ په جواب كښې وايو چه مونږ نه ګرځوو دے لره مجاز د طلاقونه بلكه لفظ د حررتك مونږ مجاز ګرځوو د مزيل د ملك متعي نه او دا ازاله د ملك متعي چه راځي نو دا په طلاق بائن كښې راځي نه په طلاق رجعي كښې څكه طلاق رجعي نه زائله كوی ملك متعي په نيز زمونږ ۔

﴿ ولو قال لامرأته طلقتك ﴾ كچرے مولیٰ خپلے وينځے ته اوويل طلقتك او نيت ئے اوكړو پدے سره تحرير نو نه صحيح كيږی نيت دده څكه اصل (چه سبب دے) جائز ده چه پدے سره د فرع ثابته شي چه مسبب دے نو ذكر د سبب او مراد ترينه مسبب دا خو جائز دے۔

﴿ واما الفرع فلا يجوز ان يثبت به الاصل ﴾او هر چه فرع ده چه مسبب دے نو نده جائز چه ثابت شي پدے سره اصل چه سبب دے نو ذكر د مسبب او مراد ترينه سبب دا استعاره صحيح نه ده۔

﴿ وعلى هذا نقول ينعقد النكاح بلفظ الهبة ﴾

بناء پدے قاعده باندے مونږه وايو چه منعقد كيږی نكاح په لفظ د هبے او تمليك او بيع سره چه ښځه اووائي وهبت نفسي اليك نو نكاح صحيح ده يا ملكتك نفسي اووائي

او يا بعت نفسي عليك اووائي نو نكاح صحيح ده ـ

﴿ لان الهبة بحقيقتها توجب ملك الرقبة ﴾ ځکه هبه په اعتبار د حقيقت خپل سره ثابتوي ملك رقبي د موهوب له دپاره او ملك رقبي واجبوي ملك متعي په وينزو کښې ـ نو شوه دا هبه سبب محض د ثبوت د ملك متعي دپاره نو جائز شوه چه لفظ د هبه مونږ استعاره کړو د نکاح نه ځکه چه نکاح وضع شويده دپاره د مالك کيدو منافعو د بضعي۔

﴿ وكذلك لفظ التمليك ﴾ دغه رنګه لفظ د تمليك او لفظ د بيع هم دے۔

﴿ ولا تنعكس حتى لاينعقد البيع والهبة بلفظ النكاح ﴾

او عکس نه شو کولے تردے چه نه منعقد کيږي بيع او هبه په لفظ د نکاح سره ځکه نکاح سبب دے او هبه او بيع مسبب دے نو ذکر د مسبب او مراد ترينه سبب دا استعاره صحيح نه ده۔ ﴿ ثم فى كل موضع يكون المحل متعينا لنوع من المجاز ﴾

بيا په هر هغه موضع کښې چه وي محل متعين دپاره د يو نوعے د مجاز نو احتياج نشته په هغے کښې نيت ته ـ او کوم ځائے کښې چه محل متعين نه وي دپاره د يو نوع د مجاز نو هلته به نيت ته ضرورت وي۔

﴿ لا يقال ولما كان امكان الحقيقة شرطاً ﴾

دا دے څوك په اعتراض کښې اونه وائي چه هر کله امکان د حقيقت شرط وو دپاره د صحت د مجاز په نيز د صاحبينو باندے نو څرنګه به مونږ صيرورت مجاز ته کوو په صورت د نکاح کښې په لفظ د هبے سره سره ددے نه چه تمليك د حرے په بيع او په هبه سره محال دے ـ چه ښځه سړي ته اووائي وهبت نفسي اليك نو معنی حقيقي ددے هبے په حره ښځه کښې متصور نه ده مونږ په څلورمه اتفاقي مقدمه کښې ويلي وو چه معنی حقيقي به متصوره وي او يو مانع راپيدا شي چه معنی حقيقي ترينه نشي اراده کيدے نو صيرورت به کيږي مجاز ته او دلته خو معنی حقيقي ممکن الوقوع نه ده نو څنګه تاسو صيرورت کوئ مجاز ته ؟ ـ

﴿ لانا نقول ذلك ممكن فى الجملة ﴾

مونږ وایو چه معنی حقیقی دلته هم ممکن الوقوع ده فی الجمله پدے شان سره کچرے دا حره ښځه مرتده شی او ملحقه شی په دار حرب پورے اوبیا په قید کښ راوستے شی نو په هغے کښ رقیت راغے نو اوس دا انتقال من ملك الی ملك قبلوی کچرے چا ته ئے څوك هبه کوی نو هبه کیږی او که په چائے څوك خرڅوی نو خرڅیږی۔ نو فی الحال عجز راغلے دے نو نکاح به پرے مونږ مرتب کړو چه دا معنی مجازی ده ۔

﴿ **وهذا نظير (۱) مس السماء واخواته** ﴾ او دا نظیر د مس السماء او د امثالو د هغے دے ۔ لکه یو سړی قسم اوخوړ چه زه به اسمان مسه کوم نو مس السماء خو ممکن فی الجمله دے جناتو اسمان مسه کوه عیسی علیه السلام مسه کړے دے نبی علیه السلام مسه کړے دے په معراج کښ نو فی الجمله خو مس السماء ممکن دے خو دلته فی الحال په حق د حالف کښ عجز راغلے دے نو دے به په دے خپل قسم کښ حانث وی ۔

واخواته لکه سړے قسم اوخوری چه زه به په هوا الوزم نو په هوا باندے الوتل خو فی الجمله ممکن دی لکه په هوائی جازونو کښ چه خلك سفر کوی خو ددے حالف په حق کښ حالی عجز راغلے دے نو دے هم حانث دے ۔

یا لکه یو سړے قسم اوخوری چه زه به ددے ګټے نه سره زر جوړوم نو د ګټے نه سره جوړول خرق عادت فی الجمله ممکن دے لیکن دده په حق کښ فی الحال عجز راغلے دے نو دے به هم حانث وی۔

---

(۱) ددے مطلب دا دی چه سړی قسم وکړی لیمسّن السماء او لیقلبن هذا الحجر ذهباً۔ نو په دی کس باندی کفاره واجبه ده ددی قسمونو د وجی نه او حال دا چه کفاره خلف دی د بِر او بر په دی قسمونو کښ چه لاس وروړل دی آسمان ته مستحیل دی عادةً نو باید کفاره رانه شی ځکه اصل ممکن نه دی۔ نو ده جواب ته اشاره وکړه چه اصل دلته چه بر دی په دی قسمونو کښ هغه ممکن دی فی الجمله لکه کرامةً للاولیاء دا کارونه کیدلی شی خو بیا د عجز حالی او عادی د وجی نه انتقال وشو کفاری ته۔ سید فضل الحق۔

﴿ فصل فی الصریح والکنایة ﴾

هرکله چه مصنف فارغ شو د بیان د حقیقت او مجاز نه نو شروع ئے اوکړه په بیان د صریح او د کنایه کښې۔

صریح اصل دے او کنایه خلاف الاصل دے نو ځکه ئے صریح په اجمال او تفصیل دواړو کښې مقدم کړو په کنایه باندے۔

صریح فعیل وزن دے وزن فعیل کله مبنی للفاعل راځی او کله مبنی للمفعول راځی دلته فعیل مبنی للفاعل دے صریح بمعنی الخالص او صریح ته هم صریح ځکه وائی چه پدے کښې اشتباه د غیر هدو (۱) موجود نه وی او په کنایه کښې اشتباه موجوده وی ۔

﴿ الصریح لفظ یکون المراد به ظاهراً ﴾

صریح هغه لفظ دے چه مراد پدے سره ظاهر وی لکه بعتُ او اشتریتُ او امثال ددے ۔

﴿ وحکمه انه یوجب ثبوت معناه ﴾ او حکم د صریح دا دے چه دا به واجبوی ثبوت د معنی په هره طریقه سره چه وی برابره خبره ده چه که په طریقے د اخباره سره وی یا په طریقے د نعت سره وی او یا په طریقے د نداء سره وی او حکم به ئے دا وی چه دا به مستغنی وی د نیت نه۔

﴿ وعلی هذا نقول اذا قال لامرأته انت طالق ﴾

او بناء پدے باندے قاعدے باندے چه صریح به معمول به وی په هره طریقه سره چه وی او مستغنی به وی د نیت نه کله چه سړے اووائی خپلے ښځے ته ته طلاق (۲) ئے او یا ما طلاقه کړے ئے او یا اے طلاقے نو واقع کیږی طلاق نیت د طلاقو ئے کړے وی او که نه ۔

﴿ وکذا لو قال لعبده انت حر ﴾ او هم دارنګه کچرے اوویل سړے غلام خپل ته

(۱) یعنی بالکل موجود نهٔ وی۔ (۲) اول مثال د نعت دویم د اخبار او دریم د نداء دی۔
سید فضل الحق۔

ته ازاد ئے یا ته ما ازاد کړے ئے او یا اے ازاده نو غلام ازادیږی نیت ئے د حریت کړے وی او که نه ـ

﴿ وعلى هذا قلنا ان التيمم يفيد الطهارة ﴾

بناء په دے قاعده چه صریح ظاهر المراد وی چه تیمم مفید دپاره د طهارت دے ځکه دا قول د الله تعالی ولکن یرید لیطهرکم ـ صریح دے په حصول د طهارت کښ پدے تیمم سره ـ

﴿ وللشافعی فیه قولان ﴾ ـ د امام شافعی دپاره په تیمم کښ دوه قوله دی یو قول دا دے چه هغه دے تیمم ته طهارت ضروری وائی او بل قول دا دے چه دا طهارت ندے بلکه ساتر دے دپاره د حدث فی الحال ـ

﴿ وعلى هذا يخرج المسائل على المذهبين ﴾

بناء پدے اختلاف باندے متفرع کیږی مسائل په دواړو مذهبونو باندے د جواز د تیمم نه قبل الوقت په نیز د احنافو تیمم قبل الوقت جائز دے ځکه دا طهارت مطلقه دے او مام شافعی وائی چه تیمم قبل الوقت جائز نه دے ځکه دا طهارت ضروری دے او ساتر للحدث دے ـ

﴿ واداء الفرضين بتيمم واحد ﴾ او اداء کول د فرضینو یا د ډیرو فرضونو په یو تیمم باندے عندنا جائز دے ځکه دا طهارت مطلقه دے او امام شافعی وائی چه په یو تیمم باندے فرضین نه ادا کیږی د هر فرض دپاره به ځانله تیمم وهی او دده په نیز باندے نوافل او سنن تابع د فرضو دی ـ

﴿ وجوازه بدون خوف تلف النفس او العضو بالوضوء ﴾ دارنګه جواز د تیمم بغیر د یرے د هلاکت د نفس او یا د اندام نه په اودس سره مونږ وایو چه د هلاکت د نفس یا د اندام خطره نشته بلکه د اشتداد د مرض خطره ده نو تیمم جائز دے او امام شافعی وائی چه د هلاکت د نفس یا د عضوِ یره نه وی په اودس سره نو تیمم جائز نه دے ـ

﴿ وجوازه للعيد والجنازة ﴾ مونږ وایو چه تیمم طهارت مطلق دے که جنازه او د اختر مونځ فوت کیږی نو تیمم جائز دے او امام شافعی وائی چه دا طهارت ضروری یا ساتر للحدث دے نو د مونځ د جنازے او د اختر دپاره جائز نه دے ـ (۱)

(۱) ځکه چه ضرورت نشته ولی چه دا فرض نه دی عنده ـ سید فضل الحق ـ

﴿ وجوازه بنية الطهارة ﴾ دارنګه د جواز د تیمم په نیت د طهارت سره موږ وایو چه تیمم به دده جائز وی نیت د طهارت ئے کړے وی او که نه په شان د وضوء ځکه دا طهارت مطلقه دے که په تیمم سره ئے نیت د استباحة الصلاة اوکړو یا د رفع الحدث نیت ئے اوکړو او امام شافعی وائی چه تیمم دده بغیر د نیت د طهارت نه نه صحیح کیږی ځکه دا طهارت ضروری دے یا ساتر د حدث دے۔

﴿ والکنایة هی ما استتر معناه ﴾ کنایه هغے ته وائی چه معنی ئے مستتره وی مجاز مخکښ ددینه چه متعارف اوګرځی دا په منزله د کنایه دے۔

﴿ وحکم الکنایة (١) ثبوت الحکم بها ﴾ حکم د کنایه ثبوت د حکم دے په کنایه په وخت د وجود د نیت کښ یا په دلالت د حال سره (یعنی چه قرینه موجوده وی) ځکه لابدی به وی د لفظ کنائی دپاره د داسے دلیل نه چه زائل شی په ده سره تردد (چه کوم په کنایه کښ وی) - ﴿ ویترجح بعض الوجوه ﴾ او راجح شی بعض وجوه محتمله په بعض نورو باندے ددے معنی د وجے نه مسمی شویدے لفظ د بینونت او د تحریم کنایه په باب د طلاقو کښ د وجے د معنی د تردد نه او د استتار د معنی مرادے نه لکه انت علیّ حرام که دا لفظ د حرام د احترام نه شی نو معنی دا چه ته په ما باندے محترمه ئے او که دحرمت نه شی نو بیا معنی دا ده چه ته په ما باندے حرامه ئے تردد پکښ دے۔

- دارنګه انت بائن دا احتمال هم لری چه ته زما نه جدائے د نکاح نه یا زما نه په اوصافو کښ جدائے نو محتمل د احتمالینو دے۔

﴿ لا انه یعمل عمل الطلاق ﴾ دا معنی به نه اخلو چه کنایه عمل د طلاقو کوی ځکه که عمل د طلاقو اوکړی نو بیا خو پرے طلاق رجعی واقع کیږی او پدے باندے خو طلاق بائن واقع کیږی۔

---

(١) وحکم الکنایة: یعنی اثر مرتبه په کنایه۔ فتدبر۔ سید فضل الحق۔

(٢) لا انه یعمل عمل الطلاق: ددی مقام صحیح مقصد دا دی چه د انه ضمیر لفظ البینونة والتحریم ته راجع دی یعنی لفظ ته نو معنی دا شوه چه داسی نه ده چه دا لفظ البینونة والتحریم عمل کوی (آینده)

﴿ **ويتفرع منه حكم الكناية فى حق عدم ولاية الرجعة** ﴾
او ددينه متفرع كيږي حكم د كنايه په حق د عدم د ولايت د رجوع كښ يعني كه الفاظ كنايه ئے استعمال كړه او نيت د رجوع ئے وو نو بيا رجوع نشي كولے۔

﴿ **ولوجود معنى التردد لا يقام بها الحد** ﴾ د وجے د معنى د تردد نه نشي قائميدے په الفاظ كنائي و سره عقوبات ځكه عقوبات تندرء بالشبهات دي۔

﴿ **حتى لو اقر على نفسه فى باب الزنا والسرقة** ﴾ تردے كچرے مقرّ اقرار اوكړو په خپل ځان باندے په باب د زنا يا د سرقه كښ نو پدے مقر باندے به حد نه قائميږي ترڅو پورے چه لفظ صريحي ئے نه وي ذكر كړے لكه سړے اقرار اوكړي چه جامعت فلانة يا اخذتُ مال فلان نو په ده باندے حد نه قائميږي۔

﴿ **ولهذا المعنى لا يقام الحد على الاخرس بالاشارة** ﴾
او ددے معنى د وجے نه اقامت د حد په گونگ باندے نه كيږي په اشارے سره ځكه پته نه لگي چه په اشارے سره دے اقرار على نفسه كوي او كه على الغيرئے كوي۔

(بقيه)

عمل د صريح لفظ د طلاق ځكه په هغى سره طلاق رجعي واقع كيږي او په دى الفاظو طلاق بائن۔

په دى سره مقصد دفع د اعتراض ده چه لفظ د حرام او بائن چه كنايه عن الطلاق شو نو كنايه عن الشيئ په حكم د عين شى كښ وي نو طلاق لفظ باندى طلاق رجعي راځي په دى الفاظو ډے هم رجعي راشي نو ده جواب وكړو۔

خلاصه د جواب دا ده چه دا كنايات عن الطلاق حقيقةً نه دى بلكه دى ته مونږه كنايات وايو دا مجازاً صرف د معنى د تردد او استتار المراد د وجى نه۔ كنايات حقيقةً نه دى ځكه معانى لغويه ددى واضحه دى استتار په كښ نشته۔ او دا عمل په خپله مقتضىٰ كوى چه هغه حرمت او بينونة دى او دا په طلاق بائن كښ وي نه په رجعي كښ فتدبر۔ فانه من مزال الاقدام۔ سيد فضل الحق۔

﴿ نعني بها الظاهر والنص والمفسر والمحكم ﴾

قصد کوو مونږ په دے سره ظاهر، نص، مفسر، محکم دیته انواع د بیان بالفعل ویلے کیږی خو بیان عام دے بیان بالفعل او بیان بالقوة نو بیا ددے دپاره انواع ثمانیه دی خفی مشکل، مجمل متشابه دا د بیان بالقوة انواع دی۔

وجه د حصر پدے اربعه وکښې دا ده چه دا لفظ ظاهر المراد به خالی نه وی یا به محتمل د تاویل وی او یا به نه وی که محتمل د تاویل وو نو بیا به خالی نه وی یا به سوق د کلام ددے معنی دپاره شوے وی او یا به نه وی شوے کچرے سوق د کلام ددے معنی دپاره شوی نه وو نو نص او کچرے سوق د کلام ددے معنی دپاره شوے وو نو ظاهر دے او کچرے محتمل د تاویل نه وو نو بیا به خالی نه وی یا به په ده کښې احتمال د نسخ وی او یا به نه وی کچرے احتمال پکښې د نسخ وو نو مفسر دے او که چرے احتمال د نسخ پکښې نه وو نو محکم دے۔

﴿ مع ما یقابلها من الخفی والمشکل ﴾ سره د مایقابلها نه چه خفی، مشکل، مجمل، متشابه دی ۔ وجه د حصر پدے څلورو کښې دا ده چه دا خفاء د خفی به خالی نه وی یا به د وجه د امر عارض نه وی غیر د صیغے د خفی نه او یا به د نفس صیغے د خفی د وجے نه وی که اول وو نو خفی دے او که خفاء د نفس صیغے د هغے د وجے نه وه نو بیا به خالی نه وی یا ازاله د خفاء په تأمل بعد الطلب سره کیږی او یا به نه کیږی که ازاله د خفاء په تأمل بعد الطلب سره کیده نو دا مشکل دے او که نه کیده نو بیا به خالی نه وی یا به توقع د بیان د جانبه د مبیّن نه وی او یا به نه وی که توقع د بیان د طرفه د مبیّن نه وه نو مجمل دے او که نه وه نو متشابه دے ۔

په انواعو د بیان بالفعل کښې ترقی ده د ادنیٰ نه اعلیٰ ته په ظاهر کښې ظهور ادنیٰ دے ، په نص کښې ظهور فوق دے او په مفسر کښې ښه فوق دے او په محکم کښې ظهور انتهاء ته رسیدلے دے نو په مابین ددے انواعو کښې نسبت د عموم خصوص مطلق دے هر اخص مطلق به په جنس د اعم مطلق کښې وی ظاهر به په ضمن د نص کښې وی او نص به په ضمن د مفسر کښې وی او مفسر به په ضمن د محکم کښې وی ۔

﴿ فالظاهر اسم لكل كلام ظهر المراد به ﴾ ظاهر هغه اسم دے د هر هغه کلام چه ظاهروی مراد پدے سره سامع ته په نفس سماع سره بغیر د تأمل نه ـ

﴿ والنص ما سيق الكلام لاجله ﴾ او نص هغے ته وائی چه چلولے شوے وی کلام د وجے ددے نه ـ

﴿ مثاله قوله تعالى واحل الله البيع وحرم الربوا ﴾ ـ مثال ئے دا قول د الله تعالی دے چه احل الله البیع الخ ـ

سوال : ممثل متعدد دے او مثال ئے واحد ذکر کړو پکار وه چه مثالین ذکر کړی او یا ئے هدو ذکر کړی نه وی ځکه اصل په عبارت کښې چلیدل دی په نمط واحده سره ؟ـ

جواب : دا یو مثال د دواړو دپاره کافي دے او بناء د متونو په اختصار ده نو علیٰحده مثالونه ئے ذکر نکړل ـ

﴿ فالآية سيقت ﴾ فاء تطبیقیه ده پس دا آیت سوق کړے شویدے دپاره د فرق د بیع او د ربا کښې ځکه کفارو تسویه کوله په مینځ د بیع او ربوا کښې ځکه هغوی ویلی وو چه بیع کښې هم مقصود حصول د زیادت وی او په ربوا کښې هم مقصود حصول د زیادت دے نو بیع خو حلاله ده نو ربوا هم حلاله ده نو د هغوی د رد دپاره سوق ددے کلام اوشو چه احل الله البیع وحرم الربوا چه حکم په بیع کښې حلت دے او حکم په ربوا کښې حرمت دے ـ

فالآیة سیقت لبیان التفرقة : نو آیت چلولے شوے دے دپاره د تفرقے په مینځ د بیع او د ربوا کښې دپاره د رد د هغے چه گمان کولو کفارو د تسویه نه په مابین ددے دواړو کښې پدے شان سره چه هغوی به ویل انما البیع مثل الربوا بیشکه بیع په شان د ربوا ده ـ

﴿ وقد علم حل البيع وحرمة الربوا بنفس السماع ﴾ په تحقیق سره ددینه معلومه شو حلالوالے د بیع او حرمت د ربوا په نفس سماع سره نو اوگرځیدو دا آیت نص په تفرقه بین البیع والربوا کښې او ظاهر شو په حل د بیع او حرمت د ربوا کښې ـ

﴿ وكذلك قوله تعالى فانكحوا ما طاب لكم من النساء ﴾

دویم مثال د نص او د ظاهر دپاره موجود دے پدے قول د الله تعالی کښې فانکحوا ما طاب لکم په نکاح کړئ هغه چه خوښے وی تاسو ته د ښځو نه د دوه او د درے درے او څلور

څلور سوق د کلام شویدے دپاره د بیان د عدد او په تحقیق سره معلوم شویدے اطلاق او
اجازه په نفس سماع سره نو اوګرځیدو دا ظاهر په حق د اطلاق کښ او نص په بیان د عدد
کښ ځکه سوق ددے آیت په حق د هغه چا کښ شویدے چه هغه به یتیمه جینئ اولیده
چه ذات مال وجمال به وه نو ده به د هغے سره نکاح اوکړه حتی چه د هغه په نکاح کښ به
اته نهه زنانه جمع شوے نو بیا به ئے حقوق د زوجیت ادا کولے نه شول نو دا آیت نازل شو
چه د څلورو پورے اجازت دے او ماوراء د څلورو نه اجازت نشته باقی حل د جواز د نکاح
هم ترینه معلومیږی د نورو نصوصو نه هم معلومیږی نو په حق د اباحت د نکاح کښ
ظاهر شو او سوق د کلام دپاره د بیان العدد شویدے۔

﴿ **وقد علم الاطلاق والاجازة** ﴾ **سوال** : مصنف د اباحت نه تعبیر په اطلاق
سره ولے اوکړو اباحت به ئے ویلے وے ؟ ۔

جواب : پدے کښ اشاره ده دے خبرے ته چه اباحت د نکاح د وجے د ضرورت نه دے
ځکه نکاح اصل کښ رق دے او کون د حرے ښځے منافی وی د رقیت سره خو څه اوکړو
کچرے حل د استمتاع د منافعو د بضعی مونږه جائز بالنکاح نه کړو نو په بله طریقه خو
جائز نه دی نو توالد او تناسل دپاره به یوه طریقه هم پاتے نه شی نو د حل د استمتاع دپاره
نکاح یوه طریقه شوله نو حل شو خود وجے د ضرورت نه نو ددینه ئے تعبیر په اطلاق سره
ځکه اوکړو چه اطلاق اباحت ضروری ته ویلے کیږی ۔

دویمه قرینه دا ده چه پدے آیت کښ شروع په عدد سره ده چه مثنی وثلاث ورباع دے
نو معلومه شوه چه سوق د کلام دپاره د بیان د عدد شویدے۔

بله قرینه دا ده چه قاعده ده چه د امر ورود اوکړے شی پداسے یو شی باندے چه هغه
واجب چه هغه په ذمه د مکلف باندے نه وی نو هلته کښ امر متوجه کیږی قید ته نه هغه
مقید ته لکه نبی علیه السلام فرمائی : بیعوا الطعام بالطعام مثلا بمثل نو دلته امر وارد
شویدے په بیع د طعام باندے او بیع د طعام خو واجب نه دے په مکلف باندے دا خو
ضروری نه ده چه هر سړے به بیع الطعام کوی او دا پرے واجب ده نو دلته دا امر به متوجه
کړو قید ته چه مثلا بمثل دے نه مقید ته چه الطعام دے دلته هم نکاح باندے امر راغلے

دے او حال دا دے چه نکاح واجب نه ده په ذمه د مکلف باندے نو دا امر به دلته هم متوجه وی مثنی وثلاث ورباع ته یعنی کچرے تاسو نکاح کوئ نو دوه یا درے یا څلور کوی مقصود پکښ بیان العدد دے۔

﴿وکذلک قوله تعالی لا جناح علیکم ان طلقتم النساء ما لم تمسوهن الخ﴾۔ ترجمه: نشته ګناه په تاسو باندے کچرے طلاقے کړئ زنانه هغه چه تاسو ورسره جماع نه وی کړی او تاسو ورلره مهر هم نه وی مقرر کړے نو دا آیت نص دے په حکم د هغه زنانه کښ چه مهر ورلره نه وی معین شوے او ظاهر دے په استقلال د زوج کښ په طلاقو سره ځکه طلقتم کښ خطاب ازواجو ته دے او دارنګه اشاره ده دے خبرے ته چه نکاح بغیر دذکر د مهر نه صحیح ده ځکه دلته حکم د طلاقو راغلے دے او طلاق تقاضا د سبق نکاح کوی نو معلومه شوه چه بدون تسمیة المهر چه کومه نکاح شوے وه هغه صحیح ده ځکه ورته طلاق ورکول صحیح شول۔

﴿وکذلک قوله علیه السلام من ملک ذا رحم محرم منه عتق علیه﴾دارنګه دا قول د نبی علیه السلام چه څوك مالك شو د خاوند خپلولی چه حرام وی په ده باندے نو آزادیږی په ده باندے دا نص دے په استحقاق د عتق د قریب کښ او ظاهر دے په ثبوت د ملك کښ دپاره دده چه یو سرے د خپلوان چه حرام وی په ده مالك شو نو هغه پرے آزاد دے دا نص دے پدے کښ او ظاهر دے په ثبوت د ملك کښ۔

﴿وحکم الظاهر والنص وجوب العمل بهما﴾ حکم د ظاهر او د نص وجوب العمل دے پدے دواړو باندے برابره خبره ده چه که دا دواړه عام وی او خاص وی سره د احتمال د ارادے د غیر نه، نو که عام وو نو مونږ به پرے په اعتبار د عام سره عمل کوو او که خاص وو نو په اعتبار د خصوص سره به پرے عمل کوو۔

﴿وذلک بمنزلة المجاز مع الحقیقة﴾۔ او دا هر واحد د دوی نه په شان د حقیقت مع المجاز دے (نو حقیقت واجب العمل وی خو سره د احتمال د مجاز نه)

﴿وعلی هذا قلنا اذا اشتری قریبه﴾ ترجمه: او بناء پدے قاعدے باندے چه ظاهر او نص واجب العمل دی مونږه وایو چه کله یو سړی خپل رشته دار واخستو تردے چه

دا په هغه ازاد شو نو کیږی دا مشتری معتِق (بکسر التاء) د ولاء یعنی میراث به دده وی ځکه حدیث کښ دی چه الولاء لمن اعتق - میراث به د هغه چا وی چه اعتاق ئے کړے دے۔

﴿ **وانما یظهر التفاوت بینهما عند المقابلة** ﴾ بیشکه ظاهریږی تفاوت بین النص والظاهر په وخت د مقابله کښ - مراد ددے مقابلے نه مقابله صوری ده ځکه حقیقی او نفس الامری مقابله خو د دوی ترمینځه نشته دے نو کچرے مقابله صوری د ظاهر او د نص ترمینځه راغله نو مونږ به ترجیح ورکوو نص لره په ظاهر باندے -

﴿ **ولهذا لو قال لها طلقی نفسک فقالت ابنتُ نفسی** ﴾ بناء پدے قاعده چه مونږ به ترجیح ورکوو نص لره په ظاهر باندے په حین د مقابله کښ کچرے اوویل خاوند ښځے ته طلاق کړه ځان خپل نو هغے اوویل ابنت نفسی - ما ځان ستا نه جدا کریدے نو حکم دا دے چه واقع کیږی طلاق رجعی ځکه چه دا نص دے په طلاقو کښ (چه خاوند د طرف نه ورته تفویض د طلاقو شویدے په الفاظو صریحو سره او پدے سره طلاق رجعی واقع کیږی او ظاهر دے په بینونت کښ (یعنی په وقوع د طلاق بائن کښ)

﴿ **فیترجح العمل بالنص** ﴾ ۔نو ترجیح به ورکولے شی عمل بالنص ته په مقابله د ظاهر کښ -

﴿ **وکذلک قوله علیه السلام لاهل عرینة اشربوا من ابوالها والبانها** ﴾

اهل عرینه بعض احادیثو کښ نسبت عکل ته شویدے بعض احادیثو کښ نسبت عرینه قبیلے ته شویدے او بعضو احادیثو کښ بلے قبیلے ته نسبت شویدے نو تطبیق ددے روایاتو دا دے چه په اصل کښ دا اته کسان وو خلور د عرینه قبیلے نه وو درے د عکل نه وو او یو تن د بلے قبیلے نه وو نو ځکه درے قبیلو ته ئے نسبت کوی په اعتبار د بعض افرادو سره -

واقعه د دوی دا ده چه کله اهل عرینه د مکے نه مدینے ته راغلل نو آب وهواء د مدینے پرے بده راغله، رنګونه ئے زیږ شو خیټے ئے اوپرسیدے نبی علیه السلام ته ئے شکایت اوکړو هغه ورته اوویل : اشربوا من ابوالها والبانها - د صدقے د اوښانو شوده او متیازے اوسکئ نو دا نص دے په بیان د سبب د شفاء کښ او سوق د کلام ددے دپاره شوے دے او ظاهر دے په اجازه د شرب البول وما یؤکل لحمه کښ -

﴿وقوله عليه السلام استنزهوا من البول﴾ -

او دا قول د نبي عليه السلام چه تاسو ځان ساتئ د بول نه ځکه عام عذاب د قبر دده نه وي دا نص دے په وجوب د احتراز عن البول کښې او سوق ئے هم شويدے دپاره د احتراز د بول د ما يؤكل لحمه سعد بن معاذ چه كله د فن شو نو قبر پرے تنګ شو نو نبي عليه السلام تسبيحات شروع کړه بيا پرے قبر پراخه شو نبي عليه السلام دده د ښځے نه پوښتنه وکړه چه دده عمل څه وو نو هغے اوويل چه ده به ګډے بيزے ساتلے او د بولو نه به ئے ځان نه بچ کولو نو نبي عليه السلام اوفرمايل : استنزهوا من البول ځان د بولو نه ساتئ ځکه دا اکثر عذاب قبر دپاره ذريعه دا ده نو معلومه شوه دا خبره چه بول د ما يوكل لحمه نجس دي کچرے دا نجس نه وي نو دا به سبب دپاره د عذاب قبر نه جوړيدو او د اشربوا من ابوالها نه ظاهر کښې طهارت د بول د ما يوكل لحمه معلوميږي نو معارضه راغله په مينځ د نص او د ظاهر کښې نو ترجيح به ورکولے شي نص لره په ظاهر باندے نو حکم اوشو په نجاست د بول د ما يوكل لحمه نو شرب د بولو جائز نه دے اصلا په نزد د امام ابوحنيفه استعمال ئے جائز نه دے اصلا لا للتداوي ولا لغيره او امام ابويوسف وائي چه شرب د ما يوكل لحمه للتداوي جائز دي د وجے ددے واقعه د اهل عرينه نه او امام محمد ئے جائز وائي مطلقا استدلال په واقعه د عرنين باندے کوي -

اوبول د غير ما يوكل لحمه خو بالاتفاق نجس دي -

﴿وقوله عليه السلام ما سقته السماء ففيه العشر﴾

ترجمه : او دا قول د نبي عليه السلام چه هغه ځمکه چه په باران د اسمان اوبه کيږي پلدے کښې عشر دے دا نص دے په بيان د عشر کښې او دا قول د نبي عليه السلام چه نشته پر ترکارو کښې صدقه نو دا مؤول دے په نفي د عشر باندے په سبزو کښې ځکه صدقه احتمال د ډيرو وجو لري نو ترجيح به ورکړے شي اول حديث ته چه نص دے په وجوب د عشر د ماسقته السماء کښې په ثاني باندے چه مؤول دے په نفي د عشر د خضراواتو کښې ځکه چه مؤول د قبيلے د ظنياتو نه دے او نص قطعي دے او قطعي او ظني چه معارض شي نو ترجيح به ورکولے شي قطعي لره په ظني باندے نو هر هغه شي چه په اوبو د اسمان

اوبه شوی وی نو په هغې کښې به عشر وی قليل وي او كه كثير وی

او نبی علیه السلام چه وائی په خضراواتو کښې صدقه نشته نو مراد د صدقې نه صدقې د تجارت ده ترڅو پورې چه مقدار د تجارت ته نه وی رسيدلی نو صدقه په کښې نشته او مقدار د تجارت پنځه څتې دی او د يوې څټې قيمت په هغه وخت کښې (۴۰) روپۍ وې نو (۴۰+۵= ۲۰۰) نو مقدارئې نصاب شرعی ته اورسيدو نو اوس به ترينه د تجارت زكوة اوباسى چه حولان حول پرې تير شى خو كله چه نصاب ته نه وی رسيدلی نو په هغې کښې عشر دې نو عند ابی حنیفة په سبزی کښې هم عشر دے۔

﴿ واما المفسر فهو ما ظهر المراد به ﴾

مفسر په لغت کښې کشف ته ويلے کيږی او مفسر ته هم مفسر ځکه ويلے کيږی چه دے مکشوف دے او بعض وائی چه مفسر د سفر نه ماخوذ دے او مسافر ته هم مسافر ځکه ويلے کيږی چه په ده باندې کشف د احوالو راغلے وی ليکن صاحب د مولوی وائی چه دے قلب ته ضرورت نه شته چه مفسر د سفر نه دے په تقديم د سين سره شی او كه په تقديم د فاء سره شی نو دواړه په معنی د کشف سره مستعمل دی نو قلب ته حاجت نشته۔

مفسر صيغه د اسم مفعول ده د سفر نه ماخوذ دے خو اشتقاق د مزيدو د مجردو نه صحيح نه دے ځکه سفر مجرد او مفسر مزيد دی۔

جواب دا دے چه دا مبالغه شويده په سفريا په فسر کښې د هغې نه مزيد جوړ شويدی او د هغې نه بيا مفسر مشتق شويدے نو اشتقاق عام دے كله بالذات وی او كله بالواسطه وی نو مفسر چه مونږ مشتق د سفريا د فسر نه وايو نو دا بالذات نه دے بلكه بالواسطه دے۔

ماظهر المراد: ترجمه: مفسر په اصطلاح د اصوليينو کښې هغې ته وائی چه ظاهر وی مراد په دے سره د لفظ نه په بيان سره د طرفه د متكلم نه په داسے شان سره چه باقی پاتے نه شی پدے بيان سره احتمال د تاويل (په خاص کښې) او احتمال د تخصيص په عام کښې)۔

سوال: بناء د متونو په اختصار وی نو دلته ذكر كول د تخصيص مع التأويل صحيح نه دی ځکه د تاويل او د تخصيص خو يوه معنى ده ځکه تخصيص قصر د عام ته وائی په بعض افرادو د خاص باندے او تاويل صرف كول د لفظ د ظاهری معنى نه غير ظاهرے

معنی ته واثی نو قصر د عام په بعض افرادو د خاص باندے دا ظاهر غیر ظاهر ته اړول دی ؟

جواب : چه دا د قبیلے د اذا اجتمعا افترقا واذا افترقا اجتمعا نه دی یعنی تاویل او تخصیص چه کله جدا جدا ذکر شی نو بیا الفاظ مترادفه معنی واحده ده او چه کله یو ځائے ذکر شی نو بیا به د تاویل ځانله معنی وی او د تخصیص به ځانله معنی وی حال ئے په شان د فقیر او د مسکین دے فقیر او مسکین هم چه کله یو ځائے ذکر شی نو علیحده علیحده معانی به ئے وی او چه کله جدا جدا ذکر شی نو بیا الفاظ مترادفه او معنی ئے واحده ده۔

﴿ **قوله تعالى فسجد الملائكة كلهم** ﴾ مثال د مفسر موجود دے په دے قول د الله تعالی کښ چه سجده اوکړه ملائکو ټولو په جمع نو اسم د ملائکو ظاهر دے په عموم کښ مګر احتمال په کښ شته د تخصیص چه بعضو ملائکو دے سجده کړی وی او بعضو دے نه وی کړی (او دا احتمال راجح هم دے لکه د زکریا علیه السلام باره کښ راغی چه ونادته الملائکة نو ټولو ملائکو خو ده ته اواز نه ووکړے بلکه جبریل علیه السلام بشارت ورکړے وو نو دلته ذکر د عام او مراد ترینه خاص دے نو دا احتمال په سجد الملائکة کښ هم وو۔

﴿ **فانسد باب التخصيص** ﴾۔نو بند ئے کړو احتمال د تخصیص په کلهم سره بیا باقی وو احتمال د تفرقے په سجده کښ چه ځانله ځانله به ئے کړی وی نو بند ئے کړو باب د تاویل پدے قول سره چه اجمعون دے یعنی په شریکه ټولو ملائکو سجده اوکړه۔

سوال : کوم احتمال چه په کلهم کښ دے هغه احتمال په اجمعون کښ هم دے ځکه دا الفاظ مترادفه دی او معنی ئے واحده ده او دلیل پدے باندے تفسیر د احد هما دے په آخر سره لکه جاء نی القوم کلهم ای اجمعون او یا جاء نی القوم اجمعون ای کلهم ؟

جواب : دا د قبیلے د اذا اجتمعا افترقا واذا افترقا اجتعا نه دی کلهم او اجمعون چه یو ځائے ذکر شی نو جدا جدا معانی لری او چه کله جدا جدا ذکر شی نو بیا الفاظ مترادفه معنی واحده ده۔

جواب ثانی : تیك ده چه د کلهم او اجمعون معنی واحده ده خو چه کله دا په موضع

د تاکید کښې واقع نه شي او که په موضع د تاکید کښې واقع شي نو بیا ددے دواړو معنی جدا جدا ده ۔ دلته په موضع د تاکید کښې واقع شویدی نو د کلهم معنی دا ده چه ټولو سجده اوکړه برابره خبره ده چه اجتماعا وی او که افتراقا وی او د اجمعون معنی دا ده چه په اجتماعا ئے اوکړه ځکه دا ذکر د خاص پس د عام نه دے او ذکر د خاص چه پس د عام نه اوشی نو هلته مراد ماوراء د عام نه وی لکه من کان عدوا لله وملائکته وجبریل ومیکال نو جبریل او میکال خو په ملائکو کښې داخل دی خو دا تخصیص بعد التعمیم دے ۔

سوال : فسجد الملائکه دا مثال دپاره د مفسر ذکر کول صحیح نه دی ځکه دا خو جمله خبریه ده پدے کښې احتمال د نسخ راتلے نه شی ځکه نسخ خو په یو حکم شرعی کښې راځی ؟۔ **جواب** : چه دا عدم نسخ د وجے د جملے خبرے نه راغلے چه دا یو امر عارضی دے ورنه جمله خبریه متضمن ده یو امر شرعی لره چه هغه سجده د ملائکو ده او دا محتمله د نسخ وی نو مثال موافق د ممثل سره شو ۔

سوال : دا مثال مطابق د ممثل سره نه دے ځکه چه پدے کښې اوس هم احتمال شته چه دا په طریقه د تصفف سره دے (یعنی په طریقه د صفونو سره) او که په طریقه د تحلق (د حلقے سره) سره دے ؟۔

جواب : چه ما دعوی د مفسر من کل الوجوه نه ده کړے ۔ که دا احتمال پکښې باقی وی نو وی دے او دویم دا چه اگرکه دا احتمال پکښې باقے دے خو دا مضر نه دے په مقصود کښې او مقصود تعظیم د آدم علیه السلام وو او دا سجده که په طریقه د تصفف سره وی او که په طریقے د تحلق سره وی خو مضر د تعظیم دآدم نه ده ۔

﴿ **وفی الاحکام الشرعیات اذا قال تزوجت فلانة** ﴾ او مثال دده په شرعیاتو کښې دا قول د سړی دے چه اووائی ما نکاح کړیده د فلانکۍ ښځے سره یوه میاشت په دومره روپو نو دا قول دده چه تزوجت ظاهر دے په نکاح کښې مگر احتمال د متعی پکښې شته نو پدے قول دده سره چه شهراً دے تفسیر د معنی مرادے ئے اوکړو نو وایو مونږ چه دا خو نکاح متعی دے او نکاح شرعی نه دے او نکاح شرعی خو جائز نه ده ۔

﴿ **ولو قال لفلان علیّ الف من ثمن هذا العبد** ﴾ کچرے یو سړی اوویل چه د

فلانکی په ما باندے زر (۱۰۰۰) روپیۍ دی د ثمن ددے غلام نه او یا د ثمن ددے سامان نه نو دا قول دده چه له علیّ الف نص دے په لزوم د زر روپو کښې مگر احتمال د تفسیر پکښې باقی دے نو پدے قول سره چه من ثمن هذا العبد او ثمن هذا المتاع بیان د معنی مراد ئے اوکړو نو ترجیح به ورکړے شی مفسر لره په نص باندے تردے چه نه لازمیږی پدے باندے مال مگر په وخت د قبض ددے غلام یا د متاع کښې به پرے لازمیږی۔

﴿ وقوله لفلان علیّ ألف ظاهر فی الاقرار ﴾ ۔او دا قول چه د فلانکی په ما زر روپیۍ دی دا ظاهر دے په اقرار کښې او نص دے په نقد البلد کښې نو کله چه دے اووائی د نقد د فلانکی بلد نه نو ترجیح به ورکولے شی مفسر لره په نص باندے نو نه به لازمیږی په ده باندے نقد د مطلق بلد بلکه لازمیږی په ده باندے نقد د بلد معین۔

﴿ وعلی هذا نظائره ﴾ او بناء پدے باندے نور نظائر ددے هم مرتب دی۔

﴿ واما المحکم فهو ما ازداد قوة علی المفسر ﴾ ۔ هر کله چه فارغ شو مصنف د بحث د مفسر نه نو شروع ئے اوکړه په بحث د محکم کښې۔

محکم د احکام نه ماخوذ دے په لغت کښې شی محکم (۱) ته وئیلے شی لکه ویلے شی هذا بناء محکم دا په هغه وخت کښې ویلے شی چه هغه آبادی د نړیدو نه محفوظه وی او بعض وائی محکم منقول دے ددے مقولے نه چه احکمت فلانا اذا منعته او محکم اصطلاحی ته ځکه محکم ویلے کیږی چه دا ممنوع گرځولے شوے دے د تخصیص او د تاویل نه په خلاف د مفسر ځکه په مفسر کښې د تخصیص او د تاویل احتمال وی دا رنگه دے محکم گرځولے شوے دے د ورود د نسخ او د تبدیل نه۔

او په اصطلاح د اصولینو کښې محکم هغے ته ویلے کیږی چه زیات شی قوت دده په مفسر باندے پداسے انداز باندے چه جائز نه وی خلاف د هغه بالکل۔

سوال: اصل په عبارت کښې دے په نمط واحده سره مصنف دلته نمط د کلام ولے بدل کړو ځکه په مفسر کښې د مفسر تعریف کړے وو چه واما المفسر فهو ما ظهر

---

(۱) یعنی شيء مضبوط او محفوظ ته وئیلی شی۔ فلا یرد شیئ۔ سید

المراد به من لفظه ۔ هلته ئے تعبیر په ظهور د معنی مرادے سره کړے وو او په نص کښې ئے هم تعبیر په ظهور د معنی مرادے سره کړے وو او دلته په محکم کښې ئے تعبیر په مازاد قوه علی المفسر سره اوکړو نو تغیر او تبدیل چه په کلام د فصیح کښې واقع شی نو دا خالی نه وی د نکتے نه دلته نکته څه ده ؟ ۔

جواب : د مراتبو د ظهور انتهاء راغلے ده په مفسر کښې ددینه روسته به قوت حاصلیږی نو ځکه مصنف دلته نمط بدل کړو ۔

﴿ **مثاله فی الکتاب ان الله علی کل شیء قدیر** ﴾ ۔ مثال د محکم په کتاب الله کښې دا دے چه ان الله علی کل شیء قدیر الله په هر شی باندے قدرت لرونکے دے ۔ دا محکم دے ځکه علم د الله د واجباتو نه دے صفت د کمال دے احتمال د تبدیل او د زوال نه لری۔

﴿ **ولا یظلم الناس شیئاً** ﴾ او الله ظلم نه کوی په خلقو د هیڅ شی ۔ دا محکم دے ځکه تنقیص په حسناتو کښې یا زیادت په سیئاتو کښې دا ظلم دے او دا د شان د باری تعالی سره نه خائی د الله تقاضا د عدل ده او عدل نه دے مګر صفت ازلی او ابدی دے د الله پدے کښې تغییر او تبدیل نه راځی ۔

﴿ **وفی الحکمیات ما قلنا فی الاقرار انه لفلان علیّ الف من ثمن هذا العبد** ﴾

ترجمه : او مثال د محکم په احکاماتِ شرعیو کښې هغه قول زمونږ دے په اقرار کښې چه یو سړی اقرار وکړو د مُقرله دپاره چه د فلانکی سړی په ما باندے زر (۱۰۰۰) روپۓ دی د ثمن ددے عبد نه نو دا لفظ چه من ثمن هذا العبد دے دا محکم دے په لزوم ددے ثمنو کښې د جهت د بدل ددے عبد نه کچرے ده لفلان علیّ الف ویلی وے او من ثمن هذا العبد ئے نه وے ویلی نو دا محتمل د احتمالاتو وو چه دا الف په ده باندے دین دے یا ئے غصب کړے دے یا په بل یو جهت سره په ده باندے لزوم د الفه راغلے دے نو هر کله چه ده من ثمن هذا العبد اوویل نو نور احتمالات ترینه ساقط شول د تاویل او د تخصیص احتمال پکښې پاتے نه شو نو ترڅو پورے چه ده عبد قبض کړے نه وی نو تر هغے پورے په ده باندے ثمن لازمیږی نه ۔

﴿ **وعلی هذا نظائره** ﴾ او بناء په دے باندے نظائر ددے دی۔

﴿ **وحكم المفسر والمحكم لزوم العمل بهما** ﴾۔حکم د مفسر او د محکم لزوم د عمل دے په دے دواړو باندے خامخا ۔ محکم او مفسر دواړه قطعی دی البته کله چه معارضه راشی د محکم او د مفسر نو هلته به بیا ترجیح ورکولے کیږی محکم ته په مفسر باندے لکه په نصوصو کښ د هغے مثال دا دے :

واشهدوا شهیدین من رجالکم ۔ واشهدوا ذوا عدل منکم ۔

دوه تنه نارینه په خصوماتو کښ مقرر کړه یا دوه تنه عادلان شاهدان مقرر کړی دا تقاضا ددے خبرے کوی چه کوم کس محدود وی په حد قذف کښ نو د هغه گواهی دے هم قابل قبول شی بعد التوبه لیکن مونږ بل نص محکم ته ددے مقابله کښ اوکتل چه (ولا تقبلوا لهم شهادةً ابداً) تاسو د محدود فی حد القذف گواهی همیشه مه قبلوی نو ددینه معلومه شوه چه د محدود فی حد القذف گواهی بعد التوبه هم قابل قبول نه ده نو اولنی منصوص تقاضا کوی د قبولیت د شهادت دده او نص ثانی تقاضا کوی د عدم قبولیت د شهادت دده ابدا نو مونږ ترجیح ورکړه محکم لره ځکه ابدا محکم دے احتمال د نسخ او تبدیل نه لری نو احناف وائی چه د محدود فی حد القذف گواهی قبوله نه ده اگرکه دے توبه هم اویاسی۔

﴿ **ثم لهٰذه الاربعة اربعة اخرىٰ تقابلها** ﴾ بیا دے څلورو دپاره چه اقسام د بیان بالفعل وو څلور اقسام نور دی چه ددے مقابل دی ۔

ترجمه : لکه څنگه چه په انواعو د ظهور کښ لحاظ د مرتبو د ظهور شویدے په دے شان سره چه په ظاهر کښ ظهور ادنیٰ دے نو په نص کښ ظهور لږ فوق دے په مفسر کښ ظهور انتهاء ته رسیدل دے او په محکم کښ زیادت قوت راغلے دے په ظاهر کښ نو دارنگه په متقابلاتو کښ هم لحاظ د مراتبو د خفاء شویدے په خفی کښ خفاء ادنیٰ ده او په مشکل کښ خفاء لږه فوق ده په مجمل کښ ښه فوق ده او په متشابه کښ خفاء انتهاء ته رسیدلے ده۔

﴿ **فضد الظاهر الخفي وضد النص المشكل** ﴾ ترجمه : نو ضد د ظاهر خفی دے او ضد د نص مشکل دے او ضد د مفسر مجمل دے او ضد د محکم متشابه دے۔

﴿ **فالخفي ما خفي المراد به بعارض** ﴾ ترجمه: خفي په اصطلاح د اصولينو كښ هغه لفظ دے چه مستتر شوے وي معنی مراده ددے لفظ په عارض سره نه د حيثيت د صيغے د خفي نه ـ يعني د حيثيت د صيغے د خفي نه به په كښ خفاء نه وي راغلي بلكه د بلے وجے نه به په كښ خفاء راغلے وي اگركه هغه بله وجه هم څانله صيغه ده نو پدے سره دفع د وهم اوشوه ـ

سوال: ته وائى چه خفي هغے ته وائى چه خفي وي مراد په هغے سره بعارض لا من حيث الصيغة اوس روسته مثال د نباش ذكر كوي او نباش هم صيغه ده ؟ ـ

جواب: چه دلته چه لا من حيث الصيغه مصنف ويلي دي نو دينه مراد صيغه د خفي ده چه دا خفاء به د صيغے د خفي د وجے نه نه وي راغلي د بل عارض د وجے نه به راغلے وي اگركه هغه عارض هم څانله صيغه وي نو وي دے ـ

سوال: تاسو اوويل چه خفي ما خفي المراد به ـ نو دا خو اخذ د عين محدود دے په حد كښ محدود خفي دے او حد او تعريف كښ هم تاسو ما خفي المراد به ذكر كړو او اخذ د عين محدود په حد كښ ناجائز دے څكه دا مستلزم دے دور لره ؟ ـ

جواب: چه د خفي المراد معنى استتر دے په محدود كښ د خفي نه مراد خفي اصطلاحي دے او په حد كښ د خفي نه مراد خفي لغوي دے نو اخذ د عين محدود په حد كښ رانغلو ـ

﴿ **مثاله في قوله تعالى السارق والسارقة فاقطعوا ايديهما** ﴾

ترجمه: مثال د خفي پدے قول د الله تعالى كښ چه غلا گر سړے او غلاگره ښځه پرے كړئ لاسونه ددے دواړو كله چه سرقه د دوي ثابته شي په احد البينتين سره يا په اقرار سره او يا په گواهانو سره ـ

﴿ **فانه ظاهر في حق السارق** ﴾ ترجمه: نو بيشكه دا خو ظاهر دے په حق د سارق كښ او خفي دے په حق د طرار او نباش كښ ـ طرار جيب تراش ته وائى او نباش كفن كش ته وائى ـ دا خفي څكه دے څكه چه سارق هغه چا ته وائى چه اخذ د مال محفوظه د غير كوي په طريقے خفي سره او طرار او نباش هم اخذ د مال د غير كوي په يوه نوعه خفي

سره ځکه طرار چه د یقظان سړی نه جیب وهی نو په هغه باندے هم یو نوع غفلت راغلے وی او کفن کش په پټه پټوی نو پکار دا ده چه کوم حکم د سرقے د سارق دپاره دے چه قطع الید دے نو دا حکم دے د طرار او نباش دپاره هم شی خو لیکن دلته لفظ د سارق خفی دے په حق د طرار او نباش کښ ځکه چه دوی مسمیٰ شو یدی په اسم آخر سره او دے تسمیے باسم الآخر خفاء راوستے ده ځکه که دوی په اسم د سارق کښ داخل وے نو بیا په اسم د طرار او نباش ولے مسمیٰ کیدل نو چه کوم حکم د سارق دے نو مونږ به گورو چه کومه معنی چه په سارق کښ ده هغه په طرار او نباش کښ شته او که نشته کچرے هغه معنی په دوی کښ وه نو په دوی کښ به هم مونږ حکم په قطع د ید سره اوکړو او په سارق کښ به مونږ حکم ثابت کړو په طریقے د عبارة النص سره او په طرار او نباش کښ به مونږ حکم ثابت کړو په طریقے د دلالة النص سره او کچرے هغه علت او معنی په طرار او نباش کښ موجود نه وه نو مونږ به حکم د قطع د ید په دوی کښ نه کوو ـ نو مونږ چه اوکتل نو په طرار کښ به حکم د قطع الید وی ځکه سارق چه غلا کوی نو هغه ئے په پټه کوی او طرار غلا په ځکاره کوی نو هر کله چه حکم د قطع الید په دون (یعنی ادنیٰ) کښ وو نو په فوق کښ خو به په طریق اولیٰ سره وی او د نباش دپاره به حکم د قطع الید نه وی ځکه سارق سرقه د مال محفوظه کوی او نباش سرقه د مال غیر محفوظه کوی ځکه سارق سرقه د ژوندی نه کوی او هغه حافظ د مال دے او نباش سرقه د میت نه کوی او میت حافظ د مال خپل نه دے نو نباش په حکم د سارق کښ داخل نه دے بلکه حاکم به مناسب سزا ورکوی۔

﴿ **وقوله تعالی الزانیة والزانی** ﴾ دارنگه قول د باری تعالیٰ چه الزانیة والزانی۔ دا ظاهر دے په حق د زانی کښ او خفی دے په حق د لواطت کونکی کښ ځکه دا تسمی بالاسم الآخر خفاء پیدا کریده نو د زانی حکم خو جلد دے کچرے غیر محصن وی او که محصن وی نو د هغه دپاره د حکم د رجم دے لیکن لوطی دپاره حکم د جلد او د رجم نشته نو د اصحابو پدے کښ اختلاف دے د امام ابو حنیفه نه هم پدے کښ اقوال متعدده دی یو قول د تحریق دے او بل قول د اویزاندولو دے بل د کانړو د ویشتو دے حاکم وقت چه څومره سنگینه سزا مناسب گنړی نو هغه به ورلره ورکوی خو حد د زنا پرے نشته۔

﴿ ولو حلف لا یأکل فاکهۃً ﴾ کہ یو سړی قسم اوخوړ چہ فاکهه بہ نہ خورم نو لفظ د فاکهه خو ظاهر دے پہ هغه څه کښ چہ پہ هغے سره تلذذ حاصلیږی پس د خوراک نہ لیکن دا خفی دے پہ حق د عنب او پہ حق د رمان کښ ځکه عنب او رمان چہ لکه څنګ د تفکه دپاره استعمالیږی نو دارنګه د غذاء دپاره هم مستعملیږی۔

﴿ وحکم الخفی وجوب الطلب حتی یزول عنه الخفاء ﴾

او حکم د خفی وجوب د طلب دے تر هغے پورے چہ دا خفاء د خفی نہ زائله شی مونږ بہ طلب کوو چہ آیا دا خفاء د وجے د تنقیص نہ راغلے ده او کہ د وجے د زیادت نہ ده کچرے دا خفاء د وجے د زیادت نہ وه نو هلته بہ مونږ حکم پہ دلالة النص سره ثابتوو او کچرے د تنقیص نہ وه نو هلته بیا مونږ حکم دلالةً نہ شو ثابتولے نو پہ طرار کښ حکم پہ طریقے د زیادت سره وو نو پہ هغے کښ حکم د قطع الید دے او پہ نباش کښ خفاء پہ طریقے د تنقیص سره وو نو پہ هغه کښ حکم د قطع الید اونہ شو ۔

﴿ واما المشکل فهو ما ازداد خفاء علی الخفی ﴾

هر چہ مشکل دے نو هغه دے چہ زیات وی خفاء د هغه پہ خفاء د خفی ۔

سوال : چہ پہ مابین د مزید او د مزید علیه کښ لابدی ده د مجانست نہ او دلته مجانست نہ شته (خفی مزید علیه دے او مشکل مزید دے او مجانست نشته) ۔

جواب : دلته عبارت پہ تقدیر سره دے تقدیر د عبارت دارنګه شو فما ازداد خفاء علی خفاء الخفی ۔ نو مجانست بین المزید والمزید علیه کښ پیدا شو ۔

﴿ کأنه بعد ما خفی علی السامع حقیقته ﴾

ترجمه : ګویا کہ چہ دے پس د هغے نہ چہ خفی شویدے پہ سامع باندے حقیقت د هغه نو داخل شویدے پہ خپلو نظائرو کښ ۔

سوال : مشکل صیغه د اسم فاعل ده د باب افعال نہ معنی دا شوه چہ دے بل داخلونکے دے پہ اشکال کښ او پخپله پہ اشکال کښ نہ وی والامر لیس کذلك ځکه مشکل خو هغے تہ وائی چہ پخپله پہ اشکال کښ داخل وی ؟ ۔

نو مصنف جواب تہ او وجے د تسمیه د مشکل تہ اشاره اوکړه چہ مشکل خو صیغه

د اسم فاعل د باب افعال نه ده خو د باب افعال یو خاصیت ادخال فی الماخذ دے نو دلته هم د باب افعال خاصیت ادخال فی الماخذ دے چه المشکل ای ما دخل فی اشکاله چه مشکل په خپلو نظائرو کښ داخل شویدے صاحب د حسامی او صاحب د نور الانوار ددے نظائر ذکر کوی لکه ویلے شی اشتیٰ زید ای دخل فی الشتاء (زید په ژمی کښ داخل شو) دارنگه احرم زید ای دخل فی الحرم ۔ (زید په حرم کښ داخل شو) (یا لکه اعرق دخل فی العراق۔ سید)

﴿ **حتی لا ینال المراد الا بالطلب ثم بالتأمل** ﴾ تردے چه نه حاصلیږی معنی مراده مگر په طلب سره او بیا په تأمل سره تردے چه متمیزه شی معنی مراده د امثالو د هغے نه ۔ مراد د طلب نه تفتیش دے د معانیو چه دا لفظ په څو مره معانیو سره دے بیا په تأمل سره چه دلته دا لفظ په کومه معنیٰ سره دے ۔

مثال ددے په نصوصو کښ دا دے لکه فأتوا حرثکم انی شئتم : نو لفظ د انّٰی د مشکل د قبیلے نه دے صاحب حسامی او نور الانوار دا مثال ذکر کړیدے او صاحب شاشی بل مثال ذکر کړیدے دا ځکه چه هغوی مثال د مشکل په نصوصو کښ ذکر کړیدے او صاحب شاشی مثال په احکامات شرعیه و کښ ذکر کړیدے۔

نو لفظ د انّٰی د این په معنی سره هم مستعمل دے او د کیف په معنی سره هم مستعمل دے نو کچرے انی په نص کښ په معنی د کیف سره شی نو بیا به محل یو وی خو اشاره به وی تعمیم د کیفیاتو ته چه قاعداً وی او که قائماً وی او که مضطجعاً وی خو اتیان به په موضع د حرث کښ وی (فرج) او که أنی په معنی د این سره شی لکه انی لكِ هذا ای من این لكِ هذا ۔ نو که دلته هم انی په معنی د این سره شی نو بیا به تعمیم د مواضعو ته اشاره شی نو بیا به اتیان فی الدبر د زوجے سره جائز شی او حال دا دے چه لواطت د ښځے سره خو جائز نه دے نو معلومه شوه چه دلته انی په معنی د کیف سره دے او په معنی د این سره نه دے ځکه په دے آیت کښ ذکر دی چه فأتوا حرثکم او موضع د حرث فرج دے او دبر موضع د فرث دے موضع د حرث نه دے ۔ نو صاحب جلالین وائی انی شئتم قائماً کان او قاعداً کان او مضطجعاً کان بعد ان یکون فی موضع الحرث ۔

﴿ ونظيره في الاحكام حلف لا ياتدم ﴾ ترجمه : نظير د مشكل دپاره په احكام شرعيه و كښې دا دے چه يو سړے قسم اوخوري چه اينګولے به نه خورم نو دا ظاهر دے په سركه كښې او په شيره كښې (الدبس) هو عصير العنب.

﴿ فانما هو مشكل في اللحم والبيض ﴾ ليكن دا مشكل دے په غوښه او هګۍ او پنير كښې تردے پورے چه طلب كړے شي معنى د ايتدام او بيا سوچ اوكړے شي چه دا معنى په غوښه او هګۍ او پنير كښې موجوديږي او كه نه موجوديږي نو ايتدام هغه شي ته وائي چه نوړے لمده وي او د روټۍ سره خوړل كيږي نو دا معنى په لحم او بيض او جبن كښې هم موجوده ده نو كه چرے دے حالف غوښه يا هګۍ يا پنير اوخوړو نو حانث دے.

د خفي دپاره صاحب د نور الانوار په حسياتو كښې مثال ذكر كړيدے چه يو سړے ورك شي د خپل ملك نه بل ملك ته لاړ شي او د هغه رشته داران ورپسے ګرځي او دا مفقود سړے په بل ملك كښې د هغے ملك لباس اختيار نه كړي بلكه په خپل لباس كښې ګرځي وراثانو ته څوك خبر وركړي چه ستاسو هغه مفقود په فلانكي ملك كښې دے نو چه وارثان ورپسے لاړل نو هلته به د هغے طلب كوي نو په نفس طلب سره ادراك د هغے كيدے شي او د مشكل مثال دا دے چه دا مفقود سړے هلته خپل هيئت هم بدل كړي لباس هم بدل كړي نو ورثه چه په ده پسے هلته لاړ شي نو په نفس طلب سره دے پيدا كولے نه شي ځكه دده لباس هم ده هغوي په شان دے نو دا ورثه به په خپل مفقود كښې علامات ګوري او په هغے به معلوميږي چه زمونږ د مفقود پوزه دنګه وه سترګے ئے وړے وے د قد نه لوړ وو وغيره نو كه دا علامات پكښې موجود وو نو هغه به د دوي مفقود وي او كه نه وو نو نه به وي په نفس لباس سره د هغه پته نه لګي نو د مشكل ادراك هم په نفس طلب سره نه كيږي.

﴿ ثم فوق المشكل المجمل وهو ما احتمل وجوهاً ﴾

ترجمه : بيا دپاسه د مشكل نه په خفاء كښې مجمل دے او مجمل هغے ته وئيلے كيږي چه په هغے كښې احتمال د متعددو انواعو وي نو ګرځيدلے وي په داسے حال باندے چه معرفت به ئے په معنى مراد باندے نه حاصليږي مګر په بيان سره د طرفه د متكلم نه.

﴿ **نظیره فی الشرعیات قوله تعالی وحرم الربوا** ﴾ ترجمه: نظیر د مجمل دپاره په احکامو شرعیه وکښ دا قول د الله تعالی دے چه وحرم الربوا ځکه مفهوم د ربوا په لغت کښ مطلق زیادت ته ویلے کیږی او هغه خو دلته مراد ندے ځکه مطلق زیادت خو حرام نه دے ځکه چه مطلق زیادت خو په بیع کښ هم دے او بیع حرامه نه ده۔

﴿ **بل المراد الزیادة الخالیة عن العوض** ﴾ بلکه مراد زیادت خالیه دے د عوض نه په بیع د مقدراتو کښ چه هغه بیع د مکیلی دے په مکیلی باندے او بیع د موزونی دے په موزونی باندے۔

﴿ **المتجانس** ﴾۔ چه هغه یو بل سره همجنس وی بیعه د غنمو په غنمو او بیعه د جوارو په جوارو نو که مساوات پکښ وی نو بیا پکښ ربوا نشته او که مساوات پکښ نه وو نو بیا پکښ ربوا ده۔

﴿ **واللفظ لا دلالة له علی هذا فلا ینال المراد بالتأمل** ﴾ ځکه چه لفظ د ربوا دپاره دلالت نشته پدے معنی باندے (چه د ربوا نه مراد زیادت خالیه عن عوض مراد دے) نو نه حاصلیږی مراد د ربوا په تأمل سره۔

نو ربوا به مونږ په بیان د شارع سره معلوموو چه حدیث کښ راځی الحنطة بالحنطة والشعیر بالشعیر الخ مثلا بمثل ویدا بید والفضل ربوا۔ نبی علیه السلام شپږ څیزونه ذکر کړه چه ددے مبادله به مثلا بمثل وی او یدا بید به وی او فضل (زیاتی) پکښ ربوا ده نو معلومه شوه چه علت د حرمت د ربوا به مبادله د جنس بالجنس مع التفاضل وی نو ددینه احناف تعبیر کوی په قدر او په جنس سره چه قدر او جنس پکښ نه وی نو بیا پکښ تفاضل ربوا نه ده نو حرام هم نه ده نو دا به معلومیږی په بیان د شارع سره خو بیان په دوه قسمه دے کله بیان کافی شافی وی او کله بیان کافی شافی نه وی لکه په صلوٰة، زکوٰة کښ بیان د طرفه د شارع نه کافی شافی راغلے دے او په اشیاء سته وکښ بیان کافی شافی نه دے ځکه عمر رضی الله عنه وائی چه ذهب عنا رسول الله ﷺ، رسول الله ﷺ زمونږ نه لاړو ولم یبین لنا ابواب الربوا ای بیاناً شافیاً۔ بلکه دیکښ ئے دیته اشاره اوکړه چه دا مفوض دے رائے د مجتهد ته چه دے ډسوچ اوکړی او استنباط ډے اوکړی چه علت د

حرمت ربوا دپاره څه دے۔

نو بعض مجتهدینو پکښ علت د حرمت د ربوا قدر او جنس مقرر کړو چا پکښ طعم او ثمنیت او چا په کښ قوت او ادخار هر یو مجتهد د خپل اجتهاد (۱) موافق علت راپیدا کړو او احکام ئے پرے بناء کړل ۔

او په باب د زکوٰة او د صلوٰة کښ قرآن کښ حکم دے چه اقیموا الصلاة وآتوا الزکوة ۔نو ددے مقدار او اوقات خوئے ندی خودلی دا مجمل دے خو شارع ئے په خپلو اقوالو او افعالو سره بیان کړیدی د زکوٰة نصاب ئے بیان کړیدے د غواګانو میخو نصاب (۳۰) دے د ګډو بیزو (٤۰) نصاب دے په اوښانو کښ (۵) نصاب دے په دنانیرو کښ (۲۰) مثقاله دی په دراهمو کښ (۲۰۰) روپۍ شرعی دی۔

﴿ **ثم فوق المجمل المتشابه** ﴾ بیا دپاسه د مجمل نه په خفاء کښ متشابه دے متشابه په لغت کښ ابهام ته ویلے کیږی او دے هم په ابهام کښ کامل دے او متشابه په لغت کښ په دوه قسمه دے یو هغه دے چه د هغے معنی لغوی معلوم وی او معنی مراده ئے معلوم نه وی مثال د اول لکه لفظ د ید (۲)، وجه او استویٰ دے معنی لغوی ئے معلومه ده خو معنی مراده ئے معلومه نه ده وجه او ید او استویٰ کما یلیق بشانه مراد دی ۔

مثال د دویم لکه لفظ د هلوعاً ترڅو پورے چه د شارع د طرفه ددے مونږ ته بیان نه وی شوے نو مونږ ته ددے معنی معلومه نه وه یا لکه حروف مقطعات (۳) په اوایلو د سورتونو کښ شو متاخرین چه کومے معانی کوی نو هغه مؤولات دی حقیقی معانی ندی ۔

---

(۱) او همدا حکمت دی ددی خبری چه بیان شافی اولا ونه شو۔ سید فضل حق۔

(۲) یعنی دا الفاظ چه صفاتو د باری تعالیٰ کښ ذکر شی په قرآن او حدیث کښ۔ سید۔

(۳) مثال: الم، المر، ن، ص۔ وغیر ذلك نو ددی معنی او تاویل باندی څوك نه پوهیږی ماسوی د الله عزوجل څخه او دا د امام ابوحنیفهؒ او د اکثرو سلفو مذهب دی نو وقف په الا الله باندی په دی آیت کښ چه وما یعلم تاویله الا الله۔ وقف لازم دی۔ فتدبر ۔سید فضل حق

﴿ وحکم المجمل والمتشابه ﴾

وحکم د مجمل او د متشابه اعتقاد د حقانیت د ما اراد الله دے یعنی الله چه په متشابه سره کړمه اراده کړیده هغه حقه ده مونږ به پرے اعتقاد د توقف ساتو خو د عمل بالجوارح عمل بالجوارح پدے باندے ممکن نه دے او اعتقاد د حقانیت به ساتو۔

﴿ حتی یأتی البیان ﴾ ترخو پورے چه بیان نه وی راغلے بیان په دنیا کښں به په مجمل کښں وی او بیان په متشابه کښں به په قیامت کښں وی په دنیا کښں ددے بیان ممکن نه دے البته په آخرت کښں به د هغه سِر بیان اوشی -



فصل فیما یترک به حقائق الالفاظ

هر کله چه فارغ شو مصنف د بیان د تقسیم ثالث نه نو شروع ئے اوکړه په بعض متروکاتو د حقیقت کښې -

بحث زمونږ په تقسیماتو د کتاب الله کښې وو په کتاب الله کښې څلور تقسیمات وو اول تقسیم بحسب الوضع دویم بحسب الاستعمال او دریم تقسیم بحسب البیان چه د هغې نه ده تعبیر اوکړو په متقابلاتو سره او څلورم تقسیم بحسب الاستدلال دے خو ددے څلورم تقسیم نه مخکښې مصنف بعض متروکات د حقیقت ذکر کوی په طریقے د جملے معترضے سره ځکه مصنف مخکښې بحث د حقیقت او د مجاز ذکر کړو نو دا حقیقت کله به پاتے کیږی پکار ده چه دا متروکات ئے د بحث د حقیقت او د مجاز نه روسته ذکر کړے وے لیکن هلته ئے ذکر نکړل نو دلته ئے د تقسیم رابع نه قبل په طریقه د جملے معترضے سره ذکر کوی کچرے د تقسیم رابع نه ئے روسته ذکر کړے وے نو بیا به طول فاصله راتله په مابین د حقیقت او د مجاز او د متروکاتو کښې -

فصل فیما یترك به حقائق الالفاظ : ترجمه : فصل دے په قرائنو کښې چه پریخودے شی په هغې سره حقائق د الفاظو، چه حقیقت ترینه ترك کړے شی نو دا ضروری نه ده چه خامخا دے صیرورت کیږی مجاز ته بلکه کله کله حقیقت کامله ترك کړے شی او صیرورت اوکړے شی حقیقت قاصره ته او کله صیرورت کیدے شی معنی مجازی ته -

﴿ ما یترک به حقیقة اللفظ خمسة انواع ﴾ هغه قرائن چه په هغې سره ترك د حقیقت د لفظ کیږی نو هغه پنځه انواع دی -

سوال : ما یترك به حقیقة اللفظ مبتداء ده او خمسة انواع ئے خبر دے او ما خو مفرد دے او خمسة انواع متعدد دے نو لازم شو حمل د متعدد په مفرد باندے او دا باطل دے؟-

جواب : کله لحاظ د لفظ وی او کله لحاظ د مفهوم وی ما خو په اعتبار د لفظ سره مفرد مذکر دے خو په اعتبار د معنی سره مفرد تثنیه جمع تذکیر او تانیث ټولو ته شامل

دے نو دلته ما عبارت د قرائن نه دے او قرائن جمع ده نو حمل د متعدد په متعدد راغلو۔

خمسة انواع : هغه قرائن چه په هغې سره ترك د حقيقت د لفظ كيدے شي نو دا پنځه انواع دي، دلته ناكت ليكلي دي عرف بالاستقراء ځكه حصر كله عقلي وي چه هلته عقل مجوز د قسم آخر نه وي او كله حصر استقرائي وي چه هلته عقل مجوز د قسم آخر وي خو حصر په تتبع سره راغلے وي نو دلته حصر په انواعو د متروكاتو د حقيقت كښ هم استقرائي دے كه بله نوعه پيدا شي نو فلا ضير مونږ دا پنځه په استقراء معلوم كړيدي صاحب نور الانوار او حسامي دا قرائن سبعه ذكر كړيدي او صاحب شاشي خمسه ذكر كړي دي ځكه هغوي هره قرينه مستقله ذكر كړيده او صاحب شاشي بعض قرائن په بعضو كښ داخل كړيدي۔

﴿ احدها دلالة العرف ﴾ يو د هغه انواعو نه دلالت د عرف دے كله معنى حقيقي د لفظ د دلالت د عرف او د عادت د وجے نه پريخودے شي ددے مثال مخكښ هم تير شوے وو چه يو سړے قسم اوخوري چه والله لا اضع قدمي في دار فلان نو دا حقيقت دے په وضع د قدم حافياً كښ چه دے خپے ابله خپے (برهنه پا) قدم د دروازے نه وردننه كړي او نور بدن ئے بهر وي نو دا معنى حقيقي ده وضع القدم ده ليكن د عرف او د عادت د وجے نه دا كنايه گرځيدلے ده د دخول نه نو دلته هم مونږ دخول اراده كوو نو كچرے دے حافيا يا متنعلا يا راكبا داخل شي نو په هر صورت كښ حانث دے ځكه معنى حقيقي ئے متروكه ده لاجل العرف۔ (١)

﴿ وذلك لان ثبوت الاحكام بالالفاظ ﴾ ترجمه : او دا خبره ثابته ده ځكه چه ثبوت د احكامو په اعتبار د الفاظو سره وي نو دا چه وي نو د وجے د دلالت د لفظ نه وي په دغه معنى مراده د متكلم باندے نو كله چه دغه معنى متعارفه وي په مينځ د خلكو كښ پداسے شان سره چه متبادره وه فهم ته په وخت د سماع د هغے كښ۔

﴿ كان ذلك المعنى المتعارف دليلا ﴾ نو وي به دغه معنى متعارفه دليل

---

(١) دلته معنى حقيقي متروكه ده او عمل شوي دي په عموم د مجاز كما مر۔ سيد فضل حق۔

پدے چه دا مراد ده من حیث الظاهر نو مرتب کیږی په هغے باندے حکم۔

﴿ **مثاله لو حلف لا یشتری رأسا** ﴾ مثال ددے چه کله یو سړے قسم اوخوری چه زه سر به نه اخلم نو په حقیقت کښ اطلاق د رأس په هر سر کیږی چه که هغه رأس الحمار وی او که رأس العصفور وی او که رأس الحمام وی او که رأس الشاة والغنم والابل وی۔

﴿ **فهو علی ما تعارفه الناس** ﴾ نو دا یمین به موږ حمل کوو په هغه څه چه متعارف بین الناس ۔ یعنی ددینه به هغه سر مراد وی چه کوم معروف مشهور بین الناس وی نو په عرف او عادت کښ په بازارونو رأس الابل، رأس الغنم، رأس البقرة خرڅیږی او رأس الحمامة او رأس العصفور په بازارونو کښ نه خرڅیږی نو که ده د کونترے یا چینچڼرے یا د خر سر ئے واخستو نو دے نه حانثیږی نو معلومه شوه چه دلته معنی حقیقی اراده نکړے شوه چه هغه کل الرؤوس دی بلکه بعض رء وس اراده کړے شو نو دلته حقیقت کامله ترك شو د عرف د وجے نه او حقیقت قاصره اراده کړے شو ۔

﴿ **وکذلک لو حلف لا یأکل بیضاً** ﴾ دارنګه چه یو سړی قسم اوخوړ چه زه به هګئ نه خورم نو حمل کیږی به د اقسم په هغه هګئ چه متعارفه بین الناس وی نو نه حانثیږی دے په خوړلو د هګئ د کونترے او د چینچڼرے سره نو بیض په حقیقت کښ هرے هګئ ته وائی چه هغه د عصفور وی او که د حمامے وی او که د دجاجے وغیره وی لیکن معنی حقیقی دلته متروك شوه د عرف د وجے چه مراد به ددینه هغه هګئ وی چه خلك ئے عام استعمالوی او په بازارونو کښ ئے خرڅوی نو هغه د هیلو یا د چرګو هګئ دی د عصفور او حمامه هګئ عام په بازارونو کښ نه خرڅیږی نو ددے په خوړلو سره دے حانث هم نه دے۔

﴿ **وبهذا ظهر ان ترک الحقیقة** ﴾ ترجمه : او پدے ما ذکرنا باندے معلومه شوه چه ترك د حقیقت نه واجبوی صیرورت مجاز ته بلکه دا هم جائز ده چه ثابت شی په هغے سره حقیقت قاصره (حقیقت قاصره دیته وائی چه بعض افراد د حقیقت کامله اراده کړے شی لکه اراده د رأس البقر والغنم شوه د رأس نه دارنګه اراده د بیض الدجاج شوه د بیض نه۔

﴿ ومثاله تقييد العام بالبعض ﴾ او مثال د حقيقت قاصره تقيد د عام دے په بعضو افرادو پورے - يو لفظ عام وى او ته ترينه خاص اراده كړے نو دا په شان د حقيقت قاصره دے ځكه عام په اعتبار د عموم سره تمامو انواعو ته شامل وى او تا ترينه بعض افراد اراده كړل.

﴿ وكذلك لو نذر حجا او مشيا الى بيت الله ﴾ دارنګه كه يو سړى نذر اومنو د حج دپاره د تللو بيت الله ته او يائے نذر اومنه چه زه به وهم په خپلو جامو سره حطيم د كعبے نو لازميږى په ده باندے حج په افعالو معلومو سره د وجے د عرف نه ځكه د حج معنى لغوى مطلق قصد دے ليكن دا معنى مراد نه ده او معنى اصطلاحى قصد د اماكنو او افعالو مخصوصو دے او دا معنى مراد ده نو دلته د مشى نه مشى الى بيت الله يا ضرب الحطيم بالثوب نه خپله معنى حقيقى نه ده مراد د وجے د عرف او عادت نه -

﴿ والثانى قد تترك الحقيقة بدلالة نفس الكلام ﴾ ترجمه : دويمه قرينه كله كله ترك كيږى معنى حقيقى په دلالت سره په نفس كلام كښ -

يعنى پدے كلام كښ به يوه قرينه موجوده وى هغه به دلالت كوى په دے خبره چه دلته معنى حقيقى نه ده مراد بلكه معنى مجازى ترينه مراد ده -

﴿ مثاله اذا قال كل مملوك لى فهو حر ﴾ مثال ددے دا دے چه مولىٰ اووائى چه هر مملوك چه زما وى نو هغه ډے آزاد وى نو نه ازاديږى مكاتبان دده او نه هغه غلامان چه معتق البعض وى مګر كه ده نيت د دخول د مكاتبينو او د معتق البعض اوكړو نو بيا آزاديږى ځكه لفظ د مملوك مطلق دے شامليږى مملوك من كل وجه ته او مكاتب مملوك من كل وجه نه دے بلكه مملوك من بعض الوجوه دے پدے شان سره چه مكاتب دده ملوك رقبةً دے او مملوك يداً نه دے او معتق البعض هم مملوك من كل الوجوه نه دے بلكه مملوك من بعض الوجوه دے-

﴿ ولهذا لم يجز تصرفه فيه ﴾ ترجمه : او ددے وجے نه چه مكاتب دده مملوك من كل الوجوه نه دے نو ندے جائز تصرف د مولىٰ په ده كښ او دارنګه نه ده جائز د مولىٰ دپاره وطى د مكاتبے سره ځكه چه دا مملوكه من كل الوجوه نه ده بلكه حره يدا ده اجنبيه

کرځیدلے ده نو ددے وجے نه صاحب د شرح وقایه ذکر کړیدی کچرے مولیٰ د مکاتبے سره جماع اوکړه نو لازمیږی په ده باندے عُقر پکار خو دا وه چه په ده باندے حد لازم شوے وے خو حد پرے مونږ نه لازموو د وجے د وجود د شبهے نه ځکه دلته ملك رقبةً مولیٰ لره موجود دے نو دے شبه را پیدا کړه او الحدود تندرء بالشبهات نو حد ترے ساقط شو او عُقر پرے لازم دے عُـقر تاوان تـه وائی کچرے حل د منافعو د بضعے بالفرض په اجرت سر جائز شی نو هغو مره اجرت به مولیٰ دے مکاتبے لره ورکوی ۔ یعنی دا مکاتبه مالکه ده د قبض او بدل د عُـقر خپل ځکه دا مختصه گرځیدلے ده په منافعو د بضعی خپلے باندے نو که دا قبض د عقر کوی نو حق ئے شته دے ۔

﴿ ولـو تزوج المكاتب بنت مولاه ﴾ کچرے نکاح اوکړه مکاتب لور د مولیٰ خپل سره او بیا مولیٰ وفات شو او په میراث سره یوړه دغه مکاتب لور د مولیٰ نو نده فاسد نکاح ځکه دا مکاتب مملوك من کل الوجوه نه دے نو نه داخلیږی لاندے د لفظ د مملوك نه اوس کچرے دا مکاتب مملوك من کل الوجوه وی نو بیا به دلته عروض د ملك یمینی راغلے وے په ملك نکاحی باندے او عروض د ملك یمینی په ملك نکاحی باندے راشی نو ملك نکاحی باطلوی نو نکاح به فاسده شوے وه ۔

﴿ وهـذا بخلاف المدبر وام الولد ﴾ او دا پـه خلاف د مدبر او ام ولده دے ځکه چه کل مملوك لی ویلو سره ام ولده او مدبر دده هم آزادیږی ځکه چه ملك پدے کښ کامل دے ۔ مدبر هغـه غـلام تـه وائی چه عتق دده مولیٰ معلق کړے وی په موت خپل پورے چه زه مړ شوم نو ته دے آزاده ئے دارنگه ام ولده ته هم جهت د حریت راغلے دے خو فرق صرف دا دے چه مدبر به پس د مرگ د مولیٰ نه آزادیږی د ثلث د مال نه کچرے دے د ثلث نه زیات یا برابر د ثلث المال د مولیٰ سره وو نو تول به آزاد شی او کچرے د ثلث نه نه وتو نو بیا په دوو ثلثینو کښ به په ده باندے استسعاء وی مثلاً د مدبر قیمت (۹۰۰) روپی وی او اتلس سوه (۱۸۰۰) روپی د مولیٰ سره نورے وی نو دے ثلث د مال د مولیٰ شو دے به تول آزاد شی او پـه (۱۸۰۰) روپو پورے حق د ورثه ومتعلق دے او کچرے ترکه د مولیٰ فقط دغه عبد مدبر دے او دده مالیت (قیمت) (۹۰۰) روپی دے نو په ده کښ ثلثین حق د

ورثه و دے چه (٦٠٠) روپۍ دي او (٣٠٠) روپۍ حق د مدبر دے نو په ثلث کښې به دے مجانا آزاد شي ځکه په خپل حق کښې خو دے تصرف کولے شي او په (٦٠٠) روپو کښې به دے سعي کوي او ورثه وته به ئے ورکوي ليکن ام ولده د کل مال نه آزاديږي پس د مرګ د مولیٰ نه پدے باندے استسعاء نشته پدے باندے اجماع منعقده ده برابره خبره ده چه نور مال د مولیٰ موجود وي او که نه وي فقط دا ام ولده وي۔

﴿ **فان الملک فيها کامل** ﴾ ځکه ملك په مدبر او ام ولده کښې کامل دے نو دا پدے قول د مولیٰ سره آزاديږي چه کل مملوك لي فهو حر۔

﴿ **ولـذا حل وطی المدبرة وام الولدة** ﴾ ترجمه: او ددے وجے نه چه ملکيت پدے دواړو کښې کامل دے جائز دے مولیٰ لره وطی د ام ولدے او د مدبرے سره۔

﴿ **وانـمـا النقصان في الرق من حيث انه يزول** ﴾۔او نقصان په رقيت کښې راغلے دے ددے حيثيت نه چه دا رق زائله کيږي پس د مرګ د مولیٰ نه لامحاله۔

﴿ **وعـلـى هذا قلنا اذا اعتق المکاتب** ﴾ ترجمه: بناء پدے قاعده چه مکاتب مملوك من کل الوجوه نه دے او په مدبر او ام ولده کښې ملکيت من کل الوجوه موجود دے وايو مونږ کله چه مولیٰ مکاتب خپل آزاد کړي د کفارے د يمين خپل او يا د کفارے د ظهار خپلے نه جائز دے او نه ده جائز په کفاره د يمين او د ظهار کښې آزادول د مدبر او ام ولده ځکه لازم په کفاره کښې تحرير دے او تحرير اثبات د حريت ته وائي په آزاد والي د رقيت سره نو هر کله چه رق په مکاتب کښې کامل وو نو شو تحرير دده په کفاره کښې تحرير من کل الوجوه او په مدبر او په ام ولده کښې چه هر کله رق ناقص وو نو نه کيږي تحرير ددوی (په کفاره کښې) تحرير من کل الوجوه۔ (١)

---

(١) فائده: عبد مطلق او کامل غلام رقبةً او يداً غلام وي بيا د رقيت تعلق د رقبې سره دی او د ملکيت تعلق د يد سره دی نو مکاتب مملوك کامل نه شو ځکه يد او تصرف ددی آزاد دی ځان دپاره کار کولی شي البته رقبه دده پوره رقيت او غلامي لري ځکه حريت دده يقيني نه دی۔ بخلاف د مدبر نه چه د هغه په رقبه کښې د مولي نقصان دی يعني رقيت دده کمزوري دی ځکه چه دده حريت پس (آينده)

تشریح : نو په کفاره د ظهار او د یمین کښی آزادول د مکاتب جائزدی ځکه دلته رق کامل دے او مملوکیت ناقص دے او تحریر د مدبر او د ام ولدے جائز نه دے ځکه دلته رق ناقص او مملوکیت تام دے او په کفاره کښی تحریر دے او تحریر آزاد والی د رقیت ته وائی نو چه رقیت په چا کښی کامل وی نو د هغه ازاله کامله اوشوه او چه رقیت په چا کښی کامل نه وی نو هلته ازاله د رقیت په طریقے د کمال سره ونه شوه۔

﴿ **والثالث قد تترک الحقیقة بدلالة سیاق الکلام** ﴾ ترجمه : او دریم ترک د حقیقت دپاره ۔ کله کله پریخودے شی معنی حقیقی په دلالت د سیاق د کلام سره یعنی روندش د کلام چه د کومی معنی دپاره شویدے هغه به دلالت کوی پدے خبره چه دلته معنی حقیقی موضوع له د لفظ نه ده مراد۔

﴿ **قال فی السیر الکبیر** ﴾ ددے دپاره امام محمد مثال ذکر کړیدے په سیر کبیر کښی۔

﴿ **اذا قال المسلم للحربی انزل فنزل** ﴾ ترجمه : کله چه اووائی مسلمان حربی ته راکوز شه نو هغه راکوز شی نودے به په امن باندے وی او که مسلمان ورته اوویل چه راکوز شه که ته سړے ئے نو دے راکوز شو نو دے به په امان کښی نه وی ۔

تشریح : ان کنت رجلا چه ئے اوویل نو ددینه معلومه شوه چه دا خبره چه مقصود ده ته امن ورکول نه دی بلکه مقصود هغه ته دهمکی (یعنی اخطار) ورکول دی او د هغه قتلول مقصود دی ۔ یعنی که ته ځان ته رجل شجاع وائے نو راکوز شه چه معلومه ئے کړو ۔ نو په اول صورت کښی که حربی راکوز شو او مسلمان قتل کړو نو دے غادر او آثم دے او په دویم صورت کښی که هغه راکوز شو او ده قتل کړو نو دا مسلمان غادر او آثم ندے ۔

﴿ **ولو قال الحربی الامان الامان** ﴾ ترجمه : او کچرے اوویل حربی امیر د مسلمانانو ته الامان الامان ای اعطونی الامان اعطونی الامان ما لره امان راکړئ۔

(بقیه) د مرگ د مولی نه یقینی دی ځکه مرگ ئی یقینی دی، البته ید او تصرف د مولا وړباندی کامل دی نو مملوك كامل شو۔ فتدبر۔ سید فضل الحق۔

﴿ **فقال المسلم الامان الامان** ﴾ ترجمه : نو مسلمان ورته په جواب کښې اوویل الامان الامان ای اعطیتك الامام اعطیتك الامان ما تا لره امان درکړے دے نو دے به په امن وی ۔ نو د مسلمانانو دپاره تعرض کول هغه حربی ته جائز نه دی ۔

﴿ **ولو قال الامان ستعلم ما تلقی غداً** ﴾ ترجمه : که ده ورته اوویل چه امان خو تا ته دے خو زر ده چه ته به پوهه شے چه هغه مصیبت چه رسی تا ته صبا زمونږ د طرف نه۔ ﴿ **او لا تعجل** ﴾ یائے ورته اوویل چه ته تلوار مه کوه تردے چه ته اووینی هغه عمل چه کوم مونږ تاسره کوو ۔

﴿ **فنزل لایکون آمنا** ﴾ نو هغه راکوز شو نو نه به وی په امن، ځکه دا ستعلم غدا یا لاتعجل حتی ترئ قرینه ده پدے باندے چه مقصود دده د امان ورکول ندی بلکه دهمکی ورکول دی ۔

﴿ **ولو قال اشتر لی جارية لتخدمنی** ﴾ ترجمه : کچرے یو سړی څوك وکیل جوړ کړو او هغه ته ئے اوویل چه ما لره وینځه واخله چه زما خدمت کوی نو هغه ولره ړنده یا په لاسونو شله واخسته ۔

﴿ **لایجوز** ﴾ نو دا شراء د مؤکل دپاره نه شوه ځکه دا قول د مؤکل چه لتخدمنی دا قرینه ده پدے باندے چه ته ما لره سالم الاعضاء جاریه واخله چه هغه قادره وی په خدمت باندے مطلق جاریه مه اخله، نو اوس چه هغه جاریه ړنده یا شله وی نو هغه خو په خدمت باندے قادره نه ده نو مقصود د موکل پوره نه شو نو گویا چه دے وکیل اتیان په امر د آمر باندے اونکړو او قانون دا دے چه مامور اتیان په امر د آمر باندے اونکړی نو هغه شراء د آمر دپاره نه وی بلکه د مامور دپاره وی دا وینځه به په ده باندے تاوان وی ۔

﴿ **ولو قال اشتر لی جارية حتی اطأها** ﴾ ترجمه : کچرے اوویل موکِل وکیل ته واخله ما لره وینځه چه زه ئے وطی کوم نو هغه ولره د هغه رضاعی خور واخسته نو دا شراء به د وکیل وی او د موکل به نه وی ۔

ځکه دلته قرینه موجوده ده چه حتی اطأ ها دے دا قرینه ده پدے چه مقصود دده هغه جاریه ده چه دده ورسره جماع کول جائز وی او د اخت من الرضاع سره خو نکاح کول جائز نه دی۔

﴿وعلى هذا قلنا في قوله عليه السلام اذا وقع الذباب في طعام احدكم﴾

ترجمه: او بناء په دغه قاعده چه کله کله معنی حقیقي د سیاق او د سباق د وجے نه متروك كيږي وايو مونږ په دے قول د نبي عليه السلام کښ کله چه پرے وځی مچ په طعام د يو تن ساسو کښ نو ورغوفه ئے کړه په طعام کښ بیائے اوباسئ ځکه په يو د دواړو وزرو د هغه کښ بيماري ده جراثيم دی او په بل وزر د هغه کښ دواء ده مدافع دده دادے۔ داخلقت د الله دے چه پدے څیزونو کښ پدے کیفیت دے چه په هر شی کښ چه الله ضرر پیدا کړے وی نو د هغه په جسم کښ ئے د هغه مدافع هم پیدا کړے وی مار لړم یا لیونی سپے چه سرے اوچیچی نو د هغه واکسین هم د هغه د جنس نه تیاریږی لکه په اسلام آباد کښ غته لیبارټری ده چه په هغے کښ د مارانو لړمانانو زهر اوباسی او د فوجیانو ردی آسونو ته ئے په سرنج پاس کړی بیا څه موده پس د هغے نه وینه اوباسی او کیمکل ورسره ملاؤ کړی او ویکسین ترینه جوړه وی مار لړم لیونی سپی چیچلی ته ئے وهی۔

﴿وانه يقدم الدواء على الداء﴾ ځکه دا مچ مخکښ کوی د جراثيمو وزرد دوائي په وزر باندے مچ په ډډه لګی يو وزرئے بره نیولے وی نو تاسو ئے ورغوفه کړئ چه د هغه د داء علاج اوشی۔

﴿دل سياق الكلام على ان المقل لدفع الاذى عنا﴾ دلالت اوکړو سیاق د کلام په دے خبره چه دا غوفه کول د مچ دپاره د دفع د ضرر دی زمونږ نه امر تعبدی ندے چه حق د شارع دے نو غوفه کول واجب نه دی، کچرے يو سړے غوفه کول نه کوی طبیعت ئے نه منی نو گناه نه ده چه طبیعت ئے نه منی نو هغه ترکاری وغیره چه مچ پکښ پریوتلے دے نوی ډ کړی نو سیاق سباق دلالت اوکړو پدے خبره چه دلته معنی موضوع له د امر چه وجوب دے ترك کړے شوے دے بلکه دا امر د مصلحت په بناء دے که دے پکښ مصلحت گنړی نو مقل دے اوکړی او که نه نو ندے کوی۔

﴿وقوله تعالى انما الصدقات للفقراء عقب قوله تعالى﴾

ترجمه: او دا قول د الله تعالى چه انما الصدقات للفقراء روسته ددے قول د الله تعالى نه چه ومنهم من يلمزك في الصدقات۔ بعض د منافقانو نه هغه دی چه عیب لګوی په تا

باندے اے پیغمبره ! په تقسیم د صدقو کښې ۔

﴿یدل علی ان ذکر الاصناف لقطع طمعهم﴾ دا دلالت کوی پدے خبره چه دا ذکر د اصنافو دپاره د قطع د طمعے د منافقانو شویدے په صدقو کښې په بیان د مصارفو د صدقو کښې ۔ مصارف د زکوٰة اصناف ثمانیه و خو یوه نوعه ترینه ساقطه شویده چه هغه مؤلفة القلوب دی ۔

﴿فلا یتوقف الخروج عن العهدة علی اداء الکل﴾ ترجمه : نو نه ده موقوف خروج د عهدے د ذمه وارئ نه په اداء د صدقے سره کل اصنافو ته ۔

دا اختلافی مسئله ده امام شافعی رحمه الله وائی چه دا زکوٰة ورکونکے به ذمه واری د زکوٰة نه هله خلاصیږی چه زکوٰة دے کل اصنافو ته اداء کړی خو په هر صنف کښې به ئے کم از کم درے کسانو ته ورکوی ځکه صیغے د جمع راغلی دی که داسے ئے ونکړل نو زکوٰة ئے ندے اداء شوے ۔

امام ابوحنیفه رحمه الله وائی چه کل اصنافو ته ورکول د زکوٰة هم ضروری نذی او درے افرادو ته ورکول هم ضروری نه دی که یو فرد ته ئے زکوٰة ورکړو نو هم زکوٰة ئے اداء شو ځکه په انما الصدقات للفقراء کښې لام د عاقبت دپاره دے د صدقے انجام دا دے چه د فقراؤ دپاره به وی دلته لام د تملیك دپاره نه دے او لام للعاقبت (۱) په کلام العرب کښې مستعمل دے لکه لدوا للموت وابنوا للخراب ۔

دبچو د پیدائش انجام به مرګ وی او د آبادو د جوړولو انجام به ورانیدل وی ۔

دارنګه په انما الصدقات للفقراء کښې الف لام جنسی دی او جمع چه محلی شی په الف لام جنسی باندے او قرینه په عهد او استغراق باندے نه وی نو جمعیت باطله وی او جنسیت پیدا کوی نو دا ضروری نه ده چه زکوٰة به کم از کم درے افرادو لره ورکوی بلکه یو تن ته هم ورکول کافی دی ۔

---

(۱) مثال د لام العاقبة په قرآن کریم کښې : فالتقطه آل فرعون لیکون لهم عدوا وحزنا ترجمه : راوچت کړو دا موسی علیه السلام کورنئ د فرعون انجام به ئے دا وی چه د دوی دپاره به دشمن او غم شی ۔ سید

﴿ والرابع قد تترک الحقیقة بدلالة من قبل المتکلم ﴾

ترجمه: څلورمه قرینه کله کله معنی حقیقی ترك کیږی په دلالت سره د طرفه د متکلم نه مثال دا دے لکه دا قول د الله تعالی فمن شاء فلیؤمن ومن شاء فلیکفر - چا چه خوښه شی هغه دِے ایمان راوړی او د چا چه خوښه شی نو کفر دِے اوکړی -

نو په فلیؤمن او فلیکفر دا دواړه اوامر دی او معنی حقیقی د امر د وجوب ده نو کفر کول هم واجب دی داسے نه ده ځکه په فلیکفر کښ معنی حقیقی متروکه ده د جوب دپاره نه دے بلکه دا امر د تهدید دپاره دے (زورنه ده) ځکه د متکلم د طرفه نه پدے باندے روسته قرینه ده چه انا اعتدنا للکافرین نارا مونږ د کافرو دپاره اور تیار کړے دے نو سیاق دلالت اوکړو پدے چه دلته امر للتهدید دے دویم دا چه ایمان حسن لغیره دے او کفر قبیح لعینهٖ دے کوم شے چه حسن لعینه وی نو هغه تعلق په مشیت پورے نه قبلوی او کوم شے چه قبیح لغیره وی نو د هغے تعلیق په مشیت پورے نه راځی او دلته خو ئے تعلیق په مشیت پورے کړیدے نو معلومه شوه چه دا امر للوجوب نه دے بلکه للتهدید دے -

﴿ وذالک لان الله تعالی حکیم والکفر ﴾ ترجمه: دا خبره ثابته ده (چه معنی حقیقی متروك ده په دلالت سره من قبل المتکلم) ځکه الله تعالی حکیم دے او کفر قبیح دے او حکیم حکم نه کوی د قبیح نو ترك کولے شی دلالت د لفظ په امر حقیقی باندے د حکمت د آمر د وجے نه - چه ددے امر نه معنی وجوبی نه ده مراد بلکه دلته معنی مجازی مراد ده چه هغه تهدید دے -

﴿ وعلی هذا قلنا اذا وکل بشراء اللحم ﴾ ترجمه: بناء پدے قاعده باندے وایو مونږ چه کله یو سړی بل وکیل مقرر کړو په اخستلو د غوښه باندے نو کچرے دا مؤکِل مسافر وو چه نازل علی الطریق وو نو مراد به ددے غوښے نه پخه غوښه وی او یا به وریته کړے شوی غوښه وی - (١) ځکه مسافر به کچه غوښه په څه کښ او په کوم ځائے کښ پخوی خو مقصد دا دے چه تیاره پخه غوښه راوړه نو دا سفر د مؤکِل قرینه شوه پدے چه

(١) یعنی کباب شوی غوښه- سید-

مراد ددے غوښے نه پخه غوښه ده۔

﴿وان كان صاحب المنزل﴾ ترجمه: کچرے دا موکل صاحب منزل وو نو دا به حمل کولے شي په کچه غوښه باندے ځکه پخه غوښه خو لړه کيږي په ورکړے شوو پيسو باندے نو دا قرينه شوه پدے چه د مؤکل مقصد کچه غوښه ده ځکه چه کچه غوښه به ډيره وي کور به ئے پخه کړي ډيره شوروۍ به پکښ اوکړي اهل عيال ته به ئے اورسيږي۔

﴿ومن هذا النوع يمين الفور﴾ ترجمه: او ددے نوعے نه يمين فور دے۔

يمين په درے قسمه دے ۱- يمين مؤبد لفظا او معنى ۲- يمين مؤقت لفظاً او معنىً ۳- يمين مؤبد لفظاً او مؤقت معنىً ۔ امام ابوحنيفه قائل دے په مؤيد لفظا او موقت معنى يمين باندے چه ديته يمين فور وائي نور ائمه ددے قائل نه دي۔

امام ابوحنيفه (۱) دليل نيسي د جابر بن عبد الله رضى الله عنه د واقعے نه استدلال کوي يو ځل دوی په لاره کښ وو چا ترينه اعانت طلب کړو دوی قسم اوخوړ چه مونږ به ستاسو سره امداد نه کوو بيا څه وخت تير شو بيا ئے د هغوی سره امداد اوکړو او کفاره ئے ورنکړه نو معلومه شوه چه په ايمانو کښ داسے يمين هم شته چه هغه موبد لفظا او موقت معنى وي ځکه د جابر رضى الله عنه مراد په هغه وقت کښ تعاون وو کچرے داسے نه وے نو پکار وه چه ده کفاره ورکړے وے

﴿مثاله اذا قال تعال تغد معى﴾ ترجمه: کله چه اوويل يو سرى بل ته راشه زما سره ناشته اوکړه نو هغه اوويل قسم دے په الله چه زه به ناشته نه کوم ۔ نو لا اتغدى لفظ مؤبد دے ددے معنى حقيقي دا ده چه زه به مطلقا صبانارے نه کوم نو پکار ده چه دے په مطلق تغدى کولو باندے دے حانث شي که هغه د داعي سره وي او که په خپل کور کښ وي او که د بل چا سره وي ليکن دلته قرينه داله من قبل المتكلم شته چه مراد د حالف تغدى ده د داعي سره کچرے ده د هغه سره تغدى اوکړه نو حانث دے او که بل ځائے د بل چا

---

(۱) اودا دامام ابوحنيفه په کمال تفقه او بصيرت باندې دلالت کوی په دين کښ۔ سيد فضل الحق

سره تغدي اوکړه نو حانث نه دے معنی حقیقی ددے لفظ دلته متروك ده۔

﴿ ينصرف ذلک الی الغداء المدعو اليه ﴾ ترجمه : نو صرف کولے به شی دا قسم دده هغه ناشتے ته چه دے ورته بللے شویدے تردے پورے کچرے ده ناشته اوکړه روسته ددینه په کور د مدعو کښ د داعی سره یا د غیر سره په دغه ورځ کښ نو دے نه حانثیږی۔

﴿ وکذا لو قامت المرأة ترید الخروج ﴾ ترجمه : او دارنګه کچرے پاځیده ښځه چه اراده د وتلو ئے وه اوویل هغے ته خاوند کچرے ته او وتے نو ته دے طلاقه ئے نو وی به حکم د طلاقو بند په دغه وخت پورے تردے کچرے دا ښځه اووتله پس ددے نه نو سړے نه حانثیږی یعنی طلاق نه واقع کیږی۔

دلته هم لو خرجت لفظ عام دے مؤبد دے معنی حقیقی ئے دا ده چه دا ښځه کله هم اووته نو طلاقه ډے شی لیکن دا لفظ موقت دے معنی او قرینه پرے من قبل المتکلم شته چه دلته معنی حقیقی ددے لفظ متروك ده بلکه معنی مجازی مراد ده چه فی الحال خروج دے که په بل وخت کښ دا ښځه خروج کوی نو طلاق نه واقع کیږی۔

﴿ والخامس وقد تترک الحقيقة بدلالة محل الکلام ﴾

ترجمه : پنځمه قرینه د مترکاتو د حقیقت۔ کله کله معنی حقیقی ترك کیږی په دلالت د محل د کلام سره۔ محل د کلام به دال وی په دے چه دلته خپله معنی موضوع له نه ده مراد۔ ﴿ بان کان المحل لا یقبل حقيقة اللفظ ﴾

ترجمه : پدے شان سره چه دا محل به نه قبلوی حقیقت د لفظ۔

﴿ مثاله انعقاد نکاح الحرة بلفظ البيع ﴾

ترجمعه : مثال ددے منعقد کیدل د نکاح د اصلی ښځے دی په لفظ د بیع او د هبے او د تملیك او د صدقے سره۔

تشریح : چه اصیله ښځه چا ته اووائی بعت نفسی علیك یا وهبت نفسی الیك یا اووائی چه ملکتك نفسی یا اووائی چه صدقت بنفسی الیك۔ ما ځان په تا خرڅ کړیدے ما ځان تا ته بخښلے دے ما ته د خپل ځان مالك کړے ئے ما ځان تا ته صدقه کړیدے نو پدے ټولو الفاظو سره نکاح واقع کیږی معنی حقیقی متروك ده ځکه دا محل تقاضا کوی

ددې خبرې چه دلته معنی مجازي مراد ده په دې شان سره چه ذکر د بيع او مراد ترينه معنی مجازي ده چه نکاح ده ځکه بيع سبب دې د ملك رقبې په سبب د ملکيت د رقبې سره مالك د منافعو د بضعی گرځی واضع نکاح وضع کريده دپاره د ملکيت د منافعو د بضعی نو نکاح مسبب او بيع سبب شو نو ذکر د سبب او مراد ترينه مسبب شو وعلی هذا القياس باقی امثله هم دی۔

﴿وقوله لعبده وهو معروف النسب من غيره هذا ابنی﴾

ترجمه: او دا قول د مولیٰ خپل عبد ته او حال دا دې چه د هغه معروف النسب وو د غير د مولیٰ نه چه دا زما ځوی دې نو دا کنايه شوه د دينه چه دلته د بنوت نه معنی حقيقي د بنوت نه ده مراد بلکه معنی مجازي ترينه مراد ده چه هغه حريت دې ځکه دا محل ددې تقاضا کوی ځکه چه دې معروف النسب دې من غيره نو ددې مقصد دا دې چه هذا حر۔

﴿وکذا اذا قال لعبده وهو اکبر سنا من المولیٰ هذا ابنی﴾

ترجمه: دارنگه کله چه اووائی مولیٰ خپل عبد ته او هغه غټ وی دده نه د عمر په لحاظ سره چه دا ځما ځوی دې نو دا قول دده به مجاز وی د عتق نه په نزد د امام ابوحنيفه رحمه الله باندې خلاف ثابت دې صاحبينو لره ځکه دلته معنی حقيقي د دلالت د محل د رجې نه متروك ده چه غلام دده نه غټ دې نو کبير ابن د صغير نه شی کيدې نو معلومه شوه چه دلته معنی مجازي مراد ده چه هغه حريت دې ۔

﴿بناء علی ما ذکرنا﴾

ترجمه: بناء دې دا حکم په هغې چه مونږ ذکر کړی وو چه مجاز خلف دې د حقيقت نه په حق د تلفظ کښې په نزد د امام ابوحنيفه او په حق د حکم کښې په نزد د صاحبينو باندې ۔

نو هرکله چه اکبر سناً د اصغر سناً دپاره ابن نشی کيدې نو صاحبين قائل دی په لغويت ددې کلام باندې او امام ابوحنيفه خلافت د مجاز د حقيقت نه په تلفظ کښې وائی نو دې وائی چه هذا ابنی قائم مقام دې د هذا حر د هذا ابنی لفظ صحيح دې ځکه مبتداء

او خبر دی او معنی ئے هم صحیح ده خو لیکن معنی حقیقی ئے د مانع د وجے نه متعذر شوه نو مونږ به صیرورت معنی مجازی ته کوو او معنی مجازی تحریر دے ځکه چه بنوت سبب وی دپاره د تحریر کما فی الحدیث من ملك ذا رحم محرم عتق علیه ۔

□□□□□□

□□□□□□□□□□

□□□□□□□□□□□□□□□□□

فصــل
فی متعلقات النصوص نعنی بها عبارة النص واشارته

هر کله چه فارغ شو مصنف د متروکات خمسهؤ د معنی حقیقی نه نو شروع ئے اوکړه په متعلقاتو د نصوصو کښې ۔

﴿ نعنی بها عبارة النص واشارته الخ ﴾ ۔

دا څلورم تقسیم دے بحسب الاستدلال او اقسام ماحصل ددینه څلور دی عبارة النص، اشارة النص، دلالة النص، اقتضاء النص۔ دیته متعلقات د نصوصو هم ویلے کیږی متعلقات په فتحه د لام سره ما یتعلق به النص ته وائی د معانیو نه هغه معانی صریحی مطابقی وی او صریحی تضمنی وی او یا غیر صریحی تضمنی یا التزامی وی ۔ نو حاصل دا شو چه دا اربع متعلقات د نص دی نو که دا مونږ په فتحے د لام سره وایو متعلقات النصوص نو هم صحیح دے او که په کسرے د لام سره ئے وایو متعلِقات النصوص نو هم صحیح کیږی ۔

د متعلِقات (بصیغة اسم الفاعل) معنی تعلق نیونکی په نصوصو پورے او د متعلَقات (بصیغة اسم المفعول) معنی دا شوه چه تعلق راغلے دے د نصوصو پدے پورے۔

نعنی بها اشارة النص الخ : ترجمه : مونږ قصد کوو پدے سره اشارة النص، عبارة النص، دلالة النص، اقتضاء النص ۔

وجه د حصر پدے اربعه وکښې دا ده چه دا مستدل به خالی نه وی یا به استدلال کوی د کلام منطوق نه یا د کلام غیر منطوق نه که مستدل استدلال د کلام منطوق نه کوه نو بیا به خالی نه وی یا به ئے سوق شوے وی د مفهوم (معنی) دپاره او یا به نه وی که سوق ئے شوے وو د معنی دپاره نو دا د اصولینو په اصطلاح کښې مسمیٰ دے په عبارة النص سره۔ او که سوق ئے دپاره د معنی نه وو شوے نو دا د دوی په اصطلاح کښې مسمیٰ

دے په اشارة النص سره او که استدلال ئے د معنی نه کوه نو دا معنی به خالی نه وی یا به مفهوم لغةً وی او یا به مفهوم لغةً نه وی بلکه عقلًا او شرعاً به وی که معنی مفهومه لغةً وه نو دا د اصولینو په اصطلاح کښې مسمیٰ دے په دلالة النص سره او که دا معنی مفهومه عقلًا شرعاً وه نو دا د اصولینو په نزد مسمیٰ دے په اقتضاء النص سره

﴿ فاما عبارة النص فهو ما سيق الكلام لاجله ﴾ ترجمه : هر چه عبارة النص دے نو دا عبارة النص هغه حکم دے چه سوق د کلام د هغے دپاره شوے وی او اراده کړے شوی وی دغه معنی په دغه کلام سره قصداً ارادةً۔

سوال : هو ضمیر راجع دے عبارة النص ته او ما سيق الكلام لاجله دا خو حکم دے نو دا خو تعریف د مباین په مباین باندے راغے او دا جائز نه دے ؟ ۔

جواب (۱): دا تعریف بالاثر دے معنی دا شوه چه (هو) دا عبارة النص ما هغه حکم دے چه چلولے شوے وی کلام د هغه د وجے نه۔

﴿ قصداً وارادةً ﴾ دا عطف تفسیر دے پدے سره ترینه اشارة النص خارج شو ځکه د هغه دپاره سوق د کلام قصداً او ارادةً نه وی شوے دارنګه دلالة النص او اقتضاء النص ترینه هم خارج شو ځکه هغه په مفهوم سره وی په لفظ سره نه وی ۔

﴿ واما اشارة النص فهي ما ثبت بنظم النص ﴾ ترجمه : هر چه دے حکم ثابته په اشارة النص سره نو دا اشارة النص هغه حکم دے چه ثابت شوے وی په نظم د نص سره بغیر د زیادت نه او هغه به غیر ظاهر وی من کل الوجوه او نه به چلولے شوے وی کلام د هغه دپاره ۔

﴿ من غير زيادة ﴾ پدے سره ئے احتراز اوکړو د اقتضاء النص نه ځکه هغه ثابت وی په زیادت سره او هلته تقدیر وی په کلام کښې ۔

﴿ ولا سيق الكلام لاجله ﴾ پدے سره ئے احتراز اوکړو د عبارة النص نه ځکه په عبارة النص کښې سوق د کلام د هغه د وجے نه وی ۔

---

(۱) جواب ثاني : یا داسی اُووایه چه دا تعریف د حکم ثابت بعبارة النص دپاره دی نو په عبارت د مصنف کښې تقدیر دی هغه داسی : فاما الحكم الثابت بعبارة النص الخ سید فضل الحق

﴿مثاله فی قوله تعالی للفقراء المهاجرین الذین اخرجوا من دیارهم﴾
ترجمه: مثال د عبارة النص او د اشارة النص دا قول د الله تعالی چه خمس د غنیمت دپاره د فقیرانو مهاجرینو دے هغه کسان چه ویستلے شوی دی د خپلو کورونو نه۔

سوال: چه اصل په عبارت کښ عبارت دے په نمط واحده سره ماقبل ممثلین دوه دی عبارة النص او اشارة النص او تا مثال واحد ذکر کړو پکار ده چه دوه مثالین ذکر کړے او یا بو هم ذکر نه کړے؟۔ **جواب:** دا مثال د دواړو ممثلینو دپاره وضاحت دے او دا متن دے او بناء د متونو په اختصار وی نو هر کله چه یو مثال د دواړو دپاره کافی کیدو نو ذکر کول د مثالینو ضروری نه شول۔

﴿فانه سیق لبیان استحقاق الغنیمة﴾ دا فاء تطبیقیه ده اوس تطبیق د مثال کوی د ممثل سره۔ ...... ترجمه: نو سوق د کلام شویدے دپاره د بیان د استحقاق د غنیمت نو پدے استحقاق د غنیمت کښ اوګرځیده دا آیت نص او په تحقیق سره ثابت شو فقر د مهاجرینو په اشارة النص سره۔

﴿فکان اشارة الی ان استیلاء الکافر علی مال المسلم سبب لثبوت الملک﴾ ترجمه: پدے کښ اشاره اوشوه دے خبرے ته چه غلبه د کافر په مال د مسلمان باندے سبب دے دپاره د ثبوت د ملک د کافر ځکه که چرے مالونه د مسلمانانو باقی وے په ملک د دوی کښ پس د غلبے نه هم نو نه ثابتیده فقر د دوی۔

تشریح: یعنی چه کافر د مسلمان په مال باندے غلبه اوکړه نو دا سبب د ثبوت د ملک د کافر دے په دغه مال او د مسلمان د ملک نه خارج دے۔

دا مسئله اختلافیه ده بیننا وبین الشافعی۔ امام شافعی وائی چه استیلاء د کافر په مال د مسلم باندے دا سبب د ملک د کافر نه شی ګرځیدے ځکه چه استیلاء یو محظور (ممنوع) شے دے او ملک خو نعمت دے نو مونږ نعمت څنګه په یو محظور شی باندے مرتب کړو مونږ ورته وایو چه کله استیلاء اوکړه کافر په مال د مسلمان باندے نو په دے کښ عصمت ختم شو او کافر محفوظ کړو په خپل دار کښ نو دا سبب دپاره د ملک د هغو شو او دا آیت پرے دال دے که څوك دا اعتراض اوکړی چه دوی ته فقراء ځکه ویلے

شوی دی چه دوی په مکه کښې فقراء وو ؟ ۔

جواب دا دے چه دوی په مکه کښې فقراء نه وو مالداران وو ځکه دوی ته نسبت د دیار او اموالو شویدے په آیت کښې للفقراء المهاجرین الذین اخرجوا من دیارهم واموالهم نو هلته دوی میاسر وو دلته فقراء شول۔

که څوك سوال اوکړی چه په دوی باندے اطلاق د فقراؤ شویدے د بعد الید د وجے نه مجازاً د سړی چه د خپلو اموالو او املاکو نه ید بعید شی نو د بعد الید د وجے نه هم کله نا کله په سړی اطلاق د فقیر کیږی ؟۔

جواب : اطلاق حقیقةً اولیٰ دے د اطلاق مجازا نه چه په فقیر باندے مونږ اطلاق د فقیر اوکړو حقیقةً د اولیٰ دے ددینه چه مونږ په ده باندے اطلاق د فقیر اوکړو مجازاً ځکه قانون دا دے چه حقیقت متعذر شی نو صیرورت کیږی معنی مجازی ته چه حقیقت متعذر نه وی نو صیرورت مجاز ته نه کیږی دلته خو معنی حقیقی متعذر نه ده نو څنګه صیرورت اوکړو معنی مجازی ته ۔

﴿ **یخرج الحکم فی مسئلة الاستیلاء** ﴾ ترجمه : په دے باندے متفرع کیږی مسئله د غلبے د کافر په مال د مسلمان او حکم د ثبوت د ملك د تاجر په اخستو سره د کافرو نه او تصرفات د تاجر په هغه مال کښې ټول صحیح دی د بیع نه او د هبے نه او د اعتاق نه او حکم د ثبوت د غنیمت (په شان د نورو مالونو د کافرو) ۔

تشریح : اول پدے باندے مسئله د حکم د استیلاء متفرع شوه چه اوس تیره شوه دویم پدے سره حکم د ثبوت د ملك د تاجر په اخستو سره د دوی نه معلومه شوه چه مسلمان تاجر لاړ شی او هغه مال چه د کافرو نه ئے نیولے دے د هغوی نه په پیسو واخلی نو ددے تاجر پدے مال باندے ملك راغلو ځکه د مسلمان د ملك نه زائل شوے وو او د کافرو ملك پرے راغلے دے او ده خپل ملك په مسلمان خرڅ کړو ۔

دارنګه وتصرفاته۔ د تاجر ټول تصرفات په هغه مال کښې صحیح دی په دے شان سره کچرے دا تاجر هغے مال لره په بل چا خرڅوی نو بیع ئے جائز او صحیح ده دارنګه که چاته ئے هبه کوی نو هم هبه کولے ئے شی دارنګه که عبد وی او آزادوی ئے نو آزادولے ئے شی۔

﴿ **وحكم ثبوت الاستغنام** ﴾ دارنگه کچرے مسلمانانو په کافرو غلبه اوکره او هم هغه مال د مسلمانانو لاس ته راغلو نو دا به د زور مالك مسلمان نه وی بلکه دا به د عام اموالو د کافرو په شان مال غنیمت وی او تقسیمیږی به۔

﴿ **وثبوت الملک للغازی** ﴾ دارنګه کچرے مسلمانانو غزا اوکړه او دغه مال ئے په غنیمت کښ اورسیدو نو د غازیانو ملك پرے ثابت شو۔

﴿ **وعجز المالک عن انتزاعه من یده** ﴾ ترجمه : او دارنگه عجز د مالك د لاس د غازی نه چه دا د غازیانو په تقسیم کښ اورسیدو نو مالك اول چه مسلمان دے دغه مال لره د ید د غازیانو نه نشی اخستے۔

﴿ **وتفریعاته** ﴾ دارنګه نور تفریعات په هغه مال باندے لکه حل د وطی کچرے وینځه وی نو غازی یا مشتری تاجر لره د هغے وطی حلاله ده او آزادول ئے هم ده لره جائز دی دارنګه که دا مال د ید د غازی یا د تاجر نه هلاك شی نو تاوان په ده نه راځی د مالك قدیم مسلمان۔

﴿ **وکذلک قوله تعالی احل لکم لیلة الصیام الرفث** ﴾ دویم مثال د اشارة النص او د عبارة النص دا قول د الله تعالی دے چه جائز دی تا سو لره په شپه د روژه کښ جماع کول د بیبیانو ستاسو لره تردے قول د الله پورے چه ثم اتموا الصیام الی اللیل بیا پوره کړئ روژے تر شپے پورے۔

﴿ **فالامساک فی اول الصبح یتحقق مع الجنایة** ﴾ ترجمه : نو امساك په اول د صبا کښ متحقق کیږی سره د جنابت نه (په اشارة النص سره) ځکه د بعض ضروریاتو د حلال والی د جماع کولو نه تر صبا پورے دا خبره ده چه وی به جزء اول د نهار نه سره د جنابت نه او امساك کول په دغه جزء د نهار کښ مسمیٰ شویدے په صوم سره چه امر کړے شویدے عبد ته په اتمام د هغے سره پدے قول د الله سره چه ثم اتموا الصیام الی اللیل۔

﴿ **هذا اشارة الی ان الجنابة لا تنافی الصوم** ﴾
نو پدے کښ اشاره شوه دے خبرے ته چه جنابت منافی نه دے د صوم سره۔

﴿ ولزم من ذلک ان المضمضة والاستنشاق لاينافي بقاء الصوم ﴾

ترجمه : ددينه دا خبره لازمه شوه چه مضمضه او استنشاق منافي نه دي په بقاء د صوم کښ ـ ځکه په اول د نهار کښ دے چه جنابت کښ وو نو دے به غسل کوی او په غسل کښ مضمضه او استنشاق کول وی نو دا د صوم سره منافي نه شول ـ

﴿ ويتفرع منه ان من ذاق شيئاً بفمه ﴾ ترجمه : او ددينه متفرع کيږی دا مسئله چه بيشکه چا چه څه شے اوڅکه په خوله باندے نو نه ماتيږی روژه دده ځکه کچرے اوبه نمکينی وی نو مغتسل به د هغے ذائقه محسوس کوی په وخت د مضمضه کښ نو نه فاسديږی پدے سره روژه ځکه مضمضه خو په ده فرض ده ـ

﴿ وعلم منه حکم الاحتلام ﴾ ترجمه : او ددينه حکم د احتلام هم معلوم شو او د احتجام (خکر لگولو) هم معلوم شو او د تيل لگولو حکم هم معلوم شو ـ

يعنی چه يو سړی ته په روژه کښ احتلام اوشو او يا ئے رګ اووهه يا ئے تيل اولگول نو روژه ئے نه ماتيږی ـ

﴿ لان الکتاب لما سمی الامساک اللازم بواسطة الانتهاء (١) ﴾

ترجمه : ځکه کتاب الله هر کله چه مسمیٰ کړه هغه امساک چه لازم دے په واسطه د انتهاء سره په دے قول چه ثم اتموا الصيام الی الليل د اشياء ثلاثه و نه چه اکل شرب، جماع ده چه کوم مذکور دی په اول د صبا کښ ديته ئے روژه اوويله ـ

﴿ علم ان رکن الصوم يتم بالانتهاء عن الاشياء الثلاثة ﴾

ترجمه : نو معلومه شوه چه رکن د صوم به تماميږی په انتهاء سره د اشياء ثلاثه و مذکوره و نه چه ددينه ځان منع کړی نو رکن د صوم به ئے تمام شی ـ

﴿ وعلى هذا يخرج الحکم فی مسئله البيتوتة ﴾ ترجمه : او بناء په دے باندے متفرع کيږی حکم په مسئله د بيتوتت باندے د شپے نه نيت کول ـ

نو مونږ وايو چه د شپے نه نيت کول ضروری نه دی که سحر نيت د صوم اوکړی نو

---

(١) انتهاء دلته په معنی د ځان منع کولو او بندولو سره راځی د اشياء ثلاثو نه ـ سيد فضل الحق ـ

هم صحیح کیږی ۔ امام شافعی د شپے نه نیت کول ضروری وائی کچرے د شپے نه ئے د رمضان روژے نیت اونه کړو نو روژه ئے نه کیږی سحر نیت کول امام شافعی نه معتبروی۔

﴿ **فان قصد الاتیان بالمامور به انما یلزمه** ﴾ ترجمه : ځکه قصد د اتیان په مامور به باندے چه صوم دے دا لازمیږی په ده باندے په وخت د توجه د امر کښې (د طرفه د شارع نه) او امـر د صوم دا متوجه کیږی پس د جزء اول نه (چه کله طلوع الصبح اوشی) د وجے ددے قول د الله نه چه ثم اتموا الصیام الی اللیل ۔

﴿ **واما دلالة النص فهو ما علم علة للحکم** ﴾ ترجمه : او هر چه حکم ثابته په دلالة النص سره نو دا دلالت النص هغه حکم دے چه هغه پیژندلے شوے وی علت د حکم منصوص علیه دپاره د جهت د لغت نه نه د جهت د اجتهاد او د استنباط نه.

﴿ **لا اجتهاداً واستنباطاً** ﴾ پدے سره ترینه قیاس خارج شو۔

﴿ **مثاله فی قوله تعالی ولا تقل لهما اف** ﴾ ترجمه : مثال ددے په دے قول د الله کښې چه مه وایه مور او پلار ته اف او رټه ئے مه۔

﴿ **فالعالم بلوضاع اللغة** ﴾ نو عالم په اوضاعو د لغت باندے فهموی په اول سماع سره دا خبره چه تحریم د تافیف دپاره د دفع د ضرر دے د مور او پلار نه۔

﴿ **وحکم هذا النوع عموم حکم المنصوص علیه** ﴾ ترجمه : حکم ددے نوع عموم د حـکـم د منصوص علیه دے د وجے د عموم د علت نه چه کوم ځائے کښې علت عام وی نو حکم به عام وی او چه کوم ځائے کښې علت خاص وی نو حکم به هم خاص وی۔

﴿ **ولهذا المعنی قلنا بتحریم الضرب والشتم** ﴾ او ددے معـنـی د وجے نه قول کوو مونږ په تـحـریـم د ضرب او د شتم د والدینو باندے دارنګه د هغوی نه خدمت اخستل په مزدورئ سره چه کار پرے کوی او مزدوری ورله ورکوی دارنګه جیل ته اچول د قرض د وجے نـه دارنـګـه قـتـلـول قـصـاصـاً داتول ناروا دی ځکه داتول موجب د الم دی نو هرکله چه والدین ته اف حرام وو نو دا په طریقه اولیٰ سره حرام شول۔

﴿ **ثم دلالة النص بمنزلة النص** ﴾ تـرجـمـه : بیا دلالة النص په شان د نص دے نردے چه اثبات د عقوباتو په دلالة النص سره صحیح کیږی۔

﴿ **قال اصحابنا** ﴾ ترجمه : ویلی دی علماؤ زمونږ چه واجب شوے ده کفاره د روژے په نص سره او کفاره په اکل او په شرب دا په دلالة النص سره۔

اعرابی راغے رسول الله ﷺ ته ئے اوویل : هلکت واهلکت ځان مے هم هلاک کړو او ښځه مے هم هلاکه کړه ۔ نبی علیه السلام ورته اوویل څه دی اوکړه ؟ ده اوویل : جامعت نهار رمضان ۔ د رمضان په ورځ مے جماع اوکړه۔ نبی علیه السلام ورته اوویل : اعتق رقبةً۔ مرئے آزاد کړه ۔ ده ورته اوویل : زه د خپلے رقبے مالك یم بله رقبه نه لرم ۔ نبی علیه السلام ورته اوویل : صم شهرین متتابعین ۔ ده اوویل یارسول الله : هل جاء نی ما جاء الا من الصوم ۔ پدے مصیبت کښ خو روژے واچولم ۔ ددے طاقت هم نه لرم ۔ نبی علیه السلام ورته اوویل : په (٦٠) مسکینانو باندے طعام اوخوروه ده اوویل : غریب یم مجلس کښ چا یو ټکرئ راوړه د قجورو (١٥) یا (١٦) اوگی قجورے پکښ وے نبی علیه السلام اوویل : این السائل ؟ هغه سائل څه شو هغه اوویل : دا یم ۔ نبی علیه السلام ورته اوویل : دا ټوکرئ ویسه او په فقراؤ د مدینه ئے تقسیم کړه ده اوویل: د ځان نه راته بل څوك زیات فقیر نه معلومیږی ۔ نبی علیه السلام اوویل : څه د ځان دپاره ئے یوسه ۔

پدے حدیث کښ دوه توجیه دی چه اوس ستا حاجت ورته زیات دے اوس ئے ځانله یوسه او کفاره تیاره هغه به روسته اداء کړے ۔

دویم توجیه دا ده چه دا ستا د طرفه نه کفاره شوه خو دا حکم مختص دے په تا پورے بل چا لره به نه وی۔

نو په جماع سره خو کفاره لازمه شوے وه دا په نص سره وه نو اوس چه مونږ کفاره لازمه وایو په اکل او په شرب سره نو دا په دلالة النص سره معلومه وو ځکه لکه څنگه چه په جماع سره فوات د رکن راځی نو دارنگه په اکل او په شرب سره هم فوات د رکن راځی نو چه هغه موجب د کفارے وو نو دا به موجب د کفارے وی۔

﴿ **وعلی هذا قیل یدار الحکم علی تلک العلة** ﴾ ترجمه : بناء په دے ویلے شویدی چه حکم به مرتب کیږی په دغه علت باندے۔

﴿ **قال القاضی الامام ابوزید** ﴾ ترجمه : ویلی دی قاضی امام ابوزید کچرے

یو قوم شماری تافیف اعزاز او اکرام د مور او پلار نو بیا تافیف په دوی باندے حرام نه دے والدینو ته۔

﴿ **وکذلک قلنا فی قوله تعالی یا ایها الذین آمنو اذا نودی** ﴾۔

ترجمه : دارنگه وایو مونږ په دے قول د الله کښې اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے کله چه اذان اوشی د مانځه د ورځے د جمعے نو سعی کوی ذکر د الله ته او پریږدئ بیع او شراء۔ ﴿ **ولو فرضنا بیعا لا یمنع العاقدین عن السعی** ﴾ ۔ترجمه : کچرے مونږ فرض کړو داسے بیع چه هغه عاقدین نه منع کوی د سعی نه جمعی ته په دے شان سره چه بائع او مشتری دواړه په کشتئ کښې (یا گاړی کښې) وی چه روان جامع مسجد ته نو نه ده مکروه دا بیعه ځکه دا منافی د سعی سره نه ده علت د کراهت موجود نه شو۔

﴿ **وعلی هذا قلنا اذا حلف لا یضرب امرأته** ﴾ ترجمه : بناء په دے وایو مونږه چه یو سړی قسم اوخوړ چه نه به وهم ښځه خپله نو رائے خکل وبښته د هغے یا ئے وه چیچله یا ئے د مریٔ نه اونیوله نو حانثیږی دا حالف کله چه په طریقه د درد رسولو سره وی ځکه مقصود د ضرب نه ایلام دے نو دا یلام چه څنگه په ضرب کښې دے نو دارنگه په وښتو راخکلو او چیچلو او خپه کولو کښې هم دے (یعنی مری نه نیول) چه علت موجود شو نو حکم به هم موجودیږی ۔

﴿ **ولو وجد صورة الضرب الخ** ﴾ ترجمه : کچرے موجود شو صورت د ضرب او د مد الشعر او د چیچلو په طریقه د ټوقو سره نه په طریقے د ایلام سره نو نه حانثیږی ځکه علت نشته کچرے علت وی نو حکم به وی او که علت نه وی نو حکم به نه وی ۔

﴿ **ومن حلف لایضرب فلانا** ﴾ ترجمه : چا چه قسم اوخوړ چه زه به فلانکی سړے وهم نو وے وهه هغه لره پس د مرگ نه نو نه حانثیږی د وجے د اتعدام د معنی د ضرب نه او هغه ایلام دے او ایلام مړی ته نشته۔

﴿ **وکذا لو حلف لا یتکلم فلانا** ﴾ ترجمه : دارنگه یو سړی قسم اوخوړ چه زه به د فلانکی سړی سره خبرے نه کوم نو خبرے ئے اوکړے د هغه سره پس د مرگ نه نو ندے حانث د وجے د عدم افهام نه ځکه مړے خو افهام نشی کولے خطاب د شرائطو د حیات نه

دے او حیات په مړی کښې نشته ـ

﴿ وباعتبار هذا المعنی یقال اذا حلف لا یأکل لحماً ﴾ او په اعتبار ددے معنی باندے ویلے شی چه یو سړی قسم اوخوړ چه زه به غوښه نه خورم نو د ماهی غوښه ئے اوخوړه یا ئے د ملخ غوښه اوخوړه نو ندے حانث ځکه دا لحم نه دے لحم هغے ته وائی چه د دم نه پیدا شوی وی او اشتداد وی پکښې او پدے کښې اشتداد نشته۔

﴿ ولو اکل لحم الخنزیر والانسان ﴾ ترجمه : کچرے د خنزیر یا د انسان غوښه ئے اوخوړه نو حانث دے ځکه عالم په اوضاع اللغت باندے په اول سماع سره پو هیږی چه باعث په دے یمین ځان ساتل دی د هغه شی نه چه هغه ذوینے نه پیدا وی نو ځان ساتل د غوښے د هغه شی نه چه هغه دموی شے وی.نو گرځی به حکم (مرتب کیږی به حکم) په دے باندے (چه هغه حنث او عدم حنث دے)

ځکه سمك دموی شے نه دے ځکه دموی شے په اوبو کښې ژوند نشی تیرولے او سمك خو په اوبو کښې وی او انسان او خنزیر دموی دی۔

﴿ واما المقتضی فهو زیادة علی النص ﴾۔

ترجمه : هر چه مقتضیٰ دے نو دا یو امر مزید دے په مطلق کلام منطوق باندے (پدے سره دفع د وهم اوشوه) ـ مقتضی صیغه د اسم مفعول ده معنی طلب کړے شوے نو دا کلام منطوق مقتضِی (بصیغة اسم الفاعل) دے او کلام مقدر مقتضیٰ دے دلته اشیاء ثلاثه دی ۱ ــ مقدر ۲ ــ محذوف ۳ ــ مقتضیٰ دا درے واړه د قبیلے د غیر منطوق نه دی لیکن فرق پکښې دا دے چه مقدر د تصحیح د کلام دپاره دے لغةً او شرعاً او محذوف تخصیص د لغت پورے دے او د مقتضیٰ تخصیص په شرع پورے دے نو کچرے تقدیر د کلام شرعاً وو نو هغے ته مقتضی ویلے کیږی او که لغةً وو نو هغے ته مقدر او محذوف وائی نو تعمیم په محذوف کښې جائز دے او په مقتضي کښې جائز نه دے ـ

سوال : فهو ضمیر راجع دے مقتضیٰ ته او مقتضیٰ صیغه د اسم مفعول ده ذات مع الوصف دے او زیادة مصدر دے صرف وصف دے او دا حمل دے په مقتضیٰ باندے نو لازم شو حمل د صرف وصف په ذات مع الوصف او دا جائز نه ده ؟ ـ

جواب : مراد د زيادت نه امر مزيد دے نو دا هم ذات مع الوصف دے نو حمل د ذات مع الوصف راغلو په ذات مع الوصف باندے ـ

سوال : زيادت په هغه نص باندے اوشی چه کوم په اقسامو د بيان کښں ذکر شويدے نو هغے ته به مقتضیٰ وائی او که په ظاهر يا مفسر وغيره باندے زيادت اوکړے شی نو هغه ته به مقتضیٰ نشی ويلے والامر ليس کذلك؟ ـ

جواب : مراد د نص نه مطلق کلام منطوق دے خواه چه نص وی او که مفسر ظاهر وی او زيادت پرے اوکړے شی نو هغے ته مقتضی ويلے کيږی۔

﴿ **لا يتحقق النص الا به** ﴾ ترجمه : نه متحقق کيږی معنی د نص مگر په ده سره گويا چه دے نص اقتضاء اوکړه ددے امر مزيده ددے دپاره چه صحيح شی فی نفسه معنی ددے مقتضیٰ ـ چه دا نص ولړه مقتضِی شو او دا امر مزيده ولړه مقتضیٰ شو ـ

دويم تعريف د اقتضاء دا دے چه جعل د غير منطوق دے په حکم د منطوق کښں لتصحيح المنطوق ـ غير منطوق کلام مونږ په حکم د منطوق کښں دے دپاره اوگرځوو چه کلام منطوق صحيح شی ـ

﴿ **مثاله فی الشرعيات** ﴾ مثال ددے په شرعياتو کښں چه خاوند ښځے ته ووائی طلاقه ئے نو دا نعت د ښځے دے او نعت تقاضا کوی د مصدر نو گويا چه مصدر موجود دے اقتضاء نو دلته به مونږ يو طلاق واقع کوو اقتضاء او کچرے ده نيت د طلاق ثلاثه و کړے وو نو هغه به واقع کيږی (١) او که د دوو نيت ئے کړے وو نو نه صحيح کيږی ځکه دا مقتضی دے د مصدر دپاره او مصدر فرد دے نو يا به فرد حقيقی وی او يا به فرد حکمی وی او د دوه ددے دپاره نه فرد حقيقی دے او نه فرد حکمی دے۔

ددے دپاره نور اصولين صاحب دحسامی مثال ذکر کوی چه يو سړے بل ته اووائی

(١) - فائده : دا خبره چه شارح دلته ذکر کړيده يعنی صحت د نيت د طلاق ثلاثه دا په طلقی نفسك کښں ده يعنی په صيغه د امر کښں او په انت طالق کښں نيت د ثلاثو صحيح نه دی کما يأتی فی الکتاب۔ فرق به ان شاء الله ذکر کړو۔ سيد

اعتق عبدك عني بالف ته عبد خپل زما د طرف نه ازاد کړه په زر روپۍ نو عبد ستا دے نو زما د طرف نه ئے ځنګه ازاد کړه حدیث کښ راځي : لا عتق فیما لا یملك ۔ جائز نه دے اعتاق په هغه شي کښ چه بني آدم د هغے مالك نه وي نو پره دے عبد چرے ازادیږي نو دا کلام ظاهر کښ نه صحیح کیږي نو ددے د تصحیح دپاره به مونږ بیعه مقدر کړو چه اصل کښ دا کلام مقتضي دے ددے کلام دپاره چه بع عبدك عني بالف چه ته خپل عبد په ما باندے خرڅ کړه په زر روپۍ بیا شه ته زما د طرف نه وکیل بالاعتاق چه بیع اقتضاءً ثابته شوه نو ایجاب او قبول ته پکښ بیا ضرورت نشته، خو چه هغه اعتقتُ اوویل نو دا کلام دده متضمن دے هم د ایجاب او هم د قبول۔

﴿ واذا قال اعتق عبدک عني بالف ﴾ ترجمه : کله چه اوویل یو سړی بل ته چه ازاد کړه عبد خپل زما د طرف نه په زر روپۍ نو هغه مامور اوویل چه ما ازاد کړیدے نو واقع کیږي عتق د آمر نه نو واجبیږي په مشتري باندے (١٠٠٠) روپۍ ۔

﴿ ولو کان الامر نوىٰ به کفارة یقع عما نوىٰ ﴾

ترجمه : کچرے آمر نیت کړے وو پدے سره د کفارے نو واقع کیږي د هغه څه نه چه ده نیت کړے وي ځکه اعتاق د آمر د طرفه شو۔

﴿ وذلک لان قوله اعتق عني ﴾ او دا خبره ثابته ده چه عتق به د آمر د طرفه واقع کیږي ځکه دا قول دده چه اعتقه عني بالف درهم تقاضا کوي د معنی ددے قول چه بعه بالف خرڅ ئے کړه په ما باندے په زر روپۍ بیا زما د طرفه وکیل شه په اعتاق سره نو ازاد ئے کړه زما د طرف نه، نو بیع دلته ثابتیږي په طریقے د اقتضاء سره ګویا کښ دا کلام منطوق مقتضِي شو د بیع دپاره او بیع ولره مقتضىٰ شوه۔

﴿ فیثبت القبول کذلک ﴾ ترجمه : نو ثابتیږي قبول هم اقتضاء ځکه صراحةً قبول ته ضرورت نشته۔

﴿ لانه رکن في باب البیع ﴾ ترجمه : ځکه دا قبول رکن دے په باب د بیع کښ نو هر کله چه بیع ثابته شوه اقتضاء نو د هغے جز چه قبول دے هغه هم ثابت شو اقتضاء۔

﴿ ولهذا قال ابویوسف اذا قال اعتق عبدک عني بغیر شي، فقال

﴿اعتقت﴾ ترجمه : او ددے وجے نه ویلی دی امام ابویوسف رحمه الله کله چه اووائی یو سرے بل ته ازاد کړه غلام خپل زما د طرف نه بغیر د څه شی نه نو هغه اوویل : ازاد مے کړو نو واقع کیږی عتق ذ آمر نه نه د مامور نه ـ دا مذهب د امام ابویوسف دے او طرفین وائی چه عتق د مامور نه دے دا آمر نه ندے ـ

﴿ویکون هذا مقتضیا﴾ امام ابویوسف وائی چه دا قول دده به مقتضی شی دپاره د هبی او د پاره د توکیل په اعتاق باندے ـ که څوك اعتراض اوکړی په دے چه په هبه کښ خو قبض شرط دے او دلته خو قبض نشته نو دے جواب کوی چه :

﴿ولا یحتاج فیه الی القبض﴾ نشته دے حاجت په دے کښ قبض ته ځکه دا قبض په منزله د قبول دے په باب د بیع کښ ـ نو قبول رکن وو په بیع کښ هرکله چه هغے سقوط قبلولو نو قبض خو شرط دے په هبه کښ دا به په طریقه اولیٰ سره سقوط قبلوی ـ

﴿لکنا نقول﴾ لیکن جواب ورته د طرف د طرفینو نه دا دے چه تیك دا چه قبول رکن دے خو دا داسے رکن دے چه دا سقوط فی الجمله قبلوی لکه په بیع تعاطی (تعریفه : دادن وگرفتن بلا گفتن) کښ ئے سقوط قبول کړیدے او دا قبض په هبه کښ دا شرط دے او دا داسے شرط دے چه دا قبول فی الجمله نه قبلوی ځکه په حدیث کښ راځی چه نبی علیه السلام فرمائی : لا یجوز الهبة الا مقبوضةً چه جائز نه ده هبه مگر تر هغے چه قبض شوی نه وی نو قبض ولره شرط دے نصا او په صورت مذکوره کښ ولره قبض محقق نه شو نو په انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځی دا چه اعتاق وائی نو دا اعتق د آمر نه نه شو بلکه د طرفه د مامور نه شو ـ

﴿ولکنا نقول رکن فی باب البیع﴾

ترجمه : لیکن مونږ ورته وایو چه قبول رکن په باب د بیع کښ دے نو کله چه مونږه بیع ثابته کړه اقتضاء نو مونږ قول په ثبوت د قبول کوو ضرورةً په خلاف د قبض نه په باب د هبه کښ ځکه دا خو رکن نه دے په هبه کښ چه شی دِے حکم په ثبوت د هبه کښ په طریقے د اقتضاء باندے حکم په قبض سره او قبض خو ونه شو او هبه بغیر د قبض نه نه وی نو هبه اونه شوه نو دا عتق به د مامور نه واقع کیږی نه د آمر نه ـ

﴿ **وحكم المقتضى انه يثبت** ﴾ ترجمه : حكم د مقتضیٰ دا دے چه دا ثابتیږی په طریقے د ضرورت سره نو مقدر کولے به شی په اندازه د ضرورت په څومره مقدار باندے چه ضرورت دفع کیږی نو هغومره به کافی وی ماوراء ته به حاجت نه وی۔

﴿ **ولهذا قلنا اذا قالت انت طالق** ﴾ او ددے وجے نه چه ددے تقدر به په قدر د ضرورت سره وی وایو مونږ کله چه خاوند ښځے ته اوویل ته طلاقه ئے او نیت ئے اوکړو پدے سره د ثلاثه و نو دا نیت د ثلاثه و نه صحیح کیږی ځکه دا طلاق (۱) مصدر دے چه مقدر مذکور دے په طریقے د ضرورت سره نو تقدیر ددے به مونږ کوو په قدر د ضرورت سره به ئے کوو او ضرورت په واحد سره پوره کیږی نو څه ضرورت دے چه مونږ ثلاثه وته صیرورت کوو۔

﴿ **فيقدر مذكوراً فى حق الواحد** ﴾ نو دا به مونږ مقدر کړو مذکور په حق د واحد کښ۔

﴿ **وعلى هذا يخرج الحكم فى قوله ان اكلت** ﴾ او په دے باندے چه مقتضی به ثابته وی ضرورةً متفرع کیږی حکم په دے قول کښ چه یو سړے اووائی چه که ما خوراك اوکړو۔ انت طالق یا عبدی حر او نیت ئے په دے سره د یو خاص طعام اوکړو نو دا نیت دده نه صحیح کیږی ځکه دلته چه مونږ دا طعام مقدر کوو نو اقتضاء به ئے مقدر کوو دپاره د تصحیح د اکلتُ او اقتضاء خو د باب د ضرورت نه ده او باب د ضرورت کښ عموم نه وی نو چه عموم په کښ رانغلو نو تخصیص به په کښ نه جاری کیږی نو نیت د تخصیص دده صحیح نه شو۔

﴿ **لان الاكل يقتضى طعاماً** ﴾ ترجمه: ځکه چه اکل تقاضا کوی د طعام نو وی

---

(۱) فائده ضروریه : تقدیر د طلاق په انت طالق کښ په اقتضاء سره دی او په مقتضیٰ کښ عموم نه وی نو نیت د ثلاثه صحیح نه شو او په طلقی صیغه د امر کښ لغةً ځکه هغه مختصر دی د اطلب منك فعل الطلاق نو دا د قبیلی د محذوف نه شو او په هغی کښ عموم جائز وی نو نیت د ثلاثو جائز شو۔ فتدبر۔ سید فضل الحق باچا۔

به دا ثابت په طریقے د اقتضاء سره نو مقدر کولے به شی په قدر د ضرورت سره او ضرورت پورته کیږی په فرد مطلق سره (چه هغه هر یو فرد د افرادو د مطعوم دے او خوری نو دے حانث دے) - ﴿ **ولا تخصیص فی الفرد المطلق** ﴾ ترجمه : او نشته تخصیص په فرد مطلق کښ ځکه تخصیص تقاضا کوی د عموم او عموم خو د مقتضیٰ دپاره نه وی -

﴿ **ولو قال بعد الدخول اعتدی ونویٰ به الطلاق** ﴾

ترجمه : کچرے خاوند خپلے ښځے ته اوویل روسته د دخول نه اعتدی عدت تیر کړه او نیت ئے اوکړو په دے سره د طلاقو نو واقع کیږی طلاق اقتضاء ځکه اعتداء تقاضا کوی د وجود طلاقو د اعتدی معنی دا ده چه ته عدت شمار کړه نو دا عدت به هله شماریږی چه خاوند طلاق ورکړی وی -

﴿ **فیقدر الطلاق موجوداً** ﴾ نو مقدر کولے به شی طلاق موجود ضرورةً او دے وجے نه وی به طلاق واقع په لفظ د اعتدی سره رجعی ځکه صفت د بینونت زائد دے په قدر د ضرورت باندے (کچرے طلاق بائن پرے مونږ واقع کړو -

﴿ **فلا یثبت بطریق الاقتضاء** ﴾

نو دا به نه حانثیږی په طریقے د اقتضاء سره نوّ نه به واقع کیږی مګر یو طلاق د وجے د هغه دلیل نه چه مونږ ذکر کړو چه اقتضاء د باب د ضرورت نه ده او ضرورت پوره کیږی په یو طلاق باندے نو ضرورت پیښ نه شو طلاق مغلظو ته -

فصــــل

فی الامر الامر فی اللغة قول القائل لغیره افعل

هر کله چه امراو نهی د خاص د قبیلے نه وو خو دوی دپاره احکامات کثیره وو نو محتاج شو مصنف بیان د حکم د امر او نهی ته۔

سوال : مصنف امر ولے مقدم کړو په نهی باندے عکس به ئے کړے وے ؟۔

جواب : امر وجودی دے او نهی عدمی ده او اصل په ممکناتو کښې وجود دے نو ځکه ئے بحث د امر مقدم کړو۔(١)

٢- **جواب :** ځکه چه ایمان حسن لعینه دے۔او مامور به دے په امر سره او کفر قبیح لعینه دے او منهی عنه وو په نهی سره نو کوم شے چه حسن لعینه وی او مامور به وی په امر سره نو هغه مقدم کول پکار دی نو ځکه مصنف بحث د امر مقدم کړو۔

فصل فی الامر : ترجمه : فصل کائن دے په امر کښې امر په لغت کښې قول د قائل دے غیر ته په طریقے د استعلاء سره چه افعل او په اصطلاح د اهل شرع کښې دا تصرف د الزام د فعل دے په غیر باندے چه دا فاعل مخاطب الزام د فعل راولی په مخاطب مامور باندے په طریقے د استعلاء سره۔

﴿ **وذکر بعض الائمة** ﴾ ترجمه : بعض ائمه و ذکر کړیدی چه وجوب په امر سره مختص دے په دے صیغه سره۔

﴿ **واستحال ان یکون معناه** ﴾ دا پرے اعتراض دے چه محال ده چه معنی ئے دا شی چه حقیقت د امر دے مختص شی په دے صیغے د امر پورے ځکه الله تعالی متکلم وو په ازل کښې په نزد زمونږ او کلام د الله امر هم وو نهی هم وه اخبار هم وو او استخبار هم وو

(١) فائده : بنه وجه دا ده چه وجودی اشرف وی په نسبت سره عدمی ته ځکه وجود نور دی او عدم ظلمة دی او د شارح خبره چه اصل په ممکناتو کښې وجود دی فلیس بشئ۔ سید

او محال دے وجود ددے صیغے په ازل کښې ځکه دا صیغے خو حادث دی کچرے دا صیغے په ازل کښې وے نو بیا خو به لازم شی قدم ددے صیغو او دا خو مخالف دے د اجماع نه ۔

﴿ **واستحال ایضاً** ﴾ دا دویم اعتراض دے چه محاله ده هم دارنګه چه معنی د قول ددے وے دا شی چه مراد په امر سره د آمر دپاره مختص دے شی په دے صیغه پورے ځکه چه مراد د شارع په امر سره وجوب د فعل دے په عبد باندے او دا معنی د ابتلاء ده عندنا او دلته خو وجوب ثابت دے بغیر ددے صیغه نه هم آیا نه ګورے چه واجب دے ایمان په هغه چا چه نه وی رسیدلے هغه ته دعوت بغیر د ورود د سمع نه ۔

﴿ **قال ابوحنیفة** ﴾ امام ابوحنیفه رحمه الله وائی کچرے الله تعالی انبیاء نه وی رالیږلی نو واجب به وے په عاقلانو باندے معرفت د الله په سبب د خپلو عقلونو سره ۔ نو هر کله چه دا قول بعض ایمه و کړیدے او دا اعتراضین پرے وارد شول نو بیا خو دا قول د بعض الائمه صحیح نه شو ۔

﴿ **فتحمل ذلک علی ان المراد بالامر یختص بهذه الصیغة** ﴾

نو اوس مصنف تصحیح د قول د بعض الائمه کوی۔ ترجمه : نو حمل کولے شی دا قول د بعض ائمو په دے خبره باندے مراد چه وجوب دے پدے امر سره مختص دے په دے صیغے د امر پورے دا به مختص وی په حق د عبد کښې په شرعیاتو پورے چه فروع دی ۔ نو هر کله چه په حق د عبد کښې اوویل نو شارع ترینه اووته او په شرعیاتو کښې چه ئے اوویل نو عقائد ترینه اووتل نو مسئله د وحدانیت د الله خو د عقائدو سره تعلق لری۔

﴿ **حتی لا یکون فعل الرسول بمنزلة قوله افعلوا** ﴾ ترجمه : تردے چه نه به وی فعل د رسول په شان د قول د افعلوا ۔ دارنګه نه به لازمیږی اعتقاد د وجوب په دے فعل سره دارنګه متابعت په افعالو د نبی علیه السلام کښې دا چه واجبیږی په مواظبت سره او انتفاء د دلیل د اختصاص ده نو که مواظبت وو نو بیا به وجوب وی۔

دارنګه که دلیل د اختصاص نه وو نو بیا به وجوب وی او که دلیل د اختصاص وو نو بیا هلته اتباع د فعل الرسول واجب نه ده ۔

فصــل

اختلف الناس فی الامر المطلق

دا یو اختلافی مسئله ذکر کوی په موجب د امر کښ چه موجب د امر به وجوب وی که اباحت به وی که ندب به وی که استحباب به وی که تهدید به وی۔

بعض علماء وائی موجب د امر به توقف وی ځکه امر په (۱٦) معانیو کښ مستعمل دے یوه معنی متعین نه ده نو ترڅو چه قرینه د تعین د احد المعانی نه وی راغلے نو تر هغے پورے ئے مونږ په احد المعنیین باندے نشو حمل کولے۔

بعض وائی چه دادنیٰ مرتبه د امر دپاره ندب دے نو مونږ به ئے په ادنیٰ باندے حمل کوو۔ بعض وائی: چه ادنیٰ مرتبه د امر اباحت دے یعنی جواز د هغه فعل نو مونږ به ئے په اباحت باندے حمل کوو لیکن د جمهورو رایه دا ده چه کوم امر چه په هغے باندے قرینه موجوده نه وی نو موجب د هغے به وجوب وی نو که قرینه موجوده شوه د ندب یا تهدید وغیره۔ په (۱٦) معانو کښ چه دکومے معنی قرینه موجوده شوه نو په هغے به حمل وی مذهب مختار د مصنف هم د وجوب دے خو اول اختلاف رانقل کوی۔

﴿ **اختلف الناس فی الامر المطلق** ﴾ ترجمه: اختلاف دے د علماؤ مجتهدینو په امر مطلق کښ چه مجرد وی د قرینے نه چه دال وی په لزوم یا په عدم لزوم (که قرینه موجود وی نو په هغے به حمل کیږی)۔

﴿ **نحو قوله تعالی واذا قرء القرآن** ﴾ لکه دا قول د الله چه کله قرآن لوستے شی نو غوږ ورته کیدئ او چپ شئ شاید چه په تاسو رحم اوشی۔ فاستمعوا کښ امر دے په دا د ندب دپاره دے او که د استحباب دپاره دے او که د وجوب دپاره دے۔ دارنګه انصتوا کښ هم دا امر د وجوب دے که د استحباب وغیره دے۔

﴿ **وقوله تعالی ولا تقربا هذه الشجرة** ﴾ یا لکه دا قول د الله چه مه نزدے کیږئ دے ونے ته نو شئ به تاسو د ځان سره د کمے کونکو نه۔ اګر که لاتقربا په ظاهر کښ

نهي ده خو متضمن دے امر لره چه امنعوا عن هذه الشجره دے ۔

﴿ **والصحيح من المذهب ان موجبه الوجوب** ﴾ ترجمه : او مختاره مذهب او صحيح قول دا دے چه مقتضی د امر وجوب دے د فعل مگر کچرے دلیل قائم شی په خلاف د وجوب یعنی که قرینه په خلاف د وجوب باندے راغله نو چه د څه شی قرینه موجوده وه نو په هغه باندے به ئے حمل کوو ۔

﴿ **لان ترک الامر معصية** ﴾ امر موجب وجوب دے دلیل ئے دا دے څکه چه ترك د امر معصیت دے لکه څنګه چه ایتمار (اتباع د امر) طاعت دے قال الحماسی : (۱)

﴿ **اطعت لآمريک بصرم حبلی** ﴾ ۔

ته تابعداری کوے د خپلو آمرینو په قطع کولو د رسئ د محبت زما سره ۔

﴿ **مريهم فی احبتهم بذاک** ﴾ نو ته هم هغوی ته امر اوکړه په باره د محبوبانو د هغوی په دغه قطع کولو د رسئ د محبت سره ۔

﴿ **فهم ان طلوعوک فطلوعيهم** ﴾ نو کچرے هغوی ستا تابعداری اوکړه نو ته هم بیا د هغوی تابعداری اوکړه ۔ یعنی که هغوی تعلق د خپلو محبوبانو سره قطع کړو او ستا خبره ئے اومنله نو ته هم د هغوی خبره اومنه او زما سره محبت قطع کړه ۔

﴿ **وان عاصوک فاعصی من عصاک** ﴾ کچرے هغوی ستا نافرمانی اوکړه نو ته هم نافرمانی اوکړه د هغه چا چه ستا نافرمانی کوی ۔ یعنی که هغوی ستا خبره او نه منله او د خپل محبوبانو سره ئے تعلق قطع نه کړو نو بیا ته هم د هغوی نافرمانی کوه او زما سره محبت برحال ساته ۔

---

(۱) الحماسی : ددی اطلاق په هر هغه شاعر باندی کیږی چه شعر دده په حماسه کښں راغلی وی چه دا یو کتاب دی د ابوتمام او ده پکښں اشعار د هغه شاعرانو راجمع کړیدی چه استشهاد پری صحیح دی۔

سید فضل الحق۔

(په بعض نسخو کښې عبارت کښې غلطي د ناسخ ده صحیح عبارت دا دے)

﴿ فالعصیان (۱) فیما یرجع التی الشارع سبب للعقاب ﴾

عصیان په هغه شی کښې چه هغه شی راجع کیږی حق د شارع ته سبب دے دپاره د عقاب تحقیق ددے دا دے چه ترك د امر ندے مګر معصیت دے۔

﴿ ان لزوم الایتمار ﴾ ـ ترجمه: بیشکه لزوم د ایتمار په قدر د ولایت د آمر باندے وی په مخاطب باندے۔ په مخاطب باندے چه ددے آمر څومره تصرف چلیږی نو په هغه قدر به امر لازم وی۔

﴿ واذا وجهت صیغة الامر الی من ﴾ ترجمه: کله چه ته متوجه کړے صیغه د امر هغه چا ته چه نه لازمیږی په هغه باندے طاعت ستا بالکل نو نه کیږی دا متوجه کول د صیغې د امر موجب دپاره د اتباع خامخا۔ ځکه په هغه باندے ستا ولایت نه چلیږی نو چه ولایت دے پرے نه چلیږی نو امر به دے پرے څه لازم شی۔

﴿ واذا وجهت الی من ﴾ ترجمه: او هر کله چه ته متوجه کړے صیغه د امر هغه چا ته چه په هغه باند طاعت ستا لازم وی د غلامانو نوکرانو نه نو لازم ده په هغوی باندے اطاعت ستا خامخا تر دے کچرے هغوی دا امر پریخودلو اختیاراً نو هغوی مستحق د سزاء دی عرفاً هم او شرعاً هم۔


﴿ فعلی هذا عرفنا ﴾ ترجمه: نو بناء په دے باندے مونږ اوپیژندل چه لزوم د طاعت په قدر د ولایت د آمر دے نو هر کله چه دا خبره ثابته شوه نو مونږ وایو چه د الله

---

(۱) بلکه صحیح عبارة دا دی: (والعصیان فیما یرجع الی حق الشرع سبب للعقاب)۔ او دا عبارت په منزله د کبریٰ دی او هغه مخکی عبارت چه (لان ترك الامر معصیة) دا په منزله د صغریٰ دی نو دلیل داسی شو: (لان ترك الامر معصیة (صغریٰ) والعصیان فیما یرجع الی حق الشارع سبب للعقاب) (کبریٰ) نتیجه دا شوه: (فترك الامر سبب للعقاب)۔ بیا دا نتیجه صغریٰ کړیٰ او کبریٰ ورسره ضم کړه اصل مدعی به ثابته شی۔ داسی اُووایه: (فالامر ترکه سبب للعقاب۔ وکلما کان ترکه سبب للعقاب فهو للوجوب) (نتیجه) (فالامر للوجوب)۔ سید فضل الحق۔

دپاره ملك كامل دے په هر جزء د اجزاؤ د عالم كيف يشاء او د الله دپاره تصرف كامله دے په ايجاد او په ابقاء كښ او په تبديل سره څنګه چه د الله خوښه شي او اراده ئے اوشي۔

﴿ واذا ثبت ان من له الملك القاصر ﴾ هركله چه دا ثابته شوه چه هر هغه څوك چه هغه لره ملك قاصر وي په عبد كښ نو پريخودل د اتباع سبب وو دپاره د عقاب نو څه ګمان دے ستا په ترك د امر د هغه ذات كښ چه ته ئے د عدم نه وجود ته راويستلے ئے او په تا باندے ئے بے شماره نعمتونه اوكړل ۔ نو يو ذات چه منعم حقيقي دے او په انسان باندے ئے انعامات كثيره دي هغه چه انسان باندے حكم اوكړي او عبد د هغے نه خلاف اوكړي نو دا به ضرور سبب د عقاب وي نو د شارع د طرف نه حكم د "صلوا" د" صوموا "دے د آتوا الزكوة دے نو اوس عبد چه پدے اوامرو باندے اتيان نه كوي نو دے مستحق د عقوبت دے ۔



فصــــل

الامر بالفعل لا يقتضى التكرار

دا بله مسئله اختلافيه ذكر كوى چه امر تقاضا د تكرار كوى او كه نه ئے كوى ؟

بعض وائى امر تقاضا د تكرار كوى- بعض شوافع وائى چه امر احتمال د تكرار لرى اگركه تقاضا د تكرار نه كوى د جمهورو احنافو رائے دا ده چه امر نه تقاضا د تكرار كوى او نه احتمال د تكرار لرى، (١) ځكه چه صيغه د امر مختصر ده د كلام مطوّل نه او كوم حكم چه د مختصر منه وى نو هغه حكم د مختصر هم وى نو اضرب دا مختصر دے د اطلب منك الضرب نه زه ستا نه ضرب طلب كوم - برابره خبره ده چه كه ته دا د معرف باللام نه مختصر كړے چه اطلب منك الضرب دے او يا ئے د غير معرف باللام نه مختصر كړے چه اطلب منك ضرباً دے خو ضرباً مصدر دے او مصدر فرد دے او فرد احتمال د عموم نه لرى نو عموم چه په ده كښ راځى نو په اعتبار د تكرار سره به راځى نو چه هر كله چه تكرار په كښ رانغلو نو عموم ئے هم پيدا نه كړو-

امام شافعى وائى چه امر مختصر شويدے د اطلب منك ضربا نه دا نكره ده او نكره چه په سياق د اثبات كښ واقع شى اگركه دغلته خصوص وى خو احتمال په كښ عموم وى او عموم به دلته مونږ په تكرار سره وايو نو دے وائى چه امر احتمال د تكرار لرى اگركه حقيقى تكرار په كښ نشته-

﴿ **الامر بالفعل لا يقتضى التكرار** ﴾ ترجمه : امر تقاضا د تكرار نه كوى او ددے وجے نه مونږ وايو چه خاوند بل سړے وكيل مقرر كړو او هغے ته ئے اوويل : طلق امرأتى - زما ښځه طلاقه كړه نو وكيل طلاقه كړه بيا مؤكِل په نكاح واخسته نو د وكيل

---

(١) فائده : فرق په مقتضى او محتمل كښ دا دى چه مقتضىٰ بلا نية ثابتيږى او محتمل بلا نية نه ثابتيږى البته مع النية ثابتيږى- سيد

دپاره دا حق نشته چه طلاقه کړی دغه ښځه دویم ځل په امر اول سره ځکه امر خپل انتهاء ته رسیدلے دے امر بالفعل تقاضا د تکرار نه کوی نو یو ځل ئے هغه مامور بالطلاق کړځیدلے دے نه ثانیاً او ثالثاً ۔

﴿ ولو قال زوجنی امرأة ﴾ ترجمه : که چا څوك وکیل مقرر کړو او هغه ته ئے اوویل ما لره د یو ښځے سره نکاح اوکړه نو دا امر دده به شامل نه وی تزویج مرة بعد اخریٰ ته یو ځل چه هغه وکیل دده دپاره نکاح د چا سره اوکړه نو امر خپل انتهاء ته اورسیده د دویمے ښځے سره ورلره نکاح دے نشی کولے ۔

﴿ ولو قال لعبده تزوج ﴾ او مولیٰ خپل عبد ته اوویل تا ته اجازه ده که ته نکاح کوے نو کولے شی نکاح اوکړه ندے شامل دا امر د آمر مرة بعد اخریٰ ته د یوے ښځے سره چه دا عبد نکاح اوکړی نو د دویمے ښځے سره ئے نه شی کولے ۔

﴿ لان للامر بالفعل ﴾ ترجمه : ځکه امر په فعل باندے عبد ته نو هغه طلب د تحقیق د فعل وی په سبیله د اختصار سره ځکه دا قول چه اضرب دے مختصر دے ددے قول دده نه چه افعل فعل الضرب ۔ اوکړه فعل د ضرب او د تزوّج معنی ده اطلب منك التزویج ۔ زه ستا نه تزویج طلب کوم ۔ نو د یو فعل مطالبه ده ۔

﴿والمختصر من الکلام والمطول سواء ﴾ ترجمه : نو د مختصر د کلام او مطول د کلام برابر وی په حکم کښ یعنی چه کوم حکم د مختصر منه وی نو هغه حکم د مختصر وی ۔

﴿ ثم الامر بالضرب امر بجنس تصرف ﴾

ترجمه : بیا د امر بالضرب امر دے په جنس تصرف باندے یعنی په جنس ضرب باندے ځکه دا ضرب مصدر دے او مصدر جنس وی او حکم د اسم جنس دا دے چه ان یتناول الادنیٰ عند الاطلاق چه دا به یو ادنیٰ ته شامل وی علی الاطلاق ۔ احتمال د کل جنس لری خو لیکن کل ضربات خو دلته کښ معلوم نه دی۔

﴿ وعلی هذا قلنا اذا حلف لا یشرب ﴾ ترجمه : او بناء په دے باندے مونږ وایو کچرے یو سړے قسم اوخوړ چه زه به اوبه نه څکم نو حانثیږی په سکلو د ادنی قطرے د

اوبو سره او کچرے نیت اوکړی دے په عدم شرب د اوبو سره د ټولو اوبو د عالم نو صحیح دے نیت دده۔ ﴿ ولهذا قلنا اذا قال لها ﴾ او ددے وجے نه وایو مونږ چه خاوند ښځے ته اوویل : طلقی نفسك ۔ ته ځان طلاقه کړه ، تفویض د طلاقوئے اوکړه نو هغے اوویل : طلقت ۔ ما ځان طلاق کړیدے نوواقع کیږی یو طلاق کچرے خاوند د درے طلاقو نیت کړے وی چه کل جنس دے نو صحیح دے نیت دده ۔ ځکه یا به مونږه فرد حقیقی اراده کوو او یا به فرد حکمی اراده کوو نو فرد حقیقی یو طلاق دے او فرد حکمی درے طلاقه دی۔

﴿ وكذلك لو قال للاخر ﴾ ترجمه : دغه رنګه کچرے یو سړی بل ته اوویل : طلقها ته ځما ښځے ته طلاق ورکړه نو حکم دا دے چه دا به یو طلاق ته شامل وی ۔ عند الاطلاق او کچرے ده نیت د درے طلاقو اوکړو نو صحیح دے نیت دده او کچرے آمر نیت د دوو طلاقو کړے وو نو نه صحیح کیږی ځکه چه دوه عدد محض دے نه فرد حقیقی دے او نه فرد حکمی دے۔

﴿ الا اذا كانت المنكوحة امة ﴾ ترجمه : مګر که منکوحه امه وی نو بیا صحیح کیږی نیت د ثنتینو ځکه نیت د ثنتینو په حق د امه کښ دا کل جنس دے۔

﴿ ولو قال لعبده تزوج ﴾ ترجمه : مولیٰ خپل عبد ته اوویل ځانله نکاح اوکړه نو واقع کیږی دا امر په نکاح کولو د یوے ښځے سره کچرے مولیٰ نیت د دوو ښځو اوکړو په خپل امر سره نو صحیح دے نیت دده ځکه دا کل جنس دے په حق د عبد کښ۔

﴿ ولا يتأتى على هذا فصل تكرار العبادات ﴾ دا دفع د توهم ده چه کله د شارع د طرفه حکم د صلوة راغلو چه صلوا نو چه عبد یو ځل مونځ اوکړو د سهر نو دا کافی شو بیا به ئے نه کوی ځکه امر خو تقاضا د تکرار نه کوی نو مکلف بار بار ولے مونځ کوی ؟۔دے **جواب** ورکوی چه تکرار په عباداتو کښ د اسبابو د وجے نه دے چه سبب متکرر کیږی نو امر هم متکرر کیږی ۔ ولا يتأتى الخ ترجمه : نه واردیږی اعتراض په قاعده مذکوره باندے د مسئلے د تکرار د عباداتو ځکه چه د تکرار دا عباداتو نه ثابتیږی په امر سره بلکه په تکرار د اسبابو سره دے هغه اسباب چه په هغے سره ثابتیږی وجوب او امر د طلب دا د هغه شی دپاره دے چه واجب وی په ذمه باندے په سبب سابق باندے نه د وجے د

اثبات د اصل وجوب نه ۔ ستا په ذمه چه کوم شے واجب شویدے نو هغه لا ساقط شوے نه دے ځکه کوم شے چه په ذمه باندے واجب شي نو د هغے سقوط دپاره دوه طریقے دي یا اداء وي او یا ابراء وي دلته نه اداء شویده او نه ابراء شویده د طرفه د شارع نه ۔

﴿ بالسبب السابق ﴾ په سبب سابق سره چه تکرار د اوقاتو دے اصل کښې سبب ددے دپاره وقت نه دے ایجاب د باری تعالی دے خو ایجاب د باری تعالی غیّب عنا نو دا ظاهري اسباب چه اوقات دي دا قائم شو په سبب خفیه باندے۔

﴿ وهذا بمنزلة قول الرجل ﴾ ترجمه : دا په منزله ددے قول د رجل دے اداء کړه ثمن د مبیعے ما ته یا ښځه خاوند ته اوواٸی ته اداء کړه نفقه د زوجے، نو دلته ثمن د مبیعے په نفس عقد سره د هغے وجوب راغلے دے هغه ئے سبب دے دارنګه سبب د وجوب د نفقے دپاره عقد د نکاح دے خو دا په ذمه د زوج باندے یا د مشتری باندے وو اداء شوے نه وو نو امر ورته اوشو چه ادا ئے کړه۔

﴿ فاذا وجبت العبادات ﴾ نو هر کله چه واجب شو عبادات په سبب سره نو متوجه کیږی امر د طرفه د شارع نه دپاره د اداء د ما وجب دپاره ددے عباداتو نه ۔ ﴿علیه﴾ په هغه مامور مکلف باندے۔

﴿ ثم الامر لما کان یتناول الجنس ﴾ ترجمه : بیا امر مطلق هر کله چه شامل وو جنس ته نو شامل به وی جنس ما وجب ته مثال د هغے دپاره هغه دے چه ویلے شي۔

﴿ان الواجب فی وقت الظهر الظهر ﴾ چه واجب په وقت د ظهر کښې د ماسپخین مونځ دے نو متوجه شو امر د شارع د طرفه دپاره د اداء د دغه ظهر چه کوم واجب دے په ذمه ددے مکلف باندے ۔

﴿ ثم اذا تکرر الوقت ﴾ ترجمه : بیا هر کله چه مکرر شو وقت نو مکرر شو واجب نو شامل شو امر واجب آخر ته د وجے د ضرورت د شمول ددے امر کل جنس ته چه واجب دے په مکلف باندے نو په کل جنس کښې خو ټول ماسپخین وي ۔

﴿ صوما کان او صلوة ﴾ برابره خبره ده چه هغه مامور به صوم وی او که صلوة وی نو شو تکرار د عباداتو متکرره و په دے طریقے سره نه په دے طریقه سره چه ګنے امر

تقاضا د تکرار کوی ـ دا رائے د صاحب شاشی ده ـ وائی چه امر شامل دے مصدر ته او مصدر شامل وی کل جنس ته او په کل جنس کښی صبائے ظهر عصر، مغرب، صبح هم شامل دے نو په اعتبار د تناول د کل جنس سره امر هغے ته متناولیږی او جمهور په نور الانوار او حسامی کښی جواب کوی چه دلته تکرار د عباداتو چه اعتبار د اسبابو سره دے اسباب چه متکرر شول نو امر هم ورته متکرر شو اګرکه امر متکرر حقیقةً نه دے لیکن حکما دے نو چه مکلف نن د سهر مونځ اوکړو شارع د طرفه ورته حکم شوے وو چه د سهر مونځ اوکړه ده اوکړو نو امر خپل انتهاء ته اورسیدو چه کله بله ورځ سهر شو نو بیا د شارع د طرفه ورته حکما بیا امر اوشو چه ددے مونځ ادائیګی اوکړه نو دلته تکرار د عباداتو په اعتبار د تکرار د اوامرو سره شو او اوامر یا حقیقةً متکرر کیږی او یا حکما نو دلته اګرکه اوامر حقیقةً متکرر نه دی لیکن حکما متکرر دی ـ

فصل المامور به نوعان

په مامور به کښ متعدد تقسیمات کوی یو تقسیم دے په اعتبار د حسن د مامور به سره ۔ بل تقسیم په اعتبار د وقت سره دے نو دا تقسیم د مامور به د وقت په اعتبار سره د روستہ په مامور به کښ تقسیم په اعتبار د حسن سره کوی ۔ صاحب د نور الانوار تنویع د مامور بہٖ باعتبار الحسن مقدم کړیده او تقسیم باعتبار الوقت ئے موخر کړیده او صاحب شاشی عکس کړیدے څه مضائقه پکښ نشته ۔

﴿ **المامور به نوعان** ﴾ ۔ترجمه : مامور به په دوه قسمه ده یو مامور به مطلقه ده د وقت نه او بله مامور به مقیده ده په وقت پورے صاحب شاشیؒ د مامور به مقیدے درے انواع ذکر کوی د اختصار نه کار اخلی او صاحب نور الانوار د مامور بہٖ مقید څلور انواع ذکر کوی د تفصیل نه کار اخلی ۔ د مامور بہٖ مطلق معنی دا ده چه دا وقت د هغے دپاره محدود او متعین نه دے او د مامور بہٖ مقید معنی دا ده چه دا وقت د هغے دپاره محدود متعین دے ۔

﴿ **فصل المامور به نوعان مطلق من الوقت** ﴾ ترجمه : مامور به دوه نوعے یوه مطلقه ده د وقت نه او دویم قسم مامور به مقیده ده ۔ حکم د مامور به مطلق دا دے چه اداء به واجبه وی په طریقے د تراخی سره په دے شرط سره چه قضاء نشی د هغه نه په عمر کښ کچرے په تول عمر کښ ترینه فوت شی نو گناهگار دے لکه قضاء د رمضان کچرے دے ئے د رمضان نه مخکښ قضاء راګرځوی او که روسته ئے قضاء راګرځوی خو چه په تول عمر کښ ترینه فوت نه شی دارنګه قضاء د صلوة هم دے چه په هر وقت چه ئے قضاء راګرځوی صحیح ده وقت معین ورلره نشته البته په اوقات مکروه و کښ ئے نشی راګرځولے ځکه وجوب په ده باندے کامله راغلے ده او که په وقت مکروه کښ ئے راوګرځوی نو دے به اداء ناقصه اوکړی۔

﴿ **وعلی هذا قال محمد فی الجامع** ﴾ بناء پدے ویلی دی امام محمد په جامع

کبیر کښې کچرې یو سړی نذر اوکړو چه زه به د میاشتے اعتکاف کوم نو جائز ده ده لره چه اعتکاف اوکړی په هره میاشت کښې چه خوښه ئے شی۔

﴿ ولو نذر ان یصوم شهراً ﴾ کچرې سړی نذر اومنه چه روژې به نیسی یوه میاشت نو جائز ده ده لره چه روژه اونیسی کومه میاشت چه خوښه ئے شی، ځکه دا نذر مطلق دے او د مطلق دپاره وقت معین نه وی په دے سره احتراز مقصود دے د هغه نذر معین نه ولے کچرے د نذر منلے وو چه زه به اعتکاف ددے میاشتی او یا روژه ددے میاشتے نیسم نو په هغه بیا هم هغه متعین میاشته اعتکاف یا روژه نیول واجب دی نو دا بیا مامور به مقیده ده۔

اعتکاف درے قسمه دے واجب د نذر اعتکاف مسنون په اخیر لسو ورځو د رمضان کښې او مستحب په هر وقت کښې چه مسجد ته لاړ شی نو نیت د اعتکاف به کوی۔

﴿ وفی الزکاة وصدقة الفطر ﴾ ترجمه: او په زکوٰة او په صدقة الفطر او په عشر کښې مذهب معلوم او مذهب مختار دا دے چه دے په تاخیر ددے سره زیاتے کونکے نه ګرځی ځکه که نصاب هلاك شو د سړی نو زکوٰة واجبه ساقط شو ځکه وجوب د زکوٰة دپاره وقت متعینه نشته چه حولان حول پرے اوشی او فورا دے زکوة ورکوی بلکه په هره میاشت کښې چه ئے ورکوی نو جائز ده اګرکه دا تعجیل فی الزکوٰة مستحب دے خو واجب نه دے حتیٰ که روسته دے زکوة ادا نه شی دارنګه د صدقة الفطر وجوب هم په ده باندے مطلق دے چه په هره ورځ ئے ادا کوی نو دا ادا ده قضاء نه ده۔

﴿ والحانث اذا ذهب ماله ﴾ ترجمه: او حانث فی الیمین سړے چه کله دده مال هلاك شی اووه ګرځی دے فقیر نو کفاره به ورکوی په روژے سره ځکه کفاره د یمین کښې اعتاق د رقبه دے که ددے طاقت ئے نه وی نو لسو مسکینانو ته روټئ یا کپړے ورکول دی او که ددے طاقت ئے نه وو نو درے ورځے روژے به نیسی خو چه کله ئے طاقت د اطعام وی نو کفاره بالصوم به نه ورکوی۔

﴿ وعلی هذا لا یجب قضاء الصلوة فی الاوقات المکروهة ﴾ او بناء په دے قاعده باندے نه ده واجب قضاء د مانځه په اوقات مکروهه و کښې ځکه هر کله چه دا

قضاء په ده باندے واجب شوه مطلقا نو واجب شوه کامله نو نه وځی د ذمه واری نه په اداء ناقص سره چه په اوقات مکروهه و کښې اداء کړی نو ادا ناقصه ده نو اداء کما وجب نه شوله۔

﴿ **فیجوز العصر عند الاحمرار** ﴾ جائز دے مونځ د مازیګر په وخت د احمرار د نمر کښې اداء او نه دے جائز قضاء۔ د یو سړی نه د مازیګر مونځ قضاء شی او په بله ورځ کښې ئے د نمر د پریوتو په وخت کښې کوی نو اداء ناقصه ده او واجب شوے وو په ده باندے صلوة العصر کامل نو دا صحیح نه ده ځکه ادا کما وجب نه ده او که چرے د مازیګر مونځ هم په دغه ورځ د نمر د پریوتو په وخت کښې کوی نو صحیح ده ځکه دا اداء کما وجب ده په ده باندے وجوب هم ناقص راغلے وو ځکه سبب د وجوب د عصر دپاره وقت متصله دے او داوقت متصله نه وو مګر ناقص وو نو وجوب راغلے وو په ده باندے ناقص نو که دے ئے په حین د غروب کښې کوی نو اداء ناقصه شوله ځکه وجوب هم ناقص وو نو اداء کما وجب شو۔

﴿ **وعن الکرخی ان موجب الامر المطلق** ﴾

ترجمه: او د امام کرخی نه رانقل شویدی چه موجب د امر مطلق وجوب دے علی الفور بلا تراخی او خلاف دده سره د جمهورو علماؤ په وجوب کښې دے او په دے کښې اختلاف نشته چه جلتی کول په منلو د امر کښې مستحب دی، جمهور علماء هم قائل دی په دے چه مامور به مطلق باندے جلتی پکار ده مستحب ده ځکه عمر غیر یقینی دے پته نشته په دے ژوندے پاتے کیدے شی او یا که نشی پاتے کیدے۔

ثمره د خلاف صاحب نور الانوار او صاحب د هدایه ذکر کوی کچرے ده په ادا د مامور به کښې تاخیر اوکړو نو دے ګناهګار دے مردود الشهادة دے او عند الجمهور دے ګناهګار هم نه دے او مردود الشهادة هم نه دے بلکه مقبول الشهادة دے۔

﴿ **واما الموقت فنوعان** ﴾ صاحب نور الانوار ئے انواع اربعه و ته متنوعه کوی او داختصار کریدے تنوع کوی ئے نوعینو ته۔

ترجمه: هر چه مامور به موقته ده نو دا په دوه قسمه ده یوه نوعه هغه ده چه وی وقت ظرف دپاره د فعل تردے چه شرط به نه وی استیعاب د کل وقت په دے فعل باندے

لکه مونځ مامور به ده خو کل وقت د صلوة د يو مونځ دپاره راګيرونکے نه دے ۔

﴿ومن حکم هذا النوع ان وجوب الفعل فيه لا ينافي﴾ من تبعيضيه دے کله من دپاره د استغراق وی خو اصل په من کښ تبعيضيه دے۔

ترجمه : بعض د احکامو ددے نوعے نه دا ده چه وجوب د فعل پدے کښ منافی نه دے د وجوب د فعل آخر په دغه وخت کښ من جنسه چه د جنس نه بل يو فعل دغه وخت کښ په ځان باندے لازموی نو منافات ئے نشته ۔

﴿حتى لو نذر ان يصلى كذا كذا ركعة﴾۔

کچرے يو سړی نذر اومنه چه زه به دومره دومره رکعته مونځ کوم په وخت د ظهر کښ نو هغه به پرے لازم وی۔

﴿ومن حکمه ان وجوب الصلاة﴾ اوبعض د احکامتو ددے نوعے نه دا دے چه وجوب د صلوٰة پدے وخت کښ به منافی نه وی د صحت د صلوة آخر سره په دے وخت کښ تردے کچرے مشغول کړی وخت د ماسپخين تول دپاره د غير د ماسپخين نه نو جائز دے ۔ ﴿ومن حکمه ان لا يتادى المامور به﴾ ۔ترجمه : او بعض د احکامو د مامور به نه دا ده چه نه به ادا کيږی مامور به مګر په نيت سره به ادا کيږی ځکه غير د مامور به نه هر کله چه مشروع شو په دے وخت کښ نو نه متعين کيږی مامور به په کولو سره بغير د نيت نه اګرکه تنګ وی وخت ځکه اعتبار د نيت په اعتبار د مزاحم سره دے او دلته اعتبار د مزاحمت خو باقی دے په وخت د تنګ والی د وخت کښ ۔

﴿والنوع الثاني ما يكون الوقت معياراً له﴾ ترجمه : او نوع ثانی د مامور به موقت هغه ده چه وی وقت معيار ددے مامور به دپاره يعنی دے مامور به به د تول وقت استيعاب کړے وی چه د وقت په کمی سره به کمے د مامور به راځی او زياتی د وقت سره به زياتے د مامور به راځی لکه صوم شو چه دا مامور به ده او وقت ددے دپاره معيار دے ۔

﴿فانه يتقدر بالوقت وهو اليوم﴾ ۔ترجمه : ځکه دا صوم ددے تعين کيږی په وقت پورے او دا يوم دے خو دا صوم شرعی دے چه عبارت دے د امساك نه د مفطرات ثلاثه د نه نهاراً مع النية ۔ صوم لغوی نه دے مراد ځکه صوم لغوی مطلق امساك ته وائی۔

﴿ومن حكمه ان الشرع اذا عين له وقتاً﴾ او بعض د احكامو ددے نوعے نه دا دے چه شرع چه کله تعین وکره ددے صوم دپاره مثلاً نو نه دے واجب غیر ددے صوم نه په دغه وخت کښې او نه دے جائز اداء کول د غیر په دغه وخت کښې۔

﴿حتى ان المقيم الصحيح﴾ ترجمه: تردے چه صحیح مقیم کچرے واقع شی امساك دده په رمضان کښې د واجب آخر نه نو واقع کیږی به د رمضان نه ده عما نوئ نه۔ قید د صحیح او مقیم سره ئے احتراز اوکړو د بیمار او مسافر نه ځکه د هغوی حکم روسته رازوان دے ۔نو د صحیح مقیم نیت د واجب آخر نه په رمضان کښې نه صحیح کیږی بلکه د رمضان نه به شمارلے کیږی ځکه شارع حکم کړیدے اذا انسلخ شعبان فلا صوم الا من رمضان۔

﴿واذا اندفع المزاحم في الوقت الخ﴾ هر کله چه مزاحمت مندفع شو چه وقت کښې نو ساقط شو تعین په نیت سره ځکه دا تعین د قطع د مزاحمت دپاره وو او مزاحمت خو شته نه۔

﴿ولا يسقط اصل النية﴾ او ساقط نه دے اصل نیت ځکه چه اصل امساك نه گرځی صوم شرعی مگر په نیت سره ځکه صوم شرعا امساك د خوراك، سكاك جماع نه دے نهاراً مع النية ۔ ﴿وان لم يعين (۱) الشرع له﴾ ترجمه: کچرے شارع ددے مامور به دپاره وقت نه وی معین کړے نو دا وقت نه متعین کیږی ددے مامور به دپاره په تعین د عبد سره تردے چه کچرے معین کړی عبد څه ورځے دپاره د قضاء د رمضان نو نه متعین کیږی دغه ورځے دپاره د قضاء او جائز به وی په دے متعین ورځو کښې روژه د کفارے او روژه نفلی او جائز دے په دغه ورځو کښې قضاء د رمضان په دغه ایامِ معینه و کښې هم او په غیر ددے ایامو کښې هم جائز دے۔

﴿ومن حكم هذا النوع انه يشترط تعين النية﴾

ترجمه: او بعض د احکامو ددے نوع نه دا دے چه شرط به وی تعین د نیت د وجے د

(۱) (وان لم يعين آه: دا بیان د قسم ثانی دی د قسمینو د معیار نه او دا هغه دی چه شرع ورله وخت معین کړی نه وی ۔ سید فضل الحق۔

وجود د مزاحم نه ـ قضاء د رمضان چه دے راګرځوی نو په هغے کښ به تعین د نیت د جانبه د عبد نه ضروری وی د شپے نه کچرے د شپے نه د نیت اونکړو نو په صبا ورځ کښ خو د ډیرو روژو ګنجائش شته نو د قضاء د رمضان نه به دا نه واقع کیږی۔

﴿ **ثم للعبد جاز ان یوجب شیئاً** ﴾ ترجمه : نو بیا جائز ده دپاره د عبد چه لازم کړی په خان باندے یو شے موقت وی او که غیر موقت وی لیکن دده دپاره د مغیرکولو د حکم د شارع ندے روا ـ چه د شارع په حکم کښ دے تغیر اوکړی۔

﴿ **مثاله اذا نذر یوماً** ﴾ ترجمه : مثال ددے چه یو سړے نذر اوکړی چه روژه به نیسی یوه ورځ معینه نو لازم ده په ده باندے دغه روژه کچرے ده په دغه ورځ معینه کښ نیت اوکړو د قضاء د رمضان یا د کفارے د یمین خپل نو دا جائز ده ځکه شارع قضاء د رمضان مطلق ګرځولے وه د هغے دپاره وقت معین نه وو نو قدرت نشته د عبد د تغیر د دغه وقت مطلق په تقید سره ددے مطلق بغیر د دغے ورځے نه۔

﴿ **ولا یلزم علی هذا** ﴾ ترجمه : پدے باندے دا اعتراض نه واردیږی چه یو سړے روژه اونیسی د نفلو چه دا خو د منذور نه واقع کیږی د عما نوئ نه نه واقع کیږی ځکه چه نفل خو حق د عبد دے او عبد مستقل دے په خپل نفس باندے د پریخودلو ددے نفلو هم او د کولو ددے نفلو هم نو جائز ده عبد لره چه دے خپل فعل لره ترجیح ورکړی په هغه ځه کښ چه هغه حق دده دے نه په هغه ځه کښ چه هغه حق د شارع وی۔

نو که یو سړی نذر اومنه د یوے ورځے معینے د روژے او په دغه ورځ کښ ده نیت د نفلو اوکړو نو دا صحیح دے (۱) ځکه نذر هم فعل دده دے او نفل هم فعل دده دے نو خپل فعل لره په خپل فعل باندے خو دے ترجیح ورکولے شی۔

﴿ **لا فیما هو حق الشارع** ﴾ ترجمه : تغیر او تبدیل نشی کولے عبد په هغه ځه کښ چه هغه حق د شارع دے۔

﴿ **وعلی اعتبار هذا المعنی قال مشائخنا** ﴾ ترجمه : بناء په اعتبار د دغه

---

(۱) تنبیه : دا روژه دده به د نذر وی د نفل نیت ئی لغوه دی بلکه د نذر نه به حساب وی۔ فتدبر۔ سید

معنی ویلی دی مشائخو زمونږ کله چه ښځه او خاوند شرط کړی په خلع کښې چه د ښځې دپاره به نفقه نه وی او نه به سکنیٰ وی نو ساقطیږی نفقه نه سکنیٰ، ځکه نفقه خو حق د ښځې وو او هغې خپل حق ساقط کړو نو ساقطولے ئے شی۔

﴿ دون السکنیٰ ﴾ بے د سکنیٰ نه ځکه سکنیٰ حق د شارع دے چه ایام د عدت به ښځه په کور د خاوند کښې تیروی نو دا دوی نشی ساقطولے۔

﴿ حتی لا یتمکن الزوج من اخراجها ﴾ تردے چه چه قدرت به نه وی د زوج دپاره په ویستلو د ښځے د کور د عدت نه ځکه سکنیٰ په کور د عدت کښې خو حق د شارع دے نو قدرت نشته عبد لره د اسقاط ددے په خلاف د نفقے نه۔

صاحب شاشی دا دوه نوعے ذکر کړی او نوع ثالثه ئے ترك کړه یا خو لاجل الشهرت او یا ئے مقایسةً ددے دوه نوعو نه معلومیده هغه نوع دا ده چه دا وقت د هغې مامور به دپاره من وجه ظرف وی او من وجه معیار وی لکه وقت د حج شو نو وقت الحج من وجه ظرف دے (ظرف هغې ته ویلے شی چه زائد وی په مظروف باندے)ځکه چه حج یا پنځه ورځو کښې ادا کیږی او یا په شپږو ورځو کښې ادا کیږی که سرے په (۸) تاریخ د ذی الحجه باندے احرام اونړی نو د اتمے نه تر (۱۲) دولسمے ورځے پورے پنځه ورځے د حج شوے نو په (۱۳) ورځ دده خوښه ده که پاتے کیږی په منی کښې رمی د جمراتو ته نو پاتے دے شی او که نه پاتے کیږی نو راڈ شی مکے ته او طواف وداع ڈ اوکړی او راځی دے نو کچرے دے دیارلسمے ورځے ته پاتے شو نو شپږ ورځے شوے او که پاتے نه شو نو پنځه ورځے شوے د حج او اشهر د حج خو شارع شوال ذی القعده او لس ورځے د ذی الحجے ذکر کړیدی نو دا نور وقت زائد دے په مامور به نو دا من وجه مشابه شو د ظرف سره او من وجه مشابه دے د معیار سره ځکه بندے یو کال کښې په ده صرف یو حج لازم دے دوه نشی کولے نو که دا حج من کل الوجوه ظرف وے نو بیا خو پکار وه چه عبد پکښې نور فرائض ادا کولے شی په شان د وقت الصلوة چه په یو وخت د مونځ کښې عبد علاوه د اداء نه ډیر فرائض او نوافل اداء کولے شی نو په وقت الحج کښې هم بیا پکار دا ده چه د زائد حجونه فرضی یا نفلی کولے نو جائز دے وے والامر لیس کذلك۔

نو پدے اعتبار سره وقت الحج معیار شو نو من وجه مناسبت ئے د ظرف سره دے او من وجه مشابهت ئے د معیار سره دے نو ددے وجے نه اصولین دے قسم ته مشکل وائی د مشکل معنی ده مشتبه یعنی ددے وقت اشتباه راغلے ده چه من وجه مشابهت ئے د ظرف سره دے او من وجه د معیار سره دے -

فصل

الامر بالشیء یدل علی حسن المامور به

اوس تقسیم په امر کښې ذکر کوی په اعتبار د مامور به سره چه یو آمر مامور ته حکم اوکړو په یوه مامور به سره نو پدے مامور بہ کښې به حسن وی یا به ذات ددوی کښې حسن وی لکه صلاة چه دا دلالت کوی په تعظیم د رب باندے او یا به فی نفسہ په دے کښې حسن موجود نه وی بلکه دا به وسیله وی دپاره د غیر لکه اودس شو په دے کښې حسن نشته خو حسن په صلوة کښې دے او دا د هغے دپاره وسیله ده - خو مامور به دوه قسمه ده یو هغه چه د شارع د طرفه مامور به وی دویم هغه ده چه د عبد د طرفه نه وی کومه مامور به چه د شارع د طرفه وی نو هغه تقاضا د حسن کوی او کومه مامور بہ چه د شارع د طرفه نه وی نو هغه تقاضا د حسن نه کوی لکه انسان بل ته حکم د قتل د غیر اوکړی نو پدے کښې خو حسن نشته البته چه الله حکم اوکړی چه کافر اووژنئ نو پدے کښې حسن دے اگرکه په بعض مواضعو کښې به زمونږ عقول ادراك د هغه حسن نشی کولے -

فصل الامر بالشیء الخ ترجمه : امر بالشیء دلالت کوی په حسن د مامور به باندے کله چه آمر حکیم وی - پدے سره احتراز اوشو د هغه آمر نه چه هغه حکیم نه وی -

﴿ لان الامر لبیان ان المامور به مما ینبغی ﴾

کله چه امر ددے دپاره وی چه مامور به د هغه قبیلے نه ده چه پکار ده چه موجود دے کړے شی نو تقاضا کوی دا د حسن د مامور به -

﴿ ثم المامور به نوعان ﴾ مامور بہ پہ اعتبار د حسن سرہ پہ دوہ قسمہ دہ یوہ حسن بنفسہٖ دہ او بلہ حسن لغیرہ دہ نو هغه مامور بہ چه حسن بنفسہٖ دہ لکه ایمان باللہ شکر د منعم حقیقی دارنگه صدق، دارنگه عدل، صلوۃ یا پہ شان ددے د عبادات محضه و نه پدے تولو کښی ذات ددے مامور بہ تقاضا کوی د حسن ۔

﴿ فحکم هذا النوع ﴾ نو حکم ددے نوعے د مامور بہ دا دے چه هر کله واجب شو پہ عبد باندے اداء ددے نو نه بہ ساقطیږی د ذمی د مکلف نه مگر پہ اداء سرہ بہ ساقطیږی ۔ دا اداء بہ پہ هغه ځائے کښی وی چه هلته احتمال د سقوط نه لری لکه ایمان باللہ او هر چه هغه مامور بہ دہ چه هغه احتمال د سقوط لری نو هغه ساقطیږی پہ اداء سرہ هم او پہ اسقاط د آمر سرہ هم ۔

﴿ وعلی هذا قلنا اذا وجبت الصلوۃ ﴾ ترجمه : او بناء پہ دے قاعدہ باندے مونږ وایو چه کله واجب شو مونځ پہ اول وقت کښی نو ساقط شو واجب پہ اداء سرہ چه مامور پہ مامور بہٖ باندے اتیان اوکړہ نو واجب ددہ د ذمی نه ساقط شول ۔

﴿ او باعتراض الجنون ﴾ ۔ او یا پہ لیونتوب سرہ یا پہ حیض او نفاس سرہ چه پہ دغه وخت کښی مکلف لیونے شو یا حائضه شوہ یا نفاسه شوہ نو هم ترینه مامور بہ ساقطه شوہ پہ سقوط د آمر سرہ۔

﴿ باعتبار ان الشرع اسقطه ﴾ پہ دے اعتبار سرہ چه شارع ساقط کړیدے د مکلف نه مونځ پہ وخت ددے عوارضو کښی او نه بہ ساقطیږی د تنگ والی د وقت یا د علم د اوبو د وجے نه یا د عدم د جامو د وجے نه یا پہ شان ددے نور عوارض ۔ یعنی که وقت تنگ دے نو قضاء بہ اوکړی که اوبه نه وی نو تیمم دے اووهی که لباس نه وی نو پہ بربنډہ دے مونځ اوکړی۔ ﴿ ونحوہ ﴾ کله چه اشتباہ د قبلے پرے راغلے وہ یا پہ دہ اکراہ اوکړے شوہ پہ ترک د صلوٰۃ باندے نو پہ دے صورتونو کښی قضاء دہ ځکه پہ دے عوارضو سرہ د طرفه د شارع نه سقوط د مونځ نه دے راغلے ۔

﴿ والنوع الثانی مایکون حسنا بواسطة الغیر ﴾ او دویمه نوع د مامور بہ هغه دہ چه پہ هغے کښی حسن راغلے وی پہ اعتبار د غیر سرہ او دا پہ شان د سعی جمعے ته

او یا لکه اودس دپاره د مانځه ځکه سعی حسن ده په واسطه د کون ددے مفضی د اداء د جمعے ته او اودس حسن دے په واسطه ذ کیدو ددے سره چه مفتاح ده د مونځ دپاره۔

تشریح : یعنی سعی کښ فی نفسه حسن نشته دا خو قطع د مسافت دو او منده وهل دی او تعب النفس دے خو حسن په کښ د وجے د اداء د جمعے نه راغلے دے چه هغه حسن ده نو دا حسن لغیره شو۔

دارنګه اودس کښ فی نفسه حسن نشته بلکه تبرید د اعضاؤ دے او اضاعت د اوبو دے لیکن حسن پکښ د وجے د صلوٰة نه راغلے دے چه دا آله ده دپاره د صلوة او شرط دے دپاره د صلوٰة او صلوٰة خو حسن دے نو اودس حسن لغیره شو۔

﴿ **وحکم هذا النوع انه یسقط تلک الواسطة** ﴾ حکم ددے نوعے دا دے چه ساقطیږی به دغه واسطه په سقوط ددے ذی الواسطے سره تردے چه واجب نه ده سعی په هغه چا چه په هغه جمعه واجبه نه وی لکه مریض شو یا مسافر وغیره شول۔

﴿ **ولا یجب الوضوء علی من لا صلاة علیه** ﴾ او ندے واجب اودس په هغه چا چه په هغه باندے مونځ واجب نه وی لکه صبی او مجنون، حائضه، نفاسه شول۔

﴿ **ولو سعی الی الجمعة فحمل مکرها الی موضع آخر** ﴾ کچرے یو سړے سعی اوکړه جمعے ته نو دے په زوره بل ځائے ته بوتلے شو مخکښ د اقامت د جمعے نه نو واجب ده په ده باندے سعی ثانیا، ځکه د طرف د شارع نه دده نه سعی ساقطه شوے نه ده۔

﴿ **ولو کان معتکفاً فی الجامع** ﴾ کچرے یو سړے معتکف وو په جامع مسجد کښ نو سعی به دده نه ساقطه وی ځکه مقصود د سعی نه اداء د جمعے ده او دے په جامع مسجد کښ موجود دے نو سعی ته څه ضرورت پاتے نه شو نو هغه ساقطه شوه ځکه چه دا خو واسطه ده۔

﴿ **وکذلک لو توضأ فاحدث قبل اداء الصلوة** ﴾ دغه رنګه که یو سړی اودس اوکړو نو دے بے اودسه شو مخکښ د اداء د صلوٰة نه نو واجب ذے په دے باندے دوباره اودس کول ځکه مقصود اصل کښ صلوٰة دے او دا اداء شوے نه دے۔

﴿ **ولو کان متوضئا** ﴾ کچرے سړے متوضی وو په کوم وخت کښ چه په ده

باندے مونږ واجب شو ندے واجب په ده باندے تجدید د اودس ځکه وضوء خو مفتاح د صلوٰۃ دے او دا خو موجود دے نو بل ته ضرورت نشته ۔

﴿ **والقريب من هذا النوع الحدود والقصاص** ﴾ او قریب دے نوع ته حدود او قصاص او جهاد دے۔ ﴿ **فان الحد حسن** ﴾ ځکه په حدودو کښې فی نفسه څه حسن نشته بلکه دا تخریب د اعضاء دے او تعذیب د نفس دے خو دا حسن ګرځیدلے دے په واسطه د زجر عن الجنایة نه چه خالي والي راشي د عالم د فساد نه دارنګه په قصاص کښې فی نفسه حسن نشته بلکه اتلاف د نفس دے خو دا حسن ګرځیدلے دے د وجے د زجر عن الجنایة نه چه خالي والے د عالم د فساد نه راشي چه يو قاتل قصاص شي نور به ترینه عبرت واخلي نو تحفظ د انفس به راشي ۔

﴿ **والجهاد حسن** ﴾ په جهاد کښې فی نفسه حسن نشته بلکه تخریب د بلادو دے خلق قتلول دي خو په دے کښې حسن د وجے د غیر نه راغلے دے چه هغه اعلاء د کلمة الله ده او دفع د شر د کفارو ده ۔

﴿ **ولو فرضنا عدم الواسطة** ﴾ کچرے فرض کړو مونږ عدم د واسطے نو بیا دا مامور به نه پاتے کیږي نو کچرے جنایت نه وي نو واجب نه دے حد او کچرے کفر مفضی جنګ ته نه وي نو بیا جهاد نه دے واجب ۔

﴿ **فصل الواجب بحكم الامر نوعان** ﴾ اوس تفریع د مامور به کوی اداء او قضاء ته په امر سره چه کومه مامور به لازمیږي نو دا به یا وجوب اداء وي او یا به وجوب قضاء وي ۔ اداء هغے ته وائي چه هغه عین شي واجبه خپل مستحق ته ادا کړي او که خپل مستحق ته ئے ادا اونه شوه نو د هغے قائمقام مثل د هغے دے چه هغے ته ئے ادا کړي دینه قضاء وائي خو دا په هغه شي کښې چه هلته مماثلت موجود وي کوم شي کښې چه مماثلت موجود نه وي نو هلته بیا قضاء نشته بلکه سقوط دے ۔

فصل -الواجب

واجب په حکم د امر سره دوه قسمه دے اداء ده او قضاء ده نو اداء عبارت دے د تسلیم د عین واجبو مستحق خپل ته صاحب نور الانوار د عین الواجب نه تعبیر کړیدے په نفس واجبو سره چه نفس واجب خپل مستحق ته اداء شی ۔

﴿ والقضاء عبارة عن تسليم مثل الواجب ﴾

او قضاء عبارت دے د تسلیم د مثل د واجبو خپل مستحق ته د خپل طرف نه۔

سوال : تسلیم خو په جواهرو کښې راځی په اعراضو کښې نه راځی ؟ ۔

جواب : ددینه صاحب د نور الانوار جواب ورکړیدے او د تسلیم نه ئے تعبیر کړیدے چه دلته د تسلیم نه د عدم نه وجود ته راوستل مراد دی او دا لکه څنګه چه په جواهرو کښې موجودیږی نو دغه رنګه په اعراضو کښې هم موجودیږی ۔

دویم جواب شارحینو د حسامی کړیدے چه احکامات شرعیه په حکم د جواهرو کښې دی په حکم د اعراضو کښې نه دی نو تعبیر ترینه په تسلیم سره صحیح شو۔

مثال د قضاء نور الانوار ذکر کړیدے چه د سړی نه د پرون ماسپخین مونځ قضاء شویدے او دے نن ماسپخین مونځ د پرونی ماسپخین مونځ دپاره صرف کوی نو دا حق دده دپاره نشته ځکه دا خو دده حق نه دے بلکه د شارع حق دے نو دا څنګه دے صرف کوی البته نفل د عبد خپل حق دے که دے نفل خپل حق راخلی او هغه اداء ته ئے صرف کوی نو دا صحیح ده ۔

﴿ ثم الاداء نوعان ﴾ صاحب شاشی دلته د اختصار نه کار اخستے دے صاحب د نور الانوار او صاحب د حسامی تفصیل کړیدے هغوی وائی چه ادا په دوه قسمه ده اداء محض او اداء مشابه بالقضاء بیا اداء محض په خپل کور په دوه قسمه ده اداء کامل او اداء قاصر۔ نو د اداء درے اقسام شول، اداء محض کامله، اداء محض قاصره او اداء مشابه بالقضاء۔ او څلور قسمه د قضاء دپاره دی ۱ – قضاء محض ۲ – قضاء مشابه بالاداء۔ بیا قضاء

محض په دوه قسمه ده بمثل معقول او بمثل غیر معقول ـ

بیا بمثل معقول په دوه قسمه ده کامله او قاصره نو څلور اقسام د قضاء شول ـ

۱- قضاء محض بمثل معقول کامل ۲- قضاء محض بمثل معقول قاصر ـ

۳- قضاء بمثل غیر معقول ٤- قضاء مشابه بالاداء ـ

نو څلور دا شو او درې اقسام د اداء دی نو مجموعه اووه (۷) اقسام شول دا اووه انواع چه څنګه په حقوق الله کښ جاری کیږی نو دغه رنګه په حقوق العباد کښ هم جاری کیږی نو ۷× ۲=۱٤- ټول ټرینه (١٤) انواع متحقق شول ـ صاحب شاشی اختصار کړیدے بعض ئے ذکر کړیدی او بعض ئے ترك کړیدی استیعاب د جمیع انواعو نه کوی ـ

﴿ فالاداء نوعان ﴾ پس اداء په دوه قسمه ده کامله او قاصره نو کامله لکه اداء د صلوة په خپل وخت کښ په امامتی سره ځکه مشروعیت د صلوة ابتداء بالجماعة راغلے ده په خپل وقت کښ نو چه ته ئے داسے اداء کړے نو دا اداء کامله شوه ـ

﴿ او الطواف متوضئا ﴾ یا طواف کول په اودس.

ځکه ولیطوفوا بالبیت العتیق نه مراد طواف زیارت دے او طواف زیارت متوضیا دے ځکه نبی علیه السلام وائی : الطواف بالبیت کالصلوة نو د صلوة دپاره اودس شرط وونو د طواف دپاره هم شرط شو نو متوضیاً طواف کول اداء کامله شوه کچرے دبے اودسه طواف اوکړو نو نقصان په کښ راغلو د هغے جبیره به دم وی.

﴿ وتسلیم المبیع سلیما ﴾ مخکښ د حقوق الله مثالونه وو او دا مثال د حقوق العباد دے ـ ترجمه : او سپارل د مبیع دی سالم د عیوبو نه لکه څنګه چه تقاضا کوی دده عقد د بیع او حواله ئے کړی مشتری ته، مبیعه ئے په مشتری خرخ کړه او سالم من العیوب وه او هم په دغه طریقه ئے حواله کړه مشتری ته نو دا اداء کامله ده۔

﴿ وتسلیم الغاصب عین المغصوبة ﴾

اوتسلیم د غاصب عین مغصوبے لره لکه څنګه چه ئے غصب کړے وه، غاصب د مغصوب منه نه مغصوبه غصب کړی او په کوم کیفیت ئے غصب کړے وه هم په هغه کیفیت ئے مغصوب منه ته حواله کړه نو دا اداء کامله ده ـ

﴿ **وحكم هذا النوع** ﴾ او حكم ددے نوعے دا دے چه حكم به كولے شي په خروج د مامور سره د ذمے د مكلف نه په اداء كامل سره.

﴿ **وعلى هذا قلنا** ﴾ او بناء په دے چه حكم په اداء كامله كښې خروج دے د ذمے نه وايو مونږ غاصب چه هر كله واخلي (۱) مغصوب منه د مالك د مغصوبے نه او يا گانړه كړي غاصب مغصوبے لره د مالك سره او يا ويخښي غاصب مغصوبے لره مالك ته او په دے ټولو صورتونو كښې مغصوبه اوسپاري مالك ته نو فارغيږي ذمه د غاصب او كيږي دا اداء د حق د مالك په غاصب ثمن (۲) نه لازميږي او لغوه به وي هغه چه تصريح كړيده په هغے سره غاصب د بيع او د هبے او د رهن نه.

﴿ **ولو غصب طعاما فاطعم مالكه** ﴾ كچرے يو سړي غصب كړو طعام او هغه ئے په مالك د طعام اوخوروه او مالك ته پته نه وه چه دا طعام دده دے او يا ئے غصب كړه كپړه نو واغوستله غاصب مالك د ثوب ته او هغه نه پوهيدو چه دا دده كپړه ده نو كيږي دا اداء حق د مالك، ځكه عين حق خپل مستحق ته حواله شه.

﴿ **والمشتري في البيع الفاسد** ﴾

او مشتري د بيع فاسدے كچرے عاريةً ئے دغه مبيع بايع ته وركړه او يا ئے د هغه سره گانړه كړه يائے هغه لره په اجرت وركړه او يا ئے په هغه خرڅه كړه او يا ئے هغه ته هبه كړله او پدے ټولو صورتونو كښې ئے هغه ته حواله كړه نو كيږي دا اداء د حق د هغه، ځكه بيع فاسده خو واجب الرفع وي او رفع پدے سره كيږي چه عين مبيعه بايع ته حواله كړے شي او په دے صورتونو كښې حواله كړے شوه.

﴿ **ويلغو ما صرح به** ﴾ او لغوه كيږي هغه چه تصريحات كړيدي په هغے سره مشتري د بيعے او هبے وغيره نه.

﴿ **واما اداء القاصر** ﴾ هر چه اداء قاصره ده نو حواله كول د عين واجب دي سره د

---

(۱) بلكه مقصد دا دي چه خرڅه كړي غاصب مغصوبه په مالك د مغصوبي باندي. فتدبر. سيد.

(۲) غاصب بيع كړيده نو په مالك ثمن لازم نه دي ځكه ويلغو ما صرح به. سيد

نقصان نه په صفت کښې لکه صلوٰة بغير د تعديل الارکان نه يا طواف په حالت د بے اودسی کښې او يا رد د مبيعے چه مشغوله بالدين يا بالجناية گرځيدلے وی يا رد کول د غاصب مغصوبے لره مغصوب منه ته په دے شان سره چه هغه مباح الدم گرځيدلے وی په سبب د قتل سره او يا مشغوله گرځيدلے وی بالدين او يا مشغوله گرځيدلے وی په جنايت سره په داسے سبب سره چه هغه سبب موجود شوے وی په يد د غاصب کښې۔

نو دا اداء شوه خو قاصره ده ۔ مثلاً يو سړی غلام غصب کړو او ددے غاصب په لاس کښې هغه قتل اوکړو يا بل څه جنايت ئے اوکړو او ده بيا مغصوب منه ته حواله کړه او هغه په قتل کښې قصاص شو نو امام ابوحنيفه وائی چه دا اداء د غاصب د طرفه نه نه ده صحيح شوے ځکه ددے سبب متحقق شويدے په يد د غاصب کښې نو دا اداء کلا اداء ده نو مغصوب منه به د غاصب نه تاوان اخلی او صاحبين وائی چه اداء اوشوه اگرکه قاصره ده خو حق د رجوع د ضمان د مغصوب منه په غاصب باندے نشته ۔

﴿ واداء الزيوف مكان الجياد ﴾ او اداء کول د کوټه مال په ځائے د کره باندے کله چه پته نه وه دائن ته ددے زيوفو نو دا اداء قاصره شوه ځکه زيوف هم د جنس د دراهمو دنانيرو نه دی نو دلته به دا نه کوی چه دا زيوف واپس کړی او هغه نه مطالبه اوکړی د جيدو دا مذهب د امام ابوحنيفه دے ځکه چه دا وجوب راغلے په مديون باندے د دائن داسے شی چه د هغے نظير نشته نه عقلاً او نه شرعاً ځکه دا صفت د جياد منفردا مثل شرعي او عقلي دواړه نه لری چه مونږ هغه په جيده کښې ورکړو دائن ته ځکه جودت داسے صفت دے چه د موصوف نه نه جدا کيږی۔

د امام ابويوسف قول صاحب د شرح وقاية ذکر کړيدے چه دائن به زيوف مديون ته حواله کوی او د هغه نه به مطالبه د جيدو کوی ځکه دده حق چه څنګه مرعی وو په کميت کښې نو دغه رنګه مرعی دے په وصف کښې هم نو دلته خو د وصف خيال اونه ساتلے شو او د هغه وصف خو څه ماليت شته نه چه د هغے په اندازه ماليت مونږ جيده اوگرځوو د هغه نقصان نو ددے تدارک په دے کيږی چه دا زيوف به واپس کړی او کره به ترينه واخلی۔

﴿ وحكم هذا النوع انه ان امكن جبر النقصان ﴾ او حکم ددے نوع دا دے

چه کچرے ممکن وو جبیرہ د هغه نقصان په مثل باندے نو جبیرہ به کیږی په هغه مثل باندے د نقصان او کچرے جبیرہ ئے بالمثل ممکن نه وه نو ساقطیږی به حکم د نقصان مگر په اثم کښ نه یعنی گناهگار دے مؤدی دے د اداء قاصرے۔

﴿ وعلى هذا قلنا اذا ترك تعديل الاركان ﴾ او بناء په دے باندے مونږ وایو چه کله سړی ترك کړو تعدیل الارکان نو دا په باب د صلوة کښ د هغه قبیلے نه دے چه ددے تدارك بالمثل نه کیږی ځکه ددے مثل نشته عبد سره نه عقلاً او نه شرعاً نو ساقط شو۔

﴿ ولو ترك الصلوة فى ايام التشريق ﴾ کچرے پریخودلو عبد مونځ په ایامو د تشریق کښ نو دے د هغے قضاء راګرځوی په غیر د ایامو د تشریق کښ نو دے به تکبیرات نه وائی ځکه تکبیرات بالجهر ویل پکار دی شرعا او دا مختص دی په ایام التشریق پورے، دا تکبیرات په ایام التشریق کښ منقول دی د ابراهیم علیه السلام نه دارنګه نقل ئے د نبی علیه السلام نه هم راغلی دے۔

﴿ وقلنا فى ترك قرائة الفاتحة ﴾ ۔وایو مونږ په ترك د قراءت د فاتحه کښ او په ترك د دعاء قنوت کښ او په ترك د تشهد کښ او په ترك د تکبیرات العیدین کښ چه دے به جبیرہ کوی په سجده سهوه اګرکه دا ددے دپاره مثل عقلا نه دے بلکه مثل شرعا دے ځکه شارع په ترك د واجبو باندے سجده د سهوه لازم کړیده ۔

﴿ ولو طاف طواف الفرض ﴾ کچرے طواف فرض ئے اوکړه بے اودسه نو جبیره به کوی د هغه نقصان په دم سره او دا دم د جبیرے ددے جنایت دپاره مثل دے شرعا ۔

﴿ وعلى هذا لو ادى زيفا مكان جيد ﴾ بناء په دے کچرے مدیون کوټه روپی اداء کړی په ځائے د کره و نو هلاك شوی زیوف د قابض سره نو نشته هیڅ شے د دائن په مدیون باندے عند ابی حنیفه ځکه نشته مثل د صفت د جودت دپاره منفردا تردے چه ممکن شی جبیره د هغے په مثل سره۔

﴿ ولو سلم العبد مباح الدم ﴾

کچرے غاصب عبد مباح الدم بالزنا والارتداد حواله کړو په سبب د هغه جنایت سره چه هغه موجود شوے وو د غاصب سره یا د بائع سره پس د بیع نه (قبل د تسلیم نه

مشتری ته) نو کچرے هغه عبد هلاك شو د مالك سره او یا د مشتری سره مخکښ د
ورکولو نه نو لازم شو په مشتری باندے ثمن او بری شو غاصب ځکه اصل اداء خو شویده
او کچرے قتل کړے شو عبد جانی په دغه جنایت کښ نو مونږ به نسبت د هلاکت اول
سبب ته کوو نو اوګرځیدو دا داسے ګویا چه اداء موجود شوے نه ده په نزد د امام ابوحنیفه
رحمه الله۔

﴿والمغصوبة اذا ردت﴾ دارنګه جاریه مغصوبه کله چه واپس کړے شوه
مغصوب منه ته په داسے حال کښ چه حامله وه په هغه فعل سره چه غاصب سره وی
یعنی غاصب ورسره زنا کړے وه نو مړه شوه جاریه په سبب د ولادت سره په لاس د مالك (
مغصوب منه) کښ نه بری کیږی غاصب د ضمان نه عند ابی حنیفهؒ ځکه ددے نسبت به
مونږ اول سبب ته کوو کوم چه په ید د غاصب کښ وو، د امام ابوحنیفه قید ځکه ذکر
کړی چه صاحبین وائی چه اداء خو متحقق ده اګرکه اداء قاصره ده نو وجوب الضمان په
غاصب باندے نشته۔

﴿ثم الاصل فی هذا الباب﴾ بیا اصل په دی باب کښ اداء ده کامله وی او که
ناقصه وی صیرورت به کیږی قضاء ته په وخت د تعذر د اداء کښ او ددے وجے نه متعین
وی مال په ودیعت کښ او په وکالت کښ او په غصب کښ کچرے مودَع او وکیل او
غاصب اراده اوکړه چه بند کړی د ځان سره عین مال او ورکړی د هغے مماثل نو دا حق د
هغه دپاره نشته، ځکه اصل اداء ده او اداء راځی په ورکولو د عین مال سره او ورکول د عین
مال ممکن دے هغنا۔

﴿ولو باع شیئا وسلمه فظهر به عیب﴾ کچرے سړی یو شی خرڅ کړو او
حواله ئے کړو مشتری ته نو ښکاره شو په هغے باندے عیب نو دے مشتری په خیار کښ
که هغه معیوب شے اخلی او که ترك کوی ئے د وجے د فوات د وصف مرغوب نه۔

﴿وباعتبار ان الاصل هو الاداء﴾ او په دے اعتبار سره چه اصل اداء ده امام
شافعی رحمه الله وائی چه واجب په غاصب باندے رد کول د عین مغصوبے دے اګرکه په
کښ تغیر او تبدیل راغلے وی په لاس د غاصب که په تغیر فاحش سره (تغیر متجاوز عن

الحد مع بقاء الاسم) او واجب دے ارش (ضمان) په سبب د نقصان سره ۔

﴿ **وعلی هذا لو غصب حنطة** ﴾ او بنا پدے قول د شافعیؒ کچرے غاصب غنم غصب کړه نو وړه ئے کړه او یا بانس ئے غصب کړو نو آبادی ئے پرے اوکړه او یا شاة ئے غصب کړو بیا ئے حلال کړو او وریت ئے کړو او یا انګور ئے غصب کړه او هغه ئے نچوړ کړو عصیر ئے ترینه اوویسته او یا ئے د غنمو دانے غصب کړے نو وے کرلے او فصل رازرغون شو نو وی ٔبه دا پدے ټولو صورتونو کښ مِلك د مالك عند الشافعی۔

﴿ **قلنا جمیعها للغاصب ویجب علیه رد القیمة** ﴾ مونږ وایو (۱) دا ټول د غاصب دی او واجب دے په غاصب باندے رد کول د قیمت ځکه پدے کښ داسے صنعه راغلے ده چه هغه متقومه ده پدے صنع سره اسم د عین پاتے نه دے نو پدے صنعے سره دا ملك د غاصب اوګرځیدل ۔

﴿ **ولو غصب فضة فضربها دراهم** ﴾ کچرے غصب کړی وو سپین زر نو ټاپه ئے اووهله په هغے نو دراهم ئے ترینه جوړ کړه او یا ئے سره زر غصب کړی وو نو د هغے نه ئے اشرفئ جوړے کړی او یا ئے شاة غصب کړو نو حلال ئے کړو (فقط) نو نه قطع کیږی حق د مالك په ظاهر الروایة کښ ځکه انقطاع د اسم بالکلیه نه دے راغلے په تغیر او تبدیل سره په خلاف د ورتولو د شاة چه هلته پکښ انقطاع د اسم بالکلیه راغلے دے په سبب د تغیر او تبدیل سره ۔

﴿ **وکذلك لو غصب قطناً** ﴾ او دغه رنګه که یو سړی مالوچ غصب کړل نو هغه ئے ویشل او یا ویشلی شوی مالوچ ئے غصب کړل نو هغه ئے اوودل نو نه قطع کیږی حق د مالك په ظاهر الروایة کښ ۔

﴿ **ویتفرع من هذا مسئلة المضمونات** ﴾ او په دے باندے متفرع کیږی مسئله د مضموناتو (تاوانونو) لکه ضمان د عدوان شو یا ضمان د معاوضے ۔

---

(۱) زمونږه د قول حاصل دا دی چه تغیر فاحش په مغصوبه کښ راشی نو ملك د مالك ورنه ختمیږی او غاصب مالك ګرځی ددی او غاصب به ضمان ورکوی اصل مالك ته او انتفاع به غاصب ته جائز نهٔ وی مخکښ د اداء د بدل د هغی نه او تغیر فاحش دا دی چه اسم د عین هم زائل شی او اعظم د منافعو هم زائل شی۔ سید فضل الحق۔

﴿ **ولهذا قال لو ظهر العبد المغصوب** ﴾ او ددے وجے نه ویلی دی امام شافعی کچرے ظاهر شئ عبد مغصوب پس د هغے نه چه اخستے وو مالك تاوان د هغه د غاصب نه نو وی به دا عبد ملك د مالك (مغصوب منه) او واجب دے په مالك باندے رد د هغے چه اخستے ئے دے د قیمت د عبد نه لیکن عندنا به عبد نه واپس کیږی ځکه اداء پس د قضاء نه نشته قاله الناکت۔

لیکن صاحب د شرح وقایه او صاحب هدایه ذکر کړیدی کچرے د هغه ضامن نیولے وو او دا ضمان غاصب ادا کړے وو په قول د مالك باندے نو دے ئے بیا نشی واپس کولے یا ده په دے باندے بینه قائمه کړه او قیمت ئے ترینه په مقوّمینو په اعتبار سره واخسته نو بیا نشی واپس کولے ځکه پدے باندے ترضیه راغلے ده البته که غاصب دا ویلی وو چه دده قیمت دومره او مالك ورسره چیړ ونکړو نو که بیا دا عبد ظاهر شو او مالك اوویل چه ددے قیمت زیات دے نو په دے باندے خو رضاء د مالك راغلے نه ده نو مالك به قیمت واپس کړی او مغصوبه به د غاصب نه واخلی۔

﴿ **واما القضاء فنوعان** ﴾ قضاء په دوه قسمه ده کامله او قاصره۔ دا تقسیم د قضاء بمثل معقول کوی مصنف پدے مقام اختصار کړے دے ورنه مجموعه اقسام د قضاء څلور دی ۱- قضاء بمثل معقول کامل ۲- قضاء بمثل معقول قاصر ۳- قضاء بمثل غیر معقول ٤- قضاء مشابه بالاداء۔ نو دا څلور په حقوق الله کښی هم جاری کیږی او په حقوق العباد کښی هم جاری کیږی نو (٤+ ٤= ٨) مجموعه اته اقسام د قضاء شول۔

﴿ **فالکامل منه** ﴾ نو کامل د قضاء نه چه بمثل معقول وی حواله کول د مثل د واجب دی مستحق ته چه مثل صوری هم وی او مثل معنوی هم وی لکه یو سړی غصب کړه یو اوړے غنم نو هغه ئے هلاك کړل یا هلاك شول نو تاوان به ورکوی یو قفیز غنم مغصوب منه ته او کیږی ادا کړی شوی غنم مثل د قفیز اول صورةً او معنی ځکه غنم ذوات الامثال نه دی نو دا قضاء کامله شوه اداء نه ده ځکه عین غنم ئے حواله نکړه چه هغه کوم غصب کړی وو بلکه د هغے مثل ئے ادا کړل۔

﴿ **وکذا الحکم فی جمیع المثلیات** ﴾ دارنګه حکم دے په جمیع انواعو د

مثلیاتو کښې چه د قبیلے د مکیلاتو نه وی لکه غنم شو وریشے شوے وغیره یا د قبیلے د موزوناتو نه وی لکه ذهب، فضه وغیره شول او یا د قبیلے د عددیاتو نه وی چه کوم متقارب الافراد وی لکه غوزان شو یا هګۍ شوے دوجے د قلت د تفاوت نه په افرادو د دوی کښې او هر چه غیر مثلیات دی لکه حیوانات شول کپړے شوے نو کپړے مماثل دبلے کپړے سره نه وی من جمیع الوجوه په قیمتونو کښې ئے هم تفاوت وی دارنګه په حیواناتو کښې هم مماثلت من کل الوجوه نه وی او قیمتونو کښې ئے هم تفاوت وی نو دا د ذوات القیم د قبیلے نه دی د ذوات الامثال د قبیلے نه ندی ۔

﴿ **واما القاصر فهو ما لا یماثل الواجب صورةً ویماثل معنیً** ﴾

هر چه قضاء قاصره ده نو هغه دا ده چه مماثله د هغه واجبو سره نه وی چه کوم په ذمه دده بانده وی په مماثلت صوری سره بلکه مماثلت من حیث المعنیٰ به وی نو کچرے مماثلت صورةً او معنی وو نو دا قضاء کامله شوه او که مماثلت صورةً وو او معنی نه وو یا مماثلت معنی وو صورةً نه وو نو دا اداء قاصره شوه ۔

﴿ **کمن غصب شاةً فهلکت** ﴾ مثال ددے لکه یو سړی شاة غصب کړو نو هلاك شی په ید د غاصب کښې نو دے ضامن دے د قیمت د شاة او قیمت د شاة مثل دے من حیث المعنی مثل صوری نه دے ۔ نو قضاء شوه خو قاصره ۔ مثل معنوی ځکه دے چه شاة اعلیٰ والے او ادنیٰ والے او درمیانه والے دا په قیمت سره معلو میږی نو کوم حیوان چه د اعلیٰ قیمت دے نو دا اعلیٰ دے او کوم چه د کم قیمت دے نو دا ادنیٰ دے او کوم چه د درمیانه روپو دے نو دا درمیانه دے نو ګویا د قیمت لره دخل راغلو ددے حیوان په اعلی کیدو او ادنیٰ کیدو کښې نو دا ورلره مثل معنوی شو ۔

﴿ **والاصل فی القضاء الکامل** ﴾ اصل په قضاء کښې قضاء کامله ده یعنی حتی الامکان پکار ده چه قضاء کامله اوشی او صیرورت قضاء قاصرے ته اونه شی الا عند تعذره مګر که قضاء کامله متعذره شوه نو بیا به صیرورت کیږی قضاء قاصرے ته ۔

﴿ **وعلی هذا قال ابو حنیفة** ﴾ او بناء پدے باندے ویلی دی امام ابو حنیفه کله چه یو سړی مثلی غصب کړو نو هغه هلاك شو په ید د غاصب کښې او دغه مثل شے

منقطع شو د لاسونو د خلکو نه خامخا به وی غاصب ضامن د قیمت د هغه مثلی شی په
ورځ د خصومت باندے - په ورځ د خصومت ئے چه کوم قیمت وو نو هغه به ورکوی۔
په دے کښې درے اقوال دی :
۱- قول د امام ابو حنیفه دے دے وائی چه قیمت به ورکوی د یوم الخصومة۔
۲- امام ابویوسف وائی چه قیمت به ورکوی د یوم الغصب
۳- امام محمد وائی چه قیمت به ورکوی د یوم الانقطاع عن ایدی الناس او مراد د
انقطاع نه انقطاع ده په بازارونو کښې او امام ابو حنیفه وائی چه یوم الانقطاع کښې ضابطه
نه وی ځکه یو ځائے کښې نن انقطاع راغله او بل ځائے کښې بله ورځ انقطاع راغله او بل
ځائے کښې بله ورځ انقطاع راغله نو په اوله ورځ یو قیمت وو په دویمه ورځ د انقطاع بل
قیمت وو په دریمه ورځ بل قیمت وو نو اوس مونږ کوم انقطاع معتبر کړو باقی یوم
الغصب باندے مونږ قیمت ځکه نه وایو چه هلته خو غاصب مثلی شے غصب کړے دے
او هرکله چه قدرت په مثل صوری او معنوی باندے وی نو هلته مونږ صیروړت مثل
معنوی ته نشو کولے چه قیمت دے نو د یوم الخصومة قیمت به ځکه لګوو چه کله
خصومت راغلے او مثلی شے شته نه متعذر شو نو مونږ به صیروړت کوو د مثلی شی نه
مثل معنوی ته ۔

﴿ لان العجز عن تسلیم المثل الکامل ﴾ ځکه عجز د تسلیم د مثل کامل نه
بیشکه ظاهرېږی نو عند الخصومت او هر چه قبل د خصومت د غاصب او د مغصوب
منه دے نو هلته خو عجز متحقق نه دے د وجے د تصور د حصول د مثل من کل الوجوه نه۔

﴿ فاما ما لا مثل له لا صورة ولا معناً ﴾ هر چه هغه شے دے چه د هغے مثل
نه وی نه صورةً او نه معناً نو ممکن نه ده ایجاب د قضاء په هغے کښې په مثل سره ۔

﴿ ولهذا المعنی قلنا ان المنافع لا تضمن ﴾ او د دے معنی د وجے نه (چه عدم
امکان د ایجاب د قضاء دے په معدوم المثل کښې وایو مونږ چه د منافعو د مغصوبے
نقصان نه وی په هلاکولو سره ځکه ایجاب د ضمان بالمثل متعذر دے او ایجاب د ضمان
بالعین هم دغه رنګه متعذر دے ځکه عین مماثل نه وی د منفعت ځکه منفعت عرض

دے او عین جوهر دے نو وصف مماثل د ذات نشی گرځیدے -

ځکه د منافعو دپاره نه مثل صوری شته او نه مثل معنوی شته ځکه منافع متفاوت وی په تفاوت کثیره سره په شان د تفاوت د اعیانو مثلا د یو عبد منافع د بل عبد د منافعو په شان نه وی -

﴿ **کما اذا غصب عبداً** ﴾ لکه یو سړی عبد غصب کړو نو خدمت ئے واخستو، هغه نه یوه میاشت یا دارئے غصب کړو نو اووسیدو په هغے کښ یوه میاشت بیا ئے واپس کړو مغصوب مالك ته نو نه واجبیږی په غاصب باندے ضمان د منافعو -

د دار سره ئے چه غصب ذکر کړیدے نو دا په مذهب د امام شافعی دے په مذهب د شیخینو (۱) باندے غصب په دار کښ نه متحقق کیږی ځکه تعریف د غصب دوی کوی چه اثبات د ید مبطله دے او ازاله د ید محقه دے او امام شافعی وائی اثبات د ید مبطله دے فقط نو ثمره د خلاف په غیر منقولی اشیاؤ کښ ظاهریږی چه په دے کښ غصب متحقق کیږی او که نه نو د شیخینو په نزد په دے کښ غصب نه متحقق کیږی او د امام محمد او شافعی په نزد غصب په هغے کښ متحقق دے نو دلته چه اطلاق په دار د غصب شویدے نو په رائے د امام محمد او امام شافعی سره دے او که په مذهب د شیخینو شی نو بیا صورةً اطلاق دے -

﴿ **خلافا للشافعی** ﴾ خلاف ثابت دے امام شافعی لره دے وائی چه پدے غاصب باندے ضمان د منافعو د مغصوب دے دا به مونږ په اجاره باندے قیاس کړو چه په اجرت باندے د هغے منافع چه په عرف کښ چه څومره اجرت باندے ورکیدے شول نو هغومره تاوان به غاصب ورکوی۔

﴿ **فبقی الاثم حکما له** ﴾ نو زمونږ په رائے باندے اثم په غاصب باقی پاتے شوه او نقل کړے شوه جزاء د هغے د دار د دنیا نه دار د آخرت ته په آخرت کښ به سزاء ده ته ورکړے شی ددے چه ده د مغصوبے نه منافع اخستی دی۔

(۱) د شیخینو په نزد قاعده دا ده : لا غصب فی العقار۔ یعنی په اموال غیر منقولو کښ غصب نه وی فتدبر۔ سید فضل الحق

﴿ **ولهذا المعنى قلنا** ﴾ د دغه علت د وجې نه مونږ وايو چه ضمان د منافعو د بضعې به نه وی په شهادتِ باطله سره په طلاقو باندې ـ دوه کسانوٌ ګواهی اوکړه چه دې سړی ښځې لره طلاق ورکړې دې او قاضی حکم په طلاقو باندې اوکړو بيا څه وخت پس دې شاهدينو اقرار اوکړو په ځان باندې د کذب چه مونږ دروغ ويلی وو نو قاضی خو حکم د طلاقو کړې وو نو منافع د بضعې ترينه تلف کړې شوی وو نو ددې ضمان په دې ګواهانو باندې نه لازميږی ځکه ددې مثل نه صوری شته او نه معنوی شته خو دا بعد الدخول مسئله ده که قبل الدخول وه دا مسئله نو بيا به نصف مهر مسمیٰ خاوند د ګواهانو نه اخلی۔

﴿ **ولا بقتل منكوحة الغير** ﴾ دارنګه نه به وی ضمان د منافعو په قتل د منکوحې د غير باندې د عين ضمان به پرې وی که عمداً ئې قتل کړې وه قصاص دې او که خطاء ئې قتل کړی وی نو ديت دې پرې خو دا د عين ضمان دې او که منافع د بضعې ئې ترينه تلف کړيدی د هغې ضمان پرې نشته ـ

﴿ **ولا بالوطی** ﴾ او نه په وطی سره تردې چه يو سړی وطی اوکړه د زوجې د يو انسان سره نو دا واطی به ضامن نه وی د زوج دپاره د هيڅ شی۔

﴿ **الا اذا ورد الشرع بالمثل** ﴾ مګر په هغه ځائې کښې چه ورود راغلے وو د شرع په مثل سره ددې خبرې نه چه هلته مماثلت موجود نه وی په مابين ددې دواړو شيئينو کښې نه صورةً او نه معنیً نو کيږی به هغه مثل د هغې شرعاً نو واجب ده قضاء د هغې په مثل شرعی سره او نظير د هغې هغه دې چه مونږ ويلی وو مخکښې چه فديه په حق د شيخ فانی کښې مثل د صوم دې ـ فديه د صوم نه نه مثل صوری دې او نه مثل معنوی دې ځکه په صوم کښې تجويع النفس دې او فديه اشباع النفس دې نو د دوی دواړو په مينځ کښې خو منافات دې مماثلت نشته خو شارع ولره مماثل ګرځولے ده ـ

﴿ **وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين** ﴾۔

نو د هر روژې په بدل کښې به نصف صاع ورکوی مساکينو ته ـ

﴿ **والدية فی قتل الخطاء** ﴾ او ديت په قتل خطاء کښې مثل د نفس دې سره ددينه چه نشته مشابهت په مينځ ددې دواړو کښې چه امساك او فديه ده او نفس او ديت

دے۔ د نفس او د دیت ترمینځه هم مماثلت نشته ځکه په قتل کښې ازهاق الروح دے او په دیت کښې مال ورکول دی نو په مینځ د ازهاق الروح او د مال کښې نه مماثلت صوری شته او نه معنوی لیکن دیت شارع مماثل ګرځولے دے د قتل خطاء، ددے دپاره چه دا نفس هدر لاړ نشی نو دائے مماثل شرعی دے۔

فصل -- فی النهی

هر کله چه فارغ شو مصنف د بیان د احکامو د امر نه نو شروع ئے اوکړه په بیان د احکامو د نهی که دا نهی هم د خاص د قبیلے نه ده خو چونکه احکامات کثیره پدے پورے متعلق وو نو ځکه اصولینو دا علیحده ذکر کوی نهی لغت کښ منع ته وئیلے کیږی لکه اولی النهیٰ عقل مند ته وئیلے شی او عقل ته نهیٰ ځکه وائی چه دا منع کوی د ارتکاب د قبائحو نه۔ او **نهی** په اصطلاح کښ طلب دے د ترك الفعل بالقول د هغه چا نه چه هغه دون وی دده نه ۔ دون وی دده نه په مرتبه کښ او یا دون نه وی خو دے ئے دون گنړی او نهی ورته کوی چه **لا تفعل**۔

بعض وائی: چه نهی په اصطلاح کښ قول د قائل دے غیر ته **لا تفعل** په طریقے د استعلاء سره۔

بیا په موجب د نهی کښ هم اختلاف دے په شان د امر ځکه نهی هم مستعمل ده په معانی کثیره وو کښ نهی په تحریم کښ مستعمليږی په کراهت کښ مستعمليږی، په بیان د عاقبت کښ مستعمليږی، د دعاء دپاره مستعمليږی، د شفقت دپاره مستعمليږی کله د ارشاد دپاره او د تحقیر دپاره، د نا امیدی دپاره مستعمليږی خو قول مختار عند الجـ ـور دا دے چه موجب د نهی دپاره تحریم دے لکه څنګه چه موجب د امر وجوب وو الا اذا قام الدلیل بخلاف التحریم۔

﴿ **النهی نوعان** ﴾ ترجمه : فصل دے په بیان د نهی کښ نهی په دوه قسمه ده، نهی ده د افعال حسیه و نه او نهی ده د افعال شرعیو نه ۔ دا د اصولینو یوه اصطلاح ده، افعال حسیه هغے ته وائی چه د هغے دپاره وجود حسا وی حسا معنی دا ده چه قبل د ورود د شرع نه چه د فعل دپاره کوم حقیقت وو نو بعد د ورود د شرعے نه هم هغه حقیقت وی په ورود د شرع سره پکښ تغیر او تبدیل نه وی راغلے لکه زنا، شرب الخمر، وغیره۔

او افعال شرعیه هغے ته وائی چه قبل د ورود د شرع نه ئے یو شان حقیقت وی او بعد د ورود د شرع نه ئے بل شان حقیقت وی لکه صوم، بیع وغیره ځکه بیع قبل د ورود د شرع نه

چه پکښې قیودات اولګول شول مبادله د مطلق مال وه په مال باندې او پس د ورود د شرع نه پکښې قیودات اولګول شول مبادله د مطلق مال وه په مال باندې بالتراضي۔

چه مبادله د مال متقوم ده په مطلق مال باندې بالتراضي۔

دارنګه صوم قبل ورود د شرع نه مطلق امساك وو او بعد د ورود د شرع نه حقیقت دې امساك دې د مفطرات ثلاثه و نه نهاراً مع النیة۔

﴿ کالزنا ﴾ افعال حسیه لکه زنا او سکل د شرابو او دارنګه ظلم شول د دوی په کوم حقیقت دې قبل د ورود د شرع نه نو هم هغه حقیقت ئې دې پس د ورود د شرع نه هم۔

﴿ ونهی عن تصرفات شرعیة ﴾ او دویم قسم نهی ده د تصرفات شرعیه و نه لکه نهی د روژې نه په ورځ د اختر یا لکه مونځ په اوقات مکروهه وکښې یا لکه خرڅول د یو درهم په دوه درهمو باندې شول۔

﴿ وحکم النوع الاول ﴾ او حکم د نوع اول دا دې چه وی به منهی عنه عین ما ورد علیه النهی وی نو تقاضا به کوی ذات د هغې د قباحت نو پدغه منهی عنه کښې به مشروعیت بالکل نه وی لکه په زنا، شرب الخمر وغیره کښې مشروعیت اصلا نشته په یو وقت کښې د اوقاتو نه۔

﴿ وحکم النوع الثانی ﴾ ترجمه: او حکم د نوع ثاني چه نهی ده د افعال شرعیه د نه هغه دا دې چه وی به منهی عنه غیر د ما اضیف الیه النهی نو وی به دا حسن لنفسه او قبیح لغیره به وی او کیږی به مباشر ددې (مرتکب) د منهی عنه مرتکب د حرامو د وجې د غیر نه نه د وجې د نفس د منهی عنه نو په صوم کښې فی نفسه قباحت نشته خو قباحت پکښې د یوم النحر د وجې نه راغلې دې ځکه یوم النحر یوم الضیافت ده نو کچرې دې روژه اونیسی په ورځ د اختر نو اعراض به راشي د ضیافت د الله نه او اعراض د ضیافت د الله نه خو منهی عنه دې نو صوم یوم النحر کښې مونږ نهی اوویله خو د وجې د غیر نه۔

دارنګه په صلوٰة کښې فی نفسه قباحت نشته ځکه صلوٰة مشتمل دې په تلاوت، ذکر، رکوع او سجده باندې او دا ټول تعظیم دې د رب لیکن پدې کښې قباحت دې د وجې د غیر نه چه هغه مشابهت دې د عبدة الشمس سره نو ځکه د صلاة نه په اوقاتو مکروهه د کښې نهی شویده د وجې د غیر نه۔

﴿ **وعلى هذا قال اصحابنا** ﴾ ترجمه : بناء پدے قاعده باندے وائی اصحاب زمونږ چه نهی د تصرفات شرعیه و نه تقاضا کوی د ثبوت او اراده کوی دوی پدے سره په تصرف پس د نهی نه باقی پاتے کیږی مشروع (۱) لکه څنګه چه قبل د نهی نه مشروعیت پکښې وو ځکه که هغے کښې کچرے مونږ مشروعیت باقی نکړو نو شی به عبد عاجز د حصول د امر مشروع نه نو پدغه وخت کښې به شی دا نهی د عاجز او دا د طرف د شارع نه محال ده ددے مثال داسے دے لکه یو سړے په سترګو ړوند وی او ته ورته وائے چه مه ګوره نو ابتلاء خو رانغله ابتلاء په هغه وخت کښې راځی چه دده سترګے روغی ری لیدل کولے شی او ته ورته اووائے چه مه ګوره اجنبی ښځے ته نو دلته ابتلاء راغله چه دے ګوری او که نه، یا لکه کوزه کښې اوبه نشته او ته وائے لا تشرب نو دلته خو ددے نهی څه فائده نشته ځکه ابتلاء رانغله او چه په کوزه کښې اوبه وی او دے تږے دے او ته ورته وائے چه لاتشرب نو دلته ابتلاء راغله چه دے وس پدے نهی اتیان کوی او که نه ئے کوی ـ

﴿ **وبه فارق افعال الحسية** ﴾ ترجمه : او پدے سره جدا شو افعال حسیه کچرے د افعال حسیه وعین مونږ قبیح اوګرځوو نو نه مفضی کیږی دا نهی د عاجز ته ځکه دا نهی پدے وصف سره نه عاجز کیږی عبد د فعل حسی نه نو ابتلاء پکښې متحقق شوه په افعال حسیه وو کښې قباحت لعینه وی ـ

﴿ **ويتفرع من هذا حكم البيع الفاسد** ﴾

او متفرع کیږی ددینه حکم د بیع فاسد او د اجارے فاسدے او د صوم د یوم النحر او تول صورتونه د تصرفات شرعیه و سره د دورود د نهی د هغے نه ـ

﴿ **قلنا بيع الفاسد يفيد الملك** ﴾ ترجمه : وایو مونږه چه بیع فاسده مفیده دپاره د ملکیت ده عند القبض پدے اعتبار سره چه دا بیع ده او واجب دے نقض ددے باعتبار د کیدو ددے سره حرامه لغیره د شرط فاسد د وجے نه چه نقض به مونږ پدے کښې د

---

(۱) ځکه د فعل شرعی مفهوم موقوف دی تر شرع پوری نو چه مشروع نه شی موجود او متحقق به نه شی نو نهی به ورنه صحیح نه شی ځکه لازم به شی نهی د عاجز ـ سید فضل الحق

حق د شارع د وجے نه وایو ۔

﴿ وهذا بخلاف نكاح المشركات ﴾ ترجمه : او دا حکم کائن دے په خلاف د نکاح مشرکو ښځو سره او د نکاح د منکوحے د پلار سره، دارنگه نکاح د معتدے د غیر سره او دارنگه د منکوحے د غیر سره او د نکاح د محارمو سره او په نکاح بغیرشهود سره پدے سره نفی د توهم کوی چه نکاح هم د افعال شرعیه و نه دے دا تقاضا کوی د قباحت لغیره نو پکار دا ده چه پدے کښ دِ قباحت فی نفسه موجود نه وی نو د نکاح د مشرکاتو او د منکوحه الاب وغیره کښ دِ قباحت فی نفسه نه وی او حال دا دے چه پدے کښ تاسو قباحت لعینه وایئ نو مصنف د هغے نه جواب کوی چه دا حکم ماقبل چه مونږ ذکر کړو نو دا خلاف دے د نکاح د مشرکاتو وغیره نه وجه دا ده :

﴿ لان موجب النكاح حل التصرف ﴾ ځکه چه موجب د نکاح حل د تصرف دے چه هغه استمتاع د منافعو د بضعے دے ۔

﴿ وموجب النهى ﴾ ترجمه : او موجب د نهی حرمت د تصرف دے چه دا استمتاع د منافعو د بضعے دے ده لره جائز نه شی ۔

﴿ فاستحال الجمع بينهما ﴾ ترجمه : نو محال شوه جمع په مینځ ددے دواړو کښ حل او حرمت دواړه په یو محل کښ نشی جمع کیدے ۔

﴿ فيحمل النهى على النفى ﴾ ترجمه : نو حمل کولے به شی دلته نهی په نفی باندے نو په نفی کښ قباحت لعینه وی نو دلته به هم قباحت لعینه وی اگرکه دا فعل شرعی دے خو نهی پکښ بمعنی النفی ده چه مشروعیت پکښ اصلاً رانشی ۔

﴿ فاما موجب البيع ﴾ ترجمه : او هر چه موجب د بیع دے نو هغه ثبوت الملك دے او موجب د نهی حرمت د تصرف دے نو په تحقیق سره ممکنه ده جمع په مینځ د دواړو کښ پدے شان سره چه ملك ثابت شی او تصرف دده دپاره حرام شی، نو ددے نظیر به څه وی چه ملك پکښ ثابت شو نو تصرف دِ هم پکښ جائز شی نو مصنف د هغے نظیر ذکر کوی چه داسے کیدے شی۔

﴿ اليس انه لو تخمر العصير ﴾ ترجمه : ته نه گورے چه کچرته شراب جوړ شو

د عصیرو نه خود بخود په ملك د مسلمان كښې نو باقي دے ملك دده او حرام دے تصرف په هغې كښې نو بقاء د ملك منافي نه شو د حرمت د تصرف سره ـ

﴿ وعلى هذا قال اصحابنا ﴾ او بنا پدے قاعده زمونږ علماؤ وئيلي دي چه كله كه نذر اوكړی سړے د روژے د يوم النحر يا د ايام التشريق نو صحيح دے نذر دده ځكه پدے نذر كښې في نفسه قباحت نشته دا نذر دے د ايام مشروعه وو ـ

﴿ وكذلك لو نذر ﴾ دغه رنګه كه نذرئے اومنه د مونځ په اوقات مكروهه كښې نو صحيح دے نذر دده ځكه دا نذر دے په عبادت مشروعه باندے د وجے د هغې نه چه مونږ ذكر كړيدی چه نهي واجبوی بقاء د تصرف مشروعه او ددے وجے نه مونږ وايو كچرے يو سړی شروع اوكړه په نفلو باندے پدے اوقات مكروهو كښې نو لازميږی په ده باندے دا نفل پدے شروع سره او ارتكاب د حرامو ندے لازم د لزوم د اتمام سره ځكه كه دے سړی چرے صبر كړے وے تردے چه روا شي مونځ په ارتفاع الشمس سره په سهر كښې يا په غروب الشمس سره په مابنام كښې او يا په زوال د شمس سره په غرمه كښې نو ممكن شوے به وو ده لره اتمام د دغه مانځه بغير د كراهت نه ـ

﴿ وبه فارق حكم صوم يوم العيد ﴾ او پدے سره جدا شو حكم د صوم يوم العيد ځكه كه شروع د رروژے اوكړی سړے په ورځ د لوئي اختر نو نه لازميږی په ده باندے په نزد د امام ابو حنيفه او امام محمد ځكه اتمام نه جدا كيږی د ارتكاب د فعل حرام نه چه هغه اعراض دے د ضيافت د الله نه ـ

﴿ ومن هذا النوع ﴾ او ددے نوعے نه چه په هغې كه قباحت د غير د وجے نه راغلے وی وطی د حائضے سره ده ځكه في نفسه د خپلے منكوحے سره په وطی كښې قباحت نشته خو دلته حرمت د وجے د غير نه راغلے دے چه هغه اذی ده د وجے ددے قول د الله تعالى نه چه تپوس كوی اے پيغمبره ستا نه په باره د حيض كښې ته ورته اووايه دا ګندګي ده نو په دغه شئ د زنانو نه په حالت د حيض كښې او مه نزدے كيږئ دوی ته تردے چه شي پاكے شي ـ

﴿ ولهذا يترتب الاحكام ﴾ او ددے وجے نه مرتب كيږی احكام پدے وطی باندے نو ثابتيږی پدے سره احصان د وطی كونكي يو سړی زنا وكړه او محصن وو د محصن

دپاره پنځه شرائط دي (۱) عاقل به وي (۲) بالغ به وي (۳) مسلمان به وي (٤) وطی به ئې کړي وي په وطی صحیحه سره نو چه یو سړي په حالت د حیض کښې د خپلې ښځې سره جماع کړې وي بیائې زنا وکړه نو دا محصن دے حکم به ورلره رجم وي ۔

﴿ وتحل المرأة للزوج الاول ﴾ او حلالیږي ښځه پدے وطی سره زوج اول لره یو سړي ښځه په طلاق مغلظ سره طلاقه کړه د عدت نه بعد دغه ښځې د بل چا سره نکاح اوکړه او په دوران د حیض کښې ورسره زوج ثاني جماع اوکړه او بیائې طلاقه کړه عدت ئې تیر شو نو که اوس ورسره زوړ خاوند نکاح کوي نو جائز ده ځکه في نفسه پدے وطی کښې څه قباحت نشته، قباحت پکښې د وجے د غیر نه راغلے دے نو مشروعیت پدے وطی کښې شته احکام پدے مرتب کیدے شي چه هغه تحلیل دے۔

﴿ ویثبت به حکم المهر ﴾ او ثابتیږي پدے سره حکم د مهر که خاوند په حالت د حیض کښې د ښځې سره جماع اوکړه نو مهر پرے لازم شو ۔

﴿ والعدة والنفقة ﴾ او لازم دے په منکوحه باندے عدت ددے وطی او لازم به وي ددے وطی نه نفقه په زوج باندے ۔

﴿ ولو امتنعت ﴾ او کچرے ښځې منع اوکړه د تمکین د زوج نه په ځان باندے دپاره د وطی دپاره د وصولولو د مهر نو دا به ناشزه حسابیږي په نزد د صاحبینو باندے نو مستحق د نفقے به نه وي امام ابوحنیفه وائي : دا ناشزه نه ده دا د خپل حق د طلب دپاره منع کوي ځان لره نو حقداره د نفقے ده ۔

﴿ وحرمت الفعل لا تنافي في ترتب الاحکام ﴾ ترجمه : او حرمت د فعل منافي نه وي د ترتب د احکاماتو سره، فعل کښې دے حرمت وي خو احکام پرے مترتب کیږي ۔

﴿ کطلاق الحائضة ﴾ لکه طلاق حائضے ښځے ته خو بدعي طلاق دي خو معتبر دي دارنګه اودس په اوبو غصب شوو باندے نو دا خو فعل حرام دے لیکن که اودس ئې پرے اوکړو نو مونځ پرے کولے شي ۔ دارنګه ښکار په لینده مغصوبه باندے فعل د غصب حرام دے خو ښکار چه ئې پرے اوکړو نو هغه حلال دے او ذبح په چاړه مغصوبه باندے نو دا غصب خو فعل حرام دے خو چه ذبح ئې پرے اوکړه نو هغه مذبوحه حلاله ده

ځکه ازاله د رطوبات نجسه و پرے اوشوه چه هغه دم دے۔

﴿ **والصلاة فی الارض المغصوبة** ﴾ ترجمه : دارنګه مونځ په زمکه مغصوبه کښې نو دا غصب خو یو فعل حرام دے خو چه د مونځ په ارض مغصوبه کښې ئے اوکړو نو صحیح دے۔ دارنګه بیع په وقت د اذان کښې دا خو فعل حرام دے خو چه ده بیع اوکړه نو حکم پرے مرتب کیږی چه ملك د مشتری دے۔

﴿ **فانه یترتب الحکم** ﴾ ترجمه : شان دا دے چه مترتب کیږی حکم پدے تصرفاتو باندے سره د اشتمال ددے تصرفاتو نه په حرمت باندے۔

﴿ **وباعتبار هذا الاصل** ﴾ ترجمه : او په اعتبار ددے اصل باندے وایو مونږ پدے قول د الله کښې : ولا تقبلوا لهم شهاده ابدا الخ چه د محدود فی القذف ګواهی هرګز مه قبلوئ چه فاسق اهل د شهادت دے ځکه لا تقبلوا لهم الشهاده ئے قرآن کښې وئیلی دی نو قبول د شهادت فرع د اهلیت د شهادت ده چه اهلیت به پکښې موجود وی نو قبلول او نه قبلول خو روسته خبره ده۔

﴿ **فینعقد النکاح** ﴾ نو منعقد کیږی نکاح (۱) په شهادت د فاسقانو سره ځکه نهی د قبلولو د شهادت نه بغیر د اهلیت د شهادت نه محال ده دا نهی د قبول دشهادت نه به هله کیږی چه اهلیت د شهادت پکښې وی۔


﴿ **وانما لم تقبل شهادتهم** ﴾ ترجمه : او مقبول به نه وی شهادت د دوی د وجے د فساد فی الاداء نه دے نه د وجے د عدم د شهادت نه چه اهلیت د شهادت پکښې نشته اصلا

﴿ **وعلی هذا لا یجب علیهم اللعان** ﴾

ترجمه : بناء پدے قاعده باندے په فاسقانو باندے لعان واجب نه وی ځکه لعان اداء د شهادت ده او اداء د فسق سره متحقق کیدے نه شی البته که فاسقان په نکاح کښې ناست وو نو حل پرے مرتب دے استمتاع د منافعو د بضعے پرے زوج له مرتب دی ځکه دوی

(۱) او په نکاح کښې حضور د شاهدانو ضروری دی، اداء د شهادت ضروری نه دی۔ فتدبر۔ سید فضل الحق

اهل د شهادت دی خو چه کله اداء د شهادت کوی قاضی ته نو هغه به ئے نه قبلوی ځکه په اداء د شهادت کښې د دوی فساد دے۔



فصل فی تعریف طریق المراد بالنصوص

هر کله چه مصنف فارغ شو د بحث د امر او نهی نه نو اوس بعض تعین کوی چه د معرفت د مراد د معنی مرادے دپاره د نصوصو نه د هغے مختلف طریقے وی بعض طریقے صحیح دی او بعض فاسدے دی نو اسو مصنف دا فصل تمهیدا ذکر کوی دپاره د طرقو د استدلالاتو فاسده و۔

ترجمه: فصل کائن دے په تعریف د طریقے د معنی مراده کښې د نصوصو نه ۔ اعلم سره تحقیق د مقام کوی ۔ پوهه شه چه د معرفت د مراد بالنصوص دپاره مختلف طریقے دی ۔

﴿ منها ان اللفظ اذا کان حقیقة لمعنیً ﴾

ترجمه: بعض د هغه طرق متعدده نه دا دے چه لفظ کله چه حقیقت وی دپاره د یو معنی او مجاز وی دپاره د بلے معنی نو حقیقت به اولیٰ وی د مجاز نه یعنی ترڅو چه ددے لفظ حمل په معنی حقیقی باندے ممکن وی نو ترهغے پورے به مونږ صیرورت معنی مجازی ته نه کوو ځکه چه په مقدمات اتفاقیه وکښې ذکر شوی وو چه تعذر د معنی حقیقی دا شرط دے دپاره د صیرورت الی المجاز نو هر کله چه تعذر د معنی حقیقی نه وی نو صیرورت معنی مجازی ته نشی کیدے۔

﴿ مثاله ما قال علمائنا ﴾ ترجمه: مثال ددے هغه قول دے چه قائل دی په هغے باندے علماء زمونږ چه بنته مخلوقه د اوبو د زنا نه حرامه ده په زانی باندے نکاح د هغے او

روښلي دي امام شافعي ؒ چه د هغې سره نکاح صحيح ده ځکه دا نده داخله لاندې ددې قول د الله تعالى تعالى نه چه (وبناتکم) ځکه بنته هغې ته وائي چه منسوبه وي سړي ته په تخاطب د خلکو کښې او بنت من الزنا نسبت زاني ته عرفا او عادةً نه کيږي۔

﴿ والصحيح ما قلناه ﴾ او صحيح قول هغه دې چه مونږ ذکر کړو چه نکاح ورسره ناجائز ده ځکه چه حقيقت کښې دا دده لور ده ځکه بنته هغې ته وائي چه جز من الاب وي او دا جز من الزاني ده ځکه د اوبو دده نه پيدا ده نو داخله ده دا لاندې ددې قول د الله تعالى نه لکه چه حرامي دي په تاسو مياندې ستاسو او لونړه ستاسو ځکه دا بنته حقيقيه دده جزء دې او نکاح د خپل جزء سره جائز نه وي۔

﴿ ويتفرع منه الاحکام ﴾ ترجمه: او متفرع کيږي پدې باندې احکامات بناء په دارو مذهبينو باندې د حلالوالي د وطي نه او د وجوب د مهر نه او د لزوم د نفقې نه او د جريان د ميراث نه او د ولايت د منع نه د خروج نه او د کورنه د وتلو۔

تشريح: امام شافعي وائي چه نکاح صحيح شوه نو که دا زاني د بنت من الزنا سره وطي کوي نو جائز ده مونږ وايو چه نکاح صحيح نه ده نو جماع هم ورسره جائز نه شوه۔

﴿ ووجوب المهر ﴾ ۔امام شافعي وائي مهر په ناکح لازم دې ځکه چه نکاح صحيح ده او مونږ وايو مهر پدې ندې لازم ځکه نکاح صحيح شوې نه ده دارنګه لزوم د نفقې امام شافعي وائي: چه نکاح صحيح ده نو نفقه په زوج باندې لازم ده مونږ وايو نفقه سړي باندې نشته د وجې د زوجيت نه ځکه نکاح صحيح نه ده۔

دارنګه امام شافعي وائي چه ميراث به پکښې جاري کيږي که دا ناکح مړ شو يا منکوحه مړه شوه نو ميراث به د يو بل نه وړي ځکه زوجين دي، نکاح صحيح ده، مونږ وايو چه ميراث به نه وړي ځکه نکاح صحيح نه ده۔

دارنګه امام شافعي وائي چه که دا خاوند دې ښځې لره منع کوي او د کوړ نه ئې بهر ته نه پريږدي نو منع کولې ئې شي ځکه نکاح صحيح ده ښځه ئې ده مونږ وايو چه حق د خروج او د بروز دده دپاره من اصل الزوجيت نشته ځکه نکاح صحيح شوې نه ده۔

﴿ ومنها ان احد المحملين ﴾ او بعض ددې طرقو نه دا ده چه د يو محملينو

چه کله تخصیص لازموی په نص کښ نه هغه بل یعنی یو محمل تخصیص فی النص لازموی او بل محمل تخصیص فی النص نه لازموی بلکه تعمیم لازموی۔

﴿ **فالحمل علی ما یستلزم** ﴾ ترجمه: نو حمل ددے لفظ په هغه محمل باندے چه نه لازموی تخصیص فی النص اولیٰ دے د هغه محمل نه چه تخصیص لازموی۔

﴿ **مثاله او لامستم النساء** ﴾ یا تاسو جماع اوکړئ د ښځو سره نو اوس د لمس دوه معانی دی مس بالید او جماع نو لفظ د ملامسه کچرے حمل کړے شی په جماع باندے نو کیږی نص معمول به په ټولو صورتونو د وجود وقاع کښ یعنی په هر ځائے کښ چه وقاع متحقق شوه نو غسل لازم دے که د محرمے سره وی یا د صغیرے سره۔

﴿ **ولو حمل علی المس** ﴾ او کچرے حمل کړے شی په لمس بالید (کما ذهب الیه الشافعی) نو کیږی نص مخصوص به په ډیرو صورتونو کښ ځکه مس کول د محارمو خپلو بالید یا مس کول د ماشومے جینۍ ندے ناقض للوضوء نو بیا خو پکار ده چه مس بالید د محارمو او د طفلے صغیرے هم ناقض للوضوء شی والامر لیس کذلك نو حمل ددے په وقاع باندے اولیٰ دے۔

﴿ **اصح قولی الشافعی** ﴾ د امام شافعی پدے کښ قولین دی یو قول دا دے چه مس بالید د محارمو یا د صغیر ناقض للوضوء دے او بل قول ئے دا دے چه غیر ناقض دے۔

﴿ **ویتفرع منه الاحکام علی المذهبین** ﴾ ترجمه: او متفرع کیږی ددینه احکام په دواړو مذهبونو باندے د اباحت د مانځه نه او د مس د مصحف نه او د دخول الی المسجد نه او د صحت د امامت نه او د لزوم د تیمم نه په وخت د عدم د اوبو کښ او د یادولو د مس نه په مینځ د مانځه کښ۔

تشریح: چه یو سړی مس بالید د ښځے اوکړو مونږ وایو چه دا ناقض للوضوء نه دے کچرے دے مونځ کوی نو جائز دے اودے قرآن مسح کولے شی، جماعت ته تلے شی بلا کراهته دارنگه امامت ئے صحیح دے دارنگه تیمم په ده باندے لازم نه دے په وخت د عدم د اوبو کښ دارنگه که دا مس بالید چه دده په مانځه کښ یاد شه نو مونځ ئے ندے مات مونځ دے کوی۔ او امام شافعیؒ وائی چه مس بالید ئے اوکړو نو اودس ئے مات دے مونځ

نشی کولے، اودس بہ کوی، قرآن نشی مس کولے، جماعت تہ ئے تلل مکروہ دی، د چا
دپارہ امامتی نشی کولے، دارنگہ کہ اوبہ نہ وے نو تیمم وھل پرے لازم دی خکہ اودس ئے
مات شو پدے دارنگہ کہ دے پہ مانخہ ولاړ وو او مس بالید ئے یاد شو نو مونځ ئے مات دے
اودس بہ کوی او استیناف د مانخہ بہ کوی۔

﴿ ومنها ان النص اذا قرئ بقرائتين ﴾ ترجمہ: بعض د طرقو د معرفت د
معنی مرادے نہ دا طریقہ دہ چہ یو نص مقروء بقرائتین شی او یا یو روایت د حدیث چہ
مروی وو پہ روایتینو باندے نو وی بہ عمل پہ دغہ نص باندے پداسے طریقہ سرہ چہ وی
عمل پہ دواړو وجھینو باندے دا بہ اولیٰ وی د ھغے نہ چہ عمل فقط د یو جهت باندے
راځی مثال د ھغے لکہ دا قول د اللہ تعالی وارجلكم یو قرائت متواتر پدے کښ پہ نصب
سرہ دے چہ عطف دے پہ مغسول باندے چہ یا ایها الذین آمنوا اذا قمتم الی الصلاة
فاغسلوا وجوهكم وارجلكم۔ نو رجل د قبیلے د مغسولاتو نہ شو۔

﴿ وبالخفض عطفاً على الممسوح ﴾ ترجمہ: او پہ جر سرہ ھم راغلے دے چہ
عطف دے پہ ممسوح باندے چہ رأس دے نو رأس د قبیلے د ممسوحاتو نہ دے۔

﴿ فحملت حالة الخفض ﴾ ترجمہ: نو حمل کړے شو حالت د جر پہ تخفف
باندے یعنی چہ کلہ ئے موزے پہ خپو وی نو بیا بہ پہ رجلین باندے مسح وی او قراءت د
نصب حمل دے پہ حالت د عدم د موزو کښں نو پہ دواړو قرائتینو باندے عمل راغلے او
بعض جواب کوی چہ دا جر د جوار دے، دا نہ چہ وظیفہ د رجلِ مسحہ دہ کچرے وظیفہ د
رجل مسح وی پہ صورت د عدم د موزو کښں نو د شارع د طرف نہ بہ د بیان الجواز دپارہ
مسح پہ خپو باندے بغیر د موزو نہ نقل شوے وے او حال دا دے چہ پہ ذخیرہ د احادیثو
کښں نہ د شارع نہ او نہ اصحابو ددہ نہ نقل راغلے دے چہ پہ حالت د عدم د موزو کښں د
مسح علی الرجلین شوی وی نو دا دلیل د عدم جواز المسح علی الرجلین دے پہ حین د
عدم تخفف کښں۔

﴿ وباعتبار هذا المعنى ﴾ ترجمہ: ددے معنی پہ اعتبار سرہ بعض علماء وائی
چہ جواز د مسح علی الخفین ثابتہ شویدہ پہ کتاب سرہ چہ کلہ وارجلكم مجرور شی۔

﴿ وكذلك قوله تعالى حتى يطهرن ﴾ ترجمه : او دارنگه قول د الله تعالى چه حتى يطهرن لوستے شويدے په تشديد سره هم او په تخفيف سره هم يطهرن نو عمل به كولے شى په قراءت د تخفيف باندے كله چه ايام د حائضے لس ورځے وى چه لسمه ورځ باندے انقطاع د دم د حيض راغله نو قبل الغسل هم جماع جائز ده ۔

﴿ وبقرائة التشديد ﴾ ترجمه : او په قرائت د تشديد باندے به مونږ عمل كوو په هغه صورت كښ چه ايام د حائضے كم د لسو ورځو نه وى يعنى چه په كم د لسو ورځو باندے پاكه شوه د حيض نه نو د خاوند دپاره جماع قبل الغسل جائز نه ده ځكه چه عود د دم ممكن دے د هغے انقطاع يقينى په غسل سره راشى ۔

﴿ وعلى هذا قال اصحابنا ﴾ ترجمه : اوبنا پدے باندے وائى اصحاب زمونږ كله چه ختمه شوه وينه د حيض كم د لسو ورځو نه نو ندے جائز وطى د حائضے سره ترڅو چه غسل ئے نه وى كړے ځكه كمال طهارت ثابتيږى په غسل كولو سره او كچرے وينه د حائضے منقطع شوه په لسمه ورځ باندے نو جائز ده وطى ددے قبل الاغتسال ځكه مطلق طهارت ثابت شويدے په انقطاع د دم سره او احتمال د واپس كيدو د دم نشته ۔

﴿ ولهذا قلنا ﴾ ترجمه : او ددے وجے نه مونږ وايو چه كله منقطع شوه وينه د حيض په لسمه ورځ باندے په اخيرى وقت د مانځه كښ نو لازم ده پدے باندے فريضه د مونځ د هغه وخت ځكه چه اګركه باقى پاتے نه وى د وخت نه دومره مقدار چه غسل اوكړى په هغے كښ ځكه وقت غسل نه حسابيږى د زمانے د حيض نه نو دا وقت د جوب الصلاة راغلے ۔

﴿ ولو انقطع دمها ﴾ ترجمه : او كه چرے وينه د زنانه منقطع شوه كم د لسو ورځو نه په اخيرى وقت د مانځه كښ كچرے باقى پاتے وو د وقت نه دومره مقدار چه دا غسل اوكړى او تكبير تحريمه اوكړى د مانځه دپاره نو لازم شويدے فريضه د وقت او كچرے دومره وقت باقى نه وو بيا پرے فريضه نشته ځكه چه دا تكليف بما لا يطاق لازميږى او لا يكلف الله نفسا الا وسعها تر اوسه پورے ئے تمسكات قويه ذكر كړه اوس تمسكات ضعيفه ذكر كوى چه هغے ته استدلالات فاسده وائى صاحب شاشى دا وجوهات په يوه طريقه ذكر كړيدى او صاحب دحسامى په بله طريقه ذكر كړيدى حصر

پدے انواعو کښې مقصود نه دے خو منها سره ئے ذکر کوی بطور نمونه ۔

﴿ ثم نذكر طرفاً من التمسكات الضعيفة ﴾

بیا ذکر کوو مونږ څه طرق د تمسکات ضعیفه وو نه دپاره ددے چه شی دا تنبیه په موضع د خلل باندے په دے نوع کښې ځکه تعرف الاشیاء باضدادها چه کله دا تمسکات ضعیفه ذکر شی نو تمسکات قویه (صحیحه) به پرے خه واضح شی خو مراد د ضعیفه و نه فاسده ده عندنا اګرکه عند الخصم هغه تمسکات صحیحه دی۔

﴿ منها ان التمسک بما روی انه قاء فلم يتوضأ ﴾

ترجمه: بعض د هغه تمسکات ضعیفه و نه تمسك دے په هغه روایت چه روایت شویدے د نبی نه چه نبی علیه السلام قئ اوکړو او اودس ئے اونکړو دپاره د اثبات ددے چه قئ ناقض د وضوء نه دے نو دا تمسك ضعیف دے (فاسد دے) ځکه اثر دلالت کوی پدے خبره چه قئ نه واجبوی اودس لره فی الحال ځکه چه حدیث کښې فاء ده فلم يتوضأ او فاء د تعقیب مع الوصل دپاره راځی یعنی قئ ئے اوکړو او متصل ئے اودس اونکړو نو پدے خو مونږ هم قائل یو چه متصل په قئ کونکی باندے اودس لازم نه دے اودس به هله کوی چه کله ورته حاجت پیښ شی چه مسح المصحف کوی یا مونځ کوی ۔

﴿ ولا خلاف فيه ﴾ ترجمه: او په فی الحال اودس نه کولو کښې پس د قئ نه خلاف نشته زمونږ د امام شافعی سره خلاف پدے کښې دے چه قئ ناقض د اودس دے او که نه دے امام شافعی وائی ندے او دا دلیل په تمسك کښې پیش کوی او مونږ وایو چه ناقض دے او حدیث پدے باندے دال ندے چه قئ ناقض ندے بلکه حدیث پدے دال دے چه قئ نه ئے روستو فی الحال اودس نه دے لازم صاحب هدایه ددے حدیث نه بل جواب هم کړیدے چه دلته مراد د قئ نه قئ قلیله دے او احنافو هم په عدم نقض الوضوء قائل دی په قئ لر باندے البته په قئ کثیره باندے اودس ماتیږی عند الاحناف قئ قلیله دیته وائی چه په ملأ الفم سره نه وی او قئ کثیره دیته وائی چه په ملأ الفم سره وی (ډکه خوله) پدے شان سره چه د هغے په خوله کښې نیول ممکن نه وی بلکه خارجیږی عموماً ۔

﴿ وكذلك التمسک بقوله تعالى حرمت عليكم الميتة ﴾

ترجمه : اودارنګه تمسك د بعض شوافعو پدے قول د الله تعالی باندے چه بیشکه حرامه ده په تاسو باندے مرداره دپاره د اثبات د فساد د اوبو په مرګ د مچ سره دا استدلال د دوی ضعیف (فاسد دے) چه په اوبو کښ مچ وغورزیده نو هغوی وائی چه دا اوبه پلیتے شوے ځکه قرآن کښ وائی حرمت علیکم المیتة او ذباب هم میته ده ۔

﴿ لان النص ﴾ ترجمه : ځکه چه دا نص ثابتوی حرمت د میته او پدے کښ خلاف نشته پدے خو مونږ هم قائل یو چه مرداره حرامه ده لکه څنګه چه شوافع قائل دی لیکن خلاف پدے کښ دے چه دا اوبه فاسدے شوے یا نه نو دا آیت په افساد الماء او عدم افساد الماء باندے دلیل نه دے نو دا آیت په افساد الماء کښ پیش کول صحیح نه دی۔

﴿ وکذلک التمسک بقوله علیه السلام حتّیه ثم اقرصیه ﴾

ترجمه : دارنګه تمسك د امام شافعی رحمه الله پدے قول د نبی علیه السلام اسماء بنت ابی بکر ته چه وینه چه پریوتی وی په کپړه باندے نو اوګره وه هغے لره بیا ئے اومګه او بیا ئے اووینزه په اوبو باندے دپاره د اثبات ددے خبرے چه سرکه زائله کونکی د نجس نده نو پدے باندے استدلال کول ضعیف دی ځکه حدیث تقاضا کوی د وجوب د وینزلو د وینے په اوبو باندے نو دا به مقید وی په حالت د وجود د وینے باندے په محل باندے او پدے کښ خلاف نشته چه کله وینه په محل کښ موجوده وه نو د هغے ازاله په اوبو باندے پکار ده۔

﴿ وانما الخلاف فی الطهارة بعد زوال الدم ﴾ ترجمه : خلاف زمونږ په طهارت کښ دے بعد زوال الدم په سرکی سره چه د ازاله د دم نه پس دے محل ته پاکوالے راغلے دے او که نه دے راغلے نو دا حدیث خو پدے دال ندے مونږ وایو چه ازاله د وینے د محل نه اوشوه نو هغه محل پاك شو ازاله چه په هر شی سره شوی وی ۔

﴿ وکذلک التمسک بقوله علیه السلام فی اربعین شاة شاة ﴾۔

ترجمه : اودغه رنګه تمسك د امام شافعی پدے قول د نبی علیه السلام چه په څلویښت بیزو کښ یوه بیزه په زکوة کښ لازمه ده دپاره د عدم جواز د ورکولو د قیمت ضعیف دے۔ مونږ وایو چه په زکوة کښ قیمت ورکول جائز دی او امام شافعیؒ وائی ندی جائز ځکه د شارع د طرف نه تعین د شاة راغلے دے ۔

﴿ **لانه يقتضى** ﴾ ترجمه : ځکه حدیث دلالت کوی د وجوب د شات په ځلویښتو کښې او پدے کښې خلاف نشته زمونږ او د امام شافعی بلکه خلاف ئے په سقوط د واجبو کښې دے په اداء د قیمت سره چه کله زکوٰة ورکونکے د شاة په ځائے په زکاة کښې قیمت ورکړی نو ذمه دده فارغه ده یا نه ده نو حدیث خو پدے دال نه دے ۔

﴿ **وكذلک قوله تعالى واتمو الحج والعمرة لله** ﴾ دارنګه تمسك پدے قول د الله تعالى چه پوره کړئ تاسو حج او عمره الله لره ۔ دا هم اختلافی مسئله ده امام شافعی وائی چه عمره فرض ده مونږ وایو فرض نه ده ۔ امام شافعی تمسك پدے آیت کوی چه اتموا الحج والعمره کښې اتموا امر دے او امر دلالت کوی په جوب باندے مونږ وایو چه امر په آیت کښې په اتمام شویدے او اتمام بعد الشروع وی نو چه په عمره کښې شروع اوشوه نو د هغے اتمام لازم دے ځکه سنت ده او وجب النفل بالشروع خبره په ابتداء کښې ده چه ابتداءً عمره واجب ده او که نه ده نو دا آیت دلالت په وجوب د عمرے باندے نه کوی ځکه چه شروع په عمره کښې نوی شوی نو آیت هغے ته ندے متوجه بلکه آیت متوجه دے اتمام بعد الشروع ته ۔

﴿ **لاثبات وجوب العمرة ابتداءً** ﴾ تمسك پدے آیت باندے دپاره د اثبات د وجوب د عمرے ابتداء ضعیف دے ځکه نص تقاضا کوی د وجوب د اتمام او دا اتمام پس د شروع نه راځی او پدے کښې خلاف نشته زمونږ او د امام شافعی سره خلاف په وجوب د عمره کښې دے ابتداءً ۔

﴿ **وكذلک التمسک بقوله عليه السلام لا تبيعوا الدرهم بالدرهمين** ﴾

ترجمه : دغه رنګ تمسك د امام شافعی پدے قول د نبی علیه السلام باندے چه مه خرڅوئ یو درهم په دوه درهمو باندے او نه یو اوړے په دوه اوړو باندے دپاره د اثبات ددے چه بیع فاسده نه فائده کوی ثبوت د ملك دا تمسك ضعیف دے ځکه نص تقاضا کوی د تحریم د بیع فاسدے (چه یو درهم په دراهمو خرڅول حرام ده) د بیع فاسده ده او پدے کښې خلاف نشته چه بیع فاسده حرامه ده لیکن خلاف پدے کښې دے چه آیا بیع فاسده اوشی نو دا مفیده د ملك ده او که نه ده نو پدے حدیث کښې دلالت په ثبوت الملك او په علم

ثبوت الملك باندے نشته۔

﴿ وكذلک التمسک بقوله علیه السلام الا لا تصوموا فی هذه الایام ﴾

دغه رنګ تمسك د شوافعو پدے قول د نبی علیه السلام چه خبردار روژه مه نیسئ پدے ورځو کښې ځکه دا ایام د خوراك او سکاك او جماع دی دپاره د اثبات ددے خبرے چه نذر په روژه د ورځ د اختر صحیح نه دے نو دا تمسك صحیح نه دے ضعیف دے ځکه نص تقاضا کوی د حرمت د فعل (چه روژه پدے ورځو کښې حرامه ده) او پدے کښې خو خلاف نشته مونږ هم وایو چه روژه پدے ورځو کښې حرامه ده۔

﴿ انما الخلاف فی افادة الاحکام ﴾ خلاف زمونږ په افادے د احکاماتو کښې دے چه دا ناجائز فعل اوشو نو احکام پدے مرتب کیږی او که نه نو موږ پدے ترتب د احکاماتو وایو او تاسو پرے ترتب د احکاماتو نه وایئ۔

﴿ مع کونه حراماً ﴾ ترجمه: سره د کیدو ددینه حرام او حرمت د فعل متنافی نه وی د ترتب د احکامو سره ځکه پلار کچرے ام ولده اوګرځوی وینزه د ځوی خپله نو کیږی دا حرامه یعنی دا ام ولده ګرځول د پلار وینزی د ځوی لره فعل حرام دے۔

﴿ ویثبت به الملک للاب ﴾ او ثابتیږی پدے سره ملك دپاره د پلار۔

﴿ ولو ذبح شاة بسکین مغصوبة ﴾ او کچرے ذبح کړے شی بیزه په چاړه غصب کړے شوے باندے نو دا فعل حرام دے او روا ده مذبوحه ځکه اراقت د دم پرے اوشو او رطوبات نجسه ترے اووتل نو فعل حرام وو او حکم پرے مرتب شو۔

﴿ ولو غسل الثوب النجس بماء مغصوبة ﴾ او کچرے وینځل شوه کپړه نجسه په اوبو پاکو غصب کړے شوے وو باندے نو دا فعل حرام دے دا عمل ئے جائز نه دے چه اوبه غصب کوی او کپړے پرے وینځی لیکن کپړه پرے پاکیږی ځکه زوال د نجاست اوکړے شو۔

﴿ ولو وطئ امرأة فی حالة الحیض ﴾ کچرے وطی اوکړه د ښځے سره په حالت د حیض کښې نو دا وطی حرامه ده ځکه منهی عنه ده نصا خو ثابتیږی پدے سره احصان د وطی کونکی او دارنګه ثابتیږی پدے سره حل دپاره د زوج اول هغه ورسره بیا

نکاح کولے شی۔

﴿ فصل فی تقریر حروف المعانی ﴾

اصولینو په بحث د حروف المعانی و کښې مختلف دی صاحب د حسامی بحث د حروف معانی اخیر کښې ذکر کړیدے صاحب د نور الانوار په مینځ د حقیقت او مجاز کښې ذکر کړیدی ځکه بعض معانی د دوی حقیقةً وی او بعض مجازاً وی نو د حقیقت او مجاز سره ئے مناسبت دے ۔ صاحب شاشی دا ستدلالات صحیحه او فاسده و نه روسته ذکر کړیدی په طریقه د جملے معترضے سره حروف معانی ذکر کړیدی چه د دے د بعض احکامو تعلق دے د حروف معانی و سره ۔

حروف په دوه قسمه دی حروف معانی او حروف مبانی ۔ حروف مبانی هغه دی چه د هغے نه ترکیب د کلمے جوړیږی او حروف معانی (۱) هغه دی چه هغه معانی د افعالو اسماؤ ته رسوی نو دا حروف عاطفه دی حروف شرط وغیره دی ۔

حروف عاطفه کثیر دی نو ځکه مصنف مقدم کړیدی۔

سوال : په حروف معانی و کښې خو روسته بعض اسماء هم دی تاسو مسمّیٰ په حروف المعانی سره څنګه کړل ؟ ۔

جواب : پدے کښې تغلیب دے مصنف غلبه ورکړیده حروفو لره په غیر حروفو باندے په حروف عاطفه و کښې ئے واو مقدم کړیدے ځکه چه دا اصل دے چه دا د مطلق جمعے دپاره دے پدے کښې لحاظ د بلے معنی نشته ۔

﴿ **فصل فی تقریر حروف المعانی** ﴾ ترجمه : فصل دے په بیان د حروف معانی و کښې په حروف معانی و کښې واو دپاره د مطلق جمع دے یعنی پدے کښې به قید

---

(۱) حروف معانی کلمات دی ځکه تعریف د کلمې وربانذې صادق دی او حروف مبانی کلمات نه دی۔ فتدبر ۔ سید

ترتیب نه وی قید د مهلت به پکښې نه وی لکه په فاء او ثم کښې چه دے دا رائے د امام ابو حنیفه ده۔

﴿ **وقیل ان الشافعی جعله للترتیب** ﴾ وئیلے شویدی چه گرځولے دے امام شافعی واو لره دپاره د ترتیب، چه حکم به د معطوف علیه دپاره اولاً وی او حکم د معطوف دپاره ثانیاً وی۔

﴿ **وعلی هذا وجب الترتیب** ﴾ او بناء پدے امام شافعی گرځولے دے ترتیب واجب په باب د اودس کښې۔ یا ایها الذین آمنوا اذا قمتم الی الصلاة فاغسلوا وجوهکم وایدیکم الخ نو عمل د وجه به مقدم وی او لاسونه به روسته وی نو پدے ترتیب سره اودس فرض دے که پدے ترتیب اودس او نه شو نو اودس ندے شوے احناف وائی چه ترتیب سنت دے که بلا ترتیبه اودس اوشی نو د مسنون طریقے نه خلاف دے خو مفتاح الصلاة واقع کیږی۔

﴿ **قال علمائنا** ﴾ ترجمه: زمونږ علماؤ وائی چه واو د مطلق جمع دپاره دے نو چه کله سړے اووائی خپلے ښځے ته کچرے تا خبرے اوکړے د زید سره او د عمرو سره نو ته طلاقه ئے نو هغے خبرے اوکړے اول د زید سره او روسته د عمرو سره نو دا ښځه طلاقیږی او شرط نه ده پدیکښې معنی د ترتیب او مقارنت۔ نو که د زید سره ئے اول خبرے اوکړے او د عمرو سره ئے روسته او یا ئے عکس اوکړو نو شرط متحقق شو ښځه طلاقه ده او ترتیب پکښې شرط نه دے کما ذهب الیه الشافعی۔

﴿ **ولو قال ان دخلت هذه الدار وهذه الدار** ﴾ او کچرے اووئیل خاوند ښځے ته په دے شرط سره کچرے ته داخله شوے کور ته او دے بل کور ته نو ته طلاقه ئے نو دا ښځه داخله شوه دویم کور ته بیا داخله شوه اول کور ته نو طلاقیږی ځکه ده کلمه د واو ذکر کړیده او دا د مطلق جمع دپاره دے تقاضا د ترتیب نه کوی۔

﴿ **قال محمد اذا قال ان دخلت الدار** ﴾ ئیلی دی امام محمد کچرے اووئیل خاوند چه که ته داخله شوے کور ته او ته طلاقه ئے نو طلاقیږی فی الحال ځکه دا واو حالیه دے په حال کون ستا کښې چه ته طلاقه ئے نو تعلیق د طلاقو په دخول د دار پورے رانغلو۔

﴿ **ولو اقتضی الترتیب** ﴾ کچرے دے واو تقاضا د ترتیب کولے نو مترتب شوے

به وی طلاق په سبب ددے واو سره په دخول د ښځے باندے دارته او دا به تعلیق وے او تنجیز به نه وے یعنی طلاق تعلیقی به وے او تنجیزی به نه وے والامر لیس کذلك ـ ځکه ان دخلت الدار جمله شرطیه ده ځانله او انت طالق جمله حالیه ده چه ته فی الحال طلاقه ئے جمله انشائیه ده ـ

﴿ وقد یکون الواو للحال ﴾

نو واو چه د جمعے دپاره راځی نو دا ددے معنی حقیقی ده او کله نا کله دپاره د حال راځی نو دا ئے معنی مجازی ده نو مناسبت پکار دے په مینځ د معنی حقیقی او مجازی کښې نو مناسبت دا دے چه جمع به راولی دا واو په مینځ د حال او د ذی الحال کښې ـ

﴿ وحینئذ تفید ﴾ او پدغه وخت کښې دا واو فائده کوی معنی د شرطیت مثال د هغے هغه دے چه وئیلی دی امام محمد په باره د عبد ماذون کښې کله چه مولیٰ خپل عبد ته اووئیل ادِّ الیّ الفا وانت حر (ادا کړه ما ته زر روپۍ او حال دا دے چه ته به آزاد ئے) ـ

﴿ یکون الاداء شرطاً ﴾ ترجمه : نو وی به اداء شرط دپاره د حریت ـ

سوال: پدے عبارت اعتراض دے چه ادِّ الی الفا دا شرط دے د حریت دپاره حریت به هله کیږی چه ادائیګی د الفه اوشی او واو دپاره د حال دے او دا داخل کړے شویدے په انت حر باندے نو پکار دا ده چه انت حر شرط شی او اداء مشروط او دلته خو تاسو اداء شرط وایئ او حریت پرے مرتب کوئ دیته مشروط وایئ نو دا عبارت ستاسو مؤدی دپاره د معنی مرادے نه دے ددینه متعدد جوابات شویدی ـ

جواب : چه دا د حال مؤکده د قبیلے نه دے چه دا واو داخل دے په ادِّ باندے معنی ئے دا شوه انت حر ومؤد الیّ الف (ته حرئے په حال کون ستا کښې چه ته ادا کونکے ئے ما ته زر روپو لره) نو ادِّ په نفس الامر کښې شرط شو اګرکه ظاهر کښې واو داخل دے په انت حر باندے او هغه شرط دے ـ

﴿ وقال محمد فی السیر الکبیر ﴾

وئیلی دی امام محمد په سیر کبیر کښې کله چه اووئیل امام کفارو ته دروازه کولاو کړئ او یئ به تاسو په امان کښې نو دوی نه په امان کیږی بغیر د فتح الباب نه ځکه فتح

الباب شرط دے دپاره د امان او شرط مقدم وی په مشروط باندے دلته بیا هغه مذکور اعتراض دے خو دلته هم هغه جواب دے چه دلته هم په نفس الامر کښ واو داخل دے په افتحوا الباب باندے۔

﴿ **ولو قال للحربی** ﴾ کچرے امام حربی ته اوونیل راکوز شه د قلعه نه اوئے به ته په امن نو دے نه په امن کیږی بغیر د نزول نه ځکه نزول شرط دے دپاره د امن۔

﴿ **وانما تحمل الواو علی الحال** ﴾ حمل کولے شی واو په حال باندے په طریقه د مجاز سره ځکه افتحوا الباب امر دے جمله انشائیه ده او د وانتم آمنون دا جمله خبریه ده او عطف د جملے خبرئے په جمله انشائیه صحیح نه دے نو دلته مونږ مجازا واو په حالیت حمل کړو چه حمل صحیح شی په جمله انشائیه۔

﴿ **فلا بد من احتمال اللفظ** ﴾ نو لابدی به وی د احتمال د لفظ نه چه دا لفظ به احتمال ددے لری او قرینه به په ثبوت د معنی مجازی وی۔

﴿ **کما فی قول المولیٰ اَدِّ الیَّ الفاً وانت حرٌّ** ﴾ لکه پدے قول د مولیٰ کښ خپل عبد ته ادا کړه ما ته زر روپئ او ته آزاد ئے نو حریت به متحقق شی په حالت د اداء کښ او قائم به شی دلیل پدے تعین د حال باندے ځکه مولیٰ مستحق نه ګرځی په عبد خپل باندے د مال سره د قیام د رق نه چه هم رقیت وی او هم پرے دے متحقق شی مال نو دوی دواړو مینځ کښ منافات دے نو دلته به اداء د الفه و شرط شی او حریت به پرے مرتب کړو۔

﴿ **ولو قال انت طالق وانت مریضة** ﴾

کچرے اوونیل خاوند ښځے ته چه ته طلاقه ئے په حال کون ستا کښ چه ته مریضه ئے اویا مونځ کونکی ئے نو طلاقیږی به فی الحال چه مریضه او مصلیه وی او که نه وی او کچرے نیت د تعلیق ئے کړے وو د طلاقو په مرض یا په صلاة پورے نو صحیح دے چه به مینځ دده او د الله کښ دے ځکه چه دا لفظ د احتمال د تعلیق خو لری اګرکه ظاهر کښ دا حالت د مرض حالت د ترحم دے سبب د تفریق ندے او حالت د صلاة حالت د تعبد دے نو احتمال نه لری چه متعلق شی طلاق پدے پورے او سبب د تفریق نو قاضی به ئے نیت نه معتبر وی او مفتی ولره فتوی د اعتبار د نیت ورکولے شی۔

﴿ **واذا تأيد ذلک بقصده** ﴾ او کچرے مؤید شو دا خلاف ظاهر په قصد او اراده ددہ سره نو ثابته شوه معنی خلاف الظاهر ۔ (۱)

﴿ **ولو قال خذ هذا الالف مضاربة** ﴾ ۔ترجمه : کچرے وے وئیل یو سړی ته چه واخله دا زر روپۍ په مضاربت او کار کوه پدے په کپړه کښ رختونه نو حکم دا دے چه دا به مقید نه وی په عمل فی البز کښ او وی به مضاربت عام (چه که دا مضارِب عمل په کپړه کښ کوی او که په غیر د کپړه کښ ئے کوی) ۔

﴿ **لان العمل فی البز** ﴾ ځکه چه دا عمل په کپړو کښ صلاحیت نه لری د حالیت دپاره دا غستلو د زرو روپو په مضاربت سره نو نه مقید کیږی صدر د کلام مقید په عمل بالبز پورے ځکه دا واو مطلق جمع دپاره دے او بز ئے ورته نمونه د مضاربت بیان کړیده ۔

﴿ **وعلی هذا قال ابو حنيفة** ﴾ : بناء پدے قاعده باندے وئیلی دی امام ابو حنیفه چه ښځے خاوند ته اووئیل طلاق راکړه ما ته ستا دپاره به زر روپی وی نو خاوند طلاقه کړه نو نه واجبیږی خاوند لره په ښځه باندے هیڅ شی ځکه چه دا قول د ښځے چه ولك الف دا افاده نه کوی د حالت د وجوب د الفه وو په هغے باندے او دا قول ددے چه طلقنی مفید دے بنفسه نو نه به شی پریخودے عمل پدے باندے بغیر د دلیل او قرینے نه ۔

﴿ **بخلاف قوله** ﴾

ترجمه : بخلاف ددے قول د سړی نه چه یو سړی بل ته اووائی دا سامان پورته کړه تا لره به یوه روپی وی نو دلته دلالت د اجارے (مزدوری) منع کوی عمل کول په حقیقت ددے لفظ چه حمل دے بلا اجرت وی نو دا اجرت قرینه شوه پدے چه حمل د متاع به بلا اجرته نه وی نو واو حمل شو په معنی مجازی چه حالیت دے په قرینه د اجرت سره ۔

او په طلقنی کښ قرینه د حمل د واو په حالیت باندے موجوده نه ده نو وقوع الطلاق بنفسه اوشول ے د الفه و نه ۔ (۲)

---

(۱) خو دیانةً لا قضاءً ۔ سید

(۲) دلته څه عبارة د شاشی پاتی دی په شرح کښ او هغه داسی : وقولها طلقنی مفید بنفسه فلا يترك العمل ... چه طلقنی دی دا مفید دی په خپله پس (آینده)

﴿ فصل الفاء للتعقيب مع الوصل ﴾

ترجمه : فاء دپاره د تعقيب مع الوصل ده ددے وجے نه دا مستعمليږي په جزاء کانو کښې ځکه اجزاء په عقب د شرط کښې وی اول شرط متحقق شی روسته جزاء مرتب شی ۔

﴿ قال اصحابنا ﴾

ترجمه : زمونږ علماؤ وئيلی دی چه کله بائع اووائی دا عبد مے په تاسو خرڅ کړيدے په زر روپی نو مشتری ورته په جواب کښې اووئيل چه په دی د ازاد وی نو دا قول دده قبلول دی د بيعی دپاره اقتضاءً او ثابتيږی عتق ددے نه روسته د شرط نه ځکه فهو حر کښې فاء ده او فاء د تعقيب مع الوصل دپاره ده مخکښې به دا عبد د مشتری په ملك کښې داخل وی نو هله به پرے حريت مرتب کيږی او د مشتری په ملك کښې به هله داخليږی چه بيع د دوی ترمينځه متحقق شی نو گويا دا قبول د بيع شو اقتضاءً چه بيع ورله مقتضیٰ (بصيغة المفعول) شو او فهو حر ورله مقتضی (بصيغة الفاعل) شولو۔

﴿ بخلاف ما لو قال وهو حر او هو حر ﴾ ترجمه : په خلاف ددے قول د مشتری چه هغه اووائی وهو حر يا هو حر دا دے آزاد وی په کلمه د واو سره ئے ذکر کړی او يا بغير د کلمه د واو نه ئے ذکر کړی ځکه دا رد دے دپاره د بيع ځکه دلته کلمه د واو ده او واو

(بقيه) پريښودلی به نه شی عمل په دی يعنی په گرځولو د واو دپاره د عطف په غير د دليل نه۔

((بخلاف قوله احمل هذا المتاع ولك درهم لان دلالة الاجارة تمنع العمل بحقيقة اللفظ))

شرح : په خلاف ددی قول د مُوجِر مستأجر ته چه بار کړه دغه سامان او ستا به درهم وی ځکه دلالت د حال د اجاری منع کوی عمل په حقيقت د لفظ باندی چه کيدل د واو دی دپاره د عطف ۔

يعنی دا واو به په دی مثال کښې د حاليت دپاره وی ځکه حالت د اجاری دلالت کوی ولی چه اجاره کښې معاوضه امر اصلی دی نو دليل شو ددی چه ترك د ظاهر دی چه واو د عطف شی نو واو به حاليت شی او دراهم به بدل او شرط شی۔ سيد فضل الحق

د مطلق جمع دپاره وی نو مقصد دا شو چه دے ورته وائی چه ته څنګه دا غلام په ما باندے راخرڅوی دا خو آزاد دے آزاد خو نه خرڅیږی او فاء خو تعقیب مع الوصل دپاره ده نو مطلب دا شو چه اول مے واغسته او روسته مے آزاد کړو۔

﴿واذا قال للخياط﴾

ترجمه: چه صاحب د کپړے خیاط ته اوونیل اوګوره دے کپړے ته آیا دا به څما د نمیص دپاره پوره شی نو هغه اوکتله نو بیائے ورته اوونیل آو کافی کیږی نو صاحب الثوب ورته اوونیل فاقطعه چه پوره کیږی نو بیائے کټ کړه نو هغه کټ کړه نو ناڅاپه هغه کمه شوه نو حکم دا دے چه درزی به ضامن وی څکه ده ورته امر کړے وو په قطع سره روسته د کفایت نه څکه ده ورته وئیلی وو فاقطعه فاءئے ذکر کړے وه مقصد دا چه اذا یکفینی فاقطعه نو دینه مفهوم مخالف دا راووته چه اذا لم یکفنی فلاتقطعه – چه نه کافی کیږی نو مه ئے قطع کوه نو خیاط خو ماذون دے بالقطع بشرط الکفایة۔

﴿بخلاف ما قال اقطعه﴾ په خلاف ددے قول چه دے ورته اووائی اقطعه یا واقطعه: په کلمه د واو سره ئے ذکر کړه یا بغیر د واو نه ئے ذکر کړه خو دا فاء ورسره نه وو ذکر کړے نو په دغه صورت کښ به خیاط ضامن نه وی څکه کلمه د واو تقاضا د تعقیب نه کوی۔

﴿ولو قال بعت منک هذا الثوب﴾ ترجمه: او کچرے سړی داسے اوونیل چه دا کپړه مے خرڅه کړیده په تا باندے په لس روپۍ باندے نو قطع ئے کړه نو هغه قطع کړه او نورئے هیڅ اونه وئیل نو کیږی بیع تامه څکه ده فاء ذکر کړیده چه فاقطعه مطلب دا چه اقطعه بعد البیع نو چه وس ئے هغه قطع کوی نو هغه قبلول د هغه عقد د بیع کوی نو پدے مشتری باندے به ثمن د کپړے لازم وی دپاره د بائع۔

﴿ولو قال ان دخلت هذه الدار فهذه الدار فانت طالق﴾

ترجمه: کچرے خاوند ښځے ته اوونیل کچرے ته دے دار ته داخله شوے او بیا دے بل دار ته داخله شوے نو ته دے طلاقه ئے نو شرط به د وقوع الطلاق دپاره دخول وی دار ثانی ته پس د دخول نه دار اول ته متصلًا (نو طلاقیږی به) او کچرے دا ثانی کور ته اول داخله شوه او اول کور ته ثانیا داخله شوه او یا اول دار ته اولًا داخله شوه او دویم کور ته ثانیا داخله

شوه خو متصل نه بلکه بعد د مده نه نو طلاق نه واقع کیږی ځکه شرط موجود نه شو ځکه فاء د ترتیب مع الوصل دپاره ده۔

﴿ **وقد یکون الفاء لبیان العلة** ﴾ تعقیب مع الوصل خو معنی حقیقی د فاء ده خو کله نا کله د بیان د علت دپاره هم راځی یعنی مدخول د فاء به علت وی دپاره د ماقبل او کله به مدخول د فاء معلول وی دپاره د ماقبل خو چه مدخول ددے علت وی د ماقبل دپاره نو شرط ئے دا دے چه مدخول ددے کښې به دوام او استمرار وی کچرے دوام او استمرار پکښې نه وی نو هلته بیا دخول د فاء په هغه علت باندے صحیح نه دے۔

﴿ **اذا قال لعبد ادّ الیّ الفاً فانت حر** ﴾

مولیٰ خپل عبد ته اووئیل ادا کړه ما ته زر روپۍ نو ته آزاد ئے نو کیږی عبد حرفی الحال اګرکه اداء نه کړی هیڅ شے هم ځکه فانت حر ئے وئیلی دی معنی دا چه ما ته الفه راکړه ځکه چه ته آزاد ئے نو ده خو تحریر مخکښې کړیدے۔

﴿ **ولو قال للحربی انزل فانت آمن** ﴾ کچرے مسلمان اووئیل حربی ته راکوز شه ځکه چه ته په امن باندے ئے نو وی به دا په امن باندے اګرکه دا راکوز نه شی۔

جامع صغیر کښې امام محمد وئیلی دی چه یو سړی بل ته تفویض اوکړو چه ځما د ښځے اختیار ستا په لاس کښې دے ته ورته طلاق ورکړه نو هغه ولره طلاق ورکړو په دغه مجلس کښې نو طلاقیږی په طلاق بائنو سره ځکه دا اختیار ورکول دی او پدے سره طلاق بائن واقع کیږی۔

﴿ **ولا یکون الثانی توکیلا** ﴾ دا فطلقها چه دے وائی نو دا به توکیل نه وی په طلاق سره غیر د اول نه نو دا اوګرځیده داسے ګویا چه ده اووئیل چه طلاقه کړه دے لره په سبب ددے سره چه اختیار ددے په لاس ستا کښې دے۔

﴿ **ولو قال طلقها فجعلت امرها بیدک** ﴾ ترجمه : کچرے ده ورته اووئیل چه ځما ښځے لره طلاق ورکړه نو ګرځولیدے ما اختیار ددے په لاس ستا کښې نو هغے طلاق ورکړو په هغه مجلس کښې نو طلاقیږی په طلاق رجعی سره ځکه چه طلقها امر شو بالطلاق صریحی الفاظو د طلاقو سره چه تفویض اوکړل شی نو هغه طلاق رجعی وی۔

﴿ولو قال طلقها وجعلت امرها بيدك﴾

او کچېرې خاوند ورته اووئيل چه طلاقه کړه دې لره او وګرځولې دې ما اختيار ددې په لاس ستا باندې نو هغه طلاق ورکړو په هغه مجلس کښې نو طلاق واقع کيږي دوه ځکه چه طلقها ځانله تفويض دې او جعلت امرها بيدك دا ځانله تفويض دې نو دا ئې د دوه طلاقو مالك اوګرځولو نو په دوه و طلاقو سره طلاقيږي.

﴿وكذلك لو قال طلقها﴾ ترجمه: همدارنګه کچېرې اووئيل خاوند هغې ته چه طلاقه کړه هغې لره او يا ئې ابنها ورته اووئيل چه د خان نه ئې جدا کړه يا ئې ورته اووئيل: وابنها وطلقها يعنى بالواوئې ذكر كړو او كه بدون الواوئې ذكر كړو نو هغه سړي طلاق وركړو په هغه مجلس كښې نو واقع كيږي دوه طلاقه بائن ځكه دا يو تفويض صراحةً شو پدې او دويم تفويض بائن ښويدې نو دواړه خو جمع كيدې نشي نو وصف د بينونت ته به اعتبار وي.

﴿وعلى هذا قال اصحابنا﴾

او بناء پدې قاعده باندې وئيلى دى اصحابو زمونږ كله چه آزاده كړې شي وينځه منكوحه نو ددې دپاره به اختيار وي برابره خبره ده چه خاوند ئې زوج وي او كه عبد وي.

دا مسئله اختلافيه ده بيننا وبين الشافعي چه يو امه وي په نكاح د چا كښې چه هغه عبد وي او كه حر وي هر كله چه مولىٰ دا آزاده كړه نو امام ابوحنيفه وائي چه ددې امې دپاره به خيار عتق وي كه د زوړ خاوند سره پاتې كيده نو صحيح ده ورنه فسخ د نكاح به كيږي. امام شافعي رحمه الله وائي كچېرې خاوند ددې حر وو نو بيا ولره اختيار نشته او كه خاوند ئې عبد وو نو بيا ورلره اختيار شته.

دليل د امام شافعي صاحب هدايه ذكر كړيدې چه كله خاوند ئې حر وي نو دا هم حره شوه نو حره زنانه خو استفراش د حر سړي مستكره نه ګنړي نو اختيار دې لره مفيد د فائدې نه شو البته كه خاوند ئې عبد وي نواوس دا حره شوه نو حره ښځه خو استفراش د عبد مستكره ګنړي نو ديته اختيار د عتق ملاو شو او دا خيار مفيد فائدې دې.

امام ابوحنيفه وائي چه په دواړو صورتونو كښې دې لره اختيار عتق شته ځكه حديث كښې راځي چه كله بريره رضي الله عنها آزاده كړې شوه چه بدل د كتابت ئې عائشې رضي

الله عنها اداء کړو نو هغې ته نبی ﷺ اوفرمائیل : ملکتِ بضعكِ فاختاری - دلته فاختاری کښې فاء ده او فاء د تعقیب مع الوصل دپاره ده نو دلته مالك کیدل د منافعو د بضعې ئې سبب گرځولے دے دپاره د اختیار کچرے خاوند ئې حر وو نو هم مالکه د منافعو د بضعې ده او که عبد وو نو هم مالکه د منافعو د بضعې ده.

دویم دلیل هم صاحب هدایه ذکر کړیدے چه اعتبار د طلاقو بالنساء وی چه کله دا امه وه نو خاوند ئې مالك د دوه طلاقو وو چه کله حرّه شوه نو خاوند ئې مالك د طلاق ثلاثو شو نو یو طلاق ئې زائد شو نو دے لره اختیار شته چه که دا یو طلاق په ځان باندے پریږدی او که فسخ د نکاح کوی.

﴿ لقوله علیه السلام ﴾

ترجمه : د وجې ددے قول د نبی ﷺ نه بریری رضی الله عنها ته کله چه آزاده کړے شوه چه ته مالکه ئې د منافعو د بضعې نو ځان غوره کړه نو ثابت ئې کړو هغې لره اختیار په سبب د مالك کیدو د هغې د بضعې په سبب د عتق سره او دا معنی (یعنی ثبوت د خیار) ندے متفاوت په مینځ ددے کښې چه که خاوند ئې حر وی او که عبد وی.

﴿ ویتفرع منه مسئلة اعتبار الطلاق بالنساء ﴾ ترجمه : او پدے باندے متفرع کیږی مسئله د اعتبار د طلاقو بالنساء یعنی اعتبار د طلاقو به په نساء باندے وی کچرے حرّه وی نو طلاق مغلظ د هغې دپاره درے دی اگرکه خاوند ئې عبد وی او که امه وی نو طلاق مغلظ به دهغې دپاره دوه وی اگرکه خاوند ئې حر وی.

﴿ فان بضع الامة ﴾ ترجمه : ځکه مالك کیدل د منافعو د بضعې دامے منکوحے ملك د زوج دے او دا ندے زائله شوے د عبد نه په عتق د هغې سره نو ضرورت پیخ شو قول ته په زیات والی د ملك په محل کښې (چه امه ده) دپاره د خاوند په عتق د امے سره تردے چه د دے خاوند دپاره ملك ثابت شو په زیادت کښې او کیږی دا زیادت د ملك سبب دپاره د ثبوت د خیار د امے دپاره او ازدیاد د ملك د منافعو د بضعې په عتق د امے سره دا معنی ده د اعتبار د طلاق بالنساء.

﴿ فیدار الحکم ﴾ نو مرتب به کړے شی حکم د مالکیت د طلاق ثلاثه و په عتق

ښځه پانده نه په عشق د خاوند پانده لکه څنګه چه دا مذهب د شافعي دے کچرے زنانه آزاده شوه نو خاوند ئے مالك د درے طلاقو دے او که امه وي نو خاوند ئے مالك د دوه طلاقو دے او امام شافعي وائي چه اعتبار د طلاقو بالزوج دے که خاوند ئے حر وي نو مالك د درے طلاقو دے او که عبد وي نو مالك د دوو طلاقو دے اګر که ښځه ئے امه وي .



﴿ فصل ثم للتراخي ﴾

کلمه د ثم په حروف عاطفه و کښې دپاره د تراخي ده په نزد د امام ابو حنیفه فائده کوی تراخي په لفظ او حکم دواړو کښې او په نزد د صاحبینو باندے فائده کوی تراخي في الحکم فقط نه په لفظ کښې په لفظ خو ئے اتصال دے ۔

﴿ بیانه فیما اذا قال لغیر المدخول بها الخ ﴾

ترجمه: بیان د اختلاف دا دے چه خاوند ښځے غیر مدخول بها ته اووئیل که ته دار ته داخله شوے نو ته به طلاقه ئے بیا به طلاقه ئے نو په نزد د امام ابو حنیفه دا اولنے طلاق متعلق وی په دخول باندے دار ته ځکه چه په کلمه د فاء سره ئے ذکر کړیدی او فاء د تعقیب مع الوصل دپاره راځی او طلاق ثانی به فی الحال واقع کیږی او طلاق ثالث به لغوه شی ځکه چه په دویم سره چه وقوع الطلاق اوشو نو بیا خو د طلاق دپاره محل پاتے نه شو نو لغوه شو دا داسے شوله چه یو سړے ښځے ته اووائی: ان دخلت الدار فانت طالق نو دے بیا چپ شی او روسته ورته اووائی چه انت طالق نو مسئله دا ده چه کله سړے د خپلے ښځے طلاق معلق کړی دیو شرط پورے او بیا ورله طلاق تنجیزی ورکړی نو طلاق تنجیزی واقع کیږی او طلاق تنجیزی طلاق تعلیقی لره نهٔ باطله وی ۔

﴿ وعندهما یتعلق بالکل ﴾ د صاحبینو په نزد باندے معلق کیږی دا ټول طلاق په دخول پورے (ځکه د دوی په نزد په ثم کښې تراخي في الحکم ده) بیا کله چه دخول دار ته اوشو نو ظاهریږی به ترتیب نو نه به واقع کیږی مګر یو طلاق، پدے شان سره کچرے دا دار ته داخله شوه نو اول طلاق به اول واقع شی او دویم به دویم واقع شی او دریم به دریم ځل واقع شی نو هر کله چه طلاق اول واقع شو نو د دویم او دریم طلاق دپاره محل پاتے نه شو ځکه ښځه غیر مدخول بها ده ۔

﴿ ولو قال انت طالق ﴾ کچرے ده ورته وئیلی وو چه ته طلاقه ئے بیا طلاقه ئے بیا طلاقه ئے کچرے دار ته داخله شوے نو په نزد د امام ابو حنیفه باندے اولنے طلاق واقع

کیږي في الحال او دویم او دریم طلاق به لغوه وي ځکه دا چه انت طالق اوونیل او بیا
یکت شو او بیا ئے اوونیل چه انت طالق نو طلاق خو به اول خل ویلو سره واقع شو او ښځه
غیر مدخول بها ده نو د طلاقو دپاره محل پاتے نه شو نو دویم او دریم طلاق به لغوه شي.

﴿**وعندهما**﴾ او په نزد د صاحبینو بانده واقع کیږي واحد طلاق په وخت د دخول
کښ دار ته د هغه وجے نه چه مونږ ذکر کړيدي یعنی دا دریے واړه طلاق معلق وي په دخول
د دار پورے نو هر کله چه شرط موجود شو نو بیا به بدیے وقوع کښي ترتیب راشي نو اول
طلاق به اول واقع شي او دویم به بیا واقع شي او دریم به بیا واقع شي نو هر کله چه اول
طلاق واقع شو نو د دویم او د دریم دپاره محل پاتے نه شو ځکه غیر مدخول بها ښځه ده نو
حکم خو یو شو، امام ابوحنیفه هم د یو طلاق د وقوع قائل دے او صاحبین هم د یو طلاق
د وقوع قائل دي خو فرق دا دے چه امام ابوحنیفه یو طلاق فوراً واقع وائی او صاحبین
وائی چه یو طلاق واقع کیږي خو معلق بدخول الدار.

﴿**وان كانت المرأة مدخولا بها**﴾ او کچرے ښځه مدخول بها وه نو کچرے
سړي شرط مقدم کړو نو معلق شو اول طلاق په دخول پورے او دوه روستني به في الحال
واقع کیږي عند ابي حنیفه ځکه چه مدخول بها کښي محل د وقوع د دویم او دریم طلاق
دی ځکه په یو طلاق سره د هغے زوجیت ختمیږي نه.

﴿**وان اخر الشرط**﴾ ترجمه: کچرے دا شرط مؤخر کړے وو نو دوه طلاقه في
الحال واقع کیږي او دریم طلاق معلق واقع کیږي به شرط پورے.

﴿**وعندهما**﴾ او په نیز د صاحبینو معلق کیږي کل طلاق بالدخول په دواړو
فصلینو کښي یعنی چه شرط مقدم کړي او که مؤخر کړي خو طلاق به علی الترتیب
واقع کیږي اول به مخکښي واقع شي او دویم به روستو او دریم به روستو ځکه ښځه
مدخول بها ده زوجیت ئے په یو طلاق نه ختمیږي محل باقي دے.

﴿ فصل بل لتدارک ﴾

بل په حروف معانیو کښې بل حرف عاطفه دے دا د تدارك دپاره راځی ځکه دا وضع کړے شویدے دپاره د اعراض د کلام اول نه ذکرا۔
ترجمه : بل دپاره د تدارك د غلطئ راځی په اقامت د ثانی سره په مقام د اول باندے نو کوم ځائے کښې چه تدارك ممکن وی نو هلته به تدارك کیږی او که کوم ځائے کښې تدارك نه کیږی نو هلته به کلام مستقل وی۔
﴿ اذا قال لغیر المدخول بها ﴾ کله چه خاوند اووئیل غیر مدخول بها ښځے ته چه ته طلاقه ئے په یو طلاق سره نه بلکه په دوه سره (خطاء شوم) نو حکم دا دے چه طلاق واحد واقع کیږی ځکه دلته اعراض د کلام د ماسبق ممکن نه دے ځکه چه انت طالق خو کلام انشائی دے پدے سره خو طلاق واقع شول په انشائی کلام کښې بیا رجوع نه وی نو دا ښځه غیر مدخول بها ده په یو طلاق سره ئے بینونت راځی نو بل ثنتین چه دے وائی نو ددے دپاره محل باقی پاتے نه شو۔
﴿ لان قوله لا بل ثنتین ﴾ ترجمه : ځکه دا قول دده چه لا بل ثنتین دا رجوع دے د کلام اول نه په اقامت د ثانی سره په ځائے د اول باندے او صحیح نه دے رجوع دده نو واقع به شی اول طلاق نو باقی پاتے نه شو محل د ثنتین دپاره۔

﴿ و لو کان مدخولا بها ﴾

ترجمه : کچرے دا زنانه مدخول بها وه نو واقع کیږی به درے طلاقه ځکه انت طالق چه ئے اووئیل په هغے یو طلاق واقع شو او ددے نه رجوع صحیح کیږی نه ځکه چه دا کلام انشائی دے او بل ثنتین چه ئے اووئیل پدے باندے مستقل دوه طلاقه واقع شول او محل صالح دے د درے و دپاره نو مجموعه درے طلاقه شول۔
﴿ وهذا بخلاف ما لو قال لفلان علی الف ﴾ او دا په خلاف د هغه قول دے چه سړے اووائی د فلانکی په ما باندے زر روپئ دی نه بلکه دوه زره دی نو نه واجبیږی

دریے زرہ روپیٔ نو پکار وہ چہ دریے زرہ روپیٔ پریے لازم شی خکہ اول خل ئے د الفہ و اقرار وکړو د هغې نه وړے هم په شان د طلاقو اعراض صحیح نه شي او روسته بل الفین دے مستقل دوه زره شی نو جملہ دریے زرہ شوے لیکن عندنا په ده الفین لازمیږی خکہ لا بل الفین چه دا وائی نو دے ددے زرو روپو سره زر نوریے یو ځائے کوی چه نه دوه دی زر نه دی۔

﴿وقال زفر یجب ثلاثة آلاف﴾ ترجمه: امام زفر وائی چه په ده باندے دریے زرہ روپیٔ لازمیږی خکہ حقیقت د لفظ د بل لتدارك الغلط دے په اقامت د ثانی سره په مقام د اول باندے او صحیح نه دے د مقر د طرف نه باطلول د کلام اول نو واجب شو تصحیح د کلام ثانی سره د بقاء د اول نه او دا په طریقه د زیادت د الفه و په الفه اولنو باندے۔

﴿بخلاف قوله انت طالق واحدة لا بل ثنتين﴾ ترجمه: په خلاف ددے قول نه چه وائی خاوند چه ته طلاقه ئے په یو طلاق سره نه بلکه په دوه طلاقو سره طلاقه ئے خکہ دا انشائی طلاق دے جملہ انشائیه ده او دا اقرار د الفه و دا اخبار دے جملہ خبریه ده پدے کښ تدارك الغلط ممکن دے او په کلام انشائی کښ ندے ممکن نو ممکن شو تصحیح د لفظ د بل په تدارك الغلط کښ په اقرار کښ نه په طلاق کښ تردے کچرے طلاق په طریقے د اخبار سره وو چه ده وئے ونیل کنت طلقتك امس واحده ما ته پرون په یو طلاق سره طلاقه کړه وی نه بلکه په دوه طلاقو سره مے طلاقه کړے ده نو واقع کیږی به دوه طلاقه د وجے د ما ذکرنا نه۔

﴿ولکن للاستدراك﴾ ترجمه: لفظ د لکن دپاره د استدراك دے (یعنی دپاره د نفی د توهم راخی د کلام سابق نه) ﴿بعد النفی﴾ کله به پس د نفی نه وی، لکه سړے اووائی چه ما جاء نی زید نو د دینه تو هم پیدا شو چه عمرو به هم نه وی راغلے نو دے دفعه د توهم کوی چه لکن عمرو جاء خو دا به د اثبات دپاره راخی په هغه ځائے کښ چه کلام متسق وی یعنی کلام متصلاً وی تراخی پکښ نه وی دویم دا چه دا نفی او اثبات محل واحد ته راجع نه وی کچرے وی نو اتساق فی الکلام بیا نشته پدے کښ د بعض اهل عربیت مذهب دا دے چه ماقبل کلام مثبت وی او که منفی وی هغه به مونږ رانقل کوو او د مابعد دپاره به ئے اثبات کوو او بعض وائی چه د بعینه کلام متقدم اثبات مونږ د مابعد

دپاره نه کوو ددے مطلب دا دے کچرے د کلمه ده لیکن په کلام موجب کښې استعمال
کړیده چه جاء نی زید لکن عمرو نو ددے مطلب دا شو چه لکن عمرو راغلے دے نو ماقبل
بعض حضرات په حکم د مسکوت عنه کښې پرېږدی چه هغه ته التفات مجیئت او دعلم
مجیئت مقصود نه دے مقصود ثبوت د مجیئت دے د عمرو دپاره او بعض حضرات وائی
چه ماقبل کلام که منفی وی او که مثبت وی دا به مونږ د مابعد کلام دپاره ثابت کړو کلام
موجب وی او که غیر موجب وی که جاء نی زید لکن عمرو دے لکن جاء نی عمرو یعنی
عمرو راغلے وو زید نه وو او مثال د کلام غیر موجب لکه ما جاء نی زید لکن عمرو ددے
معنی دا شوه لکن ما جاء نی عمرو زید راغلے وو خو عمرو نه دے راغلے کلام منفی اثبات
ئے د مابعد دپره اوکړو او بعض وائی چه دلته مقصود اثبات دے ما جاء نی زید لکن عمرو
دے لکن جاء نی عمرو

﴿ **لکن للاستدراک** ﴾ ترجمه: لکن استدراك دپاره دے پس د نفی نه نو ددے
حکم او موجب به ثبات د مابعد وی او هر چه نفی د ماقبل کلام ده نو هغه ثابته ده په
خپل دلیل سره او عطف پدے کلمے سره به صحیح کیږی په وخت د اتساق د کلام کښې
اتصال د کلام کښې د مابعد سره او نفی او اثبات کلام واحده ته راجع نه وی ۔

﴿ **فان کان الکلام متسقاً** ﴾ ترجمه: کچرے دا کلام متسق وو نو متعلق کیږی
به نفی په هغه اثبات پورے چه روسته ددینه وی او کچرے دا کلام متسق نه وو نو دا به بیا
کلام مستانف وی مثال د اتساق:

﴿ **ما ذکره محمد** ﴾ هغه دے چه ذکر کړیدے هغے لره امام محمد په جامع کبیر
کښې چه یو سړی اووئیل د فلانکی سړی په ما باندے زر روپئ دی قرض نو هغه فلانکی
اووئیل چه نه بلکه غصب دے نو لازم شو پدے مقر باندے مال ځکه چه کلام متسق دے
نو معلومه شوه چه نفی په سبب کښې وه په نفس المال کښې نه وه ۔

﴿ **وکذلک لو قال لفلان علیّ الف** ﴾ ترجمه: دغه رنګه کچرے اووئیل یو مقر
فلانکی په ما باندے زر روپئ دی د ثمن ددے جاریه نه نو فلانکی اووئیل چه نه جاریه خو
ستا جاریه ده لیکن ځما په تا باندے زر روپی دی (قرض) نو حکم دا دے چه پدے مقر باندے

زرروبیٔ لازمیږی ځکه ددینه معلومه شوه چه دا نفی د سبب ده د مال نه ده نو اسباب دے مختلف وائی مقر او مقرله خو مال خو پرے لازم دے ځکه دواړه قائل د نفی د مال نه ندی۔

﴿ ولو کان فی یده عبد فقال هذا لفلان ﴾ ترجمه: کچرے دده په لاس کښ عبد وو نو ده اووئیل چه دا د فلانکی دے نو هغه فلانکی اووئیل چه دا هیچرے ځما نه دے (ځما په تا هیڅ شے نشته) لیکن دا د فلانکی آخر دے نو کچرے ده دا کلام متصل ذکر کړے وو نو وی به عبد دپاره د مقر له ثانی ځکه د نفی تعلق د اثبات سره دے نو نفی ئے د خپل ځان نه اوکړه او اثبات ئے د ثانی دپاره اوکړو۔

﴿ وان فصل ﴾ او کچرے کلام ئے منفصل ذکر کړے وو نو وی به عبد د مقر اول دپاره نو شی به دا قول د مقر له رد دپاره د اقرار د خپل ځان نه۔

﴿ ولو امة تزوجت بنفسها ﴾ کچرے یوه وینزه په نکاح کړه چا ته خپل نفس بغیر د اجازت د خپل مولیٰ نه په سل روپی نو مولیٰ ورته په جواب کښ اووئیل چه زه اجازت ددے عقد نه کوم په سل روپی لیکن اجازه کوم په یو نیم سل روپو سره نو باطل دے عقد ځکه دا کلام غیر متسق دے ځکه نفی او اثبات دواړه یو محل ته راجع دی ده مخکښ اووئیل لا اجیزه زه ددے عقد اجازت نه کوم او روسته وائی اجیزه (زه ددے عقد اجازه کوم) نو دا عقد به صحیح نه وی کلام دده به باطل وی۔

﴿ فکان قوله ﴾ نو شو دا قول دده چه لکن اجیزه دا اثبات شو دپاره ددغه عقد پس د رد عقد نه۔

﴿ وکذلک لو قال ﴾ او دغه رنګه که مولیٰ اووئیل چه زه اجازت نه کوم ددے عقد لکن اجازه کوم کچرے پدے مهر کښ دے پنځوس روپی سوا کړی په سلو باندے نو دا کیږی فسخ د نکاح د وجے د عدم احتمال د بیان نه ځکه شرط د بیان دپاره اتساق وی او دلته اتساق نشته ځکه چه نفی او اثبات محل واحده ته راجع دی نو د اتساق دپاره دوه شرائط دی یو اتصال کچرے اتصال نه وو نو هغه کلام متسق نه دے مستانف دے او دویم دا چه نفی او اثبات به یو محل ته راجع نه وی کچرے یو محل ته راجع وو نو بیا هم د کلام متسق نه نه دے بلکه دا به کلام مستقل حسابیږی۔

﴿ فصل او لتناول احد المذكورين ﴾

ترجمه : بل په حروف عاطفه کښې کلمه د او ده دا دپاره د تناول د احد المذکورین راځی دے وجے نه کچرے مولیٰ اووئیل چه دا دے آزاد وی یا دا دے آزاد وی نو دا داسے شوه ګویا چه دے ورته داسے وائی چه احد هما یو پدے دواړو کښې آزاد دے نو تردے چه وی به ده لره ولایت د بیان او کچرے داسے ئے اووئیل چه وکیل مے مقرر کړیدے په خرڅولو ددے عبد باندے دا کړے یا دا کړے نو وی به وکیل یو د ددے دواړو سرو نه او مباح به وی بیع د هر واحد دپاره ددے دواړو نه نو کچرے دیو خرڅ کړو نو بیا واپس شو دا عبد مبیع ملك د مؤکل ته نو ددے بل وکیل ندی جائز چه خرڅ کړی دے عبد لره ثانیا ۔

﴿ ولو قال لثلاث نسوة ﴾ او کچرے اووئیل خاوند درے ښځو ته چه دا دے طلاقه وی او یا دے دا طلاقه وی او دا دے طلاقه وی نو په اولنیو دوه و کښې خو یوه طلاقه شوه ځکه هلته کلمه د او ده لا علی التعین یوه طلاقیږی به او دریم به فی الحال طلاقیږی ځکه دا عطف ده په مطلقه منهما باندے او وی به خاوند لره خیار بیان د مطلقه منهما کښې دا قول دده داسے دے لکه چه ده ورته داسے وئیلی وی چه یوه ډے په تاسو کښې طلاقه وی او دا دے طلاقه وی۔

﴿ وعلی هذا قال زفر ﴾ ترجمه : او بناء پدے باندے وئیلی دی امام زفر چه یو سړے قسم اوخوړه چه قسم دے خبرے به نه کوم ددے سړی سره یا ددے سړی سره دا کیږی په منزله ددے قول دده سره چه لا اکلم احد هذین وهذا (زه به دیو د دوی سره خبری نه کوم نو دے نه حانثیږی تر هغے پورے چه خبرے ئے نه وی کړی د احد الاولین سره او د دریم سره او په نزد د احنافو کچرے ده خبرے اوکړے د اول سړی سره یواځے نو حانثیږی او کچرے خبرے ئے اوکړے دیو د اخرینو سره نو ندے حانث ترڅو چه د دواړو سره ئے خبرے نه وی کړی ځکه تعلیق په او سره واحد غیر معین وی او هغه عام کیږی په موضع د نفی کښې افرادو ته نو هر یو فرد به منفی شی علیحده نو تقدیر د کلام دا شو چه لا اکلم هذا ولا هذا

زه د دوارو سره خبرے نه کوم ۔

﴿ ولو قال بع هذا العبد او هذا ﴾ ترجمه : کچرے سړی اووئیل چه دا عبد خرخ کړه او یا دا عبد خرخ کړه نو جائز به وی ده لره چه خرخ کړی یو ددے دوارو نه کوم یو چه ئے خوښ شی او کچرے سړی داخله کړه کلمه د او په مهر کښ چه وئے وئیل چه په نکاح کړه دا ښځه پدے عبد سره یا پدے عبد سره نو حکم به کیږی په مهر مثل سره عند ابی حنیفة ځکه تعین خو رانغلو نو جهالت فی المهر راغلو نو په مهر مثل به فیصله کوو ۔

﴿ لان اللفظ ﴾ ځکه چه لفظ د او تناول دے احد هما ته او موجب اصلی په نکاح کښ مهر مثل دے دے تسمیه ته چه مونږ رجوع کوو نو دا د عارض د وجے نه کوو نو هر کله چه مهر مثل صلاحیت لری د ترجیح دپاره نو دلته مهر مثل لره به ترجیح ورکوو په احد هما د عبدینو باندے ۔

﴿ وعلى هذا قلنا التشهد ليس بركن ﴾ ترجمه : او بناء پدے قاعده باندے مونږه وایو چه تشهد رکن نه دے په مانځه کښ ځکه دا قول د نبی علیه السلام ابن مسعود ته چه اذا قلت هذا او فعلت هذا ۔ که ته دا تشهد اووائے نفس ناسته اوکړے نو مونځ دے تمام شو نو عطف دے په کلمه د او سره او متعلق کړے ئے دے اتمام د صلاة په احد هما پورے نو نه شرط کیږی هر واحد پدے دوارو کښ دپاره ده اتمام نه تشهد او نه قعده او قاعده خو شرط کړے شویدے بالاتفاق نو ندے شرط قرائت د تشهد ۔

﴿ ثم هذه العلة ﴾ ترجمه : بیا دا حکم د او په مقام د منفی کښ واجبوی نفی د هر واحد د مذکورین نه تردے کچرے سړے اووائی چه خبرے به نه کوم ددے سړی سره او یا ددے سړی سره نو دے به حانثیږی کله چه خبرے ئے اوکړے د احد هما سره ځکه او نفی کوی په طریقے د عموم سره هر واحد لره ۔

﴿ وفى الاثبات ﴾ ترجمه : او په اثبات کښ چه او مستعمل شی نو شاملیږی احد هما ته سره د صفت د تخییر نه لکه دا قول شو چه خذ هذا او ذالك ستا خوښه ده چه ته را اخلی او که هغه اخلی او د ضروریاتو د تخییر نه عموم د اباحت دے وئیلی دی الله تعالى : ﴿ فكفارته اطعام عشرة الخ ﴾ کفاره د یمین لسو مسکینانو ته طعام

ورکول دی د درمیانه هغے خوراك نه چه تاسو ئے خپل اهل ته ورکوی او یا جامے ورکول دی مسکینانو ته او یا آزادول د رقبے دی نو کفاره ورکونکی لره اختیار دے چه اطعام ورکوی او که جامے ورکوی او که رقبه آزاده وی ۔

﴿ **وقد یکون او بمعنی حتی** ﴾ ۔او کلمه مجازا او په معنی د حتی سره وی وئیلی دی الله لیس لك من الامر الخ ۔(نشته تا لره د امر نه څه شے چه تردے پورے چه ته مهربانی اوکړی په دوی باندے (او یتوب علیهم) ای حتی یتوب علیهم ۔

﴿ **قال اصحابنا** ﴾ ترجمه : وئیلی دی زمونږ اصحابو کچرے سړے قسم اوخوړ چه نه به داخلیږی دار ته ترڅو چه دے دار ته داخل شوے نه وی نو دلته او بمعنی حتی دے ځکه د او معنی حقیقی چه تعین د احد الامرین دے دلته ممکن نه ده دا محل د هغے صلاحیت نه لری تردے کچرے دے اول دار ته داخل شو اولًا نو حانشیږی او کچرے دا داخل شو دویم دار ته اولا نو بری شو په یمین خپل کښ ځکه ده وئیلی وو چه زه به دے دار اول ته تر هغے نه داخلیږم ترڅو چه دے دویم دار ته نه یم داخل شوے نو دویم دار ته خو دے اولا داخل شو نو شرط د حنث خو موجود نه شو ۔

﴿ **وبمثله لو قال** ﴾ ۔ ترجمه : او په مثل ددے کچرے یو سړی قسم اوخوړ چه زه به نه جدا کیږم ستا نه ترڅو چه تا ځما قرض نه وی پوره کړے نو دا پدے معنی دے چه حتی تقضی دینی ترڅو چه ځما قرض دے نه وی پوره کړے ۔

﴿فصل حتّی للغایة﴾

بل د حروف عاطفه و نه حتی دے دا دپاره د بیان د مسافت راځی پشان د الیٰ کله چه ما
قبل د حتی نه قابل دپاره د امتداد وی او مابعد د حتی نه صالح وی د غایه والی نو وی به
دا کلمه د حتی په خپله معنی حقیقی باندے چه انتهاء الغایه ده مثال ددے هغه قول دے
چه امام محمد وئیلی دی کله چه اووائی مولیٰ چه عبد ځما آزاد وی کچرے ما اونه وهل
ترڅو چه فلانکے دے سفارش اوکړی یا تردے چه چغے اووهے یا شکایت اوکړے په مخکښ
ځما یا تردے چه شپه راشی نو دا ضرب احتمال د امتداد لری په توالی د ضرباتو سره
دارنګه سفارش د فلان صلاحیت لری د غایه والی دا به انتهاء شی دپاره د ضرب یا
صیاحت صلاحیت لری د غایه کیدو ځکه چغے وهل سبب دپاره د ترحم دے دارنګه فریاد
هم صلاحیت د غایه کیدو لری چه دا سبب د ترحم دے نو شپه هم صلاحیت لری د غایه

﴿کانت الغایة عاملة﴾ کلمه د حتی به په خپل حقیقت کښ مستعمل وی
ځکه ضرب په تکرار د ضرباتو سره احتمال د امتداد لری او سفارش د فلان او امثال د هغے
صلاحیت لری د غایه کیدو د ضرب۔

﴿فلو امتنع الضرب﴾ ترجمه: کچرے دے منع کړے شو د ضرب نه مخکښ د
غائے نه نو حانث دے۔

﴿ولو حلف لا یفارق غریمه﴾ ترجمه: که سړی قسم اوخوړ چه زه به نه جدا
کیږم د خپل مدیون نه ترڅو چه هغه ځما قرض نه وی اداء کړے نو جدا شو د هغه نه
مخکښ د ادائیګئ د دین نه نو حانث شو۔

﴿فاذا تعذر العمل﴾ هر کله چه عمل متعذر شو په معنی حقیقی باندے د یو
مانع د وجے نه لکه عرف شو که عرف عام وی او که عرف خاص وی نو په دے وخت کښ به
عمل کیږی په معنی مجازی باندے۔

لکه یو سړی قسم اوخوړه چه وهم به ده لره تردے چه دے مړ شی یا ئے اوژنم نو دا به

حمل کیږي په ضرب شدید باندے په اعتبار د عرف سره ځکه په عرف کښې ددے اطلاق په ضرب شدید باندے کیږي۔

﴿وان لم یکن الاول للامتداد﴾ کچرے اول قابل د امتداد نه وو او آخر صالح د غایه والی نه وو خو اول صلاحیت د سببیت او آخر د جزاء لره نو دا به حمل کولے شی په جزاء باندے مثال ددے هغه دے چه امام محمد وئیلی دی چه کله اووائی یو سړے غیرته چه څما عبد دے آزاد وی کچرے زه تا ته رانه غلم تردے چه ته ما لره صبا نارے راکړے نو دا سړے هغه ته راغلو او هغه ولره صبانارے ورنکړو نو نه حانثیږی ځکه دده اتیان خو په غرض د صباناری باندے وو خو چه هغه ولره ورنه کړو نو دا خو د هغه شوم توب شو۔


﴿لان التغدیة﴾ ځکه چه دا تغدیه صلاحیت نه لری چه دا دے غایه شی د اتیان بلکه دا خو مزید باعث وی اتیان دپاره البته صلاحیت لری د جزاء دپاره نو حمل کولے به شی په جزاء باندے نو شی به په معنی د لام کی باندے نو دا قول دده داسے شو لکه چه وئیلی وی ورته (ان لم آتك اتیاناً جزاؤه التغدیة) کچرے زه رانغلم تا ته پداسے راتلو سره چه د هغے بدله صبانارے وی نو څما عبد ډے حر وی۔

﴿واذا تعذر هذا﴾ ترجمه: او هر کله چه دا هم متعذر شو پدے شان سره چه آخر صلاحیت نه لره دپاره د جزاء والی د اول دپاره نو حمل کولے به شی په معنی د عطف محض باندے مثال ددے هغه دے چه وئیلی دی امام محمد چه کله سړی اووئیل څما عبد ډے آزاد وی کچرے زه تا ته رانغلم تردے چه زه ناشته اوکړم ستا سره نن ورځ ۔ نو اتیان هم ددے قائل فعل دے او اتغدی هم دده خپل فعل دے نو خپل فعل خو د خپل فعل دپاره صلاحیت د جزاء والی نه لری دارنګه صلاحیت د مسببیت هم نه لری نو دلته به ئے مونږ حمل کوو په عطف باندے۔

﴿وان لم تأتنی﴾ ترجمه: یا داسے ئے ورته اووئیل کچرے ته ما سره رانه غلے تردے چه ناشته اوکړه څما سره نو لم تأتنی او تغدی دواړه فعلونه د مخاطب شول دا صلاحیت د غائیت او د صلاحیت نه لری۔

﴿فاتی فلم یتغدی﴾ نو راغے ورته او ناشته ئے ونکړه په دغه ورځ نو حانث دے او

راخبره ثابته ده ځکه ده چه هر کله نسبت اوکړو د هر واحد ددے فعلينو نه چه اتيان او
تفدی ده ذات واحد ته نو صلاحيت نه لری چه خپل فعل دده د جزاء شی دپاره د خپل فعل
دده نو دا به حمل کولے شی په عطف محضه باندے نو دا مجموع به شرط وی د پاره د بری
کيدو لهذا په شرح مائه عامل کښ چه د لام کی مثال پيش کوی چه اسلمت کی ادخل
الجنه نو دا ادخل په صيغه د مجهولے سره صحيح ده کچرے معلومه شی او ادخل الجنه
شی نو اسلام هم دده خپل فعل دے او دخول الی الجنه هم دده خپل فعل دے نو خپل فعل
د خپل فعل دپاره صلاحيت د سببيت نه لری البته که ادخل مجهول شی نو بيا صحيح ده
ځکه ادخل الجنه صنع د الله شو او اسلام راوړل صنعه د مسلم شوه نو فعل د عبد سبب
شو دپاره د فعل د الله چه دخول الی الجنه دے۔ (۱)



(۱) بلکه فعل د الله تعالیٰ ادخال دی نه دخول همدارنګه نه ونيلی شی چه اُدخل که صيغه معلومه
شی نو مراد په دخول سره هغه دخول دی چه مطاوع وی د ادخال او ادخال فعل د واجب تعالیٰ دی۔
التلخيص . سيد

﴿ فصل الی لانتهاء الغایة ﴾

ترجمه : بل کلمه د الیٰ ده الی د انتهاء د غائے دپاره راځی۔ سوال : چه معنی د غائے انتهاء ده او تاسو ورته اضافت د انتهاء اوکړو چه الیٰ دپاره د انتهاء د انتهاء دے نو دا خو اضافت د شی الی نفسه دے او دا باطل دے ؟۔

(۱) **جواب** : دلته عبارت په حذف د مضاف سره دے تقدیر دعبارت دارنګه شو : لانتهاء ما قبل الغایه ۔ الی د انتهاء د هغه شی دپاره دے چه هغه غایه قبلوی ۔ په کلمه د الیٰ کښ د اهل لغت اقوال اربعه دی ۔ (۱) دخول د مابعد په حکم د ماقبل کښ مطلقا برابره خبره ده چه دا مابعد د جنس د ماقبل نه وی او که نه وی (۲) عدم دخول د مابعد دے په حکم د ماقبل کښ مطلقا برابره خبره ده چه مابعد د جنس د ماقبل نه وی او که نه وی۔

(۳) دخول د مابعد دے په حکم د ماقبل کښ کچرے ما بعد د جنس د ماقبل نه وو والا فلا

(٤) دخول او عدم دخول به محتاج وی دلیل خارجی ته نو کچرے دلیل موجود شو په دخول باندے نو هلته به مونږ دخول د مابعد وایو په حکم د ماقبل کښ او کچرے دلیل موجود شو په عدم دخول باندے نو هلته به مابعد په حکم د ماقبل کښ داخل نه وی صاحب شرح وقایه دا ذکر کړی وو۔

﴿ **ثم هو فی بعض الصور** ﴾ ترجمه : بیا دا کلمه د الیٰ په بعض صورتونو کښ فائده کوی معنی د امتداد د حکم او په بعض صورتونو کښ فائده کوی اسقاط د حکم، کچرے مابعد د جنس د ماقبل نه وو نو هلته به په معنی د امتداد د حکم سره وی او کچرے مابعد د جنس د ماقبل نه نه وو نو هلته به دا سقاط د ماوراء دپاره وی۔

﴿ **فان افاد الامتداد** ﴾ کچرے فائده ئے کړو امتداد د حکم یعنی مابعد د جنس د ماقبل نه نه وو نو نه هلته کښ به غایه په حکم د مغیا کښ داخل نه وی لکه اتموا

---

(۱) دویم جواب : غایه په معنی د مسافت سره دی نو معنی دا شو لانتهاء المسافة۔ سید فضل الحق

الصيام الی اللیل نو دلته لیل په نهار کښې داخل نه دے نو دلته الیٰ د امتداد د حکم دپاره شو ځکه صوم خو لغت کښې عبارت دے د مطلق امساك نه او صوم شرعا امساك دے د نهر نه تر غرویه پورے نو الیٰ دا حکم د امساك ممتد کړو تر لیل پورے نو غایه په مغیا کښې داخله نه شوله نو بعد الغروب به عدم امساك وی او ماقبل کښې حکم د امساك دے۔

﴿**وان افاد الاسقاط تدخل**﴾ او کچرے فائده کوله ئے اسقاط نو داخلیږی به غایه په حکم د مغیا کښې یعنی چه ما بعد د جنس د ماقبل نه وو نو دلته الیٰ د اسقاط د ما وراء دپاره دے نو دلته به غایه په حکم د مغیا کښې داخله وی.

﴿**نظیر الاول**﴾ ترجمه: مثال د اول لکه دا مکان مے واغستو تر دے دیواله پورے نو دلته به جدار په حکم د اشتراء کښې داخل نه وی مابعد به په حکم د ماقبل کښې نه وی چه مبیعه ده مثال د ثانی دپاره لکه یو سړی مبیعه خرڅه کړی په خیار شرط باندے تر درے ورځو پورے نو دلته دریمه ورځ په خیار شرط کښې داخله ده نو مابعد په حکم د ماقبل کښې داخل شو دارنګه مسئله معلومه شوه په انقطاع د حیض کښې اکثر مده د حیض تر لسو ورځو پورے ده نو هرکله چه حیض دده په لسمه ورځ ختمیده نو لسمه ورځ به په حیض کښې داخله وی نو چه کله لسمه ورځ مکمله وتے نه ده او انقطاع د دم راغلو نو جماع ورسره ترهغے جائز نه ده ترڅو چه غسل ئے نه وی کړے او که لسمه ورځ مکمل شوه او انقطاع د دم اوشو نو بیا ورسره جماع بدون الاغتسال هم جائز ده ځکه په لسمه ورځ کښې عود د دم احتمال لری نو که دے ورسره جماع اوکړی نو جماع به په مینځ د حیض کښې راشی او دا ناجائز ده نصا او که د لسمے ورځے نه روستو انقطاع الدم اوشو او ده جماع اوکړه نو احتمال د عود الدم نشته کچرے دم عائد شو نو دا دم د حیض نه دے بلکه دم الاستحاضه دے او دا مانع د جماع ندے۔

﴿**و بمثله لو حلف**﴾ او په مثل دده کچرے یو سړی قسم اوخوړ چه زه به د فلانکی سره خبرے نه کوم تر یو بے میاشتے پورے نو وی به شهر داخل په حکم کښې دلته ئے فائده کړه اسقاط د ماوراء الشهر کچرے ما وراء الشهر کښې ئے ورسره خبرے اوکړے نو حانث نه دے۔

﴿ وعلى هذا قلنا المرفق والكعب ﴾ ترجمه : او بناء پدے قاعده باندے مونږ وایو چه څنگل او گیټې داخل دي لاندے د حکم د غسل نه پدے قول د الله کښې چه اووئیزئ لاسونه تر څنگلو پورے دلته ئے اووئیل چه داخلان تحت حکم الغسل داسے ئے اونه وئیل چه د دے وینځل فرض دي او داخل دي په فرضو کښې ځکه دخول دده دواړو په غسل کښې عملاً دے اعتقاداً ندے دده جاحد ته نسبت د کفر نه کیږی د امام زفر مذهب دا دے چه مرفقان او کعبان داخل تحت الغسل ندی او دا ائمه ثلاثه و مذهب دا دے چه داخل دی نو که ددینه څوك انکار اوکړی هغه ته کافر نشي وئیلے ځکه دده ثبوت په دلیل ظنی سره راغلے دے۔

﴿ لان کلمة الیٰ ﴾ ځکه کلمه د الیٰ دلته د اسقاط د ماوراء دپاره ده ځکه مابعد دلته د جنس د ماقبل نه دے کچرے الیٰ ئے نه وے ذکر کړے نو لاستوعبت الوظیفة الی الکل تول لاس وینځل به فرض وو ځکه اطلاق د ید د رأس الید نه تر ترخ پورے دے۔

﴿ ولهذا قلنا ﴾ دے وجے نه وایو مونږ چه رکبه (زنگون) دعورت نه حساب دے ځکه کلمه د الیٰ په قول د نبی علیه السلام کښې چه عورت د سرې لاندے د نامه نه دے تر زنگون پورے نو دلته غایه په مغیا کښې داخل ده۔

﴿ تفید فائدة الاسقاط ﴾ دا فائده کوی فائده د اسقاط د ماوراء نو رکبه به په حکم د عورت کښې داخل وی نو سترئے ضروری دے۔

﴿ وقد تفید کلمة الیٰ ﴾ او کله فائده کوی کلمه د الیٰ تاخیر د حکم تر غائے پورے ددے وجے نه مونږ وایو چه کله سړے اووائی ښځے خپلے ته ته طلاقه ئے تر میاشتے پورے او نیت ئے نه وی کړے نو طلاق به فی الحال نه واقع کیږی بلکه پدیکښې به تعلیق وی تر میاشتے پورے۔

﴿ خلافا لزفر ﴾ ۔ خلاف ثابت دے امام زفر لره، ځکه چه ذکر د شهر صلاحیت نه لری د مد الحکم دپاره او نه د اسقاط دپاره شرعا او طلاق خو احتمال د تاخیر لری په تعلیق سره نو حمل کولے به شی په معنی مجازی باندے الیٰ چه تعلیق دے نو د میاشتے نه روستو به طلاقیږی۔

﴿فصل كلمة على للالزام﴾

ترجمه: کلمه د علی د الزام دپاره راځي (يعنې اثبات د لزوم په مابعد باندې کوی او دا ئې معنی عرفی ده.

﴿**واصله لافادة معنى التفوق**﴾ او اصل ددې دپاره د افادې د معنی د تفوق او د تعالی ده لکه زید علی السطح (زید د چهت دپاسه دې)

﴿**ولهذا لو قال**﴾ او ددې وجې نه کچرې يو سړی اووئيل چه فلانکی سړې په ما باندې زر روپۍ دی نو دا به حمل کیږی په دین باندې ځکه قرض هم عالی وی په دغه مقر باندې همیشه دې د هغې د ادائیګی په فکر کښ وی.

﴿**بخلاف ما لو قال عندی**﴾ په خلاف ددې قول چه دې د علی په ځائې لفظ د عندی یا د معې یا د قبلی ذکر کړی نو دا به اقرار دده په خپل ځان باندې د دین نه نه وی بلکه اقرار د امانت به وی نو پدې صورت کښ بلا تعدی دده سره دا زر روپۍ هلاکې شوی نو وجوب الضمان پده باندې نشته.

﴿**وعلى هذا قال فى السير الكبير**﴾ بناء پدې چه علی تفوق او تعلی فائده کوی وئیلی دی امام محمد په سير كبير کښ کله چه اووائی امیر د قلعه اعلان اوکړو چه امان راکړئ ما لره په لسو کسانو باندې د اهل قلعه نه نو مونږ امان هغه لره ورکړو نو دا لس کسان به سوا دده نه وی ځکه دې عالی دې پدې لسو باندې نو دا لس دده نه علاوه شول او خیار د تعین د دوی د مستأمن دپاره دې چه دې کوم غوره کوی.

﴿**ولو قال آمنوني وعشرة**﴾ او که داسې ئې وئیلی وی چه امن راکړئ ما لره او لسو کسانو لره یا ثم عشره بیا لسو کسانو لره نو مونږ امان ورکړو نو هم به امان ده ته ثابت وی سره ددې لسو کسانو نه علاوه دده نه خو فرق به دا وی چه خیار د تعین به د آمن دپاره وی ځکه دلته دې ځان عالی پدې لسو کسانو باندې نه ګنړی. دائې معنی حقیقی ده.

﴿**وقد يكون على بمعنى الباء مجازاً**﴾ ترجمه: او کله به علی په معنی د باء

سره وی مجازا تردے که یو سری اوونیل خرخ کړے مے ده دا مبیعه په تا باندے په زر روپی نو دلته به علی په معنی د باء سره وی د وجے د وجود د دلیل د عقد معاوضے نه نو دا زر روپی به معاوضه شی د هغه مبیعے دپاره۔

﴿ وقد یکون علی بمعنی الشرط ﴾ ترجمه : او کله علی په معنی د شرط سره هم راځی مجازا کله چه معنی حقیقی ئے متعذر شی چه لزوم دے او د لزوم سره د شرطیت مناسبت شته ځکه چه جزاء متحقق وی بالشرط نو گویا چه دا لازم شوه د شرط سره۔

﴿ قال الله تعالی یبایعنک علی ان لا یشرکن ﴾ وئیلی دی الله تعالی چه دا ښځے ستا سره بیعت کوی په شرط ددے سره چه شرك به نه کوی د الله سره هیڅ شے الخ دلته علی د شرط دپاره دے۔

﴿ وعلی هذا قال ابوحنیفة ﴾ ددے وجے نه وئیلی دی امام ابوحنیفه چه کله ښځے خاوند ته اووئیل طلاق راکړه ما ته درے په زر روپی باندے نو هغه یو طلاق ورکړو نو نه واجبیږی مال په ده باندے ځکه دلته کلمه د علیٰ فائده کوی معنی د شرطیت گویا دے ورته وئیلی دی طلقنی بشرط الف ۔ نو وی به درے طلاقه شرط دپاره د لزوم د الفه و نو چه درے طلاقه ئے ورنکړه نو بیا د الفه و دپاره شرط هم موجود نه شو او په انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځی نو الفه په زنانه لازم نه شوی ۔

﴿فصل كلمة في للظرفية﴾

كلمه د في د حروف جاره و نه حقيقت دے دپاره د ظرف زمان يعنى كلمه د في چه په چا داخله شوى وى هغه به ظرف وى دپاره د ماقبل تحقيقا لكه الماء في الكوز نو دلته الكوز ظرف دے دپاره د ماء او يا به ظرف وى تشبها لكه زيد في النعمه زيد في الدار نو څنګه چه ظرف مشتمل وى په مظروف باندے دارنګه نعمت او دار مشتمل دے په زيد باندے نو دېته ظرفيت مجازى او ظرفيت تشبيهى وائى ـ

﴿وباعتبار هذا الاصل قال اصحابنا﴾ او په اعتبار ددے اصل چه في د ظرفيت دپاره ده وئيلى دى اصحابو زمونږ كله چه سړے اقرار اوكړى په خپل ځان باندے چه ما غصب كړه جامه په روميال كښ يا اووائى چه ما غصب كړيدى قجورے په توكرى كښ نو حكم دا دے چه لازميږى به په ده باندے دا دواړه ځكه لكه څنګه چه دا اقرار په مظروف باندے دے نو دغه رنګه دا اقرار په ظرف باندے هم دے ځكه غصب د مظروف بدون الظرف خو متحقق كيږى نه په خلاف د هغه صورت چه هلته حمل ممكن نه وى لكه صاحب شرح وقايه وائى چه كله مقر اقرار اوكړى چه غصبت الدابة في اصطبل ما دا به په اخور (غوجل) كښ غصب كړيده پدے كښ د شيخينو مذهب دا دے چه په ده باندے صرف غصب د دابه لازميږى ځكه غصب په منقولى شى كښ متصور وى په غير منقولى كښ نه وى او اصطبل غير منقولى دے ـ

او د امام محمد په نزد پدے مقر باندے دواړه لازميږى ځكه دے وائى غصب چه څنګه په منقولى شى كښ متصور دے نو دغه رنګه په غير منقولى كښ هم متصور دے خو دا خلاف بناء دے په تعريف د غصب باندے د شيخينو په نزد تعريف د غصب اثبات د يد مبطله او ازاله د يد محقه دے او د امام محمد په نزد تعريف د غصب اثبات د يد مبطله دے فقط او ازاله د يد محقه دوى شرط نه وائى نو ثمره د اختلاف ظاهريږى په منقولى او غير منقولى كښ نو په نزد د شيخينو باندے غصب په منقولى اشياؤ كښ متحقق دے او په

غیر منقولی اشیاؤ کښې متحقق نه دے او په نزد د امام شافعی او امام محمد په دواړو کښې متحقق دے لهذا صاحب د هدایه او شرح وقایه وائی چه یو سړی بل چا ته کور په اجاره ورکړو او د هغه مستاجر نه دا کور غصب کړے شو کرایه (۵۰۰) روپی وه د میاشتے او ده (۱۵) ورځو دپاره غصب کړے شو (د غصب اطلاق دلته صورةً دے حقیقةً نه دے)

نو دده تمکن په انتفاع باندے رانه غلے نو پدے مستاجر باندے به اجرت د ټولے میاشتے نه لازمیږی البته کوم ځائے کښې چه تمکن په انتفاع باندے وی او ده ترینه انتفاع وانه غسته نو کامل اجرت به په ده باندے لازم وی لکه کورئے په کرایه ورکړه چابیانے ئے ورته حواله کړی نو دده قدرت په سکونت باندے راغلے نو ده معطل پریخوده یو میاشت نو په مستاجر باندے به اجرت د پوره میاشتے لازمیږی -

﴿ ثم هذه الكلمة تستعمل فی الزمان والمكان ﴾ بیا دا کلمه د فی د ظرف زمان او مکان دواړو کښې مستعملیږی او کله واحد کښې هم مستعملیږی کله چه مستعمل شی په زمان کښې چه سړے ښځے ته اووائی ته طلاقه ئے پرون نو امام ابویوسف او محمد وائی چه دا د ظرف زمان دپاره مستعمل شوه نو پدے کښې ذکر کول او نه ذکر کول د فی دواړه برابر دی، حذف عبارت دے د ذکر کولو نه او اظهار عبارت دے د عدم ذکر کولو نه دا معنی نه ده چه اصل کښې دا فی ذکر وه او بیائے حذف کړیده بلکه حذف عبارت دے د عدم ذکر د فی نه ابتداء فی الکلام لکه انت طالق غدا یا کلمه د فی ذکر کړی چه انت طالق فی غد.

﴿ حتی لو قال ﴾ تردے چه دے اووائی انت طالق فی غد نو دا داسے شوه چه دے ورته اووائی انت طالق غدا نو واقع کیږی طلاق څنګه چه صبا صادق راوخیژی نو غدا متحقق شو شرط موجود شو نو طلاق واقع شول په دواړو صورتونو کښې -

﴿ ذهب ابو حنیفة ﴾ ذهاب کړیدے امام ابو حنیفه دیته چه کله کلمه د فی نه وی ذکر نو واقع کیږی طلاق څنګه چه صبا راوختو او چه کله کلمه د فی ذکر شی په کلام کښې نو مراد به وقوع د طلاقو وی په یو جزء کښې د صبا نه په طریقے د ابهام سره بغیر د تعین نه چه د سهر وقت وی که ماسپښین که د مازیګر وی یا د ماښام وی څکه چه کله کلمه د

ذکر نه وی نو دا تقاضا د استیعاب کوی او که ذکر وی نو بیا تقاضا د یو جزء کوی۔
﴿ فلولا وجود النية ﴾ کچرے نیت موجود نه وی نو واقع کیږی به طلاق په اول جزء د صبا کښې د وجے د عدم د مزاحم نه ددے اول جزء د غد سره او که نیت ئے کړے وو د اخر حصے د ورځ نو نیت ئے صحیح دے ځکه کلمه د فی تقاضا د استیعاب نه کوی د یو جزء تقاضا کوی نو په نیت سره یو جزء لره تعین شته نو ترڅو چه آخر د نهار نه وی راغلے نو طلاق به نه واقع کیږی۔
﴿ مثال ذلک ﴾ مثال د فرق په مینځ د ذکر او د عدم ذکر کښې موجود دے پدے قول د رجل کښې چه ښځے ته اووائی که تا توله میاشت روژه ونیوله نو ته به طلاقه ئے نو واقع کیږی طلاق په صوم د شهر باندے ځکه دا د استغراق تقاضا کوی چه توله میاشت روژه شوه نو هله شرط متحقق شو۔
﴿ ولو قال ان صمت فی الشهر ﴾ ۔که ده ورته اووئیل کچرے تا پدے میاشت کښې روژه ونیوله نو ته طلاقه ئے نو واقع کیږی طلاق په امساك باندے یو ساعت په میاشت کښې نو شرط متحقق شو۔
﴿ واما فی المکان ﴾ کچرے کلمه د فی په مکان کښې مستعمل شوه لکه دا قول د سړی، ته طلاقه ئے په دار کښې یا په مکه کښې نو دا به طلاق حسابیږی علی الاطلاق په هر ځائے کښې چه وی ځکه طلاق تخصیص په یو مکان دون مکان پورے نه قبلوی چه کله طلاق په یو ځائے کښې متحقق شی نو هغه په جمیع اماکنو کښې وی داسے نه شی کیدے چه دے ورته وائی ته به په کور کښې دننه طلاقه ئے او بهر به نه ئے نو دا تخصیص طلاق نه قبلوی طلاق هر ځائے طلاق وی کما کانت طالقة فی الدار کذلك کانت طالقة خارج الدار۔
﴿ وباعتبار معنى الظرفية قلنا ﴾ او په اعتبار د معنی د ظرفیت سره مونږ وایو چه کله سړی قسم اوکړو په یو فعل باندے او د هغے نسبت ئے اوکړو زمان یا مکان ته نو کچرے فعل د هغه قبیلے نه وو چه د هغے اتمام په فاعل باندے کیده نو بیا به شرط وی کیدل د فاعل پدے مکان یا زمان کښې او کچرے فعل لازمی نه وو بلکه متعدی کیده

محل ته (۱) نو بیا شرط د حنث دپاره کیدل د دغه محل دی پدغه زمان یا مکان کښ ځکه فعل چه موجودیږی نو په اعتبار د اثر سره موجودیږی او اثر د هغے په محل کښ وی پدے یو جزئیه متفرع کوی :

﴿ قال محمد ﴾ وئیلی دی امام محمد په جامع کبیر کښ کله چه سړے اووائی ان شتمتك فی المسجد که ما تا ته په جماعت کښ کنځل اوکړه نو ښځه مے دِ طلاقه وی(مثلا) نو ده ورته کنځل اوکړل او دے په مسجد کښ وو او مشتوم خارج المسجد وو نو دے حانثیږی ځکه دا فعل لازمی دے تمامیږی په فاعل باندے کون د فاعل فی الزمان یا فی المکان دا به شرط وی دپاره د حنث ۔

﴿ ولو کان الشاتم خارج المسجد ﴾ کچرے شاتم خارج من المسجد وو او مشتوم داخل فی المسجد وو او کنځل ئے ورته اوکړل نو نه حانثیږی ځکه عدم شرط د حنث دے ځکه دا فعل لازم وو دلته کیدل د شاتم فی المسجد شرط للحنث وو ۔

﴿ ولو قال ان ضربتک ﴾ کچرے ده اووئیل که ما ته اووهلے یا مے ستا سر مات کړو په جماعت کښ نو ښځے مے دِے طلاقه وی نو شرط به وی د حنث دپاره کیدل د مضروب او د مشجوج فی المسجد او شرط به نه وی کون الضارب والشاج فی المسجد.

﴿ ولو قال ان قتلتک فی یوم الخمیس ﴾ دا د ظرف زمان مثال دے کچرے ده اووئیل کچرے ته ما قتل کړے په ورځ د پنج شنبه نو ښځه مے دِ طلاقه وی نو زخمی ئے کړو هغه لره مخکښ د ورځے د خمیس نه او مړ شو په یوم الخمیس کښ نو دے به حانث وی او کچرے په یوم الخمیس ئے زخمی کړو او په یوم الجمعة مړ شو نو نه حانثیږی د وجه د عدم وجود د شرط نه چه هغه قتل یوم الخمیس دے۔

﴿ ولو دخلت الکلمة فی الفعل ﴾ کچرے کلمه د فی په فعل (مصدر) باندے داخله شوه نو دا به فائده کوی معنی د شرط وئیلی دی امام محمد کله چه سړی اووئیل نه طلاقه ئے په داخلیدلو ستا دار ته نو دا به په معنی د شرط سره وی یعنی انت طالق ان

(۱) مراد د محل نه مفعول دی یعنی موقوف وو وجود د فعل تر مفعول پوری۔ سید فضل الحق

بغلت الدار نو نه به واقع کیږی طلاق قبل دخول الدار۔

﴿ولو قال﴾ او کچرې داسې دې طلاقې اووئیل چه ته طلاقه ئې په دوران د حیض کښې نو ددې معنی دا ده چه انت طالق ان حضتِ نو کچرې ښځه په حیض کښې وه نو واقع کیږی طلاق فی الحال د وجې د وجود د شرط نه او که چرې په حیض کښې نه وه نو معلق کیږی به طلاق په حیض پورې۔

﴿وفی الجامع﴾ په جامع صغیر کښې امام محمد وائی کچرې یو سړی داسې اووئیل چه ته طلاقه ئې په راتلو د ورځ باندې نو دا به نه طلاقیږی ترڅو چه صبا راختلې نه وی ځکه ددې معنی دا ده چه انت طالق اذا طلع الفجر نو دا طلاق معلق دی۔

﴿ولو قال﴾ او کچرې داسې ئې اووئیل چه ته طلاقه ئې په تیریدو د ورځ کښې نو که دا ورته دا کلام د شپې کړې وی نو طلاقیږی به په وخت د غروب الشمس کښې د صبا نه ځکه امضاء د یوم د طلوع الفجر نه وی تر غروب پورې او کچرې دا کلام ورته ده د ورځې ستعمل کړیدې نو دا به ظلاقیږی (۱) کله چه دغه وخت د صبانۍ ورځې نه راغلې۔

﴿وفی الزیادات﴾

او امام محمد په زیادات کښې وئیلی دی کچرې یو طلاقې اووئیل چه ته طلاقه ئې په مشیت د الله یا په اراده د الله چه کلمه فی ئې په مصدر داخله کړه چه مشیت یا اراده ده نو الی به دا په معنی د شرط سره معنی دا شوه چه انت طالق ان شاء الله وانت طالق ان اراد الله نو مشیت د الله او اراده د الله خو معلومه نه ده نو دا ښځه نه طلاقیږی۔

□□□□□

□□□□□□□

□□□□□□□□□

(۱) یعنی تر هغه به نه طلاقیږی چه تر څو نه وی راغلی دغه وخت د صبا د ورځې۔ سید

﴿ فصل الباء للالصاق ﴾

بـل د حـروف جاره نه باء ده دا دپاره د الصاق راځي او الصاق تعلق الشيءُ بالشيءُ ته وائي چه باء پرے داخلـه شـوی وی هغـے تـه ملصق بـه وئيلے شي او طرف آخر ته ملصق وئيلے کيږی دائے اصـل معـنـی موضوع له ده او باقی معانی مجازی دی الصاق کله حقيقةً وی لـکـه بـه داء او کـلـه بـه الـصـاق مـجازی وی لکه مررت بزيد پيوست شو مرور ځما په زيد پورے نو باء د الصاق دپاره ده په وضع د لغت کښ نو ددے وجے نه داخليږی په اثمانو باندے يعنی مدخول د باء به ثمن وی د ماقبل دپاره۔

﴿ وتحقيق هذا ﴾ او تـحـقـيـق ددے دا دے چه مبيعه په بيعه کښ اصل ده ځکه دا معقود عليه ده او معقود عليه اصل وی ځکه په هلاکت د مبيعے سره رفع د عقد راځی په خلاف د ثمن نه ځکه دا اصل ندی دا ذريعه ده شرط دے د بيع دپاره په هلاکت دده سره رفع د عقد د متعاقدينو نه راځی

﴿ ولهذا المعنی ﴾ او ددے معنی د وجے نه چه مبيع اصل دے فی البيع نو هلاك د مبيـعـے واجبوی ارتفاع د بيعے لره په مينځ د متعاقدينو کښ چه بيع اوشوه او مبيع قبل د حـوالـه کـولـو نـه په يد د بائع کښ هلاکه شوه نو عقد رفع شو بين المتعاقدين او که ثمن هلاك شو نو هغه رافع للعقد ندی۔

﴿ واذا ثبت هذا فنقول ﴾ او کـلـه چـه دا ثابته شوه نو مونږ وايو قاعده دا ده چه وی بـه تبع چـه ثـمن دی ملصق بالاصل داسے قاعده نه ده چه اصل دے ملصق شی په تبع پورے نو کـلـه چه حرف باء داخل شو په بدل باندے په باب د بيع کښ نو دے دلالت اوکړو پـدے چـه دا بـدل تبع دے او ملصق دے د هغه اصل سره چه هغه مبيعه ده نو دا به مبيع نه وی بلکه ثمن به وی۔

﴿ وعلی هذا قلنا ﴾ بـنـاء پـدے چه مدخول د باء ثمن وی مونږ وايو چه کله سړے اووائـی دا عـبـد مے پـه تـا خـرڅ کړيدے په يو خروار غنمو باندے او بيان د حنطے ئے اوکړو نو

عبد به مبیعه شی او کربه ثمن شی نو جائز دے استبدال پدے باندے مخکښ د قبض نه
ځکه دا تصرف په ثمن کښ قبل القبض او تصرف فی الثمن قبل القبض جائز دے۔

﴿ ولو قال بعت منک کراً ﴾ او کچرے ده اووئیل ما خرڅ کریدے په تا باندے دا
یو خروار غنم او بیان د غنمو ئے هم اوکړو بهذا العبد په دے عبد باندے نو عبد به ثمن وی
او کر به مبیعه وی او عقد سلم به وی نو دا به نه صحیح کیږی مگر چه خو پورے نیته ئے
نه وی مقرر کړی او کمه نیته یوه میاشت ده نو که دے بدله وی په هغه خروار غنمو باندے
د بل یو شی نو دا ندے جائز ځکه نبی علیه السلام فرمائی : لاتاخذ الا سلمك (ته به نه
اخلی مگر خپل مسلم فیه) په صورت د نزاع کښ - او رأس مالك - او یا خپل رأس المال
اخلے په صورت د اقاله کښ نو استبدلال جائز نه شو بل دا کچرے دے د غنمو په ځائے بل
شے ورکړی نو دا به تصرف راشی په مبیعه کښ قبل القبض او تصرف په مبیع کښ قبل
القبض جائز نه دے۔
ځکه په دے کښ احتمال د دهوکے وی او دوکے نه نبی علیه السلام منع کریده ۔

﴿ قال علماء نا ﴾ زمونږ علماو وئیلی دی کچرے مولیٰ خپل عبد ته اووئیل
کچرے تا زه خبر کړم په راتلو د فلانکی سړی نو ته دے آزاد ئے نو دا به حمل کیږی په خبر
صادقه باندے کچرے دے عبد خبر ورکړو مولیٰ ته په قدوم د فلان باندے او په نفس الامر
کښ هغه راغلے وو نو دا آزاد شو دپاره ددے چه شی دا خبر ملصق د هغه قدوم سره ۔

﴿ فلو اخبر کاذباً ﴾ کچرے غلام مولیٰ ته خبر ورکړو په قدوم د فلان سره کاذبا نو
نه آزادیږی ۔

﴿ ولو قال لو اخبرتنی ان فلانا قدم ﴾ کچرے مولیٰ داسے وئیلی وی کچرے تا
خبر راکړو ما ته چه فلانکی قدوم کریدے نو ته آزاد ئے نو دا خو مطلق خبر دے سواء کاذبا
کان او صادقا نو کچرے غلام خبر ورکړو د قدوم د فلان کاذبا نو هم غلام آزادیږی ځکه
شرط موجود شو ځکه کلمه د ان تقاضا د الصاق نه کوی ۔

﴿ ولو قال لامرأته ﴾ کچرے یو سړی ښځے ته اووئیل کچرے ته د کور نه اووتے
مگر ملصق ځما د اذن سره نو ته دے طلاقه ئے نو دا ښځه به په هر ځل وتلو کښ اذن ته

محتاجه وی ځکه د خروج ملصق بالاذن مستثنی کړیدے د وقوع د طلاقو نه نو کوم خروج چه ملصق بالاذن نه وی نو هغه خو مستثنیٰ نه دے هغه د شرط د لاندے دے۔

﴿ **فلو خرجت فی المرة الثانية** ﴾ کچرے دا ښځه په مره ثانی کښ اووتله بدون الاذن نو طلاقيږی۔

﴿ **ولو قال ان خرجت من الدار الا انْ** ﴾ که خاوند ورته داسے اووئيل کچرے ته د کور نه اووتے مگر که ځه دلره اجازت درکړم نو ته دے طلاقه ئے نو دا به حمل وی په اذن باندے يو ځل نو چه يو ځل خاوند اجازت ورکړو نو دا کافی ده بار بار اذن فی الخروج ته ضرورت نه وی ځکه چه ان تقاضا د الصاق نه کوی۔

﴿ **حتى لو خرجت مرة اخرىٰ** ﴾ کچرے دا ښځه اووتله دويم ځل بدون الاذن نو نه طلاقيږی۔ ﴾

وفی الزيادات ﴾ په زيادات کښ امام محمد ذکر کوی کله چه خاوند ښځے ته اووئيل ته طلاقه ئے په مشيت د الله سره يا ته طلاقه ئے په ارادے د الله سره او يا په حکم د الله سره نو دا نه طلاقيږی ځکه ده باء داخله کړه په مشيت د الله يا په اراده د الله يا په حکم د الله باندے او مشيت د الله او اراده د الله او حکم د الله خو حقيقی دی نو هغه خو ده ته معلوم نه دی چه مشيت او اراده او حکم د الله کله دے دا پته نه لگی نو گويا دا په شان د استثناء شو او استثناء چه اوشی نو هلته طلاق نه واقع کيږی نو دلته به هم طلاق نه واقع کيږی (انتهیٰ)۔

□□□□

□□□□□□

□□□□□□□□□□

فصل

فی وجـوه البيـــان

فـصـل كائن دے په بيان د انواعو د بيان كښ مخكښ ادله چه بيان شول نو دا احتمال لري د بيان نو مصنف محتاج شو ذكر كولو د طرقو د بيان ته ـ

بيـان اظهـار د مـعنى مرادے د متكلم دے سامع ته يعنى افهام غير ته د هغه شى دپاره چه د كوم شى د هغې ادراك كوى دپاره د تعارف د حق او كله نا كله په معنى د حكم ثابته بالدليل سره هم راځى د بيان دپاره انواع سبعه دى په تتبع او استقراء سره ـ

صـاحب د نـور الانـوار او صـاحـب د حسامـى د اختـصـار نـه كـار اغستے دے بعض صـورتـونـه هغے په بعضو كښ مندمج كړيدى (يعنى اندماج ئے كړے دے)نو هغوى د بيان پنځه انواع ذكر كوى او ددے تفصيل كوى بعض صور په بعضو كښ نه داخلوى ـ

﴿ على سبعة انواع ﴾ بيان پـه دوه قـسـمـه دے بيان تقرير، بيان تفسير ـ بيان تغير بيان ضرورت، بيان حال، بيان عطف، بيان تبديل ـ

﴿ اما الاول ﴾ هـر چه اول دے نـو دا هـغـه دے چه معنى د لفظ به ظاهر وى ليكن احتمال به د غير لري نو دے به معنى مراده بيان كړي په ما هو الظاهر سره نو متقرر به شى حـكـم د ظـاهـر پـه بيـان د متكلم سره مثال د بيان تقرير لكه يو سړے اووائى چه د فلانكى سړي پـه مـا باندے يوه كاسه غنم دى په اوړى د بلد سره يا زر روپۍ دى په نقد البلد سره نو ده چـه هر كله قفيز حنطه او وئيل نو ظاهره دا ده چه په ده باندے په قفيز د بلد لازميږى ليكن احتـمـال پـكـښ شتـه چـه دا د د بـل بلد قفيز وى يا به د بل بلد نقد وى نو هر كله چه ده قفيز البلد يا نقد البلد اووئيل نو دے بيان اوكړه د ما هو الظاهر نو احتمال د غير پكښ ختم شو ـ

﴿ ولو قال لفلان عندى الف وديعة ﴾ كچرے سړى اووئيل چه د فلانكى په ما باندے زر روپـى دى امـانـت نو كلمه د عندى په اعتبار د اطلاق سره فائده كوى امانت خو سره د احتمال د غير نه چه قرض او غصب دے نو هر كله چه ده وديعةً اووئيل نو مقرر كړو

حکم د ظاهر په خپل بیان سره ۔

﴿ **فصل واما بیان التفسیر** ﴾ دویم قسم د انواعو د بیان نه بیان تفسیر دے دا هغه دے چه وی لفظ د غیر مکشوف المراد نو د هغے وضاحت اوکړی په خپل بیان سره لکه یو سړے اووائی د فلانکی په ما باندے یو شے دے نو شے خو موجود فی الخارج ته وئیلے کیږی دا مجمل دے بیا ئے تفسیر د شی اوکړه په ثوب سره او یا ئے اووئیل د فلانکی په ما باندے لس دراهم دی او لږ څه دپاسه دی نو د نیف اطلاق خو په ما وراء د دریو کیږی نو ده بیا تفسیر د نیف اوکړو چه دومره دی او یا داسے ئے اووئیل چه د هغه په ما دراهم دی او بیا ئے تفسیر اوکړو د دراهمو عشره و سره مثلاً ۔

او حکم ددے دواړو نوعو چه بیان تقریر دے او بیان تفسیر دے دا دے چه دا به متصلا هم صحیح کیږی او منفصلا به هم صحیح کیږی ځکه چه دا په ماقبل کلام کښې څه تغیر او تبدیل نه راولی البته بیان تغیر په ماقبل کلام کښې څه تغیر راولی نو که دا متصل ذکر شو نو تیك ده او که منفصل ذکر شو نو لا یصح۔

﴿ **فصل واما بیان التغیر** ﴾ هر چه بیان تغیر دے نو هغه دے چه مغیر کړی په بیان خپل سره معنی د متکلم د کلام خپل مثال د هغے لکه تعلیق او استثناء شوله ۔ انت طالق دا تقاضا کوی د وقوع الطلاق فی الحال خو چه ان دخلت الدار ئے اووئیل نو تغیر د کلام ئے اوکړو د تنجیز نه تعلیق ته ئے راوستو مثال د استثناء لکه سړی اووئیل (له علی الف الا مائة) نو له علی الف تقاضا کوی د وجوب د زرو روپو په ذمه دده باندے خو چه الا مائة ئے اووئیل نو تغیر ئے اوکړو په کلام کښې چه (۱۰۰) پکښې ندی۔

﴿ **وقد اختلف الفقهاء** ﴾ او اختلاف کړیدے فقهاؤ په دے دواړو فصلینو کښې چه تعلیق او استثناء ده نو زمونږ علماؤ وئیلی دی چه کوم حکم چه معلق شی په شرط پورے نو دا به سبب وی خو په وخت د وجود د شرط کښې نه مخکښې د هغے نه قبل د وجود د شرط نه داسے دے گویا ده هډو پدے سبب باندے تکلم هم ندے کړے او امام شافعی وائی چه حکم کله معلق شو په یو سبب پورے نو دا تعلیق سبب فی الحال دے مگر عدم وجود د شرط مانع دے د ترتب د حکم نه فائده د خلاف به ظاهریږی په هغه قول کښې چه کله

مرے پرہ دئ ښځې تـه اووائی کـه تـه ما پـه نکاح کړے نو تـه طلاقـه ئې او یا ئے پردی عبد تـه اوئیل کچرے زه ستا مالك شوم نو تـه دے آزاد ئے نو کیږی تعلیق باطل عند الشافعی ځکه د تعلیق انعقاد د صدر د کلام دے علت چه دا صدر د کلام به علت وی او طلاق او عتاق دلته ندی منعقد کړے شوی علت د وجے د عدم اضافت ددینه محل ته مخکښ محل د زوجیت یا عبدیت دده پکار وو نو دا خو نشته اجنبیه ده او عبد دده مملوك نه دے۔

﴿ **فبطل حکم التعلیق** ﴾۔ نو باطل شو حکم د تعلیق نو نه صحیح کیږی تعلیق۔

﴿ **وعندنا کان التعلیق صحیحاً** ﴾ مونږ وایو چه دا تعلیق صحیح دے تردے که دہ ددے اجنبی سره نکاح اوکړه نو طلاق واقع کیږی ځکه چه کلام دده منعقد کیږی علت کله چه شرط موجود شی او ملك نکاحی او ملك یمینی ثابت دے په وخت د وجود د شرط کښ نو صحیح شو تعلیق۔

﴿ **ولهذا المعنی قلنا** ﴾ او ددے معنی د وجے نه مونږ وایو چه شرط دپاره د صحت د تعلیق دپاره د وقوع په صورت د عدم ملك کښ چه وی به دا مضاف ملك خپل ته او یا به سبب د ملك تـه بـه ئے نسبت وی نو کچرے ده اجنبی ښځے ته اووئیل کچرے ته دار ته داخله شوے نو تـه دے طلاقه ئې او بیا ئے هغے سره نکاح اوکړه او شرط موجود شو نو نه واقع کیږی طلاق ځکه چه دلته نه حقیقی ملك موجود دے او نه سبب موجود دے۔

﴿ **وکذلک طول الحرة یمنع** ﴾ دارنګه طاقت د اصیلی ښځے جواز د نکاح د امی سره عند الشافعی دے وائی چه دا قول د الله تعالی چه فمن لم یستطع منکم طولا ان ینکح المحصنات فمما ملکت ایمانکم من فتیاتکم المومنات ۔ کچرے تاسو طاقت د اصیلی ښځے نه لری نو بیا وینځے مومنانے په نکاح کړئ۔

﴿ **لان الکتاب** ﴾ ځکه کتاب معلق کړه نکاح د امے سره په عدم طاقت د نکاح د اصیلی نو په نزد د وجود الطول کښ شرط معدوم شو او عدم د شرط مانع وی د حکم نه نو دا به نه وی روا مونږ وایو چه دا معدوم دے په عدم اصلی سره او مفهوم مخالف معتبر نه وی نو که عدم استطاعت وی او که نه وی نو نکاح د امی سره جائز ده د وجے د عامو اجازتونو د نکاح نه بالآیات والاحادیث۔

﴿ وكذلك قال الشافعي ﴾ ددے وجے نه وئیلی دی امام شافعی چه نشته نفقه دپاره د مطلقے بالطلاق البائن والمغلظ مگر که چرے دا حامله وی نو بیا ولره نفقه شته ځکه کتاب الله معلق کړے دئے انفاق په حمل پورے پدے قول سره کچرے وی دا ښځے خاوندانے د حمل نو خرچه کوئ په هغوی باندے تر وضع د حمل پورے نو په وخت د عدم حمل کښ شرط معدوم دے او عدم د شرط مانع وی د حکم نه عند الشافعي ۔ او عندنا هر کله چه عدم د شرط مانع د حکم نه نۀدے نو جائز ده چه دا حکم ثابت شی په خپل دلیل سره نو نکاح د امے سره جائز شو د وجے د نورو نصوصو نه چه وانكحوا الايامى منكم يا فانكحوا ما طاب لكم ۔ يا لكه الا لا ينوجن الا مع الاكفاء ۔ نو دلته جواز د نکاح مطلقا دے ۔ ﴿ ويجب الانفاق ﴾ او واجب به وی انفاق په عموماتو سره چه هغه نصوص عامه دی چه وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن دے یا وانفقوا عليهن وغیره دی ۔

﴿ ومن توابع هذا النوع ﴾ او د توابعو ددے نوعے نه ترتب د حکم دے په اسم باندے چه هغه موصوف بصفةٍ وی ځکه دا په منزله د معلق کولو د حکم دے پدے وصف پورے په نزد د امام شافعی او بناء پدے وئیلی دی امام شافعی چه نده روا نکاح د امی کتابیه سره ځکه نص مرتب کړیدے حکم په نکاح د امے مومنے پورے دو چه ددے قول د الله تعالی نه من فتياتكم المومنات ۔ ای فتيات اخوانكم ځکه د خپلے وینزے سره نکاح جائز نه ده ځکه په هغے کښ خو هسے هم حل د منافعو د بضعے دے ۔

﴿ فيتقيد بالمؤمنة ﴾ نو هغه ئے مقید بالمومنه وائی نو ممتنع به وی حکم په وخت د عدم د وصف که چه ایمان پکښ موجود نه وی نو جائز نده نکاح د امی کتابیه سره ۔

﴿ ومن صور بيان التغير ﴾ او بعض د صورتونو د بیان تغیر نه استثناء ده ذهاب کړیدے ملګرو زمونږ دیته چه استثناء تکلم بالباقی دے پس د استثناء نه گویا چه ده تکلم نه دے کړے مگر په هغه څه چه باقی وی لکه له على الف الا مائة دا داسے دے چه گویا ده وئیلی له على تسع مائة ۔

﴿ عنده صدر الكلام ينعقد ﴾ په نزد د امام شافعی باندے صدر د کلام منعقد کیږی علت دپاره د وجوب د کل مگر استثناء منع کوی دے لره د عمل نه په منزله د عدم د

شرط په باب د تعلیق کښې لکه عدم د شرط چه مانع وی د حکم نه په باب د تعلیق کښې مثال ددے پدے قول د نبی علیه السلام کښې چه مه خرڅوئ تاسو طعام په طعام سره مګر برابر په برابر دا الا سواء بسواء استثناء ده او اصل په استثناء کښې استثناء متصله وی او استثناء متصله هغے ته وائی چه مستثنی د جنس د مستثنی منه نه وی نو مونږ تقدیر په جانب د مستثنی منه کښې کوو او امام شافعی تقدیر په جانب د مستثنیٰ کښې کوی ۔

﴿ فعند الشافعی ﴾ امام شافعی وائی چه صدر د کلام منعقد دے علت دپاره د حرمت د بیعے د طعام بالطعام علی الاطلاق او خارج شو ددے جملے نه صورت د مساوات په استثناء سره چه الا سواء بسواء دے نو حکم پدے کښې د جواز شو ۔

﴿ فبقی الباقی ﴾ نو باقی پاتو شول باقی لاندے د حکم د صدر د کلام نه چه هغه نهی ده او نتیجه ددے دا ده چه خرخول د یو چونګ طعام په دوه چونګو (موټو) طعام باندے دا ناجائز دے عند الشافعی د نهی د لاندے دے ۔

﴿ وعندنا ﴾ او په نزد زمونږ بیع د یو موټی په دوه موټو طعام دا د منهی عنه د لاندے ندے داخل ځکه مراد په منهی عنه سره مقید دے په هغه بیع چه عبد په هغے کښې قادر وی په اثبات د تساوی باندے او په زیاتوالی باندے په هغے کښې د جهت د لیل نه ددے دپاره چه مفضي نشي نهی د عاجز ته نو هغه شی چه لاندے د معیار مسوی داخل نه وی نو هغه به خارج وی د مقتضیٰ د حدیث نه ۔ مونږ استثناء داسے کوو چه لا تبیعوا الطعام بالطعام الا سواء) نو دا سواء حال دے نو استثناء د حال د ذات نه نه صحیح کیږی نو مونږ به ماقبل کښې تقدیر اوکړو نو تقدیر به دا شی : لا تبیعوا الطعام بالطعام فی حال من الاحوال (د احوال ثلاثو نه) الا سواء بسواء مګر حالت د استواء کښې دا ترے مستثنی شو نو دوه حالته پاتے شو یو حالت د مجازفت (شے اټکل خرخول) او بل حالت د مفاضلت (شی زیات خرخول) نو دا دواړه منهی عنه شول طعام بالطعام په اټکل او په تفاضل دواړو باندے خرڅول جائز ندی که ته وائے چه په حال کښې خو یو حال قلیل دے نو با ددے بیع دطعام بالطعام جائز نه ده نو ددینه صاحب د نور الانوار جواب کړیدے چه اصل په حال کښې حال قریبه دے او حال قریبه هغه حال د کثرت دے نه حال د قلت نو کوم چه لاندے د مسوی

شرعي نه داخل وي نو نهي به په هغے کښې وي او چه د مسوی شرعي تحت نه وي نو نص هغے ته شامل ندے او اصل په اشیاؤ کښې د احنافو په نزد باندے حل دے نو مونږ بیع د یو موتي په دوه موتو جائز وایو ۔

﴿ **ومن صور بيان التغير** ﴾ بعض د صورتونو د بیان تغیر نه دا صورت دے چه کله سړي اووئیل د فلانکي سړي په ما باندے زر روپۍ دي د جهت د امانت نه نو دا قول چه علي دا فائده کوي وجوب او دا قول دده چه ودیعةً نو مغیر ئے کړو حکم حفظ ته۔

﴿ **وقوله اعطيتني واسلفتني** ﴾ او دا قول د سړي چه راکړیدي تا ما ته او قرض دے راکړیدے زر روپۍ خو ما ندي اغستي دا هم د جملے د بیان تغیر نه دے ځکه اعطيتني حقیقت شو په تسلیم کښې ځکه تسلیم په قبض سره تمامیږي او سلف اخذ عاجل دے په آجل باندے نو دا اقرار شو په دے دواړو باندے بالقبض حقیقةً خو دا احتمال لري چه مراد ددینه مجرد عقد وي مجازا چه ده روستو فلم اقبضها اووئیل نو د هغے تغیر ئے اوکړو۔

﴿ **وكذلك لو قال** ﴾ دغه رنګه که سړي اووئیل د فلانکي په ما زر روپۍ دي زیوف نو دا تغیر دے دپاره د الفه و ځکه ده اقرار علي نفسه کړیدے کوچه دا تقاضا د جیدو کوي خو چه زیوفا ئے اووئیل نو تغیر ئے اوکړو په هغے کښې ۔

﴿ **وحكم بيان التغير** ﴾ حکم د بیان تغیر دا دے چه دا به صحیح کیږي متصلا نه به صحیح کیږي مفصولا بیا پس ددینه بعض مسائل د بیان تغیر مختلف فیه دي په مینځ د علماؤ کښې چه آیا ددے جملے د بیان التغیر نه دي چه صحیح کیږي په شرط د وصل سره او که د جملے د بیان تبدیل نه دي چه نه صحیح کیږي د هغے څه حصه روسته په بیان تبدیل کښې رارو انه ده۔

فصل واما بیان الضرورة

معنی دا چه دا بیان به واقع کیږی بغیر د کلام نه څکه د بیان دپاره کلام ضروری وی
زینه مونږ په سکوت سر بیان وایو بناء بالضرورت ۔

مثاله مثال د بیان ضرورت پدے قول د الله تعالی کښ کله چه سړے مړ شی او
میراث وړی د هغے نه مور او پلار دده فقط نو مور لره دریمه ده، دا ددے تقاضا کوی چه دا
پلار او مور به ئے پدے ترکه کښ شریك وی نو نصف حق د یو شو او نصف حق د بل شو
وروستو بیا شارع حق د مور بیان کړه چه فلامه الثلث د مور دپاره دریمه ده نو معلومه
شوه چه باقی دوه حصے د پلار شوے اګرکه ظاهر کښ د حصے د پلار نه سکوت راغلے دے
نو چه بیان د حصه د احدهما اوشو او د بل نه سکوت اوشو نو ضرورت د هغے د حصے
بیان شو چه باقی به حصه د پلار وی چه هغه نصفین وی ۔

وعلی هذا او بناء پدے کله چه خاوند د مال د مضارب دپاره حصه بیان کړه او
ساکت شو دواړه د حصے د رب المال نه نو صحیح دے شراکت په ګټه کښ څکه شراکت
شرط دے دپاره د صحت د عقد نو اوس که دا مونږ بیان اونګرځو دپاره د حصے د مضارب
نو هلته به بیا عقد صحیح نه شی دا داسے شوه چه ګویا دده ورته وئیلی وی چه مضاربه
ستا دپاره به نصف وی نو مابقی نصف ربح رب المال ته پاتے شوه نو دا بیان شو بیان
ضرورت دپاره د رب المال۔

وکذلک لو بینا نصیب رب المال کچرے دے دواړو حصه د رب المال
بیان کړه او ساکت شول دواړه د حصے د مضارب نه لکه دے چا ته زر روپی ورکړی چه دا
چلوه ددے د ګټے نصف به څما وی نو باقی نصف ګټه د مضارب شوه خود بخود دا بیان
شو ددے چه ګویا دده ورته داسے وئیلی وی چه دا زر روپی په مضاربت چلوه او ګټه به نیمه
څما وی او نیمه به ستا وی نو دا سکوت بیان ضرورت شو د حصے د مضارب دپاره څکه
تصرف د عاقل بالغ واجب التصحیح وی بقدر الامکان شراکت پدے ربح کښ شرط دے د

صحت د عقد دپاره نو هرکله چه شراکت په ربح کښې اونه شو او حصه د احدهما بیان نشي نو عقد کښې بیا فساد راځي نو غوره دا ده چه ددے عاقلینو بالغینو دا تصرف مونږ په صحت باندے حمل کړو نو صحت دا دے چه د احدهما حصه بیان شوه نو خودبخود ماوراء حصه د آخر دپاره پاتے شوه۔

﴿ وعلى هذا حكم المزارعة ﴾ او پدے باندے بناء دے حکم د مزارعت چه رب الارض مزارع ته زمکه په مزارعت ورکړه او د مزارع حصه ئے بیان کړه چه ثلث یا ربع به ستا وی نو باقی درے یا دوه حصے مالك ته پاتے شوے او یائے د رب الارض حصه متعین کړه چه مالك اووائی چه زه به ترینه نصف یا ثلثین اخلم نو مابقی حصه د مزارع شوه اګرکه ده د هغے نه سکوت کړیدے خو دا سکوت ئے بیان ضرورت دے دپاره د حصے د هغه

﴿ وکذلک لو اوصى لفلان وفلان بالف ﴾ دغه رنګه چه یو سړے وصیت اوکړو د دوه کسانو دپاره د زر روپو بیائے پدے زرو روپو کښې ئے د یو موصی له حصه بیان کړه نو دا به بیان وی دپاره د حصه د آخر دپاره لکه سړے اووائی ځما په مال کښې زر روپی د زید او عمر دی نو دا خو تقاضا ددے کوی چه نصف د یو شی او نصف د بل خو ده بیان اوکړو چه درے سوه روپی د زید دی نو باقی اووه سوه (۷۰۰) روپی خود بخود د عمرو دپاره متعین شوے۔

﴿ ولو طلق احدى امرأتيه ﴾ که سړی یوه د دوه ښځو نه طلاقه کړه چه وئیل احداکما طالق بیا ده بلے سره ئے جماع اوکړه نو دا بیان دے دلیل دے د طلاق د هغه بلے ځکه چه دکومے سره ده جماع اوکړه نو مقصود د احداکما سره هغه بله شوه۔

﴿ بخلاف الوطی فی عتق المبهم ﴾ ۔ په خلاف د وطی نه په عتق مبهم کښې چه د سړی دوه وینزی وی او دے اعتاق مبهم اوکړی چه احداکما حره نو ده د یوے سره وطی اوکړه نو دا دلیل د حریت د اخرئ دپاره نه دے ځکه کیدے شی چه ده هغه آزاده کړے وی او نکاح ئے ورسره کړی وی او وطی ئے ورسره لاجل النکاح کړی وی لا لاجل الرقیت نو دا وطی بیان د تحریر د اخرئ دپاره ندے عند ابی حنیفه ځکه حل د جماع په وینزو کښې ثابتیږی په دوه طریقو سره په ملك یمینی او ملك نکاحی سره بخلاف الحره چه د هغے

حل د وطی فقط د یو جهت د وجے نه دے چه هغه ملك نکاحی دے۔

﴿ فلا تعين جهة الملک ﴾ نو نه متعين کیږی جهت د ملك یمینی په اعتبار د ملك نکاحی او وطی سره۔

﴿ فصل واما بيان الحال ﴾

هر چه بیان حال دے مثال د هغے په هغے کښ چه کله اولیده صاحب د شرع یو امر مشاهدةً او دے شارع د هغه نه منع اونکړه نو کیږی سکوت د صاحب شرع په منزله د بیان ددے خبرے چه دا کار روا دے ځکه کچرے دا مشروع نه وے نو شارع به د هغے منع کړی وے خو چه هغه منع اونکړه نو دا دلیل د مشروعیت دے کله چه شارع خلق اولیده په مضاربت ئے کولو او هغه پدے ساکت پاتے شو نو دا حال د سکوت دده دلالت کوی په مشروعیت د مضاربت باندے۔

﴿ والشفيع اذا علم بالبيع ﴾ شفیع ته چه کله پته اولګیده د بیعے او چپ شو د شفعے نه نو دا سکوت دده په منزله د بیان دے چه ګویا دے پدے عقد باندے راضی دے او ترك د خپلے شفعے اوکړو نو کچرے روسته دے شفعه کوی نو نه ئے شی کولے ځکه د شفعے دپاره درے طلبه ضروری دی (۱) یو طلب مواثبت دے چه کله ده ته خبر په مجلس د عقد کښ اورسیده او ده فورا اووئیل چه زه ددے حقدار د شفعے یم دویم طلب الشهادة دے چه دے به ګواهان قائموی یا په بائع یا په مشتری او یا په زمکه باندے نو دا شفعه حق ضعیفه دے چه ده طلب اشهاد او طلب مواثبه اونکړو نو دده حق د شفعے ساقط شو۔

﴿ والبكر اذا علمت ﴾

اوباکره جینئ چه کله خبره شوه په تزویج ددے باندے د طرفه د ولی نه او دا چپ پاتے شوه د رد نه انکار نه نو دا په منزله د بیان دے برضاء النکاح یعنی تصریح بالرضاء ئے کړیده

(۱) او دریم طلب الخصومة دی۔ سید فضل۔

کـه روستـه بیـا وائـی چه ماته دا نکاح منظور نه ده نو ددے دپاره خیار بلوغ بیا نشته خیار بلوغ به دے لره هله وی چه دے انکار کړے وی کله چه خبره شوی وه ځکه ولایت جبری خو پدے ولی کولے نشی ځکه ولایت جبری دپاره شرط عندنا صغر ذے او دا خو بالغه ده۔

﴿ والمولی اذا رأی عبده ﴾ مـولیٰ چه اولیدو عبد خپل چه ده بیع او شراء کوله نو دے چپ شو نو دا پـه مـنزلـه د اذن دے نـو دے مـاذون فی التجارة گرځی ځکـه کـه دا سکوت دده مونږ اذن نه کړو او حجر په ده باقی اوساتو نو اهل سوق ته ضرر دے هغوی به په ده اعتـماد کـړے وی چـه دے مـاذون فـی الـتـجارت دے ځکه مولیٰ اولیدو او ردئے پرے اونکړو چپ شو نو د اهل سوق ثمن وغیره به ضائع شی دوی به بیا مطالبه د چا نه کوی نو دا خو به بیا مطالبه موخر کیږی د ثمن بعد العتق ته نو پدے کښې اهل السوق ته ضرر دے او دفع د ضرر د اهل سوق نه پکار ده خو دا رائے د امام ابو حنیفه او د صاحبینو ده او امام زفر او شافـعـی وائـی چـه دا سـکـوت د مولیٰ دلیل بالاذن نه دے ځکه کله مولیٰ د نهایت غـصـے د وجـے نـه سکوت کوی چه دا عبد د ماذون فی التجارة ندے گرځولے او دے تجارت کـوی نـو ده ډیـر غـصـے دو جـے نه غلے شو ۔ امام ابو حنیفه وائی : دده سکوت اذن دے ځکه اهل سوق ته ضرر لاحق کیږی مرّ ۔

﴿ والمدعی علیه اذا نکل ﴾ دارنـگـه مدعی چه په مدعی علیه دعویٰ اوکړه او هغـه انـکار اوکړو د قسم نه په مجلس د قضاء کښې نو دا امتناع د قسم نه په منزله د رضاء ده پـه لزوم د مال سره ځکه د مدعی گواهان نه وو نو د مدعی علیه دپاره قسم دے او د قسم نـه انـکـار اوکړو کچرے په ده مال نه وی پورے نو ده به قسم خوړلے وی چه قسم نه ئے انکار اوکړو نو دا اقرار دے د دعویٰ د مدعی ۔

﴿ بـطـریق الاقرار ﴾ یا پـه طـریـقـے د اقرار سره د مدعی دپاره په نزد د صاحبینو بـانـدے او یا په طریقے د بذل سره عند ابی حنیفه ۔ بذل مفت ته وائی ۔ چه انکار عن الیمین ء اوکـړو نـو صاحبیـن وائی پدے باندے اقرار مرتب دے او امام ابو حنیفه وائی چه په ده بذل دے چه ده قسم نه ئے انکار اوکړو نو دا بذل دے یعنی مقصد دا چه دا زر روپی په نفس الامر کـښې ستـا په ما ندی لازم خو زه به ئے مفت مجانا درکړم او صاحبین وائی گویا دا انکار عن

الیمین اقرار دے د حق د مدعی، نو چه دا بذل شی نو په هغه مسائل سته و کښې بذل نه
راجع کیږی چه نکاح وه او رضی فی الرجوع او الاء او دعوه د نکاح ده نو په هغے کښې بذل
نه جاری کیږی مد علیه زنانه وی نو په هغے کښې قسم ورکولو ته حاجت پاتے نه شو او په
نورو امورو کښې چه دعوئ د مال وغیره وی پدے کښې بذل جاری کیږی نو قسم به مونږ
ولره ورکوو او د صاحبینو په نزد اقرار دے نو د دوی په نزد اقرار په هغه مسائل ستهٔ وکښې
هم جاری کیږی په شان د امور غیر د مسائل سته و نه۔

﴿فالحاصل﴾ نو حاصل دا شو چه سکوت په موضع د حاجت الی البیان کښې په
منزله د بیان دے نو پدے طریقے سره مونږ وایو چه اجماع منعقد کیږی په تصریح د بعضو
او په سکوت د باقینو سره چه هغوی رد انکار اونکړو نو دا دلیل دے دپاره د جواز په گیره
کښې ماوراء د قبضے نه اختلاف دے د علماؤ چه بهتر ئے عدم قطع ده او که قطع ده نو پدے
کښې بحث مباحثه وه د شیوخو په حرم کښې شیخ پنجپیر شیخ القرآن محمد طاهر نور الله
مرقده غلے ناست وو چا ورته اووئیل ته غلے ولے ئے بحث پدے کښې وو چه د ماوراء بهتر نه
ده شیخ الزامی جواب ورکړو چه ابن عمر چه قطعه د لحیے ما وراء د قبضے نه کړے وه نو دا
ږیره ئے خکاره وه که پټه وه هغے اووئیل ښکاره وه نو شیخ اووئیل نورو اصحابو پرے رد او
انکار کړے وو ؟ هغوی اووئیل نه وو کړے، نو دیته اجماع وئیل شی نو اجماع منعقده ده
پدے چه د ماوراء د قبضے نه قطع کول بهتر دی او تاسو ئے د ماوراء د پریخودو د بهتر والے
ثابتوی دا الزامی جواب وو۔

﴿فصل واما بيان العطف﴾

هر چه دے بیان عطف مثلا چه ته عطف کړے مکیلی شے او یا موزونی شے په جمله مجمله باندے نو کیږی دا عطف بیان د پاره د جملے مجملے مثال دهغے کله چه سړے اووائی چه د فلانکی سړی په ما باندے سل (۱۰۰) دی او یوه روپی ده نو د مائه مبهم ذکر کړه او روسته ئے پرے درهم عطف کړو نو دا بیان دے ددے چه په مقربه (۱۰۱) روپی لازمیږی کچرے ده وئیلے وے لفلان علی مائة درهم ودرهم نو په کلام کښې به طوالت راغلے وے او اختصار فی الکلام اولیٰ وی نو ده اووئیل لفلان علی مائة ودرهم نو ده درهم نه معلومه شوه چه دا مائه هم دراهم دی۔

﴿او مائة وقفيز حنطة﴾ یا سړے داسے اووائی چه د فلانکی په ما باندے سل دی او یو اوړے د غنمو دے نو په مقربه (۱۰۱) اوړے غنم لازمیږی دا مثال د عطف مکیلی دے۔

﴿كان العطف بمنزلة البيان﴾ وی به عطف په منزله د بیان باندے چه دا کلی ددے جنس دے۔ ﴿وكذا لو قال مائة وثلاثة اثواب﴾ دارنګه که ده داسے ووئیل چه د فلانکی په ما سل او درے کپړے دی نو په ده به (۱۰۳) کپړے لازمیږی ځکه ده دوه عددين مبهمين ذکر کړل چه مائه او ثلاثه دی او روسته ددے بیان ئے اوکړه په عطف د اثواب سره نو دا اثواب صلاحیت ددے لری چه بیان دے شی د ثلاثه و او مائه وو دواړو نو درے دپاسه سل (۱۰۰) کپړے په مقر لازمے شوے۔

﴿او مائة وثلاثة دراهم﴾ یا داسے ئے اووئیل چه د فلانکی سړی په ما باندے سل او درے دراهم دی نو (۱۰۳) دراهم به په ده لازمیږی۔

﴿او مائة وثلاثة اعبد﴾ یا داسے ئے اووئیل چه د فلانکی په ما باندے سل او درے غلامان دی نو په ده به (۱۰۳) غلامان لازمیږی۔

﴿فانه بيان ان المائة﴾ نو دا بیان دے چه دا سل ددے جنس دی په منزله ددے قول

چه احد وعشرون درهما نو احد وعشرون دوه عددين مبهمين دي روسته درهما د هغې دپاره بيان دے چه دا يولس تول دراهم دي۔

﴿ بخلاف قوله له مائة وثوب ﴾ په خلاف ددے قول چه ده اووئيل چه د فلانكي سري په ما باندے سل او جامه ده او يا سل او بيزه ده چه دا نه كيږي بيان دپاره د مائه وځكه ثوبه او شاة د قبيلے د مكيلاتو او موزوناتو نه ندے نو مكيلي او موزوني شے وصف ثابته في الذمه واقع كيدے شي او دلته خو مكيلي او موزوني شے نه دے نو دا وصف ثابته في الذمه نشي واقع كيدے مگر په عقد سلم كښې واقع كيدے شي خو عقد سلم ډير نادر دے نو مونږ به ثوبه او شاة په ده باندے لازم كړو او په مائه وكښې به رجوع اوكړو مجمل ته چه د دينه ستا څه مراد دے نو بيا به ئے په لازم كړو چه څه ئے مراد وي۔

﴿ واختص ذلك في عطف الواحد ﴾ او مختص دے دا كون د عطف بيان په مفرد كښې په هغه شي كښې چه هغه صالح وي دپاره د دين په ذمه باندے يعني چه هغه وصف ثابته في الذمه واقع كيدے شي۔

﴿ كالمكيل ﴾ لكه مكيلي او موزوني شے شو۔

﴿ وقال ابويوسف ﴾ او وئيلي دي امام ابويوسف چه دا بيان دے په مائه كښې هم او په شاة كښې هم او په مائه كښې هم او په ثوب كښې هم بناء پدے قاعده باندے يعني دا مائه به هم د قبيلے د اثوابو يا د شياتو نه وي او امام ابوحنيفه وائي چه ثوب او شاة په ذمه باندے واقع كيدے نشي نو بيان ته به محتاج وي او امام شافعي رحمه الله اولنے صورت چه مائه او درهم دے دا هم د قبيلے د مائة وشاة نه گرځوي چه دلته به هم د مائه بيان ته مجمل نه ضرورت وي چه د هغه څه مراد دے۔

﴿ فصل واما بيان التبديل وهو النسخ ﴾

هر چه بيان تبديل دے نو دا نسخ دے دا دفع د وهم ده سوال واردیدو چه اقسام د بيان خوانه دي يو پكښې نسخ دے هغه تا ذكر نكړو؟ ده جواب وركړو چه بيان تبديل مسمیٰ دے په نسخ سره نو بيان تبديل ما ذكر كړو نو ذكر د بيان النسخ عليحده ته ضرورت پاتے نه شو خو دا حصر په سبعه كښې حصر استقرائي دے عقلي نه دے عقل مجوز د قسم آخر دے

خو حصر په استقراء او تتبع سره په سبعه و کښې راغلي دے۔

﴿ فيجوز ذلک من صاحب الشرع ﴾ نو جائز دے بيان تبديل د صاحب د شرع نه او نه دے روا دا د بندګانو نه ځکه بيان تبديل نه دے مګر بيان دے د انتهاء د حکم شرعي چه هغه مطلق وي نو شارع به هغه حکم بدل کړي۔

﴿ وعلى هذا بطل استثناء الكل من الكل ﴾ او بناء پدے استثناء د کل د کل نه باطله ده که سړے اووائي له عليّ الف الا الفا نو دا باطله ده ځکه دا نسخ د حکم دے او جائز نه ده رجوع د اقرار نه د عبد د طرفه۔

﴿ والطلاق والعتاق ﴾ دارنګه په طلاقو او په عتاقو کښې ځکه چه دا نسخ ده او د عبد دپاره اختيار د نسخ نشته۔

﴿ ولو قال لفلان عليّ الف قرض ﴾ کچرے سړي اقرار اوکړو چه د فلانکي په ما باندے زر روپي دي قرض او يا ثمن د مبيعے دے او دائے ورسره اووئيل چه دا کوټه روپي دي نو دا بيان تغير دے په نزد د صاحبينو باندے نو دا به متصلا وئيل صحيح کيږي او دا قول دده بيان تبديل دے په نزد د امام ابوحنيفه نو نه صحيح کيږي اګرکه ده دا قول متصلا هم ذکر کړے وي۔

﴿ ولو قال لفلان علي الف ﴾ کچرے ده اووئيل چه د فلانکي سړي په ما باندے زر روپي دي د ثمن د جاريه نه چه په ما باندے ئے خرڅه کړے وه او جاريه ما قبض کړے نه وه او دا جاريه هم اثر نشته نوم نشان ئے نشته نو لم اقبضها بيان تبديل دے په نزد د امام ابوحنيفه باندے ځکه اقرار په لزوم د ثمنو باندے اقرار بالقبض وي په وخت د هلاکت د مبيعه کښې ځکه کچرے دا مبيعه هلاکه کړے شوے ده قبل القبض نو بيع به فسخ کړے شوے وه نو ثمن به باقي پاتے نه وو لازم۔

او صاحبين ورته بيان تغير وائي کچرے متصلائے ذکر کړے وو نو صحيح دے او که متصلائے نه وو ذکر کړے نو نه صحيح کيږي۔

البحث الثانی -- فی سنة رسول الله

هرکله چه فارغ شو د بحث اول نه نو شروع ئے اوکړه په بحث ثانی کښې بحث اول ئے مقدم کړے وو ځکه چه هغه کلام الله وو او سنت ئے مقدم کړو په اجماع او په قیاس باندے ځکه دا کلام الرسول دے او اجماع کلام د مجتهدینو وی او قیاس کلام د مجتهد وی۔ دویم دا چه حجیت د اجماع معلوم دے د سنت رسول نه نو ګویا سنت رسول مثبت (بصیغة اسم الفاعل) دے او اجماع مثبت (بصیغة اسم المفعول) ده او امر ته د مثبت مقدمه وی په مثبت باندے نو ځکه ئے بحث د سنت په اجمال او تفصیل کښې مقدم کړو۔ سنت په لغت کښې طریقے او عادت ته وئیلے کیږی او په اصطلاح د اصولینو کښې عبارت دے د هغے نه چه صادر شوے وی د نبی ﷺ نه سوا د قرآن نه من فعل او قول او تقریر او سکوت۔ دے تولو ته سنت وائی، خو دلته دے تقسیم د سنت په اعتبار د خبر سره کوی ځکه چه د سنت فعلی تقسیم دے روسته کوی هغه خاص چه ذکر کړے شی په مقابله د عام کښې نو مراد دے عام نه ماوراء ددے خاص نه وی۔

﴿ وهی اکثر من عدد الرمل ﴾ او دا ډیر دی د شمار د شګو د ګټو نه کثرت ته اشاره کوی۔

﴿ فصل فی اقسام الخبر ﴾ فصلُ کائن دے په اقسامو د خبر کښې خبر رسول په منزله د کتاب الله دے په حق د لزوم د علم او د عمل کښې په هغے ځنګه چه کتاب الله واجب العمل دے نو دارنګه خبر الرسول هم لازم العمل دے۔

﴿ فان من اطاعه ﴾ ځکه ځوك چه تابعداری د پیغمبر کوی نو دے تابعداری د الله کوی نو هغه چه تیر شو د ذکر د خاص، عام، مشترك، مؤمل مجمل نه په کتاب الله کښې نو هغه هم دارنګه په سنت کښې هم وی، دا دفع د وهم ده چه سنت هم په شان د کتاب الله دے په اجراء د اقساماتو کښې هم هغه اقسام پدے کښې هم جاری کیږی نو بیا ذکر ده سنت

ته حاجت پاتے نه شو ده جواب اوکړو چه:

﴿ الا ان الشبهة فی باب الخبر ﴾ مګر شبهه د باب د خبر په ثبوت کښ ده د رسول الله ﷺ نه او په اتصال ددے خبر کښ ده په رسول الله ﷺ پورے نو ځکه مونږ بحث د سنت نه متروک کوو ځکه هغه اقسامات چه په خبر کښ جاری کیږی نو هغه په کتاب الله کښ نه جاری کیږی د ما یختص به السنن د وجے نه ئے مبحث د سنن طرح نه کړو۔

﴿ ولهذا المعنی ﴾ ددے معنی د وجے نه چه شبهه په اتصال کښ ده اوګرځیده خبر په درے قسمه۔ ﴿ قسم صحیح ﴾ یو هغه قسم دے چه ثابت شوی وی د رسول الله ﷺ نه بغیر د شبهے نه او دیته متواتر وائی او یو قسم هغه دے چه په هغے کښ یو قسم شبهه ده او دا خبر مشهور دے او یو قسم هغه دے چه په هغے کښ احتمال او شبهه وی په اتصال او عدم اتصال کښ او دا اخبار احاد دی۔

﴿ فالمتواتر ما نقله جماعة ﴾

نو خبر متواتر هغے ته وائی چه نقل کړے وی یو لوئی جماعت د جماعت نه چه نه وی متصور توافق د دوی په دروغو باندے د وجے د کثرت د دوی نه او متصل شوے وی په تا پورے مخاطبه هکذا ۔ کذب پکښ متصور نه وی یو د دکثرت د وجے نه چه دومره ډیر کسان په کذب باندے نشی جمع کیدے دویم د عدالت ددے رواتو نه هم ځکه چه روات عادلان دی دریم د وجے د اختلاف د اماکنو د رواتو نه چه د جدا جدا ځایونو روات دی اتفاق اوکړے چه مونږ به دا خبر کاذب رسول الله ﷺ ته منسوب کوو نو دا خو ډیره بعیده خبره ده نو دے درے وارو خبرو صدق را پیدا کړو۔

﴿ مثاله نقل القرآن ﴾ مثال د متواتر لکه نقل د قرآن شو دا مثال د مطلق متواتر دے د متواتر من السنة مثال نه ذکر کوی ځکه پدے کښ اختلاف دے بعض وائی چه د متواتر من السنة دپاره نظیر نشته او بعض وائی چه ددے دپاره نظیر شته نو بعض وائی انما الاعمال بالنیات حدیث متواتر دے بعض وائی چه البینة علی المدعی والیمین علی من انکر متواتر دے نو پدے کښ اختلاف وو نو ځکه ئے د مطلق متواتر مثال ذکر کړو۔

﴿ واعداد الرکعات ﴾ دارنګه اعداد د رکعاتو او مقادر د زکاة متواتر دی۔

﴿ **والمشهور ما كان اوله كالاحاد** ﴾ خبر مشهور هغه دے چه اول ئے اخبار احادو نه وي خو بيا مشهور شوے وي په عصر ثاني او ثالث كښ تردے چه تا ته رااورسيده چه د تابعين او تبع تابعين زمانه ده او امت مخامخ شوے وي د هغے سره په قبلولو باندے نو دا هم په شان د متواتر شو په عمل او علم كښ.

﴿ **وذلک مثل المسح** ﴾ دا لكه مسح شوه په موزو باندے ۔ امام ابوحنيفه وائي چه ما په مسح على الخف باندے قول نه كوو تردے چه ما پرے احاديث كثيره اوليدل بعض وائي چه تقريبا ده اوويا اصحابو نه حديث د مسح على الخفين نقل شويدى۔

﴿ **والرجم** ﴾ او دارنګه متواتر دے رجم په باب د زنا كښ۔

﴿ **ثم المتواتر يوجب العلم القطعي** ﴾ بيا خبر متواتر واجبوی علم يقيني او رد ددے كفر دے د حديث متواتر نه منكر كافر دے ۔

﴿ **والمشهور** ﴾ او خبر مشهور واجبوی علم او اطمينان (۱) د زړه او رد ددے بدعت دے (يعنی معصيت دے) او نشته خلاف په مينځ د علماؤ كښ په لزوم د عمل باندے پدے دواړو باندے لكه څنګه چه عمل لازم دے په متواتر نو دغه رنګه لازم دے په خبر مشهور باندے هم۔

﴿ **وانما الكلام في الاحاد** ﴾ كلام په اخبار احادو كښ دے چه دا موجب د عمل دے او كه نه دے نو مونږ وايو چه خبر واحد هغه دے چه نقل كړے وي يو راوی د يو راوی نه يا يو راوی د جماعت نه نقل كړے وي او يا يو جماعت د يو راوی نه نقل كړے وي او نشته اعتبار عدد لره (چه دوه وي يا درے وي) كله چه نه وي رسيدلے حد د مشهور ته ۔

﴿ **وهو يوجب العمل** ﴾ او خبر واحد ثابتوی عمل پدے سره په احكامات شرعيو كښ په شرط د اسلام د راوی سره او په شرط د عدالت د راوی سره او په شرط د ضبط د راوی سره (سماع د كلام او د فهم د معنی به ترے كيږی) او په شرط د عقل د راوی سره چه عاقل به وي او په شرط د اتصال ددے روايت سره په تا پورے دا خبر د رسول الله ﷺ نه پدے

(۱) اصل عبارة د شاشي داسې دی : (يوجب علم الطمانينة) ۔ نو معنی داسې شوه چه واجبوی علم د طمانينی، نه د يقين۔ سيد

شروطو سره نو هغه خبر به قابل قبول وی۔

﴿ ثم الراوی فی الاصل قسمان ﴾ بیا راوی په نفس الامر کښې په دوه قسمه دی معروف بالعلم والاجتهاد لکه خلفاء اربعه عبد الله بن مسعود، عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمر، زید بن ثابت، معاذ بن جبل رضی الله عنهم او امثال د دوی شول نو هر کله چه ثابت شی ستا په نزد اے مخاطبه روایت د دوی د رسول الله ﷺ نه نو عمل پدے روایت باندے د داسے راویانو اولیٰ دے د عمل بالقیاس نه۔

﴿ ولهذا روی محمد ﴾ ددے وجے نه روایت کړیدے امام محمد هغه حدیث چه په هغے کښې واقعه د هغه اعرابی ذکر ده چه په سترګو کښې ئے کمزوری وه په مسئله د قهقهه کښې ابو موسی اشعری رضی الله عنه رانقل کړیدے نو دا معمول ګرځولے شویدے او قیاس پدے باندے ترك شویدے ځکه د قیاس تقاضا عدم نقض الوضوء دے ځکه نقض الوضوء په خروج د نجاست سره راځی من احد السبیلین او من غیر السبیلین عند الاحناف او په قهقهه کښې نه خروج د نجاست من السبیلین شته او نه من غیر السبیلین شته خو نبی علیه السلام وائی: الا من ضحک منکم فی الصلاة فلیعد الصلاة والوضوء جمیعاً

﴿ وروی حدیث عائشة ﴾ دارنګه حدیث مرویه د عائشه رضی الله عنها نه چه حدیث د قئ دے په نقض د وضوء کښې پدے سره قیاس متروك شویدے نبی علیه السلام وائی: من قاء او رعف فلینصرف ولیتوضأ ولیبن علی صلاته۔ چا چه قئ اوکړو یائے پوزه ماته شوه نو واپس دِے شی او اودس دِ اوکړی او بناء دے اوکړی په خپل مانځه باندے نو قئ نجس نه دے ځکه دا د اعلیٰ د معدے نه وی قیاس تقاضا کوی چه پدے دے اودس مات نه شی خو نبی علیه السلام دا ناقض الوضوء ګرځولے دے نو قیاس به ددے په مقابله کښې متروك وی۔

﴿ وروی عن ابن عباس ﴾ دارنګه یو روایت شویدے د ابن عباس رضی الله عنهما نه حدیث د سجده سهو پس د سلام نه او متروك شویدے قیاس پدے سره حدیث کښې راځی نبی علیه السلام سهوه شو نو سجده ئے بعد السلام اوکړه نو قیاس خو تقاضا کوی چه سجده سهو دِ قبل السلام اوشی ځکه چه دا جبیره ده د فائت دپاره او دا جبیره به فی

الصلاة کرخي او بعد السلام خو دا خارج من الصلاة دے من وجهه دا مذهب د شافعي دے لیکن نبی علیه السلام فرمائیلي دي: لکل سهو سجدتان بعد السلام نو دا مخالف القیاس حکم معمول به شو او قیاس ترك کړے شو۔

﴿ والقسم الثاني من الرواة ﴾

او قسم ثاني د رواتو نه هغه دي چه معروف بالحفظ والعدالت وي خو معروف بالاجتهاد والفتویٰ نه وي لکه ابو هریره، انس بن مالك نو کله چه ثابت شي روایت د مثل د دغسے رواتو ستا سره نو کچرے دا خبر د قیاس سره موافق وو نو نشته دے خفاء په لزوم د عمل کښې په دغه حدیث باندے او کچرے مخالف وو دا خبر د قیاس نه نو وي به عمل په قیاس (۱) باندے اولیٰ مثال د هغے لکه چه روایت کړے دے ابو هریره چه اودس لازم دے د هغه شي نه چه اور ورته رسیدلے وي نو اووئیل ده ته ابن عباس رضی الله عنهما چه خبر راکړه ما ته کچرے ته اودس اوکړے په ګرمو اوبو باندے نو د هغے نه به هم ته اودس کوے نو ابو هریره چپ شو ابن عباس د هغه حدیث رد کړو په قیاس سره ځکه که د ابن عباس په نزد باندے کچرے دا خبر ثابت من الشارع وے نو د هغے روایت به ئے کړے وے۔

﴿ وعلی هذا ترک اصحابنا روایة ابي هریرة ﴾ ددے وجے نه پریخودے دے اصحابو زمونږ روایت د ابو هریره په مسئله د مصرات کښې په قیاس سره ۔ دا حدیث مروی دے د ابو هریره نه چه الا لا تصروا الابل الخ تاسو مه بنده وئ شوده په غولانځو د اوښانو، ګډو بیزو کښې نو چا چه واغستل نو هغه لره اختیار دے پس د لوشلو نه کچرے خوښ ئے شي نو واړ خلي او که خوښ ئے شوه نو واپس دے کړي او یو اوږے قجورے ورسره واپس کړي نو دا روایت مخالف دے د قیاس نه من کل الوجوه ځکه دا لبن به یا د ذوات الامثال د قبیلے نه وي او یا به د ذوات القیم د قبیلے نه وي کچرے دا د ذوات الامثال د

---

(۱) تنبیه : دا مذهب د عیسی بن ابان دی او د کرخي رحمه الله مذهب دا دی چه عمل په حدیث اولیٰ دی او دا راجح دی او د حدیث د مصراة نه احنافو سره نور جوابونه هم موجود دي ۔ سید فضل الحق

قبیلے نہ وی نو مثل پکار دے چہ ورئے کړی او کہ د ذوات القیم د قبیلے نہ وی نو قیمت ورکول پکار دی نو کہ کم پئ ئے استعمال کړی وی نو کم مقدار ورکول پکار دی او کہ زیات استعمال شوی وی نو زیات ورکول پکار دی نو پہ هر صورت کښں معین بدل کښں یو صاع قجورے ورکول دا مخالف دی د قیاس نہ من کل الوجوہ نو احنافو پدے باندے عمل متروك کړیدے۔

﴿ **وباعتبار اختلاف احوال الرواة** ﴾ او پہ اعتبار د احوالو د رواتو کښں مونږ وایو چہ شرط کړے شوے بہ وی عمل پہ خبر واحد سرہ چہ دا بہ مخالف د کتاب الله سرہ نہ وی او مخالف بہ د سنت مشهورہ سرہ نہ وی او مخالف بہ د ظاهر سرہ نہ وی او کچرے دا شرط پکښں نہ وی نو هغه خبر واحد بہ قابل د عمل نہ وی۔

﴿ **قال تکثر لکم الاحادیث من بعدي** ﴾ رسول الله ﷺ فرمائی چہ تاسو تہ بہ څما د طرف نہ احادیث ډیر بیانیږی پس نو کلہ چہ تاسو تہ روایت اوکړے شی څما د طرف نہ د یو حدیث نو هغه وړاندے کړئ پہ کتاب الله باندے نو کوم چہ موافق د کتاب الله سرہ راغلو نو قبول ئے کړئ او کوم چہ مخالف راغلے نو رد ئے کړئ۔

﴿ **وتحقیق ذلک فیما روی عن علی بن ابی طالب** ﴾ او تحقیق ددے پہ هغه قول کښں دے چہ روایت ئے شویدے د علی رضی الله عنہ نہ چہ هغه وائی چہ رواہ پہ درے قسمہ وو (۱) مومن مخلص چہ ملګرتوب ئے د رسول الله ﷺ سرہ کړے وو او پیژندلہ ئے معنی د خبرے د هغه (۲) هغه اعرابی وو چہ د یوے قبیلے نہ بہ راغلو نو وابہ ئے ریدلو بعض هغه څہ چہ بہ ئے واوریدل او نہ پوهیدہ پہ حقیقت د کلام د نبی علیه السلام نو واپس بہ شو خپلے قبیلے تہ نو روایت بہ ئے اوکړو بغیر د لفظ د رسول الله ﷺ نہ نو پہ معنی کښں بہ تغیر راغلو او ددے راوی بہ دا ګمان وو چہ روایت نہ متفاوت کیږی پہ معنی سرہ۔

(۳) دریم راوی منافق دے چہ منافقت ئے معلوم نہ وی نو دے روایت اوکړی هغه څہ چہ نہ ئے اوریدلی او افتراء اوکړی پہ نبی علیه السلام نو واوری دے افتراء لرہ څہ خلك ددہ نہ او هغوی پرے ګمان اوکړی د مومن مخلص نو هغوی دغه روایت اوکړی او مشهور شی پہ خلکو کښں نو ددے معنی د وجے نہ واجب دے پیش کول د خبر واحد پہ کتاب الله باندے

او په سنت مشهوره باندے۔

﴿ ونظیر العرض علی کتاب الله فی مس الذکر ﴾ او نظیر د عرض د حدیث په کتاب الله باندے په حدیث د مس الذکر کښ دے په هغه حدیث کښ روایت کیږی د نبی علیه السلام نه چه چا چه مسه کړو ذکر خپل نو اودس دِے اوکړی نو وړاندے کړو دا مونږ په کتاب الله باندے نو راوته مخالف ددے قول د الله تعالی چه فیه رجال یحبون ان یتطهروا (مسجد قباء کښ سړی دی چه هغوی محبت ساتی چه ځان ښه پاك کړی) نو هغوی به استنجاء کوله په کټو او بیا به ئے استنجاء په اوبو کوله نو که مس الذکر نجس وے نو استنجاء بالماء به تنجیس وو تطهیر نه وو بنا پداِئے اطلاق ۔

﴿ وکذلک قوله علیه السلام ایما امرأة نکحت نفسها ﴾ دارنګه مثال د عرض په کتاب الله دا قول د نبی علیه السلام دے چه کومه ښځه په نکاح سره ورکړی نفس خپل بغیر د اذن د ولی نه نو نکاح ئے باطل ده باطل ده نو دا مخالف راوختو د ددے قول د الله تعالی نه چه فلا تعضلو هن ان ینکحن ازواجهن سره چه مه تنګه وئ دوی لره چه نکاح اوکړی پخپله د خاوندانو خپلو سره نو کولے شی۔

﴿ فان الکتاب یوجب ﴾ ځکه کتاب ثابتوی تحقیق د نکاح د دے ښځو چه د دوی نکاح صحیح ده ۔ صاحب هدایه ددے حدیث نه دویم جواب کوی چه یو راوی د خپل مروی عنه نه خلاف اوکړی نو هغه دلیل د نسخ وی او عائشه پخپله د خپل وریرے نکاح کړے وه د عبد الرحمن بن ابی بکر لور ئے په نکاح سره ورکړے وه نو که نکاح بعبارة النساء منعقد نه وے نو عائشے ولے وریره په نکاح ورکوله نو هر کله چه ده ترور نکاح صحیح شوه په باره د وریره کښ نو د ښځے خپل نفس په خپله په نکاح ورکول خو په طریقه اولیٰ سره صحیح دی ځکه ښځه په خپله فائده باندے د خپل ځان ښه پو هیږی د غیر نه کما مرّ۔

﴿ومثال العرض علی الخبر المشهور روایة القضاء بشاهد ویمین﴾ مثال د عرض د خبر په خبر مشهور باندے روایت دے د قضاء بشاهد ویمین نو دا حدیث راوته مخالف ددے قول د نبی علیه السلام چه البینة علی المدعی والیمین علی من انکر۔ ګواهان په مدعی دی او قسم په منکر دے۔

﴿ **وبـاعتبار هذا المعنى قلنا** ﴾ او په اعتبار ددے معنی سره مونږه وايو چه خبر واحد چه کله مخالف وی د ظاهر سره نو هغه به معمول بها نه وی او بعض د صورتونو د مخالفت د ظاهر نه عدم اشتهار د خبر دے په هغه حادثه کښې چه په هغے کښې بلوئ عامه وی په صدر اول او ثاني کښې ځکه صدر اول او ثاني والا چه اصحاب او تابعين دی ندی متهم په مداهنت باندے په متابعت د سنت کښې نو هر کله چه دا خبر مشهور نه وو سره د سخت حاجت نه او سره د عموم بلوئ نه نو دا به علامه وی د عدم صحت د دغه خبر دپاره

﴿ **مثاله فى الحكميات** ﴾ مثال د هغے په شرعياتو کښې چه يو سړے خبر ورکړی چا ته چه دا ښځه په ده باندے حرامه ده په رضاع سره چه عارض شويده روستو نو جائز ده چه دے اعتبار اوکړی په خبر دده او دے نکاح اوکړی د خور د هغه ښځے سره او که مخبر دا خبر ورکړو چه دا عقد باطل دے د ابتداء نه په حکم د رضاع سره نو نه به قبليږی خبر دده ځکه که دا دده رضاعی خور وے نو هر چا ته به ددے پته وه۔

صاحب نور الانوار مثال د جهر بالتسميه پيش کړے وو نو صلات کښې عموم بلوئ ده ډير اصحاب ورته حاضريدل خو د جهر بالتسميه روايت صرف ابو هريره کړيدے او دده په تلامذه کښې يو نعيم دا رانقل کوی نو معلومه شوه چه دا خبره چه په عامو کيفياتو د مانځه کښې چه نور اصحابو رانقل کړيدی په هغے کښې جهر بالتسميه نشته نو جهر بالتسميه مسنون ندے۔

﴿ **وكذلك اذا اخبرت المرأ بموت زوجها** ﴾ دارنګه کچرے خبر ورکړے شی ښځے ته په مرګ د خاوند د هغے او يا په طلاق ورکول د خاوند هغے ته او خاوند ئے غائب وو نو جائز ده چه دا ښځه اعتماد اوکړی په خبر د هغه سړی باندے او نکاح اوکړی د بل چا سره۔

﴿ **ولـو اشتبهت عليه القبلة** ﴾ کچرے په يو سړی باندے قبله ګډه وډه شوه او خبر ورکړه دے مشتبه کس ته چا ددے قبلے نو واجب دے عمل پدے۔

او کچرے اوبه وی او حال د نجاست د هغے معلوم نه وو او چا ورته خبر ورکړو په نجاست د هغے نو ادس به نه کوی د هغے بلکه تيمم به وهی احتياط دا دے۔

﴿فصل خبر الواحد حجة﴾

خبر واحد حجت دے په څلورو ځایونو کښې خالص په حقوق الله کښې چه عقوبت نه وي، خالص حقوق العبد چه په هغے کښې الزام محض وي او خالص حق د عبد چه په هغے کښې الزام نه وي۔

او خالص حق د عبد هغه چه په هغے کښې من وجه الزام وي او من وجه پکښې الزام نه وي۔

﴿اما الاول فيقبل فيه خبر الواحد﴾ هر چه اول دے نو په هغے کښې به قبول وي خبر واحد ځکه نبي عليه السلام قبول کړے وو شهادت د اعرابي په مياشت د رمضان کښې او په دويم کښې به عدد او عدالت دواړه شرط وي او نظير ددے منازعات (جګړے) دي او هر چه دريمه نوعه ده نو قبول به وي په هغے کښې خبر واحد چه عادل وي او که فاسق وي نظير د هغے لکه معاملات شول او هر چه څلورم دے نو پدے کښې به عدد شرط وي (د دوه تنو) او عدالت به هم پکښې شرط وي په نزد د امام ابو حنيفه مثال ددے لکه معزوله کول دي د وکيل د وکالت نه نو پديکښې من وجه الزام دے او من وجه غير الزام دے کچرے موکل په خپل حق کښې تصرف کوي او وکيل معزوله کوي نو دلته عدد ته ضرورت نشته خو چه ديته ګورو چه حقوق د عقد عاقد ته راجع دي چه وکيل دے نو تاوان به په ده راځي نو بيا پکښې عدد شرط شو۔

﴿والحجر﴾ دارنګه حجر شو مولیٰ خپل عبد ماذون ګرځولے دے بيا چا ورته خبر ورکړو چه ته خو مولیٰ د تصرف نه بند کړے ئے نو ترڅو چه دوه تنو مستور الحال خبر نه وي ورکړے يا يو تن عادل خبر نه وي ورکړے نو هسے به د هغه قول قابل قبول نه وي (انتهیٰ)۔

□□□□□□□

البحث الثالث فی الاجماع

هر کله چه فارغ شو مصنف د بحث د سنت نه نو شروع ئے اوکړه په اجماع باندے اجماع ئے مقدم کړه په قیاس باندے ځکه چه اجماع غالبا قطعی وی ځکه چه دا رأی د جمیع مجتهدینو وی او قیاس غالباً ظنی وی ځکه چه هغه رائے د یو مجتهد وی او قطعی مقدم وی په ظنی باندے نو اجماع مصنف ځکه په اجمال او تفصیل دواړو کښې مقدم کړو ۔ د قیاس سره مونږ قید د غالبا اولګولو ځکه چه قیاس کله قطعی وی کله چه د هغے علت منصوص وی نو هلته ترتب د حکم په هغے باندے قطعی دے او کله چه علت د قیاس منصوصی نه وی بلکه علت مستنبطه وی نو په هغے کښې احتمال قطعی نه وی۔

اجماع په لغت کښې عزم او اتفاق ته وئیلے شی او په عرف کښې وئیلے شی : اجمع فلان علی کذا ۔ دا هله وئیلے شی چه دے عزم اوکړی یا وئیلے شی : واجمعوا علی کذا ۔ خلقو عزم اوکړو په فلانکی خبره باندے ۔

او په اصطلاح د اصولینو کښې اجماع اتفاق د علماؤ د هرے زمانے دے د اهل سنت چه عادلان اهل اجتهاد وی په حکم د یوه حادثه باندے خو دا به په فروعو د دین کښې معتبر وی پس د وفات د نبی علیه السلام نه۔ په اصولو د دین کښې دیته ضرورت نه راځی، اصول د دین لکه توحید د الله صفات د الله اثبات د رسالت وغیره دا په دلائل قطعیه و نقلیه و سره ثابت دی، پس د وفات د نبی علیه السلام نه ځکه چه په وخت د حیات د رسول الله ﷺ کښې اجماع ته ضرورت نه راځی ځکه معاذ رضی الله عنه چه نبی علیه السلام یمن ته لیږلو نو هغه ته ئے اووئیل بما تقضی یا معاذ قال بکتاب الله نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : که په کتاب الله کښې ئے بیا نه مومے نو معاذ اووئیل فبسنة رسول الله نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : که په سنت کښې بیا نه موندے نو هغه اووئیل اجتهد برأی اجماع ئے ذکر نکړه ځکه چه په هغه وخت کښې نبی علیه السلام ژوندے وو او په حیات د

نبي عليه السلام کښې اجماع ته ضرورت نه راځي ـ

﴿ حجة موجبة للعمل ﴾ اجماع حجت دے په فروعو د دين کښې واجبونکے دے عمل لره شرعا دپاره د کرامت ددے امت، حجيت د اجماع په کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ سره ثابت دے کتاب الله لکه ويتبع غير سبيل المؤمنين نوله ما تولى – غير سبيل المؤمنين کښې اجماع ته اشاره ده دارنګه کنتم خير امه اخرجت للناس تأمرون (۱) بالمعروف وتنهون عن المنكر پدے کښې اجماع ته اشاره ده ـ

په سنت سره هم حجيت د اجماع ثابت دے، نبي عليه السلام فرمائي : لن يجتمع امتي على الضلالة نو معلومه شوه چه دوى چه کومه خبره راجمع شول نو هغه به حجت وى ـ

﴿ ثم الاجماع على اربعة اقسام ﴾ بيا اجماع په څلور قسمه ده اول اجماع د صحابه و ده په حکم ديوے حادثه باندے صراحةً ، بيا اجماع د صحابو ده په تصريح د بعضو سره او په سکوت د باقينو سره د رد نه ـ (۲)

بيا اجماع د هغه چا ده چه روسته د صحابو نه وى خو د دوى اجماع به معتبره وى په هغه حادثه کښې چه په هغے کښې قول د سلفو موجود نه وى بيا څلورم قسم اجماع ده په يو قول د اقوالو د سلفو باندے چه اقوال د سلفو متعدد دى خو د روستنو خلقو اجماع په يو قول سره راشى لکه اجماع په عدم جواز د بيع د ام ولدے باندے ځکه په بيع د ام ولده کښې اقوال د سلفو متعدد دى بعض د جواز قائل دى او بعض د عدم جواز قائل دى خو روستنو خلقو اجماع کړيده په عدم جواز د بيع د ام ولدے ـ

﴿ اما الاول ﴾

هر چه اجماع اول قسم ده چه په هغے کښې تصريح د ټولو اصحابو وى نو دا په منزله د ايت د کتاب الله ده په مرتبه او اعتقاد او عمل کښې ددے جاحد به هم کافر وى دويم اجماع

---

(۱) استدلال په دى آيت نقل دى د امام شافعي رحمه الله نه ـ سيد فضل الحق

(۲) يعني باقين صحابه سکوت وکړى د رد کولو نه ـ سيد

چه په تصریح د بعض او په سکوت د باقینو سره وی نو دا په منزله د حدیث متواتر ده په قطعیت او په وجوب العمل کښ خو منکر د دیته نسبت د کفر نشی کیدے بیا اجماع د من بعد هم ده داپه شان د خبر مشهور ده د احادیثو نه دا موجب د علم طمانیه ده موجب د علم یقینی نده۔ بیا اجماع د متاخرینو ده په یو د اقوالو د سلفو باندے نو دا په شان د صحیح خبر واحد ده چه هغه خبر واحد چه متصلاً ثابت شی۔

﴿ ثم المعتبر فی هذا الباب اجماع اهل الرأی ﴾ بیا معتبر پدے باب کښ اجماع د اهل الرأی او د مجتهدینو ده که مسئله اجتهادیه وی نو په هغے کښ اجماع د اهل الرأی او مجتهدینو معتبر ده د عوامو قول پکښ معتبر نه دے دارنګه د متکلم(۱) او د محدث هغه چه د هغه بصیرت په اصول الفقه کښ نه وی۔

نو د دے قول به معتبر نه وی دا قید ئے ځکه اولګولو چه د محدث اکثر علم وی په احکاماتو باندے په اعتبار د ظاهری احکاماتو سره حدیثو سره ده ته ترتب د احکامات شرعیو په امورو باندے علم نه وی۔

﴿ ثم بعد ذلک الاجماع علی نوعین ﴾ اوس تقسیم د اجماع کوی نوعینو ته خو دا تقسیم په بل کیفیت سره دے چه هغه ترکیب او عدم ترکیب دے۔

ترجمه : نو اجماع په دوه قسمه ده اجماع مرکبه ده او غیر مرکبه ده پس اجماع مرکبه هغه ده چه جمع شوی وی په هغے باندے آراء د مجتهدینو په حکم د یوه حادثه سره د وجود د اختلاف نه په علت کښ خو حکم یو وی مثال د هغے لکه علت د ولایت جبری عند الاحناف صغر دے او عند الشوافع بکر دے چه باکره صغیره وی نو د احنافو او شوافعو اتفاق دے چه پدے باندے ولایت جبری کیدے شی دا اجماع مرکبه ده او علتونه ئے جدا دی امام ابو حنیفه ئے علت صغر وائی او امام شافعی ئے علت بکر وائی او حکم یو دے چه ولایت جبری پرے کیدے شی۔

دویم مثال صاحب شاشی ذکر کوی کله چه اجماع شوه په وجود د انتقاض د اودس په

(۱) د متکلم نه مراد د علم الکلام والا دی۔ سید فضل الحق

مس د ښځې او د قئ نو زمونږ په نزد علت د نقض الوضوء قئ دے او په نزد د شافعي علت د نقض الوضوء مس المرأة دے خو حکم یو دے چه نقض الوضوء دے او علتونه مختلف دي دا اجماع مرکبه ده۔

﴿ثم هذا النوع من الاجماع لا يبقى حجة﴾ بیا دا قسم د اجماع باقي نه پاتے کیږي حجت پس د ظاهریدو د فساد نه په یو د دوه ماخذینو کښ تردے کچرے دا خبره ثابته شي په دلیل شرعي سره چه قئ ناقض ندے نو بیا امام ابو حنیفه قائل په نقض الوضوء نه دے د وجے د مس المرأة نه او کچرے په نفس الامر کښ دا ثابته شي په دلیل شرعي سره چه مس المرأة غیر ناقض دے نو بیا امام شافعي په کښ قائل په انتقاض الوضوء نه دے د وجے د فساد د هغه علت نه چه په هغے باندے ترتب د دے حکم دے او فساد متوهم دے د طرفینو نه د وجے د جواز د دینه چه وي دے ابو حنیفه په حق د مسئله د مس کښ چه دا غیر ناقض للوضوء دے او خطاء شوے وي دے په مسئله د قئ کښ چه دے ورته ناقض للوضوء وائي او امام شافعي ډِے مصیب وي په مسئله د قئ کښ چه دا غیر ناقض للوضوء دے او خطاء شوے ډِ وي په مسئله د مس کښ چه دے ورته ناقض وائي نو دا نه مفضي کیږي بناء کولو د وجود د اجماع ته په باطله باندے۔

﴿بخلاف ما تقدم من الاجماع﴾ په خلاف د هغه چه مخکښ بیان شول د اجماع نه چه دا نه مفضي کیږي وجود بناء علی الباطل ته نو حاصل دا شو چه جائز ده ارتفاع د اجماع مرکبے د وجے د ظهور د فساد نه په هغه علت باندے چه اجماع په هغے بناء شویده او هم د دے وجے نه کله چه قاضي فیصله اوکړي په یوه حادثه کښ په گواهانو سره او بیا ظاهر شي رق د شاهدانو په شهادت د ولایت سره تعلق ساتي او د عبد خو په خپل ځان باندے ولایت نه وي نو په غیر به دے څه گواهي اوکړي نو د دوي گواهي قابل قبول نه ده او یا کذب د شاهدانو ظاهر شو په رجوع سره د گواهي نه نو باطل ده قضاء د قاضي چه بناء وو پدے گواهي باندے اگر که ظاهر نه وي دغه بطلان په حق د مدعینو کښ خو په نفس الامر کښ ئے بطلان ظاهر شو۔

﴿ وباعتبار هذا المعنى سقطت المؤلفة قلوبهم ﴾

او په اعتبار ددې معنى ساقطه ده حصه د مؤلفة القلوب د اته اصنافو نه چه کوم قرآن مصارف د زکات ذکر کړيدی۔

﴿ لانقطاع العلة ﴾ د وجې د انقطاع د علت نه چه هغه ضعف د اسلام وو ابتداء نو مؤلفة القلوب ته به زکات ورکيدے شو چه اسلام ته مائله شي کله چه د اسلام غلبه راغله نو د دوی ميلان ته ضرورت پاتے نه شو نو ځکه د سهم د صدقے نه ساقط شول۔

﴿ وسقط سهم ذوى القربى ﴾او ساقطه شوه سهم د ذوى القربىٰ د نبی عليه السلام د خمس د غنيمت نه د وجے د انقطاع د علت نه چه هغه نصرت د نبی عليه السلام وو ـ خمس د غنيمت به درے حصے کيدو يوه حصه د يتيمانو وه بله د ابن السبيل او بله د مساکينو او فقراء او ذوى القربىٰ هم پدے مساکينو کښ داخل وو خو دوی به مقدم وو د مساکين غير ذوى القربىٰ نه نو هر کله چه نبی عليه السلام وفات شو نو ددے ذوى القربى حصه ساقطه شوه۔

﴿ وعلى هذا اذا غسل الثوب النجس ﴾ او بناء پدے چه حکم به پورته کيږی د انقطاع د علت د وجے نه، کله چه پليته کپړه اووينځل شوه په سرکه باندے نو زائل شو نجاست نو حکم به کولے شي په طهارت د محل باندے ـ وجے د انقطاع د علت نه چه هغه نجاست دے ـ دا مسئله اختلافي ده ائمه ثلاثه وائي چه نجاست د محل نه په اوبو سره زائله کيږی بغير د اوبو نه نه حاصليږی ځکه نبی عليه السلام فاطمةؓ ته اووئيل: حتيه ثم اقرصيه ثم اغسليه بالماء اول ئے اوگرهوه بيا ئے اومږه او بيا ئے په اوبو وينځه احناف وائي غسل په اوبو او يا په بل مائع شي اوشي چه هغه مائع مزيل د نجاست وی نو محل پاك شو پدے سره احتراز دے د هغے مائع شي نه چه هغه مزيل د نجاست نه وی لکه تيل غوړی شو پدے سره طهارت نه حاصليږی ـ

صاحب هدايه دليل الزامي ذکر کړيدے کچرے دا کپړه نجسه په اور اوسيزل شي نو ازاله د عين د نجاست کيږی نو دغه رنګه که په بل يو مائع شي باندے کپړه اووينځل شي او نجاست زائل شي نو محل پاك شو ـ

﴿ وبهذا ثبت الفرق بين الحدث والخبث ﴾ او پدے سره فرق ثابت شو په مینځ د حدث او خبث (۱) کښې د حدث ازاله په اوبو سره پکار ده او د خبث (نجاست) زائله کېدل بغیر د اوبو نه هم کیدے شي۔

﴿ فان الخل یزیل النجاسة ﴾ ځکه سرکه زائله کوی نجاست لره د محل نه۔

﴿ فاما الخل ﴾ او هر چه خل دے نو نه فائده کوی طهارت د محل، محل چه پاکوی نو مطهرئے پاکوی چه هغه اوبه دی او سرکه صرف نجاست زائله کوی۔

﴿ فصل ثم بعد ذلک نوع من الاجماع ﴾

بیا پس ددے اجماع نه یوه بله نوعه د اجماع ده چه هغے ته عدم قائل بالفصل وائی او دا په دوه قسمه ده یو ددے دواړو نه هغه ده چه هغه منشأ د خلاف پدے دواړو مسئلتینو کښې یوه وی (یعنی علت ئے یو وی) دویم هغه ده چه منشأ د خلاف مختلفه وی په دواړو مسئلتینو کښې یعنی علتین مختلفین وی۔

﴿ والاول حجة ﴾ اول قسم حجت دے او دویم قسم حجت نه دے مثال د اول په هغه کښې دے چه متفرع کړیدی علماؤ مسائل فقهیه په اصل واحد باندے مثال ددے تخریج دا دے چه کله مونږ ثابته کړو نهی د افعال شرعیه و نه واجبوی مشروعیت د هغے فی نفسه (کما مرّ تفصیله) نو وایو مونږ چه صحیح کیږی نذر په روژه د ورځ د اختر ځکه دا منهی عنه ده خو فعل شرعی دے دا تقاضا د قباحت لغیره کوی فی نفسه پدے نذر کښې هیڅ قباحت نشته۔

﴿ والبیع الفاسد ﴾ او بیع فاسده مفید دپاره د ملك ده ځکه دا نهی فعل شرعی دے فی نفسه پدے کښې ثبوت دمشروعیت دے۔

﴿ لعدم القائل بالفصل ﴾ ځکه قائل بالفصل نشته معنی دا چه دا قائل دا خبره

(۱) حدث نجاسة حکمیه او خبث نجاسة حقیقیه دی۔ سید فضل

اوکړه چه نهی د تصرفات شرعیه و نه واجبوی تقریر او تثبیت او بیا پدے متفرعه کړی دا
خبره چه لا یصح النذر بصوم یوم النحر والبیع الفاسد لا یفید الملك نو څوك چه قائل دی
پدے چه نهی د تصرفات شرعیه و نه تقاضا د قباحت لغیره کوی نو هغه په صحت د نذر
بیوم النحر قائل دے او څوك چه قائل دے چه نهی د تصرفات شرعیه و نه تقاضا د قباحت
لعینه کوی نو د هغے په نزد صوم یوم النحر نه صحیح کیږی او بیع فاسده نه فائده کوی
ثبوت د ملك خو داسے څوك نشته چه هغه مخکنی قاعده منی او تفریع پدے باندے د
عدم صحت د صوم او د عدم افادے د ملك اوکړی یا مخکنئ قاعده اونه منی او په هغے
باندے حکم د صحت د نذر اوکړی نو داسے قائل بالفصل نشته۔

﴿ ولو قلنا ان التعلیق سبب ﴾ کچرے مونږ وایو چه تعلیق د یو حکم په یو
شرط پورے دا سبب دے په وخت د وجود د شرط کښ او مخکښ د وجود د شرط نه به داسے
وی گویا ده پرے تکلم نه وی کړے لکه انت طالق پدے سره طلاق تنجیزی واقع کیږی خو
کله چه دا معلق شو په دخول د دار پورے نو اوس گویا ده هلو په انت طالق تکلم کړے نه
وی نو طلاق واقع کیږی نه او کله چه شرط موجود یعنی ښځه دار ته داخله شوه نو کأنه
تکلم بها گویا اوس ئے پرے تکلم اوکړو نو طلاق واقع شول۔

﴿ قلنا تعلیق الطلاق ﴾ نو مونږ وایو چه تعلیق د طلاق او د عتاق په ملك پورے
او په سبب د ملك پورے صحیح دے پدیکښ زمونږ سره امام شافعی هم په جزء اول کښ
ملگرے دے هغه هم وائی کچرے تعلیق د طلاق او د عتاق په ملك پورے صحیح دے خو
تعلیق د عتاق او د طلاقو په سبب د ملك پورے صحیح نه دے۔

کچرے یو سړے اجنبی زنانه ته اووائی : انت طالق ان دخلت الدار نو دا کلام لغوه دے
ځکه ده تعلیق په ملك پورے هم ندے کړے او په سبب د ملك پورے ئے هم ندے کړے او
کچرے سړی اجنبی زنانه ته اووئیل : ان تزوجتك فانت طالق نو فی الحال خو طلاق نه
راځی ځکه چه طلاق محل غواړی او محل نشته خو کله چه نکاح اوشوه نو ملك
نکاحی راغلے محل موجود شو پس طلاقیږی ځکه طلاق سبق نکاح غواړی چه نکاح
اوشی نو طلاق واقع شو مونږ وایو چه دا تعلیق صحیح دے او امام شافعی وائی ندے

صحیح دارنگه که پردی غلام ته ئے اووئیل چه ان ملکتك فانت حر نو که دے ئے مالك شو نو آزادیږی او امام شافعی وائی چه دا تعلیق صحیح نه دے اوس داسے قائل بالفصل نشته چه هغه وائی چه تعلیق سبب دے عند وجود الشرط او دا تفریع پرے نه منی چه تعلیق د طلاق او عتاق په سبب د ملك پورے نه صحیح کیږی چه دا مخکنی قاعده منی نو دا روسته حکم مرتبه به هم منی او کچرے اولنئ قاعده نه منی نو حکم مرتبه به پرے هم نه منی داسے قائل نشته چه دا مخکنی قاعده نه منی او روسته دا تفریع منی۔

﴿وکذا لو اثبتنا ان ترتب الحکم علی اسم موصوف بصفة الخ﴾

دارنگه که دا خبره مونږ ثابته کړو چه ترتب د حکم په یو اسم باندے چه هغه موصوف بصفه وی نه واجبوی معلق کول د حکم پدے صفت پورے دا په وجوهات فاسده کښ ذکر کړیدی مسئله اختلافیه ده چه حکم مرتب شی په یو اسم باندے چه هغه موصوف بصفه وی نو امام شافعی وائی چه صفت وی نو حکم به هم وی او چه صفت نه وی نو حکم به نه وی مونږ وایو چه نه که هغه صفت وی او که نه وی نو حکم به وی بناء پدے په قرآن کښ حکم دے فمن لم یستطع منکم ان ینکح المحصنات المومنات څوك په طاقت نه لری د اصیلی ښځے سره د نکاح نو وینزه دِے په نکاح واخلی۔

﴿فلنا طول الحرة﴾ مونږ وایو چه طاقت د نکاح د اصیلی ښځے سره نه منعه کوی جواز د نکاح د امے سره څکه چه نقل د سلفو سره دا خبره ثابته شویده چه امام شافعی متفرع کړیده مسئله د طاقت د حرے پدے اصل باندے او هغه وائی چه د سړی اس د نکاح د حری وی نو د امے سره نکاح نده جائز۔

﴿ولو اثبتنا جواز النکاح من الامة المؤمنة﴾ کچرے ثابت کړو مونږ جواز د نکاح د وینزے مومنے سره سره د قدرت نه په نکاح د حرّے باندے نو بیا جائز ده نکاح د وینزے کتابیه سره پدے اصل باندے څوك داسے قائل بالفصل نشته چه دا اولنئ قاعده منی او روسته تفریع پرے نه منی یا قاعده نه منی او روستنی تفریع منی۔

﴿وعلی هذا مثاله مما ذکرنا﴾ او بناء پدے مثال ددے هغه دے چه ذکر کړیدے مونږ مخکښ په بحث د مطلق او مقید کښ۔

﴿ونظير الثانى﴾ او مثال د دويم قسم د اجماع چه منشأ د خلاف مختلفه وى كله چه اووايو مونږ چه قئ ناقض للوضوء دے نو كيږى بيع فاسده مفيده دپاره د ملك د دوجے د عدم قائل بالفصل نه نو د قئ ځائله منشاء ده او د بيع فاسد ځائله منشأ ده نو دا مسئله متفرع كول په مسئله د قى باندے دا صحيح نه ده ـ

﴿او يكون موجب العمد القود﴾ يا مونږ وايو چه موجب د قتل عمد قصاص دے د وجے د عدم قائل بالفصل نو مسئله د قئ ځائله مسئله ده او منشاء ئے جدا ده او مسئله د قتل عمد ځائله مسئله ده دا په هغے باندے متفرع كول غلط دى ـ

﴿وبمثل هذا القئ غير ناقض﴾ او په شان ددے چه مونږ وايو چه قئ نده ناقض للوضوء نو مس المرأة ناقض للوضوء دے (دا مسئله پرے متفرع كړو) او دا حجت نه دے ځكه صحت د فرعے اگركه دلالت كوى په خپل اصل باندے (چه قى غير ناقض دے) ليكن دا نه واجبوى صحت د اصل بل ترديے چه متفرع شى په هغے باندے مسئله بله دا ضرورى نه ده چه يوه مسئله دى صحيح وى نو بله دِے هم صحيح وى يا اوله مسئله غلطه وى نو بله دِے هم پرے غلطه متفرع وى۔

﴿فصل الواجب على المجتهد طلب حكم الحادثة﴾

لازم دى په مجتهد باندے طلب د حكم د حادثے دے اول د كتاب الله نه (ځكه دا اقوىٰ د دلائلو نه دے كچرے پديكښ موجود نه وو) نو بيا به حكم د حادثے په سنت د رسول الله ﷺ كښ گورى په صريحى نص سره يا په دلالت النص سره يا په اشاره النص او اقتضاء النص سره لكه چه تير شويدے ذكر د هغے ځكه نشته دے لارے د عمل دپاره په رائے باندے سره د امكان د عمل نه په نص باندے۔

﴿ولهذا اذا اشتبهت عليه القبلة﴾ او ددے وجے نه چه كله فوق دليل وى نو په دون به عمل نه كيږى كله چه مشتبهه شوه په سړى باندے قبله نو خبر وركړه ده ته بل چا د قبلے نو جائز نه ده ده لره سوچ كول د قبلے ځكه تحرى دون دليل دے او خبر د مخبر فوق دليل دے چه فوق دليل موجود وى نو دون دليل ته ضرورت نشى كيدے دارنگه

چه حکم د حادثے په کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ کښې وی چه فوق دلیل دے نو ضرورت دون دلیل ته جائز نه دے چه اجماع او قیاس دے۔

﴿ ولو وجد ماء فاخبره عدل ﴾ کچرے اوبه مشتبه الحال سرے بیاموندی نو خبر ورکړو ده لره یو عادل سړی چه دا اوبه پلیتی دی نو ندے روا ده لره پدے باندے اودس کول پدے اوبو بلکه تیمم به وهی ځکه فوق دلیل خبر د مخبر دے نو په دون دلیل به عمل نه کیږی چه دا اوبه په استصحاب باندے حمل کوی چه اصل په اوبو کښې طهارت دے نو دے به تیمم کوی ځکه دے فاقد د اوبو دے حقیقةً او فاقد د اوبو حقیقةً به تیمم وهی۔

﴿ وعلی اعتبار ان العمل بالرأی ﴾ او بناء پدے چه عمل په رائے باندے دون دے د عمل نه په نص باندے نو مونږ وایو چه شبهه چه کله په محل کښې راپیدا شی نو دا قوی ده د شبهے نه په ظن کښې ځکه شبهه په محل کښې فوق ده د شبهے نه په ظن کښې ځکه ددے استناد ظن ته وی او دا دون دے۔

﴿ حتی سقط اعتبار ظن العبد ﴾ تردے چه ساقط دے اعتبار د ظن د عبد په فصل اول کښې چه شبهه په محل کښې موجوده وی۔

﴿ مثاله ﴾ مثال دے چه پلار وینزه د ځوی وطی کړی نو ده ته به حد نه ورکول کیږ اگرکه دا پلار ئے وائی چه ما ته بنه پته وه چه جاریه د ابن په ما حرامه ده (خو وطی مے کړه) حد به ځکه نشی ورکیدے چه دلته شبهه فی المحل ده چه نبی علیه السلام وائی انت ومالك لابیك دے شبهه راپیدا کړه چه په جاریه د ابن کښې حق د تصرف د پلار شته او شبهے سره خو حد ختمیږی۔

﴿ ویثبت نسب الولد ﴾ او کچرے ددے وینزے نه بچے پیدا شو نو ثابتیږی نسب دولد د پلار نه ځکه شبهه د ملك ثابته شویده پلار لره په نص سره چه په مال د بچی کښې وئیلی دی نبی علیه السلام ته او ستا مال ستا د پلار دے نو ساقط شو اعتبار د ظن دده په حل او حرمت کښې، چه دے وائی چه ځما دا گمان وو چه دا په ما حلاله ده یا دا ځما یقین وو چه دا په ما حرامه ده نو دده ظن دپاره اعتبار رانغلو ځکه دا شبهه د محل اقوئ ده د شبهے د ظن نه۔

﴿ولو وطی الابن جارية ابيه﴾ مسئله بالعکس شوه کچرے ځوی د پلار وینزه وطی کره نو معتبریږی به ظن د ابن په حل او حرمت کښ ځکه دلته شبهه فی المحل نشته ـ کچرے ده اووئیل چه ما گمان اوکړو چه دا جاریه په ما حرامه ده نو واجبیږی پده باندے حد او کچرے ده اووئیل چه ما گمان اوکړو چه دا جاریه په ما باندے حلاله ده نو حد به نشی ورکیدے ځکه شبهه د ملك په مال دپلار کښ نده ثابته د ځوی دپاره په نص سره نو معتبر کړے شوه رائے د ابن دے قیاس کوی چه څنگه پلار لره تصرف په مال د ابن کښ جائز دے نو دارنگه به ځوی لره هم تصرف په مال د پلار کښ جائز وی او قیاس خو دلیل ظنی دے خو شبهه په محل کښ نه وه نو رائے دده معتبر شوه۔

﴿ولا يثبت نسب الولد وان ادّعاه﴾ او نه ثابتیږی نسب د ولد اگرکه دے ابن دعوئ اوکړه چه دا ولد څما دے۔

﴿ثم اذا تعارض الدليلان﴾ بیا که د دوه دلیلونو په مینځ کښ تعارض راشی په نزد د مجتهدینو نو کچرے تعارض په مینځ د آیتینو کښ وو نو هلته کښ به میلان کوی مجتهد سنت ته لکه فاقرأوا ما تیسر من القرآن دا آیت په اعتبار د ظاهر سره معارض دے ددے قول د الله سره چه واذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا ـ اول آیت په عبارت النص سره واجبوی قرائت په مقتدی باندے ځکه ددے آیت نزول په حق د صلات کښ شویدے په اتفاق د مفسرینو سره او دویم آیت په عبارت النص سره واجبوی انصات او عدم قرائت د مقتدی نو په مابین د وجوب د قرائت او عدم وجوب د قرائت کښ منافات دے نو تعارض راغلو په مینځ د آیتینو کښ نو مونږ به میلان اوکړو سنت ته د وجے د عدم علم بالتاریخ نه ځکه که تاریخ معلوم وی نو هلته عمل په په آیت متاخر اولیٰ دے د عمل نه په متقدم باندے دلته علم په تاریخ نشته نو حدیث ته مونږ صیرورت اوکړو چه من کان له امام فقراء ة الامام له قراء ة ـ نو په صورت د امامت کښ په مقتدی قرائت لازم نه شو ـ

﴿وان كان بين السنتين﴾ ـ او کچرے معارضه په مینځ د سنتینو کښ راغلے وه نو میلان به کیدے شی آثار د اصحابو ته دا په هغه وخت کښ چه اثر د صحابی پکښ موجود وی او صیرورت به کوو مونږ قیاس صحیح ته کچرے اثر پکښ موجود نه وی ـ

﴿ واذا تعارض القياسان ﴾ بیا کچرے دوه قیاسان د مجتهد سره معارض شی نو دے به سوچ کوی او عمل به کوی په احد هما باندے ځکه د دینه روسته بل دلیل نشته چه مونږ دا دواړه ساقط کړو او عمل اوکړو په هغه بل دلیل باندے ۔

﴿ وعلی هذا قلنا ﴾ بناء پدے قاعدے باندے مونږ وایو چه کله د مسافر سره دوه لوخی وی یو پاك دے او بل پلیت نو دے به سوچ نه کوی په مینځ ددے دواړو کښ بلکه تیمم به کوی او کچرے د مسافر سره دوه جامے وی پاکه او پلیته نو دے به تحری کوی په مینځ د دواړو کښ ځکه د اوبو بدل شته چه هغه تیمم بالتراب دے نو تحری ته ضرورت نشته ، دے به صیرورت بدل ته کوی او د ثوب دپاره بدل نشته چه هغے ته صیرورت اوکړی نو عریانا مونځ خو نشی کولے نو ثابته شوه پدے باندے چه عمل کول په رائے باندے به وی خو په هغه صورت کښ چه بل دلیل فوق شرعا موجود نه وی سوا ددینه نو بیا هر کله چه ده تحری اوکړه په ثوبه کښ او مؤکده شوه تحری دده په عمل سره نه ماتیږی دا تحری په مجرد تحری بلے سره چه دے بله تحری اوکړی۔

﴿ وبیانه فیما اذا تحری ﴾ او بیان ددے دا دے چه کله دے تحری اوکړی په مینځ د ثوبینو کښ نو غالب گمان ئے په احد هما د طهارت راغلے او مونځ د ماسپخین ئے پرے اوکړو بیا دده تحری په وخت د مازیگر کښ واقع شوه په هغه بله جامه چه دا پاکه ده نو نده روا چه دے مونځ اوکړی د مازیگر په بله جامه باندے ځکه اولنۍ تحری د هغے تاکید راغلے دے په عمل سره نو دا نه باطلیږی په مجرد تحری سره۔

﴿ وهـذا بخلاف ما ﴾ او دا حکم کائن دے په خلاف د هغے کښ چه دے مسافر تحری اوکړه په قبله کښ بیا بدله شوه رائے دده او واقع شوه تحری دده بل جهت ته نو هغے ته به مخ کوی ځکه قبله د هغه قبیلے نه ده چه هغه احتمال د انتقال لری نو ممکن شو نقل د حکم (دویم دا چه دا کوم مونځ چه لا کړے شوے نه دے نو د هغے خو لا تأکد ندے راغلے نو دے بل جهت ته په هغے کښ مخ کولے شی) (په خلاف د مسئلے اولی نه)

﴿ بمنزلة نسخ النص ﴾ نو دلته انتقال ممکن دے په منزله د نسخ د نص سره گویا داسے شو لکه نص چه منسوخ شی ۔

﴿ هذا مسائل الجامع الكبير ﴾ پدے مسائلو باندے بناء دی مسائل د جامع کبیر په تکبیراتو د عیدینو کښ پدے کښ هم اختلاف دے بعض وائی چه تکبیرات د عیدینو نهه دی درے تکبیرات اصلی دی تکبیر تحریمه او دوه تکبیرین د رکوعینو د دوه رکوعاتو او شپږ تکبیرات زوائد دی دا قول د ابن مسعود دے او مختار عندنا دے بعض وائی چه لس تکبیرات دی پنځه پنځه زائد دی دا رائے د امام شافعی ده نو اوس یو سړی په یو رکعات کښ په یو باندے عمل اوکړو او په بل رکعت کښ ئے رائے بدله شوه نو دے احتمال د انتقال نه لری دا به نه کوی چه ده یو نه منتقل شی بل ته البته که لار د عمل په یو رائے باندے راغلے نه وه نو دا احتمال د انتقال لری بدلیدے شی نو که دے تکبیرات د عیدین په رائے د ابن مسعود باندے عمل کوی نو په هغے دِ کوی او که په رائے د امام شافعی باندے ئے راغله نو په هغے باندے دِ عمل اوکړی خو کچرے په یو باندے ئے په یو رکعت کښ عمل اوکړو نو هغه رائے موکد بالعمل شوه اوس دے انتقال په دویم رکعت کښ بلے رائے ته نشی کولے ۔

انتهیٰ بحث الاجماع ۔



البحث الرابع في القياس

موضوع د علم الاصول په نزد د جمهور علماء محققينو باندے کتاب الله، سنت رسول الله ، اجماع او قياس وو دريے ادله ما قبل کښ بيان شول اوس دليل رابع بيانوی چه قياس دے دائے اخير کړو ځکه چه دا اصل کښ مظهر دے مثبت نه دے بله دا چه مرتبه د قياس په ټولو کښ مؤخره ده۔

قياس په لغت کښ تقدير ته وئيلے شي عرب وائی قس النعل بالنعل قياس کړه ته نعل الاديم په نعل الزنبيل باندے ای قدره اندازه ئے اولګوه چه په قياس شرعی کښ هم تقدير د فرع وی په اصل باندے۔

په اصطلاح د اصولينو کښ تعديت د حکم دے د اصل نه فرع ته په يو علت متحده سره چه هغه په مابين د دوی دواړو کښ وی داسے علت چه هغه په عقل او په لغت سره نه معلوميږی، د تعديت د حکم نه تعديت د مثل د حکم دے فرع ته عين حکم مونږ فرع ته نه متعدی کوو ځکه بيان اصل بلا حکم پاتے کيږی۔

په قياس کښ مباحث سته روستو ذکر کوی (۱) حجيت د قياس (۲) شرائط اربعه د قياس (اقول شرائط القياس خمسة کما صرح المصنف واربعة عند صاحب الحسامی۔ ابو رياض) (۳) رکن د قياس دے ارکان اربعه ذکر کوی (٤) حکم د قياس (٥) رفع القياس۔ (شپږم ئے ندے ليکلے لعله نسی عنه ابو رياض)۔

صاحب حسامی مباحث خمسه ذکر کړيدی هغه حجيت د قياس نه ذکر کوی ځکه هغه ظاهر دے دويم دا چه هغه مباحث ذکر کوی چه په هغے باندے وجود د قياس موقوف وی او په حجيت د قياس باندے وجود د قياس ندے موقوف او صاحب د شاشی او صاحب نور الانوار مباحث سته ذکر کوی۔

﴿ **فصل القياس حجة** ﴾ حجيت د قياس په کتاب الله سره ثابت دے چه فاعتبروا

یا اولی الابصار۔ اعتبار رد الشئ الی النظیر ته وائی او په قیاس کښ هم فرع اصل ته رد کیږی او په سنت سره هم ثابت دے۔

بعض حضرات د حجیت د قیاس نه منکر دی د هغے متعدد دلائل دی یو دلیل دا دے چه قرآن کښ آیت دے وانزلنا علیك القرآن تبیانا لکل شئ تبیان صیغه د مبالغه ده نو هرکله چه قرآن مبین د هر شی دپاره شو نو بیا قیاس ته پکښ څه ضرورت دے۔

دویم دا چه نبی علیه السلام د قیاس ذم بیان کړیدے فرمائی : لم یزل امر بنی اسرائیل مستقیما حتی کثرت فیهم اولاد سبایا فقاسوا ما لم یکن علی ما کان فضلوا واضلوا۔

ترجمه : همیشه وو امر د بنی اسرائیلو مستقیم تردے چه اولاد د وینزو په کښ زیات شو نو هغے قیاس د ما لم یکن په ماکان باندے اوکړو نو پخپله هم گمراه شول او نورئے هم گمراه کړل که قیاس حجت وی نو نبی علیه السلام به ئے ذم نه بیانوو د مثبتینو د حجیت د قیاس دپاره هم متعدد دلائل دی اول کتاب الله کما مرّ دویم حدیث د معاذ کما ذکره صاحب الشاشی۔

او جواب د هغے د دلائلو نه دا دے چه مونږ هم دا منو چه قرآن مبین ده د هر شی دپاره دے خو بیان دوه قسمه دے بیان د کلیاتو او بیان د جزئیاتو قرآن مبین د امور کلیه ودے جزئیه امور په قیاس سره معلومیږی احادیث او اجماع سره بیانیږی۔

او نبی علیه السلام چه ذم بیان کړیدے نو قیاس د بنی اسرائیلو بناء وو په ضد او په عناد باندے او قیاس د مجتهدینو په عناد او حسد بناء نه وی نو هغه مذموم دے او دا غیر مذموم دے د قیاس مدح هم راغلے ده په حدیث د معاذ کښ۔

□□□□

□□□□□□□□□□□□□

﴿ فصل القیاس حجة الخ ﴾

ترجمه : قیاس حجت دے د حجج شرعیه و نه واجب دے عمل پدے باندے په وخت د انعدام دفوق دلیل ددے نه په حادثه کښې او وارد شویدے په حجیت د قیاس کښې احادیث او آثار۔

﴿ **قال علیه السلام** ﴾ اووئیل نبی علیه السلام معاذ ته کله چه یمن ته ئې لیږه نو رسول الله ﷺ ورته اووئیل چه په څه به فیصلے کوے اے معاذ ـ هغه اووئیل په کتاب د الله سره نبی علیه السلام ورته اووئیل که په کتاب الله کښې بیانه مومی نو هغه اووئیل په سنت د رسول الله ﷺ به فیصلے کوم نبی علیه السلام ورته اووئیل که په سنت د رسول الله ﷺ کښې ئې بیانه مومے نو هغه اووئیل اجتهاد به کوم په خپلے رائے سره یعنی کوشش به کوم په خپله رائے او دا قیاس دے ځکه قیاس استقراء الجهد فی الطلب ته وئیلے کیږی۔

﴿ **وصوّبه رسول الله** ﷺ ﴾ نو حکم اوکړه رسول الله ﷺ په کون د معاذ باندے مصاب نو وے وئیل د خدائی توب صفتونه الله هغه ذات لره دی چه توفیق ئې ورکړو استاذی د رسول الله خپل لره په هغه څه چه خوښوی الله او راضی کیږی پرے ـ

﴿ **وروی ان امرأة خثعمیة** ﴾ روایت کیږی چه ښځه د قبیله خثعم راغله نبی علیه السلام ته او وے وئیل چه ځما پلار بوډا سړے دے رسولے دے ده لره حج یعنی حج پرے لازم شویدے او دے نشی تینګیدے په سورلی باندے د ضعف د وجے نه آیا کافی کیږی به ځما د طرف نه چه زه حج اوکړم دده د طرف نه نو اووئیل نبی علیه السلام خبر راکړه ما ته کچرے ستا په پلار باندے قرضه وی د قرضو د بندګانو نه آیا دا به ستا نه نه کافی کیږی نو هغے اووئیل کافی کیږی نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : نو قرض د الله ډیر احق او اولیٰ دے په ادائیګی سره نو ملحق کړو رسول الله ﷺ حج لره په حق د شیخ فانی کښې په حقوق مالیه و پورے او اشاره ئې اوکړه علت مؤثره ته په جواز کښې چه هغه قضاء د حق ده اودا قیاس دے (ددے حدیث نه بعضو استدلال کړیدے چه یو سړے د بل د طرفه حج کوی نو د هغے خپل حج کول ضروری ندی نبی علیه السلام دے زنانه ته دا اونه وئیل چه اول

خپل حج اوکړه او بیا د پلار د طرفه حج اوکړه نو که سړی خانله حج نوی کړے او د بل د طرفه حج کوی نو هم جائز دی لیکن مفتی محمد شفیع په فتاوی دار العلوم دیوبند کښ لیکلی دی چه بهتر دا ده چه سړے نائب د خپل حج نه هغه سړے اولیګی چه هغه خپله حج کړے وی نو د اختلاف نه به اوځی ځکه بعض علماء په عدم جواز باندے قائل دی)۔

﴿وروی ابن الصباغ﴾ او منقول دی د ابن صبّاغ نه چه دا د مشرانو اصحابو د امام شافعی نه دے په کتاب دده کښ مسمّٰی دے په الشامل سره د قیس بن طلق بن علی حدیث دے دے وائی چه راغلے یو سړے رسول الله ﷺ ته داسے معلومیده چه بانډچی وی (عادت ئے د غرځنو وو)۔

نو وے وئیل ای نبی د الله تاسو څه حکم کوئ په مس کولو د سړی کښ ذکر خپل لره پس د اودس نه نو نبی علیه السلام اووئیل ندے دا ذکر دده مګر یو ټوټه د غوښے ده د بدن د سړی نه او دا قیاس دے یعنی چه دے د بدن نور اعضاء مسه کړی نو ناقض للوضوء ندے نو دارنګه مس الذکر هم ناقض للوضوء ندے۔

﴿وسئل ابن مسعود﴾ اوس اثر ذکر کوی په حجیت د قیاس۔ او تپوس اوکړے شو د ابن مسعود نه په باره د هغه ښځے چه نکاح ئے کړی وی د یو ښځے سره او مهرئے ولره نه وی مقرر کړے او دا خاوند ترینه مړ شی قبل الدخول نو ابن مسعود یو میاشت مهلت طلب کړو او وه وئیل چه زه به پدے کښ اجتهاد کوم (دلته ثم په معنی د قال سره دے دا نه چه د میاشت نه روسته به اجتهاد کوم بلکه دے میاشت کښ به اجتهاد کوم)۔

﴿فان کان صواباً﴾ نو کچرے زه مصیب شوم نو دا به د الله د طرفه وی او که جواب مے خطاء وو زه خطاء شوم نو دا به ځما د طرفه وی (ام عبد ده ابن مسعود کنیه وه) میاشت پس هغه سائل بیا راغے نو ابن مسعود ورته اووئیل زه وینم ددے ښځے دپاره مهر مثل پشان د نورو زنانو ددے نه به وی کمے پدے کښ او نه زیاتے (اقرع بن حابس په مجلس کښ ناست وو هغه اووئیل چه زه ګواهی کوم چه نبی علیه السلام د بردع بنت واشق متعلق هم دا فیصله کړے وه نو پدے باندے ابن مسعود ډیر خوشحاله شو چه داسے خوشحالی ورته چرته نه وه حاصله شوے نو پدے حادثه کښ حدیث وو خو ابن مسعود نه

نه وو رسیدلے نو ده حکم په خپله رائے سره بیان کړو که قیاس حجت شرعی نه وو نو ابن مسعود به نه کوو۔

﴿ فصل شروط صحة القياس خمسة ﴾

شروط د قیاس موقوف علیه دی دپاره د صحت د قیاس او موقوف علیه مقدم وی په موقوف باندے نو اوس مصنف شروط د قیاس د صحت دپاره ذکر کوی۔

ترجمه: شروط د صحت د قیاس دپاره پنځه دی، عام اصولین خلور ذکر کوی هغے بعض په بعضو کښې مندمج کوی او صاحب شاشی د تفصیل نه کار اغستے دے۔

﴿ احدها ان لا يكون في مقابلة النص ﴾ ترجمه: یو شرط د صحت د قیاس دا دے چه دا به په مقابله د نص کښې نه وی که په فرع کښې نص موجود وی نو بیا قیاس ته ضرورت نشته او دویم شرط دا دے چه دا قیاس به متضمن نه وی تغیر د حکم لره د احکامو د نص نه دریم شرط دا دے چه نه به وی معدٰی داسے حکم چه غیر معقول المعنی وی (بلکه معقول المعنی به وی) څلورم دا چه دا تعلیل (تخریج) به واقع شوے وی د امر شرعی دپاره نه د امر لغوی دپاره ۔ لغاتو کښې قیاس نه وی۔

پنځم شرط دا دے چه فرع به منصوص علیه نه وی کچرے وی نو بیا قیاس ته ضرورت نشته پدے کښې دوه مذهبه دی جمهور اصولین وائی چه په فرع کښې به نص مطلقاً موجود نه وی موافق نص وی او که مخالف نص وی او د محققینو مذهب دا دے چه نص مخالف به په فرع کښې موجود نه وی کچرے نص موافق موجود شو نو خیر دے صاحب د هدایه په دے مذهب باندے عمل کړیدے۔

﴿ فيما حكي ان الحسن بن زياد ﴾ اوس مسئله د فوات د شرائطو ذکر کوی نو دا مثال د فوات د شرط اول دے چه قیاس چه کله په مقابله د نص کښې راشی نو د هغے مثال دا دے ۔ ترجمه: په هغه کښې چه حکایت کړیدے حسن بن زیاد کله چه دده نه تپوس اوشو په باره د قهقهه کښې په مانځه کښې ده اووئیل چه اودس پرے مات شو نو سائل

اووئیل کچرے سرے پہ پاکہ ښځہ باندے تهمت اولګوی پہ مانځہ کښں پدے خو اودس نہ ماتیږی سره ددینہ چہ قذف لوئی جنایت دے د قهقهه نہ حد پرے لازمیږی نو پہ قهقهه باندے خنګہ اودس ماتیږی او قهقهه دون ده د قذف نہ نو دا قیاس دے پہ مقابلہ د نص کښں قهقهه فی الصلاة مقیس علیہ او قذف فی الصلاة مقیس او علت مشترکہ ئے کونها جنایة نو هلته حکم د نقض الوضوء وو نو دلته دے هم حکم د نقض الوضوء وی نو دا قیاس دے پہ مقابلہ د نص کښں۔

﴿ **وهو حدیث الاعرابی** ﴾ او نص حدیث د اعرابی دے چہ پہ سترګو کښں ئے تکلیف وو چہ هغہ اوغورځیدو اصحابو مانځہ کښں اوخندل رسول الله ﷺ اوفرمائیل: الا من ضحك منکم فی الصلاة فلیعد الصلاة والوضوء جمیعاً ۔ نو حکم مخالف القیاس ثابت شو۔

﴿ **وکذلک اذا قلنا جاز حج المرأة مع المحرم** ﴾ ترجمہ : دغہ رنګہ وایو مونږ کلہ چہ جائز شو حج د زنانہ د محرم سره نو حج دے جائز شی د ښځے د معتمدو زنانو سره هم نو دا قیاس دے پہ مقابلہ د نص کښں چہ هغہ داقول د نبی علیہ السلام دے چہ ندے حلال ښځے لره چہ ایمان راوړی پہ الله او پہ ورځ د آخرت چہ سفر ډ اوکړی زیات د درے ورځو او شپو نہ مګر د هغے سره بہ پلار وی او یا بہ خاوند وی او یا خاوند د خپلولی وی چہ حرام وی پدے باندے لکہ تره ماما وغیره شول نو خروج مع الامینات دا قیاس دے فی مقابلة النص۔

﴿ **ومثال الثانی** ﴾ او مثال د د فوات د شرط ثانی هغہ دے چہ قیاس متضمن وی تغیر د حکم لره د احکامو د نص نہ هغہ دے چہ وئیلے شی چہ نیت شرط دے پہ اودس کښں او قیاس کوی ئے پہ تیمم (چہ هر واحد د دوی نہ طهارت حکمی دے) دا مذهب د امام شافعی دے چہ اودس مقیس او تیمم مقیس علیہ او علت مشترکہ پدے دواړو کښں کون کل واحد منهما طهارة حکمیة نو هلته حکم د وجوب النیة وو نو دلته بہ هم حکم د وجوب النیة وی۔

﴿ **فان هذا یوجب** ﴾ نو کہ دا قیاس کہ مونږ اوکړو نو دا ثابتوی تغیر د آیت د اودس د اطلاق نہ تقید تہ آیت مطلق دے چہ یا ایها الذین آمنوا اذا قمتم الی الصلاة

فاغسلوا وجوهکم ۔ دا مطلق دے پدے کښ نیت نشته کچرے مونږ په اودس کښ نیت
شرط کړو نو دا آیت به مقید شی په قیاس سره نو پدے کښ تغیر راغے د حکم د نص نه۔

﴿ وکذلک اذا قلنا الطواف بالبیت صلاة ﴾

دغه رنګه چه کله مونږ اووایو چه طواف د بیت الله نه ندے مګر صلاة دے د حدیث د
وجے نه چه الطواف بالبیت کالصلاة دے الحدیث نو شرط کړے شی په طواف کښ هم
اودس او ستر د عورت په شان د مانځه نو دا قیاس دے چه واجبوی تغیر د حکم د نص د
اطلاق نه تقید ته څکه قرآن کښ فرمائی : ولیطوّفوا بالبیت العتیق ۔ نو دلته طواف
مطلق ذکر شویدے ذکر د اودس پکښ نشته نو که مونږ پکښ اودس شرط کړو نو د مطلق
به مقید شی او دا ندے مګر تغیر د حکم د نص دے۔

﴿ ومثال الثالث وهو ما لا یعقل معناه فی حق جواز التوضئ ﴾

او مثال د فوات د شرط ثالث ۔ چه دا قیاس په هغه ځائے کښ وی چه غیر معقول
المعنی وی یعنی چه دا حکم مخالف د قیاس نه وی نو د هغے تعدیت د محل منصوصه
نه غیر منصوصه ته جائز ندے۔

فی حق جواز التوضی په حق د جواز د اودس کښ په نبیذ التمر سره شان دا دے چه یو
سړے اووائی چه جائز دے اودس په نورو اوبو د میوو باندے په قیاس سره په اوبو د تمر سره
او دا حکم د قیاس د غیر انبذه و په نبیذ التمر باندے مخالف القیاس دے۔

ابن مسعود د نبی علیه السلام سره وو نبی علیه السلام قضاء حاجت دپاره لاړو، نبی
علیه السلام ترے تپوس اوکړو ما فی اداوتك تا سره پدے لوخی کښ څه دی ابن مسعود
ووئیل نبیذ التمر دی نبی علیه السلام اوفرمائیل : (تَمْرَةٌ طَيِّبَةٌ وَمَاءٌ طَهُوْرٌ) قجوره پاکه
ده او به ئے هم پاکی دی نو په هغے باندے ئے اودس اوکړو پدے اختلاف دے خو پدے شرط
به هغه ...... نه وی او په سیلانیت او رقت کښ ئے تغیر او تبدیل نه وی راغلے کچرے راغلے
وی نو بیا اتفاقا پدے باندے اودس کول ناجائز دی، نو اوس چه دا نور انبذه مونږ په نبیذ
التمر قیاس کوو نو دا صحیح نه ده څکه حکم په نبیذ التمر کښ مخالف القیاس راغلے
دے نو د هغے حکم تعدیت مونږ نورو انبذه و ته نشو کولے څکه قیاس دا تقاضا کوی چه

نبیذ التمر اوبه نه دی پدے ډے اودس جائز نه شی صاحب شاشی دا مثال ذکر کړیدے او نورو اصولینو مثال د قهقهے ذکر کړیدے چه حکم د نقض الوضوء په قهقهه باندے مخالف القیاس دے نو ددے تعدیت جائز نه دے۔

﴿ او قال لو شج فی صلاته ﴾

ترجمه : یا سړے داسے اووائی چه یو سړے دے چه د هغه سر مات شو په مانځه کښ او یائے احتلام اوشو نو دے به بناء کوی په مانځه باندے او قیاس ئے اوکړو په هغه چا چه هغه ته بے اودسی په مانځه کښ پیش شی هغه بناء کوی نو دے ډے هم بناء اوکړی۔

﴿ لان الحکم فی الاصل لم یعقل ﴾

ځکه حکم په اصل کښ غیر معقول المعنی دے نو محال شو تعدیت ددے فرع ته چه سړے بے اودسه شو نو پکار دا ده چه اودس ډے مات شی او دے ډِ استیناف الوضوء کوی لیکن دا حکم مخالف القیاس په نص سره ثابت شویدے نبی علیه السلام فرمائی: من قاء اورعف ۔ چا چه قئ اوکړو او یائے پوزه ماته شوه فلینصرف ولیتوضأ ولیبن علی صلاته ما لم یتکلم۔ نو دے ډِ اوګرځی او اودس دے اوکړی او بناء ډِے اوکړی په مانځه خپل باندے ترڅو چه خبرے ئے نه وی کړی ۔ ورنه قیاس خو تقاضا ددے خبرے کوی چه دومره عمل کثیر ده اوکړو انحراف د قبلے نه ئے راغلے نو دے ډِ استیناف د صلات اوکړی لیکن نص کښ دا ټول کارونه دده معاف اوګرځیدل او بناء به کوی۔

﴿ وبمثل هذا قال اصحاب الشافعی ﴾ او په مثل ددے وئیلی دی اصحاب الشافعی چه دوه چاټئ نجسے دی کله چه یو ځائے شی نو اوګرځیدے پاکے نو کله چه جدا شوے نو هم باقی پاتے دی په پاک والی باندے قیاس ئے کوی په هغے چه کله واقع شی نجاست په دوه چاټو کښ ابتداء د عدم نجاست دے۔

﴿ لان الحکم ﴾ ځکه حکم د عدم تنجیس کچرے ثابت شی په اصل کښ چه هغه وقوع النجاسة فی القلتین دے نو هغه به وی غیر معقول المعنی ځکه قیاس خو تقاضا ددے کوی چه په قلتین کښ نجاست پریوځی نو دا ډِ پلیتی شی خو غیر معقول المعنی حکم دے چه قلتینو کښ ده۔

﴿ **ومثال الرابع** ﴾ او مثال د فقدان د شرط رابع هغه دے چه وی تعلیل د قیاس دپاره د امر شرعی نه دپاره د امر لغوی پدے قول د شوافعو کښې چه هغه عصیر العنب چه پاخه کړے شوی وی او نیم پاخه شوی وی نو دا خمر دی ځکه خمر دی چه تستر په عقل راولی او غیر ددینه (چه مطبوخ منصف وی) دا هم مخامره د عقل راولی هم دارنګه نو کیږی دا خمر په قیاس سره په خمر باندے نو دا نده صحیح ځکه دلته علت د قیاس په امر لغوی باندے دے۔

﴿ **والسارق انما کان سارقاً** ﴾ او دارنګه سارق ته سارق ځکه وائی چه دے اخلی مال د غیر په طریقه پټه سره او شریك دے ورسره نباش پدے معنی نو ده ته به هم سارق وایو په قیاس سره او دا قیاس دے په لغت سره سره د اعتراف د خصم نه پدے چه دا اسم د خمر مطبوخ منصف لره او اسم د سارق نباش لره ندے وضع شوے په لغت کښې او دا ناجائز ده۔

﴿ **والدلیل علی فساد هذا النوع** ﴾ ترجمه: او دلیل په فساد دے نوعه د قیاس باندے چه قیاس دے په لغت کښې چه عرب مسمیٰ کوی فرس ادهم په ادهم سره د وجے د نوروالی د هغه نه او دارنګه فرس مسمی کوی په کمیت سره د وجے د سوروالی د هغه نو بیا اطلاق نه کوی دوی ددے اسم د ادهم په زنجی سوډانی باندے ځکه هغه هم د رنجو غرکی وی دغه علت خو پده کښې هم موجود دے او دارنګه نه مسمی کوی سره کپړه په کمیت سره اګرکه دا علت د حمرت پدے کښې هم موجود دے۔

﴿ **ولو جرت المقایسة فی الاسامی اللغویة** ﴾ کچرے جاری کیدے قیاس په نومونو لغویه و کښې نو بیا به جائز وه دا هم د وجے د وجود د علت نه او صاحب نور الانوار مناظره د شافعی مسلك سره ذکر کړیده چه هغه ته حنفی اووئیل چه جرجیر ته جرجیر ولے وئیلے کیږی نو هغه اووئیل لانه یتحرك فی وجه الارض نو حنفی ورته اووئیل چه اطراد په اسامی کښې شرط وی نو بیا خو پکار ده چه ستا ګیرے ته هم جرجیر اووئیل شی لانه یتحرك علی وجهك هغه علت خو پدیکښې هم شته دارنګه قارورے ته قاروه ولے وئیلے شی شافعی اووئیل لانه یتقرر فیه الماء (اوبه په کښې قرارے کوی) نو حنفی ورته اووئیل بیا پکار ده چه ستا خیتے ته هم قاروره اووئیلے شی لانه یتقرر فیه الماء فتحیّر

وسکت نو قیاس په لغاتو کښې ندے پکار قیاس په احکاماتو شرعیه و کښې وی.

﴿ **ولان هذا يؤدی** ﴾ بلـه دا چه قیاس په لغاتو کښې مفضی کیږی ابطال د اسباب شرعیه و ته او دا ځکه چه شارع ګرځولے ده سرقه سبب دپاره د یو نوع د احکاماتو دپاره چه هغه قطع الید ده ځکه حکم چه مرتب شی په مشتقی باندے نو مبدأد اشتقاق علت وی دپاره د ترتب د حکم، قرآن کښې دی : السارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما ـ نو فاقطعوا یو حکم دے چه مرتب شویدے په مشتقی چه سارق او سارقه ده نو مبدأ د اشتقاق چه سرقه ده دا علت دے دپاره د حکم نو سرقه علت دے دپاره د قطع الید.

﴿ **فاذا علقنا الحكم** ﴾ نو کله چه مونږ مرتب کړو حکم په هغه شی باندے چه هغه عام وی د سرقے نه چه هغه اخذ د مال د غیر دے په پټه سره نو پته اولګیده چه سبب د قطع په اصل کښې یوه معنی ده چه هغه غیر د سرقے نه ده نو ابطال راغلے د سبب.

﴿ **وكذلک جعل شرب الخمر سبباً لنوع من الاحكام** ﴾.

ترجمه : دغه رنګ ګرځولے دے شرع شرب د خمر سبب دپاره د یو نوعے د احکامو چه هغه جلد دے نو هر کله چه معلق کړو مونږ حکم په یو امر پورے چه هغه عام وی د خمر نه (چه هغه مخامرة العقل دے) نو ښکاره به شی چه حکم په اصل کښې معلق دے په غیر د خمر پورے.

﴿ **والخامس** ﴾ او مثال د فوات د شرط خامس او هغه دا دے چه نه به وی فرع منصوص علیه لکه چه وئیلے شی چه آزادول د رقبے کافرے په کفاره د یمین کښې او د ظهار کښې جائز نه ده په قیاس سره په کفاره د قتل باندے.

حاصل دا شو چه کفاره د قتل مقیس علیه شی او کفاره د یمین او کفاره د ظهار پرے قیاس شی او علت مشترکه کون کل واحد منها کفارة عتق کړے شی نو هلته حکم دے چه لا یجوز الا اعتاق رقبة مومنة نو دلته به هم دا حکم شی نو دا قیاس جائز نه دے ځکه دلته په فرع کښې چه کفاره د یمین او د ظهار ده خود نص موجود دے فتحریر رقبه دے په قرآن کښې مقید په قید د ایمان سره ئے نده ګرځولے.

﴿ **ولو جامع المظاهر فی خلال الاطعام** ﴾ ترجمه : دغه رنګ کچرے جماع

اوکړی ظهار کونکے په مینځ د کفاره بالطعام کښې نو سر دوباره به ورکوی طعام په قیاس سره په کفاره بالصوم باندے حاصل دا چه کفاره بالصوم مقیس علیه شی او کفاره بالاطعام پرے قیاس شی او علت مشترکه کون کل واحد منهما کفارة ظهار شی نو هلته حکم وو استیناف د صوم په وقوع د جماع سره په مینځ د دوه میاشتو روژو کښې نو دلته به هم حکم شی په استیناف د اطعام سره دا قیاس صحیح نه دے ځکه دلته په فرع کښې ځانله نص موجود دے چه اطعام مقید په من قبل ان یتماسا سره په قرآن کښې ندے۔

﴿**ویجوز للمحصران یتحلل**﴾ نو دارنګه جائز دی د محصر (بند شوی د حج) دپاره چه دے ځان حلال کړی په روژو نیولو سره په قیاس سره په حاجی متمتع باندے دا قیاس صحیح نه دے ځکه چه په فرع کښې نص موجود دے په فرع کښې به محصر هدیه لیږی نو هله به ځان حلالوی۔

﴿**والمتمتع اذا لم یصم**﴾ او دارنګه حاجی متمتع چه کله روژے او نه نیسی په ایام التشریق کښې نو روژے به نیسی روسته د دینه او قیاس ئے کړو په قضاء د رمضان باندے نو دا قیاس صحیح نه دے ځکه پدے فرع کښې نص موجود دے۔

﴿فصل القیاس الشرعی هو ترتب الحکم فی غیر المنصوص علیه﴾

هر کله چه فارغ شو مصنف د شرائط د قیاس نه نو شروع ئے اوکړه په رکن د قیاس کښې چه هغه علت مشترکه دے اصل کښې ارکان د قیاس اربعه دی، مقیس، مقیس علیه، علت مشترکه، حکم ۔ لیکن اصولین رکن اقوی ذکر کوی چه علت دے او دا نور ارکان بالمقایسة معلومیږی ده علت د قیاس دپاره زمونږ په نزد دوه شرائط دی یو ملائم والے او دویم علت عدالت ځکه چه هریو شی په صفات شتی باندے مشتمل وی نو هریو صفت صلاحیت د ترتب د حکم نه لری بلکه یو خاص صفت او علت صلاحیت دپاره د ترتب د حکم لری نو هغه صفت په نزد زمونږ هغه دے چه په هغے کښې دوه صفتین وی ملایمت او عدالت، د عدالت معنی دا ده چه ددے علت اثر ظاهر کړے شوے وی په هغه حکم معلل به کښې نو یا خو به د عین علت تاثیر وی په عین حکم کښې او یا به د جنس علت تاثیر وی

په عين حكم كښې يا به د عين علت تاثير وي په جنس د حكم كښې او يا به د جنس علت تاثير وي په جنس حكم كښې نو پدے څلورو طريقو كښې چه په هره يوه طريقه سره چه تاثير ښكاره شوے وو نو دغه علت به علت وي او هغه به صلاحيت لري دپاره د ترتب د حكم بل شرط دے د علت دپاره ملائمت، د ملايمت معنى دا ده چه دا علت موافق وي د علل منقوله و د سلف صالحينو سره كچرے موافق د عللو د سلفو سره نه وو يا آبى وود حكم نه نو دا علت صلاحيت د ترتب د حكم دپاره نه لري۔

﴿ **القياس الشرعي** ﴾ ترجمه : قياس شرعي (اى المستنبط) قياس عند الاصوليين والفقهاء مراد دے ورنه قياس دپاره اقسام متعدده دي قياس لغوى قياس منطقي دے قياس شبهي دے قياس شرعي دے نو د هريو قياس دپاره دا شرائط ندي بلكه شرائط مذكوره د قياس شرعي دپاره وي۔

﴿ **هو ترتب الحكم** ﴾ ترجمه : قياس شرعي ترتب دحكم دے په غير منصوص عليه كښې په يو وصف باندے چه دا به علت وي د دغه حكم دپاره په منصوص عليه كښې

﴿ **ثم انما يعرف** ﴾ ترجمه : بيا به پيژندلے كيږي كون د معنىٰ علت يا په كتاب الله سره يا به ئے علتيت پيژندلے كيږي د سنت نه او يا د اجماع نه او يا د استنباط نه او د اجتهاد نه نو زمونږ دپاره څلور دلائل پكار شول۔

﴿ **فمثال العلة المعلومة بالكتاب** ﴾ ترجمه : مثال د علت معلومه بالكتاب لكه كثرت د طواف شو څكه دا گرځولے شويدے علت دپاره د سقوط د حرج په اجازت غوښتلو كښې (بار بار) پدے قول د الله كښې ليس عليكم ولا عليهم نشته دے په تاسو باندے او نه پدے ماشومانو يا نابالغه غلامانو باندے گناه پس ددے اوقات ثلاثو نه چه قبل طلوع الفجر او وقت الظهيره او بعد العشاء پدے كښې خو دخول د اطفالو او د عبيدو ممنوع دے خو علاوه ددے اوقاتو نه بغير د استيذان نه په دخول كښې گناه نه په تاسو شته او نه په دوي شته۔ ﴿ **طوافون** ﴾ چه دوي چكر لگونكي دي په تاسو باندے بعض ستاسو نه په بعضو باندے نو دلته علت د حرج في الاستيذان دپاره طواف وگرځولے شو۔

﴿ **ثم اسقط رسول الله** ﷺ ﴾ بيا ساقطه كړه رسول الله ﷺ حرج د نجاست د

جوتي د پيشو (چه دا پليته نه ده) په حكم د دغه علت سره چه هغه طواف دے نو نبي عليه السلام اوفرمائيل : چه جوته ده پيشو پليته نه ده ځكه دا د هغه غلامانو او وينځو نه ده چه چكر لګوي په تاسو باندے۔

﴿ فقاس اصحابنا ﴾ ترجمه : نو قياس كړه اصحابو زمونږ تول هغه حيوانات چه اوسيږي په كور كښې لكه منګك ، مارلږم په هره باندے په علت د كثرت طواف كښې نو كه منګك ، مارلږم لوخي جوته كړو نو هغه پاك دے جوته ئے پليته نه ده ځكه كثرت طواف پدے كښې هم موجود دے۔

﴿ وكذلك قوله تعالى يريد الله بكم اليسر ﴾ ترجمه : دارنګه دا قول د الله تعالى چه الله غواړي په تاسو باندے آسانتيا او نه غواړي په تاسو باندے ګران والے نو شارع بيان اوكړو چه افطار د صوم د مريض او مسافر دپاره جائز دے دپاره د آسانتيا د كار په دوي باندے ، پدے قول د الله چه فمن كان منكم مريضا او على سفر فعدة من ايام اخر) . مسافر او مريض د د رمضان روژه نه نيسي او قضاء به راوړي او روسته ئے علت ذكر كړو چه يريد الله بكم اليسر ولا يريد بكم العسر۔

﴿ لتيسير الامر عليهم ﴾ دپاره د آسانتيا د امر په دوي باندے ددے دپاره چه دوي قادر شي په تحقيق د هغه شي چه راجح وي په نظر د دوي باندے د اتيان نه په وظيفه د وقت چه هغه امساك دے او يا تاخير اوكړي ايام اخر و ته ۔

﴿ وباعتبار هذا المعنى ﴾ ترجمه : ددے معنى په اعتبار سره وائي ابوحنيفه چه مسافر كله نيت اوكړو په ايامو د رمضان كښې د واجبو اخرو نو دا روژه به دده واقع كيږي د ايام اخر نه ځكه هر كله چه ده دپاره اجازت حاصل شو په هغه شي سره چه هغه راجع كيږي مصالحو د بدن دده ته چه هغه افطار دے نو چه ثابت شي ده لره رخصت په هغه شي سره چه راجع كيږي مصالحو د دين دده ته چه هغه اخراج د نفس دے د عهدى د واجبو نه نو دا خو په طريقه اولىٰ سره پكار ده كچرے دا مسافر پدے رمضان كښې مړ شو نو ددينه ددے رمضان د روژو تپوس نه كيږي چه ولے دے ندي نيولي البته واجب آخر چه دده په ذمه وي نو د هغے مطالبه دده نه كيږي نو چه د بدن د مصلحت دپاره دے وقت د رمضان صرف

کولے شی چه افطار جائز دے نو د اخروی مصلحت دپاره خو دا وقت د رمضان په طریقه اولیٰ سره صرف کولے شی چه روژه د واجب آخر نه ده۔

باقی نفل روژه که نیسی په دغه رمضان مسافر نو صاحب د نور الانوار لیکلی دی چه پدے کښ د امام ابو حنیفهؒ نه دوه اقوال منقول دی یو روایت دا دے چه د مانوئ نه به واقع کیږی بعض نفل روژه به وی او دویم قول دا دے چه دا به د رمضان نه واقع کیږی خو دا دواړه قولین په دوو دلیلنو بناء دی یو دلیل دا دے چه دا رمضان دده په حق کښ په شان د شعبان یا د نورو میاشتو دے نو که په نورو میاشتو کښ دے د نفل روژو نیت کوی نو نیت ئے صحیح دے نو دارنګه په رمضان کښ هم صحیح دے۔

دویم دلیل دا دے چه دده دپاره دا وقت د رمضان صرف کول پکار وو په یو اهم شی باندے او نفل اهم ندی نو د رمضان نه به واقع کیږی۔

﴿ومثال العلة المعلومة بالسنة﴾ ترجمه: او مثال د هغه علت چه معلوم وی په سنت سره پدے قول د نبی علیه السلام کښ موجود دے چه هغه فرمائی نشته اودس په هغه چا چه هغه اوده شی په ولاړه یا په ناسته یا په رکوع یا په سجده باندے بیشکه اودس لازم دے په هغه چا باندے چه اوده شو چه دده ئے لګولی وی ځکه کله چه دا اوده شی په دده باندے نو سُست شی مفاصل دده نو دا غالبا سبب وی دپاره د خروج د نجاست د سبیلینو نه او دا خروج د امر نجاست یو امر خفی دے اکثر پرے سرے پو هه نشی نو ظاهری استرخاء سبب دے هغه خروج النجاست نو نوم چه دا سبب وو دپاره د استرخاء نو دا قائم شو په مقام د مسبب خفیه باندے او دا قانون دے چه په کوم ځائے کښ مسبب خفی وی نو هلته ظاهری سبب قائمیږی په مقام د مسبب خفیه باندے ددے دپاره نظائر کثیره دی یو نظیر د هغے سفر دے اصل علت د افطار دپاره مشقت دے خو دا پته نه لګی چه په کوم سفر کښ مشقت دے او په کوم کښ نشته نو دا یو امر خفی شو نو دا ظاهری سبب چه سفر دے هغه قائم شو په مقام د سبب خفیه باندے چه مشقت دے نو دا سفر سبب شو دپاره د افطار د صوم نو کچرے حاکم وقت سفر کوی په هوائی جهاز کښ نو ده ته هیڅ مشقت نشته تمام سهولیات ورته مهیا خو باوجود دده دپاره حکم د افطار الصوم شته۔

﴿ **فيتعدى الحكم بهذه العلة** ﴾ ترجمه : نو متعدى كيږى دا حكم چه نقض الوضوء دے په دغه علت باندے چه هغه استرخاء د مفاصلو ده هغه خوب ته چه مستندا يا متكئا وى يو شى ته كچرے هغه شى ترے زائله كرے شى نو دے غورزيږى - مستندا په معنى د متوركا سره دے نو دفع د اعتراض اوشوه چه مستندا او متكئا خو شى واحد دے نو فرق حاصل شو په مينځ د دواړو - متورك هغے ته وائى چه خپے دواړه طرف ته اوباسى او مقعد بل طرفته اوباسى نو پدے كښ هم استرخاء د مفاصلو شته ځكه مقعد په زمكه باندے جوخت نه وى لګيدلے نو احتمال د خروج د نجاست شته -

دريم كيفيت د تورك دا دے چه يوه خپه يو طرف ته اوبله خپه بل طرفته اوباسى او مقعد په مينځ كښ په زمكه با ے كلك كيدى نو پدے صورت كښ استرخاء د مفاصلو نه راځى نو دا ناقض للوضوء نه دے-

﴿ **وكذلك يتعدى** ﴾ ترجمه : او دغه رنګه دا حكم به مونږ متعدى كوو پدے علت سره چه استرخاء د مفاصلو ده بے هوشى او نشى ته چه په نشه او بے هوشى سره هم استرخاء راځى نو دا علت دے دپاره د نقض الوضوء-

مارتونګ بابا وائى چه په نسوارو هم اودس ماتيږى پدے سره استرخاء راځى-

﴿ **وكذلك قوله عليه السلام توضئ وصلى** ﴾ ترجمه : دارنګه قول د نبى عليه السلام اودس كوه او مونځ كوه اګركه وينه درنه په پوزى څڅيږى - فاطمه بنت ابى جبيش راغله او د نبى عليه السلام نه ئے تپوس اوكړو چه ځما كثير استحاض راځى نو زه به مونځ پريږدم نو نبى عليه السلام ورته اووئيل د هر وخت دپاره ځانله اودس كوه او مونځ كوه اګركه وينه ډے په جانماز څاځى-

﴿ **فانه دم عرق انفجر** ﴾ ترجمه : دا وينه د رګ ده چه جارى شويده نو نبى عليه السلام انفجار د دم علت اوګرځولو نو متعدى كيږى حكم پدے علت سره رګ وهلو ته او خكر لګولو ته چه سرے رګ اووهلو يائے خكر اولګولو او وينه ئے ونه دريده نو دده دپاره هم دا حكم دے چه د هر وخت دپاره به اودس كوى او مونځ به كوى اګركه وينه ترے په مانځه كښ بهيږى دارنګه رعاف الدائم دے او انفلات الريح دے دلته هم عذر دے او په

استحاضه کښې هم عذر دے دلته هم حرج دے او هلته هم حرج وو نو هلته حکم د سقوط وو نو دلته هم حکم د سقوط دے نو حکم د معذور فقهاء ذکر کوی چه د هر وخت دپاره به ځانله اودس کوی نو په دغه وخت کښې چه څومره فرائض دی که اداء او قضاء نوافل وی او که سنن وی نو دے ئے کولے شی۔

امام شافعی وائی چه دا طهارت د وجے د ضرورت نه دے فقط مونځ د وقت پرے ادا کولے شی او قضاء پرے نشی اداء کولے د قضاء دپاره به مستقل اودس کوی مونږ وایو ترڅو پورے چه وقت ندے وتلے نو حکم د انتقاض الوضوء لازم ندے راغلے نو گویا کښې دے په حکم د مطهر کښې دے نو مطهر خو په طهارت باندے قضاء او اداء دواړه کولے شی او نوافل او سنن امام شافعی تابع د فرائضو وائی چه په یو اودس ئے د فرضو سره کولے شی۔

﴿ **مثال العلة المعلومة بالاجماع** ﴾ ترجمه: مثال د علت معلومه په اجماع سره ثابت دے پدے قول کښې چه وایو مونږ چه صغر علت دے د ولایت دپلار دپاره په حق د صغیر کښې نو ثابتیږی حکم د ولایت د پلار په صغیره کښې هم د وجے د وجود د علت نه ځکه صغر چه څنگه په صغیر کښې موجود دے نو دارنگه په صغیره کښې هم موجود دے هلته حق د ولایت د اب وو نو دلته به هم وی نو په صغیره باندے پلار ولایت جبری کولے شی په نکاح کښې اگرکه دا نکاح دیته خوښه نه وه او دا په اجماع سره معلوم دے۔

﴿ **والبلوغ عن عقل** ﴾ ترجمه: او بلوغ سره د عقل نه علت دے دپاره د زوال د ولایت په حق د ماشوم کښې چه هلك بالغ شو نو پلار ئے ولایت په مال کښې نشی کولے د هغه ولایت ساقط شو۔

﴿ **فيعدى الحكم الى الجارية** ﴾ ترجمه: نو دا حکم چه زوال د ولایت دے دا به متعدی کیږی جینئ ته هم چه کله صغیره جینی بالغه شوه نو ولایت جبری د پلار پرے ختم شو په زورئے په نکاح نشی ورکولے ۔

﴿ **وانفجار الدم علة** ﴾ او انفجار د دم علت دے د انتقاض د طهارت دپاره په حق د مستحاضه کښې نو متعدی کیږی به دا حکم غیر هاته د وجے د وجود ددغه علت نه۔

﴿ **ثم بعد ذلک نقول القياس على نوعين** ﴾ ترجمه: بیا پس ددینه مونږ وایو

چه قیاس په دوه قسمه دے یو هغه دے چه حکم معدیٰ به د نوع د حکم ثابت نه وی په اصل کښ یعنی په اصل کښ چه کوم حکم وو نو دا د هغے د نوعے نه دے نوعه دیته وائی چه مناسبت په مضاف الیه کښ راشي نو دیته دوی نوعه وائی چه دا اتحاد فی النوع ،اؤ او په مضاف کښ چه کله اتحاد راشي نو دوی وائی چه دا اتحاد فی الجنس دے۔

﴿ والثانی ﴾ او دویم چه وی به د جنس د حکم ثابته فی الاصل نه مثال د اتحاد فی النوع دا قول زمونږ دے چه صغر علت دے دپاره د ولایت د انکاح په حق د غلام کښ نو ثابتیږی به پدے سره ولایت د انکاح په حق د جاریه کښ هم د وجے د وجود د علت نه پدیکښ نو په غلام کښ هم ولایت الانکاح دے او په جاریه کښ هم ولایت الانکاح دے نو ولایت مضاف او انکاح مضاف الیه دے نو پدے مضاف الیه کښ مناسبت دے د دواړو۔

﴿ وبه ثبت الحکم فی الثیب الصغیرة ﴾ ترجمه : پدے سره حکم ثابتیږی په ثیبه صغیره کښ هم ۔ ثیبه صغیره ده نو پدے هم اب ولایت کولے شی ځکه علت صغر دے بکر نه دے پدیے کښ صور اربعه دی : دوه صورتونه زمونږ او د امام شافعی ترمینځ اتفاقی دی او دوه صورتونه اختلافی دی :

(۱) باکره صغیره ده پدے کښ احناف او شوافع دواړه په ولایت جبری قائل دی (۲) ثیبه بالغه ده دلته احناف او شوافع دواړه قائل دی په عدم ولایت جبری ۔

(۳) باکره بالغه د امام شافعی وائی چه ولایت جبری پرے شته ځکه هغه علت د ولایت بکر وائی او بکر موجود دے مونږ علت صغر وایو او صغر دلته نشته نو ولایت جبری د اب پرے نشته۔ (٤) ثیبه صغیره ده امام شافعی وائی ولایت جبری پرے نشته ځکه هغه علت بکر وائی او بکر نشته او مونږ وایو ولایت جبری پرے شته ځکه علت صغر دے او صغر موجود دے۔

﴿ وکذلک قولنا الطواف علته سقوط النجاسة ﴾ ترجمه : دغه رنګه دا قول زمونږ چه طواف علت دے دپاره د سقوط د نجاست په جوته د پیشو کښ نو متعدی کیږی به حکم جوتے د سواکن البیوت ته د وجے د وجود ددے علت نه۔

﴿ وبلوغ الغلام عن عقل ﴾ ترجمه : دغه رنګه بلوغ د غلام سره د عقل نه دا

علت دے دپاره د زوال د ولایت انکاحی نو پدے سره به زائله کیږی ولایت انکاحی د جاریه نه هم بحکم ددے علت سره۔

﴿ **ومثال الاتحاد فی الجنس** ﴾ مثال د اتحاد في الجنس **هغه** دے چه وئیلے شی چه کثرت د طواف علت دے دپاره د سقوط د حرج د استیذان په د ما ملکت ایماننا کښ نو ساقطه به وی حرج د نجاست د جوتے د پیشو پدے علت سره چه کثرت طواف دے ځکه دا حرج د جوته د پیشو د جنسه د هغه حرج نه وی دلته نه د نوعی ددینه ځکه دلته مناسبت په مضاف کښ دے۔

﴿ **وکذلک الصغر علة** ﴾ ترجمه : او هم دغه رنګه صغر علت دے دپاره د تصرف د پلار دپاره په مال کښ نو ثابتیږی به تصرف الی النفس په جاریه کښ نو پدے ولایت ولایت کښ مناسبت دے چه یو ولاية المال دے او بل ولاية النفس دے مناسبت په مضاف الیه کښ نه دی چه ولایت مضاف او النفس یا المال ئے مضاف الیه دے ۔

﴿ **وان بلوغ الجارية عن العقل** ﴾ ترجمه : دغه رنګه بلوغ د جاریه سره د عقل نه علت دے دپاره د زوال د ولایت الاب په مال کښ نو زائله کیږی به ولایت د اب په حق د نفس د جاریه کښ پدے علت سره ۔

﴿ **ثم لا بد فی هذا النوع من القیاس** ﴾ ترجمه : بیا لابدی ده پدے نوع د قیاس کښ د مجانست د علت نه متابعت د علت نه په مضاف کښ ۔

﴿ **بان تقول** ﴾ ترجمه : چه اووئیلے شی چه ثابتیږی ولایت د پلار په مال د صغیره کښ ځکه دا صغیره عاجز ده د تصرف بنفسها نو شارع ولره ولایت د اب ثابت کړو ددے دپاره چه مصالح د هغے معطل نشی کوم مصالح چه متعلق وی د مال سره او دا عاجزه ده د تصرف نه فی نفسها نو لازم شو قول په ولایت د پلار باندے په دغه صغیره باندے او پدے باندے بناء دے نور نظائر دی ۔

﴿ **حکم القیاس الاول** ﴾ ترجمه : حکم د قیاس اول دا دے چه نه به باطلیږی په فرق سره چه فارق فرق اوکړو په مینځ د اصل او د فرع کښ ځکه اصل چه مقیس علیه دے سره د فرع نه چه مقیس دے هر کله چه دا دواړه متحد شول په علت کښ نو واجب دے

اتحاد ددے دواړو په حکم کښې اګرکه دا اصل او فرع د یو بل نه جدا جدا وی په غیر ددے علت نه په نورو کثیرو اشیاؤ کښې نو وی به دا خو چه علت کښې اتحاد راغلے وی نو حکم کښې به هم اتحاد وی۔

﴿ وحكم القياس الثاني ﴾ ترجمه: حکم د قیاس ثانی فسادے دے په موانع د تجنیس سره چه دے اووائی چه دا نه منم چه د اصل او د فرع ترمینځ مجانست موجود دے نو قیاس خود بخود ختم شو ځکه قیاس پدے مجانست باندے بناء وو۔

﴿ والفرق الخاص ﴾ او بیان د فرق خاص دا دے چه تاثیر د صغر په ولایت د تصرف المال کښې فوق دے د تاثیر نه په ولایت د تصرف فی النفس کښې نو ولایت د مال به ولره وی او ولایت د نفس به ولره نه وی بناء پدے فرق خاص۔

﴿ وبيان القسم الثالث ﴾ ترجمه: بیان د قسم ثالث چه هغه قیاس دے په علت مستنبطه سره په رائے او اجتهاد سره دا خو ظاهر دے تحقیق ددے دا دے چه کله مونږ بیاموندو یو وصف مناسب د حکم سره او دا وصف پداسے حال سره وو چه واجبوی ثبوت د حکم او تقاضائے هم کوی په نظر سره دیته او مقترن کړے شوے وی پدغه وصف پورے یو حکم په یو موضع کښې د اجماع نه نو نسبت د حکم به هغه وصف ته کیږی د وجے د مناسبت نه نه د شهادت د شرع نه په کیدلو دده باندے علت۔

﴿ ونظيره اذا رأينا شخصا ﴾ ترجمه: نظیر د هغے دا دے چه کله چه یو سړے مونږه اولیدو چه یو فقیر ته درهم ورکوی نو غالب ګمان دا راځی چه دا اعطاء ده دپاره د دفع د حاجت د فقیر کوی او دپاره د حصول د مصالحو د ثواب ئے کوی نو کله چه دا اوپیژندل شو نو مونږ وایو کله چه مونږ اولیدو یو وصف مناسب ددے حکم د ترتب دپاره او مقترن شوی وی په دے وصف پورے حکم په یو موضع کښې د مواضعو د اجماع نه نو غالب به وی په ګمان باندے چه اضافت د حکم دے وصفت ته دے او غلبه د ظن په شرع کښې واجبوی عمل لره په وخت د انعدام د مافوق دلیل کښې په منزله د مسافر دے چه کله غالب ګمان دده دا وی چه په قرب دده کښې اوبه شته نو ندے جائز ده لره تیمم وهل ځکه غالب الظن کالمتیقن وی۔

﴿ **وعلى هذا مسائل التحري** ﴾ ترجمه : او بناء پدے باندے بناء دی مسائل د تحری چه سړے تحری اوکړی او یو طرف ته اودریږی په مانځه نو دا جهت د تحری دده دپاره قبله شوه۔

﴿ **وحكم هذا القياس ان يبطل بالفرق المناسب** ﴾

ترجمه : حکم ددے قیاس دا دے چه باطلیږی په فرق مناسب سره په مابین د مقیس او د مقیس علیه کښ ځکه دده سره په دغه وخت کښ موجودیږی مناسب بل سوا ددے نه په صورت د حکم کښ نو باقی پاتے نه شو ظن په اضافت د حکم سره دے ظن ته نو نه ثابتیږی حکم پدے وصف سره ځکه حکم بناء وو په غلبے د ظن سره او غلبه د ظن ئے باطله کړه پدے فرق سره۔

﴿ **وعلى هذا كان العمل بالنوع الاول** ﴾ ترجمه : او بناء په دے باندے عمل په نوع اول باندے چه هغه وصف معلوم وی د کتاب او د سنت نه په منزله د حکم بالشهادت دے پس د تزکیه د شاهد او د عدالت د هغه نه او نوع ثانی داسے ده لکه په منزله د شهادت باندے په وخت د ظهور العدالت باندے قبل التزکیه او نوع ثالث په منزله د شهادت د مستور الحال سړی باندے چه نفس حکم دده په شهادت باندے جائز دے خو که روسته د هغه فسق یا رقیت معلوم شو نو قضاء د قاضی پرے جائز نه ده نو دغه رنګه چه فرق خاص پدے نوعه کښ ثابت شو نو بیا پرے قیاس جائز نه دے ۔



﴿ فصل الاسولة المتوجهة ﴾

هركله چه شروط د قياس ئے ذكر كړو او معنى د قياس او حكم ئے هم بيان كړو نو اوس دفع القياس ذكر كوى اصل كښ دار مدار د قياس په علت باندے وى او علت دوه قسمه دے علت طرديه او علت مؤثره په علت طرديه باندے شوافع قائل دى د طرد معنى ده دوران الحكم مع العله وجودا وعدما چه علت وى نو حكم به وى او چه نه وى نو حكم به نه وى بعضو د طرد معنى دا كړيده : دوران الحكم مع العله وجودا ۔ چه علت وى نو حكم به وى چه علت نه وى حكم به نه وى د هغے سره زمونږ كار نشته دے ۔

او په علل مؤثره و باندے احناف قائل دى د علل مؤثره و دپاره دوه شرائط وو ملائمت او عدالت كما مرّ نو علل طرديه و باندے شوافع قائل دى نو په هغوى به اعتراض احناف كوى دوى به د هغے علت طردى ختموى نو علت طردئ د هغے چه ختم شو نو قياس به خود بخود وران شى ځكه هغه مبنى عليه دے چه مبنى عليه وران شو نو مبنىٰ خود بخود وران شو او په علل مؤثره و باندے احناف قائل دى نو په دوى به اعتراض د جانبه د شوافعو نه واردېږى نو مونږ به د هغوى د دلائلو نه او اعتراضاتو نه جوابونه كوو دا اساس او بنياد دے د علم المناظره دا مستقل فن نه دے خو پدے اعتراضاتو د عللو باندے څه زيادت كړے شويدے نو مستقل فن د مناظرے ئے ترے جوړ كړيدے ۔

نو اول به مونږ د طرفه اته قسمه اعتراضاتْ مونږ د هغے په علل طرديه سره كوو پدے سره دفع د تو هم اوشوه چه بحث خو زمونږ په دفع القياس كښ دے او ته اعتراضات په عللو باندے كوے نو دا خو خروج من البحث دے او اشتغال بما لايعنى دے ۔

جواب دا دے چه دار مدار د قياس په علت دے نو چه په مبنىٰ عليه باندے اعتراض اوشو نو مبنى خود بخود ختم شو او چه مبنىٰ عليه سالم وى نو مبنىٰ به هم سالم وى ۔

﴿ **فصل الاسولة المتوجهة** ﴾ ترجمه : هغه اعتراضات چه متوجه كيږى

قیاس تـه هـغه اته قسمه دی دا اعتراضات اصل کښې په علت باندے واردیږی په قیاس نه واردیږی ځکه قیاس خو عبارت دے د مجموع د مقیس، مقیس علیه، علت مشترکه او د حکم نه ۔

﴿ الممانعة ﴾ یو د هغه اعتراضاتو نه اعتراض د ممانعے دے صاحب د نور الانوار د ممانعے ځلور اقسام ذکر کړیدی کله به ممانعه په وصف کښې وی چه علت د ترتب د حکم دپاره دا وصف نه دے بل دے مثال ددے لکه شوافعو قیاس د مسح الرأس کړیدے په اعضاء مغسوله باندے او علت مشترکه ئے دا ګرځولے دے چه کون کل واحد منهما رکنا فی الوضوء نو حاصل دا شو چه مسح الرأس مقیس او اعضاء مغسوله مقیس علیه او علت مشترکه ئے کون کل واحد منهما رکنا فی الوضوء نو هلته حکم د تثلیث وو نو حکم به هم په مسح الرأس کښې تثلیث وی مونږ پرے اعتراض اوکړو او ممانعه فی الوصف مو اوکړه چه رکنیت ددے دپاره علت نه دے بلکه اکمال دے ۔

(۲) کله به ممانعه فی الحکم وی لکه دا مثال شو چه شوافعو حکم بالتثلیث کړیدے مونږ وایو نه منم دا چه حکم د مسح الرأس تثلیث دے بلکه حکم استیعاب دے (۳) کله به ممانعه فی النسبت وی چه نه منم دا خبره چه دا حکم دے وصف د رکنیت ته منسوب نه دے ۔ صاحب شاشی اختصار کوی بعض صور ذکر کوی او بعض نه ذکر کوی۔

﴿ والقول بموجب العلة ﴾ ترجمه : دا رنګه قول کول دی په موجب د علت باندے چه اے معلله ته چه کوم وصف ذکر کوے نو وصف دا دے خو کوم محل نزاعی چه دے په هغے کښې تا ته فائده نه درکوی لکه شوافعو قیاس کړیدے اداء د صوم رمضان ئے مقیس ګرځولے ده او قضاء د صوم رمضان ئے مقیس علیه ګرځولے ده او علت مشترکه په مینځ د دواړو کښې ئے کون کل واحد منهما صوم فرض ګرځولے دے نو هلته کښې تعین شرط وو نو په اداء رمضان کښې هم تعین شرط ګرځوی نو مونږ هم علت همدغه راخلو چه کون کل واحد منهما صوم فرض دا علت دے خو تاسو پرے تعین مترتب کو۔ او مونږ پرے عدم تعین مرتب کوو چه په صوم فرض اداء کښې تعین د طرفه د شارع نه شته نو تعین د عبد ته ضرورت نشته او په صوم فرض قضاء کښې تعین د جانبه د شارع نه نشته

نو تعین ولره د جانبه د عبد نه پکار شو نو قول مونږ په موجب د علت باندے اوکړو چه همدغه علت دے خو تا پرے تعین مرتب کړو او مونږ پرے تعین نه مرتب کوو۔

﴿**والقلب**﴾ او بل اعتراض د قلب دے خو دا به په احکاماتو کښې راځي کوم ځائے کښې چه قیاس کونکے داسے علت علت ګرځولے دے چه هغه صلاحیت د اثر لري چه دا دے حکم شي نو مونږ به قلب اوکړو چه هغه حکم چه کوم علت ګرځولے دے هغه به مونږ حکم کړو او کوم چه هغه حکم ګرځولے دے هغه به مونږ علت جوړ کړو نو قیاس خو په علت بناء وو چه علت وران شو نو قیاس د هغه هم وران شو۔

﴿**والعكس**﴾ او دارنګه اعتراض د عکس د قلب دے۔

﴿**وفساد الوضع**﴾ دارنګه اعتراض د فساد الوضع دے چه فی نفسه دا علت ستا د وضع په اعتبار سره فاسد دے۔

﴿**والفرق**﴾ دارنګه اعتراض د مفارقے خو دا اعتراض ډیر کمزورے دے اهل مناظره دا اعتراض نه ذکر کوی صاحب حسامي او صاحب نور الانوار وائي چه کوم اعتراض چه ته په صورت د مفارقه کښې ذکر کوے نو دا خو بیا کمزورے ګرځي نو دا په صورت د ممانعه کښې ذکر کړه نو اعتراض ستا به قوی شي۔

﴿**والنقض**﴾ دارنګه اعتراض نقض دے چه ستا علت په فلانکي ځائے کښې موجود دے او ترتب د حکم پرے ندے راغلے نو نقض راغلو۔

﴿**والمعارضة**﴾ دارنګه اعتراض معارضه دے معارضه اقامة الدلیل علی خلاف ما اقام علیه المعلل ته وائي۔

﴿**اما الممانعة فنوعان**﴾ دلته د اختصار نه کار اغستے دے د ممانعه اصل کښې څلور انواع دی ممانعه فی الوصف، ممانعه فی الحکم، او ممانعه فی الصلاحیة، او ممانعه فی النسبة۔

ترجمه: هر چه ممانعه ده نو هغه په دوه قسمه ده یو ددینه ممانعه فی الوصف ده چه نه منم دا خبره چه علت د حکم دپاره دا علت دے، دا علت نه دے بلکه بل علت دے دویم قسم ممانعه د حکم ده چه نه منم چه ددے حکم دا دے مثال ددے لکه پدے قول د شوافعو

کښې چه صدقة الفطر وجبت بالفطر صدقه د فطر واجب ده په افطار سره نو دا نه ساقطيږي په مرګ د مکلف سره په شپه د فطر کښې ځکه ددې وجود په فطر سره راغلې نو پس د غرب د نمر نه محل موجود وو نو صدقه د فطر پرې واجب شوه که پس ددې نه مړ شو نو هم به پرې صدقه د فطر واجب وي.

﴿ قلنا لا نسلم ﴾ مونږ ممانعه فی الوصف کوو وايو ورته چه نه منو مونږ دا چه د صدقه د فطر د وجود دپاره علت فطر دې بلکه زمونږ په نزد صدقه د فطر واجبيږي په نفس يمونه سره (هغه رأس چه دې د هغه مشقت برداشت کوي) ويلي عليه: او دې په هغې باندې تصرف کوي نو چه هر کله دې د شپې مړ شو نو سحر خو رأس يمونه موجود نه دې نو صدقه پرې نشته.

﴿ وکذلک اذا قيل قدر الزکاة واجب ﴾ او همدارنګه چه اووئيلې شي چه قدر د زکات واجب دې په ذمه باندې نو دا نه ساقطيږي په هلاك د نصاب سره په شان د قرض چه زکات مقيس کړې او دين مقيس عليه کښې او علت مشترکه کون کل واحد منهما واجبا فی الذمه نو هلته حکم عدم سقوط دې په هلاك د نصاب سره.

﴿ قلنا لا نسلم ﴾ مونږ وايو چه مونږ دا نه منو چه قدر د زکاة واجب فی الذمه دې بلکه ادائې واجبه ده نو کوم وصف چه تا علت ګرځولې وو نو د هغې نه مونږ ممانعه وکړه.

﴿ ولئن قال الواجب اداؤه ﴾ او کچرې داسې اووائې چه واجب اداء ده د قدر د زکاة نو دا به نه ساقطيږي په هلاك د نصاب سره په شان د دين چه دا نه ساقطيږي په هلاك سره بعد المطالبه نو مونږ وايو چه دا نه منو چه دا اداء واجبه ده خاوند د قرض ته په صورت د قرض کښې بلکه ممنوع ده ددې مديون دپاره منع کول د دين چه کله رب المال مطالبه اوکړه تردې چه دې اوځي د ذمه وارئ نه په تخليه سره چه رفع د موانعو ده او دا د قبيلې د منع د حکم نه دې.

﴿ وکذلک اذا قال المسح رکن فی باب الوضوء ﴾ دغه رنګه چه کله خصم اووائې (امام شافعي) چه مسح رکن دې په باب د اودس کښې نو حکم ئې دا دې چه تثليث ددې مسنون دې په شان د وينځلو نو د غسل حکم تثليث وو نو دلته هم حکم تثليث دې

نو مونږ ممانعه فی الحکم کوو ۔

﴿ **هٰهنا لا نسلم** ﴾ وایو مونږ چه دا نه منو چه تثلیث مسنون دے په غسل کښې بلکه اوږد والے د فعل مسنون دے په محل د فرضو کښې د وجے د زیادت نه په مقدار مفروضه باندے لکه اوږد والے د قیام او د قرائت په باب د صلاة کښې چه مسنون دے ۔

﴿ **غیر ان الاطالة فی باب الغسل** ﴾ بغیر ددینه چه دا اوږد والے په باب د غسل کښې نه دے متصور مگر په تکرار سره د وجے د استیعاب ددے فعل نه چه غسل دے محل ته، ځکه هر کله چه غسل استیعاب د محل مخکښې اوکړو نو دلته به اطاله په تکرار سره حاصلیږی او په مسح کښې مسح استیعاب رأس ته نه وو کړے نو دلته به اطاله حاصلیږی په استیعاب سره نو د کل رأس مسح مسنون شوه نه تثلیث ۔

﴿ **وکذلک یقال التقابض فی باب الطعام بالطعام** ﴾

او په مثل ددے مسح باندے کچرے دا اوویل شی چه تقابض په بیع د طعام بالطعام کښې شرط دے په شان د نقودو باندے نو نقود مقیس علیه شو او بیع د طعام بالطعام مقیس شو او علت مشترکه په مینځ د دواړو کښې کون کل واحد منهما مبادلة الجنس بالجنس نو حکم دا دے چه هلته تقابض د بدلینو په مجلس کښې شرط وو نو دلته هم تقابض د بدلینو په مجلس کښې شرط دے۔

﴿ **بل الشرط تعینها** ﴾ مونږ ممانعه فی الحکم کوو او وایو چه نه منو چه تقابض د بدلینو شرط دے په باب د نقودو کښې بلکه شرط تعین ددے نقودو دے، ددے دپاره چه نشی بیع د نسیه په نسیه باندے سوا د دینه چه نقود نه متعین کیږی مگر په قبض سره عندنا نو تقابض په نقودو کښې ځکه راغلو او په بیع د طعام بالطعام کښې تعین راغلو نو دلته تقابض ته ضرورت نشته دلته بیع د نسی بالنسی نه گرځی هلته کښې حکم تقابض وو نو دلته حکم عدم تقابض دے۔

﴿ **واما القول بموجب العلة** ﴾ هر چه دے قول په موجب د علت باندے نو دا تسلیم د کون د وصف دے علت چه اے معلله تا چه کوم وصف د ترتب د حکم دپاره ذکر کړیدے دا منم چه علت دا وصف دے خو په محل د نزاع کښې ئے تا ته فائده درنکړه ۔

﴿ **وبيان ان معلولها غير ما ادّعاه المعلل** ﴾ بيان به ئے دا وی چه معلول ددے علت به غير وی د هغه څه نه چه معلل په هغے باندے دعوی کوی مثال ددے لکه زمونږ د نزاع ده د امام زفر سره ـ چه مرفق حد دے په باب د اودس کښې نو دا نه داخليږی لاندے د غسل نه څکه قانون دا دے چه حد نه دا خليږی په محدود (مغيا) کښې نو مونږ وايو چه څنګل حد دے منم خو د اسقاط د ماوراء دپاره دے نو نه به وی لاندے د حکم د ساقط نه څکه حد نه داخليږی لاندے د حکم د محدود نه نو د مرفق د ساقط تحت داخل نه شو حکم د ساقط عدم غسل دے نو د مرفق حکم عدم غسل نه شو بلکه غسل شو ـ

﴿ **وكذلك يقال صوم رمضان صوم فرض** ﴾ او دغه شان چه اووئيل شی د طرفه د امام شافعی نه چه صوم رمضان صوم فرض ده نو دا به جائز نه وی بغير د تعين د عبد نه په شان د صوم قضاء باندے نو قضاء مقيس عليه شو او صوم رمضان مقيس شو او كون كل واحد منهما صوم فرض ورلره علت مشترکه شو نو هلته حکم تعين وو نو دلته به هم حکم تعين وی ـ

﴿ **قلنا صوم الفرض لايجوز بدون التعين** ﴾ ترجمه : مونږ وايو چه صوم الفرض ندے جائز بغير د تعين نه مګر تعين دلته موجود دے دلته د طرفه د شارع نه نبی عليه السلام وائی اذا انسلخ شعبان فلا صوم الا عن رمضان نو دويم تعين ته پکښې ضرورت رانغلو په خلاف د قضاء د رمضان نه هلته تعين نه وو نو د عبد د طرفه پکښې تعين ضروری شو ـ

﴿ **ولئن قال صوم رمضان لا يجوز** ﴾ کچرے امام شافعی اووائی چه صوم رمضان جائز نه دے بغير د تعين د عبد نه په شان د قضاء (څکه هغه هم صوم فرض ده او اداء د رمضان هغه صوم فرض ده) ـ

﴿ **قلنا : لا يجوز القضاء بدون التعين** ﴾ مونږ وايو جائز نه ده قضاء بغير د تعين د عبد نه مګر په قضاء کښې تعين د طرفه د شارع نه ثابت نه دے نو ددے وجے نه تعين د عبد شرط شو او په رمضان کښې تعين د جهته د شارع نه دے نو شرط نه شو پکښې تعين د عبد ـ

﴿ **واما القلب** ﴾ هرچه اعتراض د قلب دے نو هغه دوه قسمه دے قلب ديته وائی

چه د علت نه حکم او د حکم نه علت جوړ کړے شی ځکه قیاس بناء وی په علت او چه علت قلب شو نو قیاس وران شو۔

﴿ **احدهما ان یجعل ما جعله المعلل** ﴾ یو قلب هغه دے چه اوګرځوی هغه علت چه ګرځولے وی هغے لره معلل علت د حکم دپاره معلول د دغه حکم دپاره او دا حکم ورلره علت کړی یعنی کوم چه هغه حکم جوړ کړیدے هغه ته علت کړے او کوم چه نے علت جوړ کړے دے هغه ته حکم کړے۔

﴿ **مثاله فی الشرعیات** ﴾ مثال د هغے په شرعیاتو کښې لکه دا قول د امام شافعی چه جاری کیدل د سود په کثیر کښې واجبوی جریان د سود په قلیل کښې په شان د ثمنو باندے نو حرامه ده بیعه د یو چونګ د طعام نه په دوه چونګو د طعام باندے ۔ یعنی اموال ربویه مقیس او علت مشترکه پدے دواړو کښې جریان الربا فی الکثیر ده نو هلته حکم یوجب جریان الربا فی القلیل نو دلته هم حکم یوجب جریان الربا فی القلیل شو۔

﴿ **قلنا لا بل جریان الربوٰی فی القلیل** ﴾ (مونږ ورته عکس کوو) وایو چه جریان د ربوا په قلیل کښې واجبوی جریان د ربا په کثیر کښې په شان د دراهم او دنانیرو چه په دراهم او دنانیرو کښې په لږ مقدار کښې ربوا وی نو په ډیر مقدار کښې به هم ربا وی والا فلا ۔ نو هغه چه کوم علت ګرځولے وو هغه مونږ حکم کړو او هغه چه کوم حکم ګرځولے وو هغه مونږ علت کړو۔

﴿ **وکذلک فی مسألة الملتجیٔ بالحرم** ﴾ دارنګه ده مسئله د ملتجی بالحرم یو سړی په حرم کښې امان واخستو نو حرمت د اتلاف النفس واجبوی حرمت د اتلاف الطرف هم ۔ یعنی چه یو سړے محترم النفس وی نو دے محترم الطرف هم دے په شان د ښکار چه د ښکار نفس هلاکول جائز نه دی په حرم کښې نو دده اطراف ځانګونه خپے کټ کول هم جائز نه دی نو دلته حرمت د اتلاف النفس علت ګرځولے شویدے دپاره د حرمت د اتلاف الطرف او دائے حکم دے۔

﴿ **قلنا بل حرمة اتلاف الطرف** ﴾ مونږ عکس کوو چه حرمت د اتلاف د طرف واجبوی حرمت د اتلاف النفس په شان د صید چه په اطرافو کښې حرمت وی نو په

نفس کښې به هم وی او که په اطرافو کښې حرمت نه وی نو په نفس کښې به هم حرمت نه وی نو حرمت د اتلاف د طرف علت شو دپاره د حرمت د اتلاف النفس او دا ئے حکم شو۔

﴿ **فاذا جعلت علته معلولا** ﴾ نو هرکله چه اوگرځولے شو علت د هغه معلول دپاره د دغه حکم نو دغه علت علت پاتے نه شو د وجے د محال والی د دے خبرے نه چه شی دے شی واحد هم علت دپاره د یو شی او هم معلول دپاره ددے شی - دیته قلب وائی او دا مشابه دے د قلب الاناء سره څکه پدے کښې اعلی اسفل گرځی او اسفل اعلیٰ گرځی علت مؤثر دے اعلیٰ دے او حکم اثر دے دا دون دے نو دلته اعلیٰ چه مؤثر وو یعنی علت وو هغه دون شو چه حکم شو یعنی اثر شو او کوم چه اثر وو دون وو د هغه نه علت جوړ شو مؤثر شو چه اعلیٰ دے لکه لوخے چه اولته کړی نو بره طرف ئے لاندے او لاندے ئے بره شی۔

﴿ **والنوع الثانی من القلب** ﴾

او قسم ثانی د قلب دا دے چه اوگرځوی معترض هغه وصف چه گرځولے دے هغے لره معلل علت د هغه شی دپاره چه دے پرے دعویٰ کوی د حکم نه علت د ضد د دغه حکم دپاره نو گرځی دا علت حجت د معترض دپاره پس د هغے نه چه دغه وصف علت د معلل دپاره وو یعنی چه معلل د خپل ترتب د حکم دپاره یو وصف علت گرځولے وی او ترتب د حکم ئے پرے کړے وی نو معترض د هغه هغه وصف راواخلی او د هغه د حکم ضد پرے ثابت کړی نو مخکښې دے وصف د معلل مدعیٰ ثابتوله او اوس د معترض مدعیٰ ثابتوی د هغه د مدعیٰ خلاف نو ددے وصف مخ مخکښې معلل طرف ته وو څکه دده د طرفه ئے معارضه کوله او اوس ئے مخ سائل طرف ته شو او شاه ئے معلل طرف ته شوه څکه د سائل د طرفه معارضه کوی د معلل سره مخکښې د هغه معاون او د سائل مخالف وو او اوس د سائل معاون او د معلل مخالف شو دا مشابه دے د قلب الجراب سره چه گوډے په استر کړی ظاهر طرف ئے باطن او باطن ئے ظاهر کړے یا مشابه دے د قلب الرداء سره۔

﴿ **مثاله صوم رمضان صوم فرض** ﴾

مثال د هغے لکه صوم د رمضان صوم فرض دے صوم فرض خصم علت گرځولے دے ﴿ **فیشترط التعین** ﴾ دا ئے حکم شو چه تعین پکښې شرط دے په شان د فضاء

حاصل دا شو چه قضاء مقیس علیه شو او صوم الاداء مقیس شو او علت مشترکه کون کل واحد منهما صوم فرض نو هلته کښې حکم دا وو چه تعین به شرط وی نو دلته به هم تعین شرط وی۔

﴿ قلنا لما کان الصوم فرضاً ﴾ مونږ عکس کوو او وایو چه هر کله چه دا صوم صوم فرض شو نو نه شرط کیږی پدے کښې تعین پس د هغے نه چه تعین کړی هغے لره شرع یو ورځ ۔ نو مونږ د هغه هغه علت راواخستو چه صوم الفرض دے او د هغه خلاف حکم مو پرے مرتب کړو هغه پرے تعین حکم مرتب کړے وو او مونږ پرے د عدم تعین حکم مرتب کړو ۔ دلته مونږ لږ زیادت اوکړو معلل د دے وصف سره بعد ما تعین الیوم له نه وو ذکر کړے او مونږ ورسره دا قید اولګوو ۔

﴿ واما العکس ﴾ هر چه دے اعتراض د عکس نو قصد کوو مونږ په دے سره دا چه معترض تمسك اونیسی په اصل (دلیل) د معلل باندے پداسے طریقے سره چه شی معلل محتاج مفارقے ته په مابین د اصل او د فرع کښې په مابین د مقیس علیه او د مقیس کښې۔

﴿ مثاله الحلی اعدت للابتذال ﴾ مثال د عکس لکه زیورات تیار کړے شویدی دپاره د استعمال نو نه واجبیږی پدے کښې زکات په شان د جامو د استعمال باندے۔ ﴿ قلنا لو کان الحلی بمنزلة الثیاب ﴾ مونږ ورته وایو کچرے کالی پشان د جامو وے نو بیا به زکات واجب نه وو په کالو د نارینه وکښې هم په شان د جامو د استعمال او حال دا دے چه ته قائل ئے په وجوب د زکات باندے په کالو د نارینه وکښې نو پکار ده چه ته قول اوکړے په عدم وجوب د زکات په کالو د نارینه وکښې هم په شان د ثیاب البذله ۔ یعنی دا ابتذال چه ته علت ګرځوے نو دا ستا صحیح نه دے ۔

﴿ واما فساد الوضع فالمراد به ﴾ هر چه دے اعتراض د فساد وضع نو مراد پدے سره دا دے چه دے اوګرځوی علت داسے وصف چه هغه ددے حکم سره مناسب نه وی ۔ ﴿ مثاله فی قولهم ﴾ مثال ددے پدے قول د شوافعو کښې په اسلام راوړلو د احد الزوجین کښې چه اختلاف د دین عارض شو په نکاح باندے نو دا فاسدوی نکاح لره په شان د ارتداد د احد الزوجین سره یعنی لکه ارتداد د احد الزوجین چه عارض شی په نکاح

باندے نو دا فاسدوی نکاح لره نو دارنګه اسلام راوړل د احد الزوجین هم نکاح فاسدوی .

﴿ **فانه جعل الاسلام علة لزوال الملک** ﴾ نو امام شافعي اسلام علت وګرځوه دپاره د زوال د ملك نکاحی مونږ ورته وایو چه اسلام پیژندل شوید ے عاصم د حقوقو د ملك دپاره نو نه کیږی دے مؤثر په زوال د ملك نکاحی کښ.

﴿ **وکذلک فی مسئلة طول الحرة** ﴾ دارنګه په مسئله د طاقت لرلو د حره کښ چه دا سړے حر دے قادر دے په نکاح د حره باندے نو ندے جائز ورلره نکاح کول د وینزے سره لکه څنګه چه دده په نکاح کښ حره وی نو د هغے دپاسه د امی سره دے نکاح نشی کولے مونږ ورته وایو چه دا وصف د کیدلو د سړی حر چه قادر دے دا تقاضا کوی د جواز د نکاح د امے سره (یعنی قدرت تقاضا د جواز النکاح کوی د عدم النکاح نه) .

﴿ **فلا یکون مؤثرا فی عدم النکاح** ﴾ نو نه شو دا وصف چه قدرت دے مؤثر په عدم د نکاح کښ.

﴿ **و اما النقض** ﴾ او هر چه اعتراض دے د مناقضے نو دا په شان د هغے دے چه اووئیل شی چه اودس طهارت دے نو شرط دے ددے دپاره نیت په شان د تیمم چه دا طهارت دے او ددے دپاره نیت شرط دے.

﴿ **فلنا ینتقض بغسل الثوب** ﴾ مونږ وایو چه دا طهارت چه ته علت ګرځوے نو دا ږے ناقض شو په وینځلو د جامے او د لوخی سره څکه هغه هم طهارت دے نو هلته خو ته نیت شرط نه وائے نو دے به مفارقه کوی چه په جامه او لوخی کښ ازاله ده د نجاست حقیقی نو پدے کښ نیت ته ضرورت نشته او په اودس کښ ازاله د نجاست حکمی ده نو دلته نیت ته ضرورت دے نو دے به مفارقه بین المقیس والمقیس علیه کوی او اعتراض د مفارقے خو کمزورے دے .

﴿ **واما المعارضة** ﴾ هر چه دے اعتراض د معارضه لکه چه وئیلے شی چه مسح رکن دے په اودس کښ نو سنت دے تثلیث ددے په شان د غسل مونږ وایو چه مسح رکن فی الوضوء دے نو ندے مسنون تثلیث د هغے په شان د موزے او د تیمم چه پدیکښ هم قائل ئے په عدم تثلیث باندے نو مونږ معارضه اوکړه اقامت الدلیل مو اوکړو علی خلاف

ما اقام علیه المعلل مو اوکړو چه مسح الرأس په مسح الخف او تیمم باندے قیاس کړه ۔ دارنګه وایو چه رکنیت ته علت د تثلیث ګرځوے دا صحیح نه دے ځکه چه زه به در اوښایم چه رکنیت به وی او تثلیث به نه وی لکه قیام، قرائت رکن فی الصلاة دے او تثلیث په کښې نشته دارنګه تثلیث به وی او رکنیت به نه وی لکه مضمضه او استنشاق کښې رکنیت د اودس نشته او تثلیث په کښې مسنون دے نو مونږ ده سره معارضه فی الوصف اوکړه ۔

فصل الحکم یتعلق بسببه ویثبت بعلته

موضوع د علم اصول کښې اختلاف وو محققین وائی فقط ادله دی بحث د احکامو طردا کیږی او جمهور اصولین وائی چه موضوع د علم الاصول ادله او احکامات دواړه دی۔ نو هرکله چه فارغ شو مصنف د ادله ونه نو شروع ئے اوکړه په احکاماتو کښې احکامات په دوه قسمه دی (۱) احکامات شرعیه (۲) ما یتعلق به احکام الشریعه چه دیته احکام وضعیه وئیلے شی ما یتعلق به الاحکام الشرعیه دا موقوف علیه دی د احکامات شرعیه و دپاره او دا په څلور قسمه دی ۔ سبب، علت، شرط، علامه ۔
سبب نفس مفضی الی الشئ وی، علت مؤثر وی، او شرط چه کله موجود شی نو حکم به ورسره موجودیږی او علامه نمونه او معرفه وی په شی باندے دے سره وجود د حکم نه راځی او اضافت د حکم هم دیته نه کیږی ۔
احکامات شرعیه دوه قسمه دی : عزیمت او رخصت ۔ عزیمت په څلور قسمه دے ۔ فرض، واجب، سنت، مستحب، او رخصت دوه قسمه دے : رخصت حقیقی او رخصت مجازی ۔ هر واحد د دوی نه په دوه دوه قسمه دے احق او اتم نو څلور انواع د عزیمت شول خو ما یتعلق به الاحکام الشرعیه دا موقوف علیه دی نو ځکه دا مقدم ذکر کوی ۔
الحکم یتعلق بسببه ترجمه : حکم متعلق په سبب پورے وی چه دا سبب مفضی شی دے حکم ته۔

﴿ **ویثبت بعلته** ﴾ او حکم ثابتیږی په علت سره که علت وی حکم به وی که علت نه وی حکم به هم نه وی ۔

﴿ **ویوجد عند شرطه** ﴾ او حکم موجودیږی په وخت د وجود د شرط کښ که شرط وی نو حکم به وی او که شرط نه وی موجود نو حکم به پرے نه موجودیږی ۔

﴿ **فالسبب ما یکون طریقاً الی الشئ** ﴾ سبب په لغت کښ هغه شی ته وئیلے کیږی چه هغه نفس مفضی الی الشئ وی په واسطے سره بیا سبب په څلور قسمه دے ۔ سبب حقیقی، سبب بمعنی العلت، سبب قائم مقام د علت او سبب مجازی۔

﴿ **کالطریق** ﴾ په شان د لارے، لارے ته هم سبب وئیلے کیږی ځکه چه دا سبب دے وصول د مقصد ته په واسطه د مشی سره نو د مقصود او د لارے ترمینځه واسطه مشی ده۔

﴿ **والحبل** ﴾ دارنګه رسئ سبب دے دپاره د وصول اوبو ته په واسطه د اویزاندولو سر چه رسئ کوهی ته اوویزانه کړے نو اوبه به پرے حاصل شی نو رسی سبب دے او اوبه حاصلول مقصود دے او واسطه پکښ اویزاندول د رسی شو کوهی ته۔

﴿ **فعلی هذا کل ما کان طریقاً الی الحکم** ﴾ ترجمه : نو بناء پدے باندے هر هغه شے چه هغه مفضی کیږی حکم ته په واسطے سره نو هغه مسمیٰ کولے شی په سبب سره دپاره د حکم په شرع کښ او مسمی کولے شی واسطه په علت سره ۔

﴿ **مثاله فتح باب الاصطبل** ﴾ مثال د سبب لکه کولاوول د دروازے د غوجلے یا کولاوول د دروازے د پنجرے او دارنګه کولاوول د قید د عبد نو هر واحد د دوی نه سبب دے دپاره د هلاکت په واسطے سره چه موجودیږی د دابی او مارغه او عبد نه ۔ چه دا دروازه کولاه شوه دابه د اصطبل نه وځی او مرغی د پنجرے نه الوځی او غلام تختتی نو هلاك شی نو فعل د فاعل مختار پکښ واسطه ده نو صاحب شرح وقایه ذکر کړیدی چه شیخین وائی چه پدے صورتونو کښ ضمان په دروازه کولاوونکی باندے نه لازمیږی ځکه چه په مینځ کښ پکښ فعل د فاعل مختار حائل واقع شو ئو امام محمد وائی چه ضمان پرے شته ځکه چه دروازه کولاو شوه نو دابه خود بخود اوځی او مرغی الوزی ځکه د دابے

خلقت فطرتا په خروج او د مارغه خلقت فطرتا په طیران باندے شویدے او دارنګه د عبد
نطرت په وتلو شویدے نو ګویا چه دے ولره هلاکونکے شو نو ضمان به پرے راځی ۔
﴿ والسبب مع العلة اذا اجتمعا ﴾ او سبب سره د علت نه کله چه په یو ځائے
کښ جمع شی نو نسبت د حکم به علت ته کیږی نه سبب ته (ځکه سبب موثر دے) مګر
که اضافت علت ته متعذر شو نو بیا هلته به مونږ نسبت سبب ته کوو (مثال ددے لکه
سړی په عامه لاره کښ کوهے اوکنی نو ده ازاله د مانع اوکړه او ازاله د مانع شرط وی نو دا
سړے صاحب شرط شو او ثقل د سړی طبعی دا علت دے کچرے سړی کښ ثقل نه وے نو
دے کوهی ته نه شو غورځیدے اګرکه دا کوهی په لاره کښ وے که یو تن ئے کوهی ته
غورځوی نو، نه غورځیږی نو ګویا دا ثقل د سړی علت دے د هلاکیدو او دا یو امر طبعی
دے نو دیته مونږ نسبت د هلاکت نه کوو بلکه صاحب الشرط ته به نسبت د هلاکت کوو.
نو وجوب الضمان به د کوهی په کنستونکی باندے راځی ۔ دلته علت صلاحیت د ترتب
د حکم نه لری نو مونږ نسبت سبب ته اوکړو او کچرے علت صلاحیت د ترتب د حکم لرلو
نو هلته به مونږ نسبت د حکم علت ته کوو نه سبب ته۔
لیکن که کوهے ده په خپله مملوکه زمکه کښ کنستے وو او سړے ورته اوغورځیدو نو
وجوب الضمان په حافر نشته دارنګه که په عامه لاره کښ ئے کوهے کنستے دے خو چا ورته د
قصد نه ځان ارتاو کړو نو هم وجوب الضمان په حافر باندے نشته دا خود کشی کونکے دے۔
دارنګه شرط او علت چه دواړه په یو محل کښ جمع شی نو مونږ به نسبت د حکم علت ته
کوو خو کچرے علت صلاحیت د ترتب د حکم نه لرلو نو مونږ به نسبت شرط ته کوو۔
﴿وعلی هذا قال اصحابنا ﴾ او بناء پدے قاعده چه نسبت به علت ته کیدے شی
وئیلی دی اصحابو زمونږ کله چه سړی چاړه ماشوم ته ورکړه او هغه پرے ځان اووژلو نو
حکم دا دے چه دیت د قتل به په دے ورکونکی د چاړه باندے نه لازمیږی ځکه قتل بناء
دے په دفع د سکین باندے او دا سبب د قتل دے نو دا قتل به مضاف کیږی فعل د صبی ته
ده په اختیار باندے او دا صالح دے دپاره د اضافت د حکم نو نسبت به صاحب السبب ته
نه کیږی۔ ﴿ ولو سقط من ید الصبی ﴾ کچرے چاړه د لاس د صبی نه ارتاو شوه او

دائے زخمي کړو نو دافع به ضامن وي د ضمان ځکه سقوط د سکين فعل اختياري نه دے نو دلته هلاك حاصل په مباشرت د فعل د صبي سره نه شو نو مونږ به نسبت صاحب السبب ته کوو چه دافع د سکين دے۔

﴿ ولو حمل الصبي على دابة ﴾ کچرے سړي ماشوم په دابه باندے سور کړو نو دا دابه ئے روانه کړه نو دا دابه خي او کس طرف ته مايله شوه او صبي ترينه ارتاو شو او مړ شو نو حکم دا دے چه پدے حامل به وجوب الضمان نه وي اګرکه دا حمل سبب دے دپاره د تلف خو دلته سير د دابے مضاف دے سائق ته خو هر کله چه دابے ميلان اوکړو يمنةً او يسرةً نو مينځ کښې پکښې انقطاع راغله فعل د دابے پکښې حايل شو او حديث کښې راځي چه العجماء جرحها جبار ځاروے چه يو زخم اوکړي نو هغه هدر وي په هغے وجوب الضمان نه وي نو دلته هم وجوب الضمان پدے حامل باندے نشته۔

﴿ ولو دل انساناً على مال الغير ﴾ ترجمه : که يو سړي دلالت اوکړو په مال د غير باندے نو هغه پټ کړو او يائے دلالت اوکړو په نفس د هغه باندے چه ورشه هغه سړے اووژنه نو هغه اووژلو او يا يو سړے قطاع الطريق ته قافله اوخودله چه هلته ده او ډاکه پرے اوکړه نو هغه پرے قطع الطريق اوکړو نو حکم دا دے چه وجوب الضمان په دلالت کونکي باندے نه وي ځکه دال صاحب السبب دے او سرقه د سارق او قتل د قاتل دا ورلره علت دے دلته علت صلاحيت د ترتب د حکم لري ځکه فعل د فاعل مختار دے چه سرقه د سارق او قتل د قاتل او قطع د قاطع الطريق ده دا صلاحيت لري نو تلف به مضاف کيږي دے ته نه دال ته نو وجوب الضمان به په سارق، قاتل او قاطع الطريق باندے راځي ۔

﴿ وهذا بخلاف المودع ﴾ دا عبارت دفع د تو هم ده چه ته وائے علت او سبب په يوځائے کښې جمع شي او علت صلاحيت د ترتب د حکم لري نو نسبت به سبب ته نه کيږي بلکه علت ته به کيږي نو بناء پدے چه يو سړے د چا سره امانت کيدي او دا مودع چا ته دلالت اوکړي چه په فلانکي صندوق کښې روپي دي سرقه ئے کړه نو سارق سرقه کړي نو پکار ده چه په مودع باندے ضمان رانشي ځکه دے صاحب السبب دے او مينځ کښې پکښې فعل د فاعل مختار واقع شو چه هغه سرقه د سارق ده او دا علت دے صلاحيت

د ترتب د حکم لری یا محرم سرے دے بل سری ته نے دلالت اوکړو په ښکار د حرم او هغه اووژلو نو دا محرم دال دے صاحب السبب دے او مینځ کښ پکښ فعل د فاعل مختار راغلو چه قتل د قاتل دے او دا علت دے صلاحیت د ترتب د حکم لری نو پکار ده چه پدے محرم باندے وجوب الضمان پدے محرم رانشی او حال دا دے چه پدے دواړو صورتونو کښ وجوب الضمان به مودع او په محرم باندے دے نو دے جواب کوی چه وجوب الضمان په مودَع باندے ددے وجے نه دے چه پده باندے حفظ د مال واجب وو او هغه د فوت کړو ځکه ده خو حفاظت د مال د غیر کوه نو د کم شی چه ده په خپل ځان التزام کړے وو هغه ترے فوت شو په دلالت کولو باندے غیر ته د سرقے ددے حفظ د فوات د وجے په ده ضمان دے نه دلالت د وجے دارنګه محرم احرام اوتړلو نو ګویا د التزام علی نفسه کړیدے چه څه به دلالت په ښکار نه کوم نو په محظور (ممنوع) د اتیان د احرام د وجے په ده وجوب الضمان دے د دلالت د وجے نه ندے دا پشان د مسه کولو د خوشبوئی او د اغوستو د ګنډلو جامے دے چه دا د محظوراتو د احرام نه دی نو که دائے استعمال کړو په ده ضمان راځی۔

﴿الا ان الجناية تقرر بحقيقة القتل﴾ فرق صرف دومره دے چه جنایت متقرر کیږی په صورت د احرام کښ نو دا په حقیقی قتل سره کیږی چه هغه مدلول ښکار د حرم قتل کړی او هر چه قبل د قتل نه دے چه دال لاښکار قتل کړے نه دے نو د هغے دپاره حکم د سره شته دے نه د وجے د جواز د ارتفاع د اثر د جنایت نه کیدے شی چه دا اثر دے پورته نشی چه کوم ده دلالت کړیدے په منزله د جوړوالی باندے په باب د جراحت کښ جارح چه مجروح زخمی کړی نو په ده باندے به وجوب الضمان هله وی چه دا جراحت دده سرایت اوکړی موت ته او که سرایت ئے موت ته اونکړو بلکه دے جوړ شو او اثر د جرحے ختم شو نو پدے جارح باندے بیا وجوب الضمان نشته۔

﴿وقد يكون السبب بمعنى العلة﴾ او کله سبب په معنی د علت سره وی نو اضافت د حکم به کیږی دے سبب ته ځکه دلته سبب بمعنی العلة شه مؤثر شو۔

﴿مثاله فيما يثبت العلة﴾ مثال ددے دابه په هغه ځائے کښ وی چه هلته علت په سبب سره ثابت وی نو سبب بمعنی العلت شو ځکه هر کله چه علت ثابت شو په سبب

سره نو کیږی سبب په معنی د علة العلة کښ (نو مؤثر شو) نو هلته په اضافت د حکم سبب ته کیږی۔

﴿ ولهذا ﴾ او ددے وجے نه چه سبب بمعنی العلة شو او مؤثر شو او نسبت د حکم به ورته کیږی وایو مونږ چه یو سړے دابه روانه کړیده نو دے دابے د چا څه هلاك کړل نو حکم دا دے چه وجوب الضمان په سائق وی څکه دا په سبب د ید دده سره اصابت د دابے شویدے دا په سوق د سائق سره شویدے نو گویا چه دا معنی د علت سره شو نو وجوب الضمان په ده شو۔

﴿ والشاهد ﴾ دارنگه چه شاهد په خپلے گواهی سره هلاك کړی مال د چا لره نو بیا ظاهر شی بطلان د شهادت دده په رجوع سره د شهادت نه نو حکم دا دے چه شاهد به ضامن وی څکه پدے مخکښ مسئله کښ سیر د دابے منسوب دے سوق د سائق ته او دارنگه قضاء د قاضی پدے دویمه مسئله کښ منسوب ده شهادت د شاهد ته څکه ددے قاضی دپاره جائز نه دی ترك د قضاء پس د ظهور د حق نه په شهادت د عادل سره چه د قاضی سره وو نو دا قاضی په شان د مجبور اوگرځیدو پدیکښ څکه دده دپاره بله چاره نشته سوا د قضاء نه په شهادت د عادل دا په شان د بهیمے مجبور اوگرځیدو لکه بهیمه چه مجبوره ده په فعل د سائق سره۔

﴿ ثم السبب قد یقوم مقام العلة ﴾ کله سبب قائمیږی په مقام د سبب باندے په وخت د تعذر د اطلاع باندے په حقیقی علت باندے دا مونږ څکه کړو چه آسانتیا د امر راشی په مکلف باندے او ساقطیږی پدے اقامت د سبب سره مقام العلت معتبرول د حقیقی علت څکه شی چه قائم شی په مقام د غیر باندے نو هغه حکم د غیر اخلی نو حقیقی علت ته به مونږ نه گورو بلکه دے سبب قائم مقام د علت ته به گورو۔

﴿ ویدار الحکم علی السبب ﴾ او حکم به مرتب کیږی پدے سبب باندے که سبب وی نو حکم به وی او که سبب نه وی نو حکم به نه وی۔

﴿ مثاله فی الشرعیات ﴾ مثال ددے په شرعیاتو کښ لکه کامل خوب چه مسضطجعاً یا مستندا وی نو هرکله چه دا نوم قائم شو په مقام د حرکت باندے نو ساقط

نو د حقیقی حدث معتبرول یو سرے دیوال ته ډډه لګولے ده او بل ئے خان ته کینولے دے چه که خما نه ریح اووتو نو ما ته به اووائی چه اودس اوکړم او دے متوضی دے او ملګری ورته ناست دے او ده شو بیا راویښ شو ملګری ورته اووئیل چه خروج درنه ندے شوے نو ده اودس ما ته دے دلته مونږ حقیقی علت نه ګورو بلکه نوم قائم دے په مقام د حدث باندے حقیقی حدث ته به مونږ نه ګورو ـ

﴿ ویدار الانتقاض ﴾ نو نقض الوضوء به مرتب وی په کمال نوم باندے.

﴿وکذلک الخلوة الصحیحة ﴾ او دارنګه خلوت صحیحه چه هر کله قائم کړے شویدے په مقام د وطی باندے نو ساقط کړے شویدے اعتبار د حقیقت الوطی نو مرتب کیږی به حکم په صحت د خلوت باندے په حق د کمال د مهر کښی، خلوت صحیحه هغے ته وئیلے کیږی چه مانع حسی او مانع شرعی او مانع طبعی موجود نه وی لکه ښځه روژه نه ده سرے روژه نه دے احرام د حج ئے ندے تړلے دا مانع شرعی دے حائضه نه ده دا مانع حسی او طبعی دے نو چه داسے خلوت د سړی د ښځے سره راغلو نو دا به مونږ معتبرو او حکم به پرے مرتب کوو په حق د کمال د مهر کښی اګرکه دے خاوند ورسره حقیقی جماع نه ده کړے خو خلوت ئے ورسره کړیدے او طلاق ئے ولره ورکړو نو مکمل مهر به لازمیږی په خاوند باندے او دارنګه دا ښځه به عدت تیروی ددے خاوند نه ـ

﴿وکذلک السفر لما اقیم مقام المشقة ﴾

او دارنګه سفر چه هر کله قائم شو په مقام د مشقت باندے په حق د رخصت کښی (ځکه اصل کښی علت د رخصت دپاره مشقت دے خو مشقت یو امر خفی دے نو دا ظاهری سبب چه سفر دے قائم شو په مقام د مشقت باندے نو احکام به په مطلق سفر باندے مرتب کیږی مشقت لره به اعتبار نه وی ـ

﴿ حتی ان السلطان لو طاف ﴾

ترجمه : تردے چه بادشاه وقت کچرے چکر لګوی په اطرافو د مملکت کښی چه قصد کوی پدے باندے مقدار د سفر چه درے شپے او درے ورځے دی چه (٤٨) میله دی او (٧٧) کلومیټر ترینه جوړیږی ـ

﴿ كان له الرخصة ﴾ نو شته ددے حاکم وقت دپاره رخصت په افطار د صوم کښې
او په قصر د صلاة کښې-

﴿ وقد يسمى غير السبب سبباً ﴾ دا څلورمه نوعه ده کله کله غیر سبب
مسمى کولے شي په سبب سره مجازاً لکه يمين مسمى کولے شي سبب دپاره د کفارے
څکه يمين اصل کښې سبب دے دپاره د بر (يعنې برى كيدو) چه کله فوات دبر راشي نو
کفاره پرے مرتب شي-


﴿ وانها ليست بسبب في الحقيقة ﴾ او يمين په حقيقت کښې سبب د کفارے
ندے څکه سبب منافي نه وي د وجود د مسبب سره کله چه سبب متحقق شي نو مسبب
هم موجوديږي او دلته يمين د وجوب د کفارے سره منافي دے څکه يمين منعقد شويدے
دپاره د بر نه د کفارے دپاره-

﴿ فلان الكفارة انما تجب ﴾ څکه کفاره واجبيږي په حنث سره او کله چه دے
حانث شو نو پدے حنث سره انتهاء د يمين راځي-

﴿ وكذلك تعليق الحكم بالشرط ﴾

دارنګه په شان د يمين معلق کول د حکم دي په يو شرط پورے لکه طلاق چه ئے معلق
کړه په يو شرط پورے او وے وئيل : ان دخلت لدار فانت طالق او يائے عتاق معلق کړو په يو
شرط پورے چه ان دخلت الدار فانت حرئے اووئيل-

﴿ يسمى سبباً مجازاً ﴾ دے تعليق ته چه سبب وئيلے کيږي نو دا مجازا ويلے
کيږي څکه دا تعليق د حکم په حقيقت کښې سبب نه دے څکه حکم ثابتيږي عند الشرط
او تعليق انتهاء ته رسي په وجود د شرط سره کله چه شرط موجود شو نو تعليق انتهاء ته
اورسيدو - ﴿ فلا يكون سبباً ﴾ نو دے نه شو سبب سره د وجود د منافات نه په مابين
ددے دواړو کښې ديته چه مونږ سبب وايو نو سبب مجازاً دے انتهى -



﴿ فصل الاحکام الشرعیة متعلقة باسبابها ﴾

دا نفس معرفات دی اصل کښې احکامات شرعیه و پورې متعلق دی نو هغه څلور اشیاء دی: سبب، علت، شرط او علامه دی.

ترجمه: احکامات شرعیه متعلق کیږی د خپلو اسبابو سره اصل کښې ددې وجوب راځی په ایجاب د الله سره او ایجاب د الله زمونږ نه غائب دے نو مونږ د احکامات شرعیه و دوجوب نسبت اسبابو ته کوو۔

﴿ وذلک ﴾ او دا خبره ثابته ده ځکه چه وجوب د الله زمونږ نه غائب دے نو لابدی شوه د علامے نه چه اوپیژنی په هغے سره عبد وجوب د حکم او پدے اعتبار سره اضافت کړے شویدے د احکامو اسبابو ته نو سبب دپاره د وجوب د صلاة وقت دے په دلیل ددے سره چه خطاب په اداء د صلوٰة سره نه وی متوجه مخکښې د دخول د وقت نه خطاب د شارع د طرفه چه متوجه کیږی نو پس د دخول د وقت نه متوجه کیږی او خطاب مثبت دے دپاره د وجوب اداء دپاره او معرف دے دپاره د عبد، د عبد سبب د وجوب مخکښې ددینه ۔﴿ وهذا کقولنا ﴾ دا خو د دایے مثال شو لکه دا قول زمونږ چه یو سړے مشتری ته اووائی چه ثمن د مبیعے اداکړه او دارنګه ښځه خاوند ته اووائی چه ته اداء کړه نفقه د منکوحے نو ثمن د مبیعے په عقد البیع سره واجب شویدی او نفقه د منکوحے په نکاح سره واجب شویدے او دا اړ امر نفس علامه معرفه قدرے ده ۔

﴿ ولا موجود یعرفه العبد ههنا ﴾ او نشته موجود دلته بل شے چه هغه معرف شی دپاره د عبد مګر دخول د وقت دے نو ښکاره شوه چه وجوب ثابتیږی په دخول د وقت سره۔ ﴿ ولان الوجوب ثابت علی من لا یتناوله الخطاب ﴾ او بل دا وجوب ثابت دے په هغه چا باندے چه ندے شامل هغه ته خطاب د شارع لکه اوده او بے هوشه سړے وجوب پرے شته دے او اداء پرے نشته خطاب ورته متوجه نه دے لیکن چه وقت د هغے په حق کښې راغلے او هغوی بیدار شول نو په هغه وخت کښې به مونځ کوی۔

﴿ولا وجوب قبل الوقت﴾ او وجوب په ده باندے قبل د وقت نه نشته نو شو وجوب ثابت په دخول د وقت سره او پدے سره ظاهره شوه چه جزء اول به سبب وی دپاره د وجوب بیا پس ددینه دوه طریقے دی یو نقل د سببیت دے د جزء اول نه جزء ثانی ته (که په اول جزء کښې ئے شروع اوکړه په مانځه کښې نو دغه سبب متصله ورلره سبب شو او که په هغے کښې ئے شروع اونکړه بلکه په دویم جزء کښې ئے شروع اوکړه نو هغه به ورلره سبب وی او په هغے کښې شروع اونکړه په دریم جزء کښې ئے شروع اوکړه نو سبب ده لره مونږ هغه وایو او که پدے کښې ئے شروع اونکړه په څلورم جزء کښې ئے شروع اوکړه نو هغه به ورله مونږ سبب وایو نو دا سببیت به دیو جزء نه بل ته رانقل کیږی او د بل نه به بل ته رانقل کیږی -

سوال: تر اخیره پورے که څوك اعتراض اوکړی چه دا خو نقل دے په اعراضو کښې او نقل په اعراضو کښې خو صحیح نه دے نقل خو په جواهرو کښې کیږی ؟ -

جواب: چه دا اعراض په حکم د جواهرو کښې دی په احکامات شرعیه و کښې نو ځکه نقل ددے دیو جزء نه بل جزء ته صحیح کیږی -

﴿**فيتقرر الوجوب حينئذ**﴾ نو متقرر به شی وجوب په دغه وخت کښې او معتبریږی به حال د عبد په دغه جزء کښې - که پدے آخری جزء کښې دے اهل وو نو په ده به وجوب راشی او که نه وو نو په ده به وجوب نه راځی -

﴿**وصفة ذلك الجزء**﴾ او دغه رنګه معتبرو به مونږ صفت د دغه جزء -

﴿**وبيان اعتبار حال العبد**﴾ او بیان د حال د بنده به دا وی کچرے وی دے صبی په اول وقت کښې او بالغ اوګرځیدو په آخری وقت کښې-

﴿**او كان كافراً**﴾ ترجمه: او یا دے کافر وو په اول جزء کښې بیا مسلمان شو په آخر جزء کښې او یا زنانه وه چه په اول وقت کښې حائضه یا نفاسه وه او پاکه شوه په اخیر وقت کښې نو واجب دے پرے مونځ او پدے باندے بناء دی ټول صورتونه د حدوث د اهلیت په اخیری وقت کښې- ﴿**وعلى العكس**﴾ او عکس به داسے وی پدے شان سره چه راپیدا شی حیض یا نفاس یا جنون راګیرونکے (چه زیات وی په یوه ورځ او شپه)-

﴿ **او اغماء ممتد** ﴾ او یا بے هوشي وي ممتده پدے جزء کښې نو ساقط شو ددے نه مونځ ځکه اهلیت پاتے نه شو۔

﴿ **او کان مسافراً فی اول الوقت** ﴾ ترجمه : که دا عبد چرته مسافر وو په اول وقت کښې او بیا مقیم شو په آخري وقت کښې نو څلور رکعته مونځ به کوي ځکه اعتبار اخیري وقت لره دے او کچرے په اول د وقت کښې مقیم وو او مسافر شو په اخیري وقت کښې نو دے به دوه رکعته مونځ کوي۔

﴿ **وبیان اعتبار صفة ذلک الجزء** ﴾ او بیان د معتبرولو ددے جزء دا دے چه دے جزء متصله ته به مونږ ګورو کچرے کامل وو نو مقرر شوه وظیفه دده په ذمه باندے کامله نو دے به نه وځي د ذمه وارئ نه په اداء کولو د صلاة سره په اوقات مکروهه وکښې۔

﴿ **ومثاله فیما یقال** ﴾ او مثال د هغې موجود دے په هغې قول کښې چه وئیلے شي چه اخیري وقت د سهر کامل دے او وقت فاسد ګرځي په طلوع الشمس سره او دا پس د خروج د وقت نه وي نو متقرر شو واجب په ذمه د مکلف باندے خو په وصف د کمال سره نو کله چه نمر راوختو په مینځ د مانځه کښې نو باطل شو فرض ځکه اداء کما وجب رانغله ځکه ممکن ندے دده دپاره اتمام د مانځه مګر په وصف د نقصان سره په اعتبار د وقت سره۔

﴿ **ولو کان ذلک الجزء ناقصاً** ﴾ او که چرے دا وقت ناقص وو لکه په مونځ د مازیګر کښې ځکه آخر وقت، وقت د سور والي د نمر وي نو په دغه وخت کښې وقت فاسد دے نو وظیفه متقرره شوه په صفت د نقصان سره (یعني وجوب ناقص پرے راغلو) نو ددے وجے نه واجب شو قول په جواز د صلاة باندے په وخت د سور والي د نمر کښې سره د فساد د وقت نه ـ نو دا اداء کما وجب شوله لیکن دا قول د فقهاو مخالف دے ددے حدیث نه چه نبي علیه السلام وائي : من ادرك ركعةً من الفجر قبل ان تطلع الشمس فقد اردكها ومن ادرك ركعةً من العصر قبل ان تغرب الشمس فقد ادرك العصر ۔

بعض احناف ددے نه جواب کوي چه دلته مراد د ادراك نه ادراك د فضیلة الجماعة دے په فساد او عدم فساد کښې خبره نه ده خو چه یو رکعت ئے لاندے کړو ګویا که فضیلت د جماعت ورته میلاؤ شو۔ لیکن دا خبره لره بعیده ده ځکه چه یو حدیث کښې دا راځي

من ادرك ركعةً قبل طلوع الشمس فقد ادرك الفجر ۔ ومن ادرك ركعةً من العصر قبل الغروب فقد ادرك العصر ۔ نو بناء په پدے بيا پكار ده چه ده سهر او د مازيگر په مانځه كښې دے فرق رانشى لكه ځنگه چه د مازيگر مونځ اوشو نو پكار ده چه د سهر مونځ هم اوشى تاسو د سهر په مونځ كښې قول د فساد ولے كوئ نو احناف فقهاء ددے دپاره دا تاويل كوى چه دا حديث تقاضا د جواز كوى او كوم حديث كښې چه نهى راغلے ده د مونځ كولو نه په اوقات مكروهه كښې نو هغه تقاضا كوى د منعے نو اذا تعارضا تساقطا دواړه ساقط شو نو بيا به مونږ صيرورت كوو قياس ته نو تقاضا د قياس په فجر كښې د فساد ده او په عصر كښې د عدم فساد ده نو ځكه فقهاؤ قول اوكړو په فجر كښې د فساد او په عصر كښې د عدم فساد۔

ليكن اصل كښې په حديث كښې نهى ده د صلاة نه په اوقات مكروهه كښې، نفى نده او تعارض به هله راتلو چه دواړه نفى وے يا نهى وے نو د متاخرينو رائے دا ده لكه مفتى رشيد احمد او تقى عثمانى وغيره چه د سهر ركعت ئے قبل طلوع الشمس لاندے كړو نو مونځ ندے فاسد او ديته ميلان شاه انور شاه كشميرى هم كړيدے مولانا اشرف على صاحب هم ددے نه جوابو نه كړيدى او تعارض ئے ثابت كړيدے۔

﴿ والطريق الثانى ان يجعل كل جزء من اجزاء الوقت ﴾

دويمه طريقه دا ده چه اوگرځولے شى هر جزء د اجزاو د وقت نه سبب نه په طريقه د انتقال سره چه اول كښې سببيت وو هغه منتقل شو دويم جزء ته او دريم جزء ته كما مرّ يعنى داسے نه ده بلكه هر جزء سبب دے ۔

﴿ فان القول به قول بابطال السببية ﴾ ځكه قول كول پدے انتقال سره قول دے په ابطال د سببيت سره چه ثابت دے په شرع سره دے مخكښې جزء د وقت دپاره سببيت ثابت شوے وو شرعا او تاسو چه ئے د هغے نه نقل كوئ جزء ثانى ته نو د هغے سببيت باطله وى نو قول په ابطال د سببيت شرع سره راغلو او دا باطل دے۔

﴿ ولا يلزم على هذا ﴾ دا دفع د وهم ده چه پدے اعتراض وارد شو چه ته انتقال د سببيت باندے قول نه كوے نو دا خو تزاحم راغلے د اسبابو په مسبب واحده باندے ځكه

جزء اول ورلره هم سبب شو او جزء ثانی ولره هم سبب شو او جزء ثالث ولره هم سبب شو دا خو توارد د اسبابو متعدده و دے په مسبب واحده باندے دا خو جائز ندے ۔ مصنف ددے جواب کوی : **ولا یلزم** : او نه لازمیږی پدے باندے تضاعف د واجبو په ده باندے ځکه دا جزء ثانی ثابتوی عین هغه شے چه کوم جزء اول ثابتوی نو شو دا د باب د ترادف د عللو نه او د کثرت د شهودو نه په باب د خصوماتو کښ۔

گویا دا داسے شو چه د یو شی دپاره علتونه ډیر شی او هغه یو معلول ثابتوی یا په یوه حادثه کښ گواهان ډیر شی اسباب متعدد شول خو مسبب یو دے۔

﴿ **وسبب وجوب الصوم** ﴾ او سبب د وجوب د روژے هغه حاضریدل د میاشت د رمضان دے د وجے د توجه د خطاب نه د طرفه د شارع نه په وخت د شهود د شهر رمضان کښ او اضافت د صوم دے میاشتے ته کیږی صوم رمضان وئیلے کیږی ۔

دارنگه سبب د وجوب الزکوٰة دپاره مالك کیدل د نصاب دی هغه نصاب چه زیاتونکے وی په تجارت سره حقیقةً یا حکماً چه په هغے حولان د حول اوشو باعتبار د وجوب د سبب سره جائز دے تعجیل په باب د اداء کښ چه دے د نصاب مالك دے او لا حولان د حول ندے شوے او زکات ئے اداء کړو نو دا اداء د مسبب بعد السبب ده ۔

﴿ **وسبب وجوب حج البیت** ﴾ دارنگه سبب د وجوب د حج دپاره بیت الله دے د وجے د اضافت د حج نه بیت الله ته حج البیت وئیلے شی او عدم د تکرار د وظیفے ولره علامه ده په تول عمر کښ یو ځل ځکه بیت الله واحد دے نو ځکه حج هم په ده مکرر فرض ندے۔

﴿ **وعلی هذا لو حج قبل وجود الاستطاعة** ﴾ او دے وجے نه کچرے ده حج اوکړو مخکښ د وجود د استطاعت نه نو دا به قائم شی د حج فرضی نه د وجے د وجود د سبب نه ځکه سبب خو دده په حق کښ متحقق وو۔

﴿ **وبه فارق اداء الزکوة قبل وجود النصاب** ﴾ او پدے سره جدا شو اداکول د زکاة مخکښ د وجوب د زکاة نه د وجے د عدم د سبب نه، چه دے لا مالك نصاب ندے او زکاة ئے اداء کړو او بیا روسته مالك د نصاب شو نو دا مخکښ اداء د زکوٰة نده کافی بیا به زکاة ورکوی ځکه دا اداء د مسبب قبل السبب راغلے ده۔

﴿ وسبب وجوب صدقة الفطر ﴾ ترجمه: او سبب دپاره د وجوب د صدقة الفطر راس يمونه دے چه دے په هغے باندے تصرف كوى او په اعتبار د سبب سره نو جائز دے تعجيل په صدقة الفطر سره چه راس يمونه موجود وى تردے چه جائز ده اداء د صدقة الفطر مخكښ د يوم الفطر نه يوم الفطر خو ورلره شرط دے ددينه مخكښ هم سرسايه وركولے شى۔

﴿ وسبب وجوب العشر ﴾ او سبب د وجوب العشر هغه زمكى دى چه په هغے كښ نمو راځى په حقيقى فصل سره او سبب د وجوب الخراج دپاره هغه زمكى دى چه كومے صالحے وى دپاره د زراعت نو دا نامى شوے حكماً۔

﴿ وسبب وجوب الوضوء الصلاة ﴾ ترجمه: او سبب د وجوب د اودس دپاره د مونځ دے په نزد د بعض علماؤ باندے چه دا مذهب د جمهورو دے۔

﴿ ولهذا وجب الوضوء ﴾ او ددے وجے نه اودس واجب دے په هغه چا باندے چه په هغه باندے مونځ واجب وى او ندے واجب اودس په هغه چا باندے چه نه وى مونځ په هغه باندے۔ او بعض علماؤ وئيلى دى چه سبب دپاره د وجوب د اودس بے اودسى ده نو چه حدث وى نو دے به اودس كوى او كه حدث نه وى نو اودس به نه كوى او وجوب الصلاة ورله شرط دے او ددے قول روايت كړے شويدے د امام محمدؒ نه۔

﴿ وسبب وجوب الغسل الحيض ﴾ او سبب دپاره د وجوب د غسل حيض دے او نفاس دے او جنابت دے نو چه دا اسباب موجود وى نو غسل واجب دے او كه دا اسباب نوى موجود نو غسل ندے واجب حاصل دا شو چه ددے احكامو دپاره اسباب علامے معرفے دى اصل كښ سبب د وجوب خطاب د الله تعالى دے او هغه غائب دے زمونږ نه نو دا ظاهرى سبب قائم شو په مقام د سبب خفيه باندے نو دے ظاهرى علامو ته مونږ اسباب د وجوب اووئيل د نفس وجوب دپاره او وجوب اداء خو په هغه خطاب سره راځى چه د شارع د طرفه كوم متوجه دے۔

﴿فصل قال القاضی الامام ابوزید : الموانع اربعة اقسام﴾

اوس مصنف موانع بیانوی بالتبع ده موانع اربعه ذکر کړیدی خو ده د اختصار نه کار اخستې دے موانع اصل کښې خمسه دی صاحب نور الانوار پنځه موانع ذکر کړیدی۔
ترجمه: قاضی امام ابوزید وئیلی دی چه موانع څلور قسمه دی یو هغه مانع دے چه منع کوی انعقاد د علت او بل هغه مانع دے چه منع کوی تمام د علت او دریم هغه مانع دے چه منع کوی ابتداء د حکم، ابتداء د حکم ثبوت د ملك دے نو هغه به منع کوی چه شرط وغیره پکښې اولګولے شی۔
﴿ومانع یمنع دوامه﴾ او څلورم هغه مانع دے چه منع کوی دوام د حکم۔
﴿ونظیر الاول﴾ نظیر او مثال عندِ الاصولین الفاظ مترادفه او معنیٰ ئے واحده ده او په اصطلاح د صرافو کښې نظیر عام دے او مثال خاص دے ځکه مثال به د جزئیاتو د ممثل نه وی او نظیر عام دے چه د جزئیاتو د ممثل نه وی او که نه وی وکل متکلم یتکلم باصطلاحه۔
ترجمه: او مثال د اول دپاره لکه بیع د حرّ یا لکه بیع د مرداری او بیع د وینې نو عدم محلیت منع کوی تصرف لره چه بیع ده چه علت ددے دپاره د افادے د حکم چه ملکیت دے ځکه چه حر، میته، او دم محل دپاره د بیعے ندی ځکه د بیع تعریف دا دے چه هو مبادلة المال بالمال بالتراضی او دا اشیاء خو مال ندے ځکه مال هغے ته وائی چه یمیل الیه الطبائع وی او ما یدخر لوقت الحاجة وی نو دا خو مال ندے تقوّم پکښې وی او که نه وی هغه بیله خبره ده د هغے سره زمونږ کار نشته خو پدے اشیاؤ کښې هډو مالیت نشته نو عدم محلیت (مالیت) منع کوی انعقاد د بیعے چه هغه علت دپاره د ملك دے۔
﴿وعلی هذا سائر التعلیقات عندنا﴾ او بناء پدے تول تعلیقات دی په نزد زمونږ باندے ځکه چه تعلیق د حکم چه په یو شرط پورے اوشی نو دا مانع وی د انعقاد د تصرف نه علت مخکښې د وجود د شرط نه بناء په هغے چه مونږ ذکر کړیدی مخکښې لکه

انت طالق سری اووئیل نو دا سبب دے د طلاق تنجیزی دپاره لیکن هر کله چه ده تعلیق اوکړو او ان دخلت الدار ئے اووئیل نو دا مانع شو د تصرف نه په انت طالق کښ دا داسے شو گویا چه ده په انت طالق د سره تکلم ندے کړے نو چه په انت طالق تکلم اونشی نو طلاق نه واقع کیږی طلاق به هله واقع کیږی چه شرط موجود شی ښځه دار ته داخله شی نو گویا کښ داسے شوه چه ده اوس په انت طالق تکلم اوکړو نو طلاق واقع شول مونږ وایو حکم چه معلق شی په یو شرط پورے نو فی الحال هغه علت د انعقاد نه اوباسی داسے شو له چه گویا فی الحال دا د سره سبب نه دے۔

امام شافعی رحمه الله وائی چه انت طالق دلته حسا موجود دے ددے د رد کولو دپاره چه سبیله نشته خو دا انت طالق محل غواړی نو چه محل موجود نه وی نو کلام لغوه دے ثمره د خلاف زمونږ او دده نر میښحه حکاره کیږی په هغه صورت کښ چه سړے اجنبی ښځې نه اووائی انت طالق ان تزوجتك نو دے وائی چه دا کلام لغوه دے ۔ مونږ وایو چه دا کلام لغوه نه دے، انت طالق دلته فی الحال تقاضا د وجود د محل نه کوی چه کله نکاح ده ورسره اوکړه نو هله تقاضا د وجود د محل کوی نو محل موجود شو اوس پرے طلاق مرتب کیږی۔

دارنگه یو عبد ته سړی اووئیل ان ملکتك فانت حر نو دا ملکیت سبب دے د ملك یمینی دپاره نو انت حر تقاضا د محل فی الحال نه کوی، فی الحال که دا عبد دده په ملك یمینی کښ نشته نو نه دے وی چه کله ئے مالك شو نو آزاد شو امام شافعی وائی دا تقاضا د محل کوی فی الحال او محل خو فی الحال نشته دا پردے عبد دے وقال علیه السلام لا عتق فیما لا یملکه ابن آدم نو دے وائی چه دا انت حر کلام دده لغوه دے۔

﴿**ولهذا لو حلف لا یطلق امرأته**﴾ او بناء پدے باندے چه یو سړی قسم اوخوړ چه زه به خپله ښځه نه طلاقوم نو ده معلق کړل طلاق د ښځے خپلے په دخول د دار پورے یعنی ان دخلت الدار فانت طالق ئے ورته اووئیل۔

﴿**لا یحنث**﴾ نو دے حانث ندے ځکه چه تعلیق الطلاق فی الحال طلاق ندے او ده خو دا وئیلی وو چه زه به ښځے ته طلاق تنجیزی نه ورکوم نو ده خو طلاق تنجیزی

ورکړی البته کله چه دخول دارته موجود شو نو دے مطلق شو اوس نو حانث هم شو۔

﴿مثال الثانی﴾ مثال د ثانی دپاره هلاکیدل د نصاب په مینځ د کال کښې، نصاب علت دے د وجوب الزکاة دپاره نو که د حولان حول نه مخکښې د زکاة اداء کړو نو دا جائز ده خو دا علت به تمامیږی هله چه پدے نصاب باندے حولان حول اوشو خو چه کال لا پرے تیر شوے ندے او نصاب هلاك شو نو تمام د علت خو لا راغلے ندے نو په ده باندے وجوب د زکوٰة نشته وجوب د زکات ترینه ساقط دے۔

﴿وامتناع احد الشاهدین﴾ دارنګه امتناع د یو د شاهدینو دے د شهادت نه. چه دوه تنو ګواهانو شاهدی اوکړه لیکن یو ګواه امتناع اوکړه د شهادت نه نو علت د حکم د قضاء د قاضی دپاره خو ګواهی د دوه ګواهانو وه په حق د مدعی کښې نو دلته خو ګواهی د دواړو اونه شوه نو علت تام نه شو نو قاضی فیصله په حق د مدعی کښې نشی کولے۔

﴿ورد شطر العقد﴾ او دارنګه رد د شطر د عقد دے ځکه تمام د عقد په جزئینو د عقد سره موجودیږی چه هغه ایجاب او قبول دے نو چه ایجاب شویدے په بیع کښې او قبول لا ندے شوے او ده رد اوکړو نو انعقاد د بیعے نه کیږی ځکه تمام د علت ندے موجود شوے۔

﴿ومثال الثالث البیع بشرط الخیار﴾

او مثال د دریم لکه بیع شوه په شرط د خیار سره چه بائع په مشتری باندے مبیعه خرڅه کړی او هغه بائع د ځان دپاره خیار کیخوده نو په خیار د بائع سره مبیعه د ملك د بائع نه نده وتلے نو ابتداء د ملك د مشتری ئے منع کړه ځکه چه ده بائع د ملك نه مبیعه لا وتے نده نو په ملك د مشتری کښې به څنګه داخله شي۔

دغه رنګه چه مشتری د خپل ځان دپاره خیار شرط کیدے نو مبیعه خو د ملك د بائع نه اووتله لیکن امام ابوحنیفه وائی چه په ملك د مشتری کښې داخله نده ځکه چه کله مشتری د ځان دپاره خیار کیخوده نو ثمن د ملك دده نه ندی وتلی نو که دا مبیعه مونږ په ملك د مشتری کښې داخله کړو نو جمع به راشي د عوض او معوض عنه په ید د شخص واحد کښې دده دپاره نظیر په شرع کښې نشته ۔

او صاحبین وائی چه مشتری چه کله خیار د ځان دپاره کیدے نو بیع د ملك د بائع نه

اووتـلـه او پـه ملك د مشتري كښې داخله ده هغوی وائی كچرے په ملك د مشتري كښ ئے موثر داخله نه كړو نو دا ئے دے ملك او چه ددے دپاره مالك نوی نو لا نظير له فی الشرع۔

امام ابو حنيفه وائی چه ددے دپاره نظير فی الشرع شته لكه يو سړے چه څه شے وقف كړی نـو دا د مـلك د واقف نـه اووتـلـه لـيـكـن په ملك د موقوف عليهم كښ لا داخله نه ده ځـكـه مـوقـوف عليهم ئے كونډه يتيمان وغيره دی نو ددے وجے نه ددے موقوف تقسيمول پـه مـيـنـځ د موقوف عليهم كښ جائز نه دی هغے ئے چا ته هبه كولے نشی، نو دا مسئله په مذهب د امام ابو حنيفه رحمه الله باندے بناء ده۔

﴿وبقاء الوقت فی حق صاحب العذر﴾ دارنـگـه بقاء د وقت په حق د صاحب الـعـذر كـښ نـو وجـود د حدث د صاحب العذر نه خو علت دے دپاره د نقض الوضوء خو دا بقاء د وقت په حق دده كښ مانع ده د وجود د نقض الوضوء نه نو دده نقض د طهارت لاندے شوے نو نقض د طهارت به په حق دده كښ هله كيږی چه وقت د صلوٰة اوځی چه لا خروج د وقت نه وی شوے نو تر هغے پورے وجود د حدث دپاره حكم د نقض الوضوء نشتـه۔

﴿ومثال الرابع خيار البلوغ﴾

او مثال د رابـع لـكـه خيار بـلوغ او خيار عتق او خيار رؤيت او عدم كفائت د زوج ۔ يو سړے دے چه ولی مجبر ندے بلكه غير مجبر دے يعنی ولی ابعد دے لكه تره د وراره دپاره نـكـاح اوكړه يا ماما د خورئی دپاره نكاح اوكړه يا د تره ځوی د تره ځوی دپاره نكاح اوكړه يا ئے د تـره لـور ئـے پـه نكاح وركړه يا وررور خور په نكاح وركړه نو ددے صبيه او صبی دپاره به خـيـار بـلـوغ وی كله چه دوی بالغ شو نو كه پدے زړه نكاح خوښ وو نو صحيح ده او كه نه وو خـو شـحـالـه نـو مـراجـعـه به اوكړی قاضی ته نو د قاضی دپاره ولايت عامه دے هغه به فسخ د نكاح اوكړی۔

دارنـگـه چـه يـوه امه ده چه دا په نكاح باندے مولیٰ وركړی وه او بيا دا آزاده كړے شوه نـو ديـتـه شارع خيار عتق وركړيدے لكه نبی عليه السلام بريره رضی الله عنها ته وئيلی وو مـلـكـتِ بضعكِ ته د خپلے بضعے مالكه ئے نو خيار عتق د امے دپاره شته برابره خبره ده چه خاوند ئے عبد وی او كه حر وی عند الاحناف هغه معتبر نه دے كما مرّ۔

نو که دا پدے نکاح کښې پاتے کیږي نو تیك ده ورنه فسخ د نکاح به کوي خو فرق د خیار بلوغ او د خیار عتق په مینځ کښې دا دے چه په خیار بلوغ کښې به مراجعه کوي قاضي ته او په خیار عتق کښې مراجعے د قاضي ته ضرورت نشته دا رفع د خپل ځان د ضرر نه پخپله دا نکاح امه فسخ کولے شي نو انعقاد د نکاح د امے خو شویدے خو دا موقوف دے په اجازه د امے آزادے کرے شوی پورے که هغه اجازت اونکړي نو انعقاد به فسخ کوي۔

﴿ والرؤية ﴾ دغه رنګه خیار رؤیت دے چه بائع مبیعه په مشتري خرڅه کړه او مشتري لیدلې نه ده نو د مشتري دپاره خیار رؤیت دے ځکه نبي علیه السلام وائي : من اشتری شیئا لم یره فله خیار اذا رآه ۔ چا چه یوه مبیعه واغسته او لیدلے ئے نه وه نو چه کله ئے اووینی نو ده لره خیار دے چه اخلي ئے او که رد کوي ئے۔ نو انعقاد د بیعے خو شویدے دا مفید دپاره د ملك دے خو ددے انعقاد تمام به هله راځي چه کله دے مبیعه اووینې نو چه لا مبیعه ئے لیدلے نه ده نو عقد تام او لازم ندے په مینځ د بائع او مشتري کښې ۔

﴿ وعدم الکفائة ﴾ دغه رنګه عدم کفائت دے چه یوے ښځے د یوے داسے سړي سره نکاح اوکړه چه هغه دده کُف ندے نو صاحب هدایه وائي چه د ولي دپاره حق د اعتراض شته نو دلته نفس انعقاد د نکاح خو اوشو خو انعقاد لا تمام ندے تمامیت به ئے هله راځي چه ولي پرے راضي وی کچرے راضي نه وی نو بیا تمامیت ددے انعقاد دپاره نشته ولے دا نکاح فسخ کولے شي۔

نوټ : کفائت په رجالو کښې معتبر دے په نساؤ کښې معتبر ندے ځکه زنانه مستفرشه ده ددے مثال د ګدئ دے په اعلیٰ ګدئ هم سړے کینی او په ادنیٰ او درمیانه ګدئ باندے هم سړے کینی که سړے د اعلیٰ نسب ښځے سره نکاح کوی که د درمیانه او ادنی نسب ښځے سره نکاح کوی نو صحیح ده۔

خو چه ښځه نکاح د سړي سره کوی نو په هغے کښې به کفائت شرط وی ځکه کچرے ښځه اعلیٰ نسبب والا وی او سړے دنی النسب یا دنی الحرفة وی نو خلك به دے ښځے ته پیغور ورکوی دده رشته دارانو ته به پیغور ورکوی چه ستا لور د اوچتے کورنئ سره تعلق

ساتـه او د جولا يا نائي فاسق فاجر سره ے نكاح اوكره نو هدايه والا وائي : رب واقع لا يرفع
ډير كرته واقع پيغور داسے داغ وي چه هغه بيا نه پورته كيږي۔

﴿والاندمال في باب الجراحات﴾

دارنگه جوړوالي په باب د زخمونو كښ بناء دے په دے اصل باندے ۔ يو سړے بل لره زخمي كړو نو پدے جارح باندے به هله وجوب الضمان راځي چه دا جرح سرايت اوكړي مرګ تـه او كچرے دے سرايت مرګ ته اونكړي بلكه جوړ شو نو دلته علت تام ندے نو په جارح باندے وجوب د ضمان نشته ځكه كتاب الديات كښ مسئله ده چه يو سړي غاښ د ماشوم اوويسته او په هغه ځائے باندے بل غاښ راوختو نو پدے ويستونكي د غاښ باندے ضمان نشتـه ځكه د هغے جرحے ازاله اوشوه او كچرے د بالغ سړي غاښ ئے ويستلے دے نو دے بـه لاتـر كـالـۀ پـورے بـدل نـه اخلي كيدے شي چه دده بل غاښ اوشي نو چه بل غاښ اوشي نو قصاص ساقط شو او كه را ونه ختو نو بيا به قصاص اخلي ۔

﴿وهذا على جواز اعتبار تخصيص العلة﴾

او دا پـه اعتبار د جـواز د تـخـصـيـص د عـلـت شـرعـيـه باندے دے كوم حضرات چه په تـخـصـيـص د عـلـت شرعيه باندے قائل دي تخصيص د علت شرعي ديته وئيلے كيږي چه تخلف د حكم اوكړے شي د علت نه د وجے د يو مانع نه ۔

﴿فاما على قول من لا يقول بجواز تخصيص العلة﴾

او هـر چـه دے پـه قـول د هـغـه چا چه هغوي قول نه كوي په جواز د تخصيص د علت باندے نو جنس مانع د هغے په نزد باندے درے قسمه دے المانع كښ الف لام جنسي دي۔

﴿مانع يمنع ابتداء العلة﴾ يـو هـغـه مانع دے چه هغه ابتداء د علت منع كوي بل هغه مانع دے چه هغه تمام د علت منع كوي او بل هغه مانع دے چه هغه دوام د حكم منع كوي او هرچه دے په وخت د تمام د علت كښ نو ثابتيږي حكم خامخا او بناء پدے اختلاف د مذهبينو باندے هر هغه چه ګرځوي هغے لره فريق اول مانع د ثبوت د حكم دپاره ګرځوي هغـے لـره فـريـق ثـانـي مانع دپاره د تمام د علت او پدے اصل باندے ګرخي كلام په مينځ د دواړو فـريـقـينو كښ نو افطار د صوم چه دا علت دے دپاره د وجوب د كفارے يا د قضاء دپاره

نو هلته پرے نقض وارد شو چه کله دے خوراك اوکړی ناسیاً نو دلته حو قضاء او کفاره په ده باندے نشته نو کوم حضرات چه مجوزین د تخصیص دی نو هغوی وائی چه تخلف لمانع چه دلته حدیث موجود دے چه نبی علیه السلام وائی : فلیتم صومه فانما اطعمه الله وسقاه۔ او کوم حضرات چه په عدم تخصیص باندے قائل دی نو هغوی وائی چه دلته افطار ندے موجود شوے ځکه اکل ناسیا کلا اکل دے نو افطار موجود نه شو نو په هغه وجوب د کفارے او د قضاء رانغلو۔

﴿ فصل الفرض لغة هو التقدير ﴾

دا احکامات شرعیه ذکر کوی احکامات شرعیه په دوه قسمه دی عزیمت او رخصت۔ د عزیمت دپاره انواع اربعه دی یو د هغې نه فرض دے بل واجب او بل سنت او بل مستحب دے، ځکه په رائے د محققینو باندے موضوع ادله هم دی او احکامات هم دی۔
نو مخکښ ادله ذکر شول اوس احکامات ذکر کوی او مذهب د جمهورو مفتیٰ به قول دے نو ځکه عام اصولین احکامات او ادله دواړه ذکر کوی نو پدے فصل کښ انواع اربعه د عزیمت ذکر کوی۔

﴿ **الفرض لغة هو التقدير** ﴾ اول قسم د انواعو د عزیمت نه فرض دے فرض په لغت کښ تقدیر ته وئیلے شی لکه ویلے شی په عرف کښ فرض القاضی ای قدره۔

﴿ **ومفروضات الشرع مقدراته** ﴾ ترجمه : او مفروضات د شرع مقدارات د هغې دی پداسے شان سره چه احتمال د زیادت او د نقصان نه لری او په شرع کښ فرض هغې ته وئیلے شی چه ثابت شوے وی په دلیل قطعی سره چه نه وی شبهه په هغے کښ۔

﴿ **وحكمه** ﴾ او حکم د فرضو لزوم د عمل دے په هغے باندے او اعتقاد دے په حقانیت د هغے باندے۔

﴿ **والواجب** ﴾ او دویم قسم د عزیمت نه واجب دی : واجب د وجوب نه ماخوذ دے سقوط ته وئیلے شی یعنی هغه چه لازم وی عمل په هغے په عبد (مکلف) باندے بغیر د اختیار د عبد نه دا به د شارع د طرفه وی که عبد پدے باندے راضی وی او که نه وی راضی لکه د وترو په وجوب باندے احناف قائل دی نو که د عبد زړه ئے منی او که نه ئے منی خو د شارع د طرفه په ده باندے لازم دی یا لکه تکبیرات العیدین شول نو که د عبد زړه ئے منی او که نه خو د شارع د طرفه په ده لازم دی۔

﴿ **وقيل هو من الوجبة** ﴾ او چا وئیلی دی چه واجب د ماخوذ دے د وجبة نه او وجبة اضطراب ته وئیلے کیږی او واجب هم مسمی کړے شویدي په واجبو سره دوجے د

کیدو ددے نہ مضطرب پہ مینځ د فرضو او د نفلو کښې چه دیته مونږ حکم د فرضو وکړو او که د نفلو حکم ورکړو ځکه پداسے دلیل سره ثابت دی چه هغے کښې شبهه ده نو فرض ورته نشو وئیلے لیکن لازم العمل په شان د فرضو دی نو متردد شول۔

﴿فصار فرضاً فی حق العمل﴾ نو اوګرځیدل فرض په حق د عمل کښې تردے پورے چه ندے جائز ترك د واجبو او قضاء ئے هم لازمه ده او نفل دی په حق د اعتقاد کښې نو لازم نه ده په مونږ باندے اعتقاد پدے واجبو باندے جزماً په طریقے د قطعے سره۔

﴿وفی الشرع﴾ او په اصطلاح د شرع کښې واجب هغے ته وئیلے شی چه ثابت شوی وی پداسے دلیل سره چه په هغے کښې شبهه وی لکه هغه روایت چه په هغے کښې تاویل کړے شوے وی لکه ثلاثة قروء چه مستعمل دے په معنیینو کښې (وهما الحیض والطهر) مونږ ترے تعبیر کړیدے په حیض سره او شوافعو ترے تعبیر کړیدے په اطهارو سره۔

﴿والصحیح من الآحاد﴾ یا لکه صحیح د اخبار احادو نه شول او حکم د واجبو دپاره به هغه وی چه مونږ ذکر کړیدے چه عمل پرے ضروری دے او اعتقاد پرے په طریقے د قطعے سره نه دے۔ ﴿والسنة﴾ او دریم قسم د عزیمت نه سنت دے، سنت عبارت دے د هغے طریقے نه چه چلولے شوی وی په دین کښې چه په هغے باندے ترضیه راغلی وی په باب د دین کښې یعنی محموده طریقه وی۔

﴿سواء کانت من رسول﴾ برابره خبره ده چه دا طریقه د نبی علیه السلام د طرفه نه وی او که د صحابه و د طرفه نه وی ځکه نبی علیه السلام فرمائی : لازم دی په تاسو عمل کول زما په طریقه باندے او په طریقه د خلفاء راشدینو باندے روسته زمانه چك اولګوی په هغے باندے په داړو سره تاکید ته اشاره ده چه عمل پرے په مضبوطیا سره کوئ نو د سنت نسبت ئے خلفاء راشدینو ته هم کړیدے نو د اصحابو طریقه هم سنت ده۔

﴿وحکمها ان یطالب المرأ باحیائها﴾ حکم د سنتو دا دے چه د انسان نه به مطالبه کیږی ددے په ژوندی کولو باندے او دے به مستحق وی د ملامت په ترك د سنتو سره مګر که پریخودل په عذر سره وو نو ملامت نه دے مثلا په سفر کښې ئے سنت پریخودل یا په دوران د تلوار کښې ئے پریخودل۔

﴿**والنفل**﴾ او څلورمه نوعه د عزیمت نفل دی او نفل عبارت دے د زیادت نه او غنیمت مسمی دے په نفل سره ځکه دا یو امر زائده دے په ما هو المقصود باندے د جهاد نه چه ثواب فی الآخرة دے او په اصطلاح د شرع کښ نفل عبارت دے د هغې نه چه زائد وی په فرائضو او واجباتو باندے.

﴿**وحکمه**﴾ او حکم د نفلو دا دے چه ثواب ملاویږی سړی ته په کولو ددے باندے او عذاب نښته سړی لره په ترک ددے باندے.

﴿**والنفل والتطوع نظیران**﴾ او نفل او تطوع دواړه نظیرین دی پدے عبارت سره ئے دفع د توهم اوکړه چه د عزیمت دپاره یوه بله نوعه هم شته چه تطوع ده او تا هغه ذکر نکړه نو مصنف د هغې نه جواب اوکړو چه نفل او تطوع الفاظ مترادفه او معنی ئے واحده ده نو هر کله چه ده نفل ذکر کړل نو ذکر کولو د تطوع ته حاجت پاتے نه شو.

﴿فصل العزيمة هي القصد﴾

مخکښې اقسام د عزيمت ذکر کړل نو اوس تعريف د عزيمت او رخصت کوي. ترجمه : عزيمت په لغت کښې قصد ته وئيل کيږي کله چه دا په انتهائي تاکيد کښې وي او ددې وجې نه مونږ وايو چه عزم په وطن باندې واپسي ده په باب د ظهار کښې ځکه چه دا عزم په شان د موجود دې نو جائز ده چه معتبر شي دا عزم موجود په وخت د قيام د دلالت کښې په هغې باندې چه دا عزم دې (صورت د مسئلې دا دې) چه يو سړي ظهار کړې وي ښځې ته ئې وئيلي وي انت علىّ كظهر امي نو هغه په ده باندې حرامه شوه په حرمت مؤقته سره ترڅو چه ده کفاره نه وي اداء کړي نو جماع ورسره نشي کولې نو بيا ده اراده اوکړه او عزم ئې اوکړو د جماع نو دا به جماع حسابيږي.

﴿ولهذا لو قال اعزم﴾ او ددې وجې نه کچرې يو سړې داسې اووئيل چه زه عزم کوم نو کيږي دې قسم خوړونکې ځکه په حلف کښې تاکيد وي او په لفظ د عزم سره هم تاکيد وي د کولو يا د نه کولو د يو کار.

﴿وفي الشرع عبارة عما لزمنا﴾ او په اصطلاح د شرع کښې عزم عبارت دې د هغه احکامو نه چه لازم دي په مونږ باندې د هغې احکامو نه ابتداءً. (من الاحكام بيان د ما دې)

﴿سميت عزيمة﴾ دا مسمى کړې شويدې په عزيمت سره ځکه چه دا په نهايت مضبوطتيا کښې دې د وجې د تاکيد د سبب د هغې نه چه هغه کيدل ددې آمر دي فرض کونکې د طاعت دې په حکم ددې سره چه هغه آمر معبود زمونږ دې او مونږ بندګان د هغه يو. ﴿واقسام العزيمة ما ذكرنا﴾ او اقسام د عزيمت هغه دي چه مونږ ذکر کړيدي د بيان د فرض او واجبو او سنتو او مستحبو نه.

﴿واما الرخصة﴾ او هر چه رخصت دې نو دا په لغت کښې عبارت دې د سهولت نه. او په اصطلاح د شرع کښې اړول د امر دي د ګران والي نه آسانتيا ته په واسطې د عذر سره د مکلف نه لکه په حالت د سفر کښې څلور رکعته مونځ کول ګران دي نو د هغې نه

يُسر راغلے دوه ركعتو ته دارنګه په حالت د سفر كښې روژه نيول ګران وو نو د هغے نه يُسر راغے افطار ته۔

بيا رخصت دوه قسمه دے يو رخصت اسقاطى دے او كله رخصت ترجيحى وى په رخصت اسقاطى كښې عمل كول په رخصت باندے اولىٰ دے د عزيمت نه عند الاحناف او په رخصت ترجيحى كښې عمل كول په عزيمت باندے اولىٰ دے د رخصت نه عند الاحناف نو په افطار د صوم كښې رخصت ترجيحى دے كه دے روژه نيسى نو دا بهتره ده كما قال الله : وان تصوموا خير لكم۔ او په مانځه كښې په رخصت باندے عمل كول اولىٰ دى په حالت د سفر كښې به څلور ركعته مونځ نه كوى عمر رضى الله عنه چه كله دا اشكال نبى عليه السلام ته وړاندے كړو نو نبى عليه السلام ورته اووئيل : هذه صدقة تصدق الله بها عليكم۔ دا د الله د طرف نه صدقه ده او د صدقے اطلاق چه په داسے شئ باندے اوشى چه هغه احتمال د تمليك نه لرى نو هغه اسقاط محض وى نو په صلوٰة كښې رخصت په رخصت اسقاطى باندے حمل وى۔

﴿وانواعها مختلفة﴾ دوجے د اختلاف د اسبابو د هغے نه چه هغه عذرونه د بندګانو دى او په عاقبت كښې د هغے رجع دوه نوعينو ته كيږى يو ددينه رخصت د فعل دے سره د بقاء د حرمت نه او ګرځى دا فعل په منزله د عفوے سره په باب د جنايت كښې نو نفس حرمت د جنايت كونكى خو په خپل ځائے باندے باقى دے خو عفوه چه راغله نو رخصت راغے چه دا جانى به ماخوذ نه وى۔

﴿وذلك نحو اجراء كلمة الكفر﴾ او دا په شان د جارى كولو د كلمه د كفر ده په ژبه باندے سره د اطمينان د زړه نه په ايمان باندے په وخت د اكراه كښې۔ يو مكره اكراه اوكړه په مسلمان باندے چه كلمه د كفر اووايه كنه نو وژنم دے نو پدے وخت كښې ده لره رخصت د فعل دے چه اجراء د كلمه د كفر ده نو كلمه د كفر لساناً وئيل ده لره جائز ده خو پدے شرط چه زړه به ئے مطمئن وى په ايمان باندے حال دا دے چه كلمه د كفر وئيلو كښې خپل حرمت باقى دے۔ ﴿وسبّ النبى ﷺ﴾ دارنګه بدرد وئيل نبى عليه السلام ته په وخت د اكراه كښې چه مكره پدے اكراه اوكړه چه وژنم دے كنه نبى عليه السلام ته بدرد

اووایـه نـو ده لره رخصت د فعل دے چه بد رد وئیل دی نبی علیه السلام ته خو په زړه کښ به ئے محبت د نبی سره موجود وی دارنګه ددے بد ردو حرمت باقی دے فی نفسبه خو ده لره پرے رخصت د فعل راغلو۔

﴿واتلاف مال المسلم﴾ دارنګه اتلاف د مال د مسلمان چه مکرِه اکراه اوکری چه د مسلمان مال هلاك کړه نو ده لره رخصت دے چه مال هلاك کړی په صورت د اکراه کښ سره د بقاء د حرمت د اتلاف د مال نه ده ته رخصت دے په اتلاف خو چه کله اکراه زائله کړے شوه نو بیا به ضمان ورکوی کچرے ده ذوات القیم د قبیلے نه وی نو قیمت به ورکوی او کچرے د ذوات الامثال د قبیلے نه وی نو د هغے مثل به ورکړی۔

﴿وقتل النفس ظلماً﴾ او دارنګه قتل د نفس دے ظلماً چه مکره په چا اکراه اوکړی چه دا نفس ظلماً قتل کړه کنے نو وژنم دے نو ده ته رخصت دے د وژلو د هغه د وجے د عذر د اکراه نه په ده باندے خو حرمت د قتل د هغه باقی دے د وجے د عصمت د هغه نه په ایمان سره (دا مثال د اسلام خلاف دے پدے صورت کښ به د ځان د بچاو دپاره بل مسلمان نه وژنی بلکه دا به صبر کوی انظر الاحکام السلطانیة)۔

﴿وحکمه انه لو صبر فیما قتل﴾ او حکم ددے پدے صورتونو کښ دا دے چه کچرے دے مکره صبر اوکړو تردے چه قتل کړے شو نو دے به اجر ورکړے شوے وی شهید دے په عزیمت ئے عمل اوکړو د وجے د منعے دده نه د حرامو نه د وجے د تعظیم د نهی د شارع نه۔

﴿والنوع الثانی تغییر صفة الفعل﴾ او نوع ثانی د رخصت نه دا دے چه تغییر به راغلے وی په صفت د هغه فعل کښ پدے شان سره چه ګرځیدلے به وی هغه فعل مباح دده په حق کښ او د بل په حق کښ به حرام وی۔

﴿قال الله تعالی فمن اضطر فی مخمصة﴾ وئیلی دی الله تعالی څوك چه محتاج شو په حالت د لوږه کښ نو ده لره مرداره خوړل جائز دی۔

﴿وذلک﴾ او دا په شان د اکراه دے په اکل د مردارے باندے چه مکره سرے اکراه اوکړی چه دا مرداره اوخوره کنے نو مرګ ته تیار شه نو ده لره په اکل د میته کښ رخصت دے ځکه که دے اکل د میته اونکړی نو قتل به کړے شی روح او بدن دواړه به ئے هلاك

شي او كه ميته اوخوري نو د انزهاق الروح والبدن نه به بچ شي -

﴿وشرب الخمر﴾ او دارنگه مكره اكراه اوكړي په ده باندے په سكلو د شرابو نو ده لره شرب الخمر مباح دى ځكه كه دے شراب او نه سكي نو تخريب بالكليه راځي د روح او بدن دده په قتل سره او حال دا دے چه د شارع د اړخه ده ته اجازت دے په شرب باندے نو اودے سكي۔

﴿ وحكمه ﴾ او حكم ددے مكره دپاره دا دے كچرے ده منع اوكړه تردے چه قتل كړے شو نو دے به گناهگار وى د وجے د امتناع دده نه د هغه شي نه چه شارع ورته مباح كړيدے نو دے خودكش شو قاتل د نفس شو نو ماخوذ به وى يوم القيامة ۔

﴿فصل الاحتجاج بلا دليل﴾

استدلال بغير د دليل نه په څو قسمه دے بعض د هغے نه استدلال دے په عدم د علت سره په عدم د حكم باندے يعني چه علت دلته نشته نو حكم ځكه نشته كچرے علت وى نو حكم به وو مثال ددے لكه چه اولتهئ ناقض للوضوء نه دى ځكه چه دا خارج من السبيلين ندى نو گويا چه علت د نقض الوضوء عندهم خارج من احد السبيلين دے ۔

مونږ وايو چه دا دليل ندے پدے چه قئ غير ناقض دے ځكه جائز ده چه خارج د غير السبيلين نه دے هم ناقض للوضوء شي لكه وينه چه د غير سبيلين نه خارج شوى وى دارنگه قئ چه د غير سبيلين نه وتلے وى دا ناقض للوضوء دے ځكه حديث كښ راځي چه الوضوء من كل دم سائل۔ نو علت په نقض كښ خروج د نجاست دے مطلقا برابره خبره ده چه هغه د سبيلينو نه وى او كه د غير سبيلينو نه وى ۔

﴿ والاخ لا يعتق على الاخ ﴾ دارنگه دوى وائي چه ورور په ورو باندے نه آزاديږي چه كله غلام وى ځكه چه علاقه ولادي په مينځ ددے دواړو كښ نشته نو مونږ وايو چه د اعتاق دپاره علاقه ولادي كيدو ته ضرورت نشته بلكه د اعتاق دپاره علت كيدل د هر واحد ددے دواړو دى ذى رحم محرم ځكه چه په حديث كښ راځي : من ملك ذا رحم محرم

عتق علیه برابره خبره ده چه علاقه ولادی پکښ وی او که نه وی ۔

﴿ وسئل محمد ﴾ د امام محمد نه تپوس اوکړے شو چه په شریك د صبی باندے په قصاص لازم وی چه یو سړے د صبی سره شریك شو او دواړه یو تن اووژلو نو آیا پدے شریك د صبی باندے به قصاص وی په صبی خو قصاص نشته ۔

﴿ قال لا ﴾ امام محمد ورته اوویل چه نشته ځکه د صبی نه قلم پورته شویدے مخاطب ندے په احکامات شرعیه و باندے ۔

نو معترض اووئیل چه بیا خو واجب ده چه قصاص دے واجب شی په شریك د اب باندے ځکه اب خو مرفوع القلم ندے چه یو سړے شریك شو د پلار د یو سړی سره او دے شریك او پلار د مقتول دواړو هغه مقتول لره اووژلو نو د شریك د صبی باندے خو قصاص رد رفع القلم د وجے نه وو نو پکار ده چه په شریك الاب باندے دِے قصاص لازم شی چه دے خو غیر مرفوع القلم دے۔

﴿ فصار التمسک بعدم العلة علی عدم الحکم ﴾

نو دلته اوګرځیدو تمسك په عدم د علت سره په عدم د حکم باندے خو دا استدلال نیول د عدم علت د حکم په عدم د علت باندے صحیح نه دے ځکه د یو شی دپاره خو علل شتیٰ کیدے شی د یو د وجے نه دے ثبوت نه وی نو د بل د وجے نه به ثبوت وی۔

﴿ هذا بمنزلة ما یقال ﴾ دا په منزله ددے قول دے چه یو سړے اووائی چه فلانکے سړے مړ ندے ځکه چه د چهت نه ندے غورځیدلے نو د مرګ دپاره خو علل شتیٰ دی د آخر علت د وجے نه دِے مړ وی یواځے سقوط من السطح خو علت د مرګ نه دے نو انتفاء د علت تقاضا د انتفاء د حکم نه کوی۔

﴿ الا اذا کانت علة الحکم منحصرة ﴾ مګر کچرے علت منحصر وو د دغه معلول دپاره نو د هغے علت په انتفاء سره بیا انتفاء د حکم راځی نو کیږی به دا معنی لازمه دپاره د حکم نو استدلال به نیولے کیږی په انتفاء ددے سره په عدم د حکم باندے۔

﴿ مثاله ما روی عن محمد ﴾ مثال ددے هغه دے چه روایت شویدے د امام محمد نه چه ده وئیلی دی چه د ولد د مغصوبے به ضمان نه وی ځکه چه دے مغصوب

نه دي دارنګه قصاص نشته په شاهدانو باندې کله چه دوی رجوع اوکړی په مسئله د شهادت د قصاص کښې. ګواهانو ګواهي اوکړه چه فلانکي فلانکے قصداً عمداً وژلے دے نو قاضي حکم اوکړو قاتل باندې د قصاص بیا شاهدانو د خپل شهادت نه رجوع اوکړه نو دلته د امام ابو حنیفه رائے دا ده چه په ګواهانو د قصاص باندې قصاص نشته ځکه چه دوی قاتلین ندی او قصاص په مباشر باندې وی حقیقةً او دوی حقیقةً مباشرین ندی نو دلته تخصیص دے ځکه قصاص لازم وو نو انتفاء د قصاص د وجې د عدم مباشرت نه راغلو.

دارنګه ضمان لازم وو خو انتفاء د ضمان د وجې د عدم د غصب نه راغلو نو دلته انتفاء د علت مستلزم دے د انتفاء د حکم دپاره او په کوم ځائے کښې چه تخصیص نه وی نو هلته په انتفاء د علت سره انتفاء د حکم ضروری نه دے.

﴿ وكذلك التمسك باستصحاب الحال ﴾

دارنګه تمسك په استصحاب الحال دپاره د الزام دا تمسك په عدم د دلیل باندې دے البته تمسك په استصحاب الحال د ترجیح دپاره صلاحیت لری خو د الزام دپاره صلاحیت نه لری ځکه وجود د یو شئ نه واجبوی بقاء د هغه شئ.

﴿ فيصلح للدفع لا للالزام ﴾ نو استصحاب الحال صلاحیت لری د دفعے نه د الزام چه مسئله ده بیان شوے وو چه مفقود به مونږ ژوندے حسابوو په حق د نفس خپل کښې او میت به ئے حسابو په حق د غیر کښې نو هلته کښې مونږ الزام په ده نشو راوستے البته دفع کولے شو چه د بل چا میراث پرے دده نه دفع کړو نو هلته به صلاحیت لری.

﴿ وعلى هذا قلنا مجهول النسب ﴾ او بناء پدے باندې چه استصحاب الحال صلاحیت د دفعے لری نه د الزام وایو مونږه چه مجهول النسب سړی باندې کچرے چا دعویٰ اوکړه د رقیت چه دا ځما غلام دے بیا ده جنایت اوکړو یو جنایت نو نه لازمیږی په ده باندې دیت د حر ځکه واجبیدل د دیت د حر الزام دے نو دا نه ثابتیږی بغیر د دلیل نه ترڅو چه دلیل ملزم نه وی موجود شوے چه هغه اقامت د ګواهانو دے په حریت دده باندې دده حریت چه مونږ ثابتوو نو په استصحاب الحال سره ئے ثابتوو او کوم شے چه په استصحاب الحال سره ثابت شی نو هغه صلاحیت د دفعے لری او د الزام نه لری.

﴿ **وعلى هذا قلنا اذا زاد الدم على العشرة فى الحيض وللمرأة عادة معروفة ردت الى ايام عادتها** ﴾

او بناء پدے قاعده وايو مونږ چه كله زائده شي وينه د ښځے په لسو ورځو باندے په ورځو د حيض كښې او د ښځے دپاره عادت معروفه وو (مثلا شپږ ورځے ئے عادت د حيض وو) نو واپس به كړو مونږ دے لره ايامو د عادت خپل ته يعني (۵) ورځے به حيض وى او باقي ورځے به استحاض شي ځكه چه زائد په عادت باندے متصل شو د دم د حيض او د دم د استحاض دواړو سره نو احتمال د امرينو جميعاً لرى يعنى كيدے شي چه دا دے دم الحيض وى او كيدے شي چه دا دے دم الاستحاض وى نو كچرے مونږ حكم اوكړو په نقض د عادت د حيض د ښځے باندے چه ده پنځه ورځے نه ئے لسو ورځو ته بوځو نو ددے عادت ناقض شو۔

﴿ **لزمنا العمل بلا دليل** ﴾ نو لازم به كړو مونږ عمل بغير د دليل نه ځكه په نقض د عادت ددے باندے خو څه دليل نشته نو مونږ به عمل په نقض د عادت ددے باندے نه كوو ايام د حيض به ئے معروف حسابوو او باقي به استحاض وى ۔

﴿ **وكذلك لو ابتدأت مع البلوغ مستحاضة** ﴾ دارنګه كچرے شروع شو دم ددے سره د بلوغ نه د استحاض نو حيض د هغے به مونږ لس ورځے حسابو ځكه د لسو ورځو نه كم احتمال د حيض او استحاض دواړو لرى نو كچرے مونږ حكم اوكړو په ارتفاع د حيض باندے چه دا حيض ندے بلكه استحاض دے نو لازم كړو مونږ عمل بلا دليله ځكه په ارتفاع د حيض باندے څه دليل نشته په خلاف د دم د مابعد العشر نه چه هلته مونږ حكم كوو په ارتفاع د حيض او د استحاض ئے شمارو نو هلته دليل شته۔

﴿ **على ان الحيض لا تزيد على العشرة** ﴾ چه نه زائد كيږى حيض په لسو ورځو باندے دوجے ددے قول د نبى عليه السلام نه چه اقل الحيض ثلاثة چه اقله موده د حيض درے ورځے دى او اكثره موده د حيض لس ورځے دى نو د لسو نه زائد خو حيض راتلے نشي پدے دليل نقلى د طرفه د شارع نه موجود دے۔

﴿ ومن الدليل على ان الاستصحاب حجة للدفع دون الالزام ﴾

ترجمه : او بعض د دلائلو نه پدے خبره چه نوی دلیل په هغے کښې مگر حجت دپاره د دفعے وی نه دپاره د الزام مسئله د مفقود ده چه دے به ژوندے حسابیږی خپل نفس کښې او میت به حسابیږی په حق د غیر کښې نو دے صلاحیت د دفعے لری او د الزام نه لری۔

﴿ فانه لا یستحق غیره میراثه ﴾ ځکه چه مستحق نه وی غیر دده د اقرباؤ نه د میراث دده او کچرے ځوك مړ شو د رشته دارانو دده نه په حالت د فقدان دده کښې نو میراث به نه وړی دے د هغه نه نو دفع به شی استحقاق د غیر بلا دلیله او استحقاق خو ده لره بلا دلیله ثابتیږی نه۔

﴿ فان قیل عن ابی حنیفة ﴾ کچرے اووئیلے شی په اعتراض کښې چه روایت کړے شویدے د امام ابو حنیفه رحمه الله نه چه هغه وائی چه نشته خُمس په عنبرو کښې (دا یو خوشبوئی ده چه په اوبو کښې موجودیږی)۔

﴿ لان الاثر لم یرد ﴾ ځکه چه ورود د اثر پدے خمس د عنبر باندے راغلے ندے او دا خو تمسك په عدم دلیل باندے دے نو دلته خو تاسو عدم د علت مؤثر گرځوی په عدم د حکم کښې او دا خو ستاسو په نزد د استدلالاتو فاسده و نه دے۔

﴿ قلنا ﴾

مونږ ورته په جواب کښې وایو چه ذکر کړیدی امام ابو حنیفه دا عدم وجود د اثر په بیان د عذر (۱) کښې دے چه امام ابو حنیفه قائل ندے په وجوب د خمس په عنبرو کښې او ددے وجے نه د امام محمد چه کله د امام ابو حنیفه نه تپوس اوکړو د خمس متعلق په عنبرو کښې نو امام محمد ورته اووئیل چه څه دے حال دلیل د عنبرو چه په هغے کښې ته قول نه کوے په خمس باندے په عنبرو کښې نو هغه ورته دا اوونه وئیل چه پدے اثر ندے وارد شوے

---

(۱) یعنی د عدم ورود اثر خبره امام ابو حنیفه په طریقه د احتجاج او استدلال نه ده کړی بلکه په طریقه د عذر د عدم قول نه بالخمس ځکه د قیاس تقاضیٰ عدم د خمس دی په عنبرو کښې او اثر په ترك د قیاس نه دی راغلی نو امام قول بالقیاس وکړو۔ فتدبر۔ سید فضل الحق۔

بلکه هغه ورته اووئیل ځکه چه دا عنبر په شان د مهی دی په مهی کښې خمس نشته نو په عنبرو کښې به هم نه وی نو امام محمد ورته اووئیل څه دلیل دے د سمك چه په هغه کښې خمس نشته نو امام ابو حنیفه ورته اووئیل : کله چه دا په شان د اوبو دی او په اوبو کښې خمس نه وی نو پدے کښې به هم نه وی دا ئے اونه وئیل چه پدے کښې اثر نشته بلکه تشبیهات ئے ذکر کړل نو امام ابو حنیفه استدلال د عدم د حکم په عدم د علت باندے ندے کړے۔

والله اعلم بالصواب – الله په صواب باندے اعلم دے۔

وبه تمّ الکتاب بالخیر

خلاصه د اصول الشاشي :

موضوع د علم اصول عند الجمهور الادلة والاحکامات معلّچه محيث وي په حيثيت د اثبات سره نو تعدد موضوعاتو رانغي او موضوع د علم الاصول عند المحققين الادله فقط او احکامات ذکر کيږي تبعاً لا اصالةً ـ

اصول د فقه څلور دي کتاب الله، سنت رسول، اجماع او قياس، کتاب الله مقدم ذکر کوي څکه کلام د الله دے دويم سنت رسول ذکر کوي څکه چه کلام الرسول دے او دريم اجماع ذکر کوي او څلورم قياس ذکر کوي -

کتاب الله کښې تقسيمات اربعه دي او اقسام ئے شل دي -

اول تقسيم په کتاب الله کښې بحسب الوضع دے او اقسام ما حصل ددينه څلور دي خاص، عام، مشترك، مؤول ـ وجه د حصر پدے څلورو کښې دا ده چه لفظ موضوعه به يا واضع وضع کړے وي د معنی واحد دپاره او يا به ئے وضع کړے وي د معانيو متعددو دپاره که وضع کړے وو واضع دپاره د معنی واحدے دپاره نو يا به پکښې لحاظ د انفراد وي يا به نه وي که لحاظ د انفراد پکښې وو نو دا خاص دے او که لحاظ د انفراد پکښې نه وو نو دا عام دے او که واضع وضع کړے وو د معانيو متعددو دپاره نو بيا به خالي نه يا به ترجيح د بعض معانيو په بعضو باندے راغلې وي او يا به نه وي راغلې که ترجيح راغلے وه نو دا مؤول دے او که ترجيح نه وه راغلے نو دا مشترك دے ـ

خاص : په اصطلاح د اصولينو کښې په درے قسمه دے خاص شخصي، خاص نوعي، او خاص جنسي-

او عام په دوه قسمه دے عام لفظي او عام معنوي او حکم د خاص او د عام وجوب العمل دے په طريقے د قطع او د يقين سره د خاص په مقابله کښې دليل ظني راشي چه خبر واحد دے که قياس وي يا سياق سباق وي يا بله يوه قرينه وي نو کچرے عمل په دواړو باندے ممکن وو نو په دواړو به عمل کوو څکه اصل په دلائلو کښې اعمال دے نه اهمال او

کچرے عمل په دواړو ممکن نه وو موږ به عمل په خاص کوو او دلیل ظني به ترك کوو لکه ثلاثه قروء احناف په حیضونو حمل کوي او شوافع ئے په اطهارو باندے حمل کوي دلته کچرے موږ قروء په حیضونو باندے حمل نکړو نو په خاص د کتاب الله باندے عمل نه راځي چه ثلاثه دے او که په اطهارو باندے حمل کړو نو اطهار ثلاثه نه جوړیږي نو عمل په خاص د کتاب الله نه راځي۔

پدے باندے ئے صاحب شاشي متعدد تفریعات متفرع کړي وو لکه حکم د رجوع په حیض ثالث کښ حکم د زوال، دارنګه تصحیح د نکاح دویم مثال د خاص ئے دا ذکر کړو چه قد علمنا ما فرضنا علیهم في ازواجهم ۔ نو دا په تقدیر شرعي کښ خاص دے او امام شافعي قیاس کړیدے د مهر په عقودو مالیو باندے نو دے په مهر کښ په تعین باندے قائل نه دے ۔ موږ وایو په مهر کښ تعین د طرفه د شارع نه دے خو کله تعین راشي په جانب د اقل کښ او کله تعین راشي په جانب د اکثر کښ او کله تعین راشي په جانبینو کښ نو دلته تعین په جانب د اقل کښ دے او په جانب د اکثر کښ تعین نشته په دلیل د قول د جابر رضی الله عنه سر چه الا لا یزوج النساء الا الاولیاء ولا یزوجن الا من الاکفاء ولا مهر اقل من عشرة دراهم ۔ نو کم مقدار متعین شو د مهر ددے تفویض موږ رائے د متعاقدینو ته نه وایو کما ذهب الیه الشافعي او اکثر د مهر موږ هم رائے د متعاقدینو ته مفوّض وایو۔

پدے باندے ئے متعدد تفریعات اوکړل چه عقد نکاحی قابل للفسخ ندے عندنا او قابل للفسخ دے عند الشافعي دارنګه طلاق مجمعا وي او که مفترقا وي امام شافعي ئے جائز وائي بلاکراهته او موږ ئے جائز نه وایو۔

دارنګه مثال د خاص د کتاب الله ئے ذکر کړو چه د هغے په مقابله کښ خبر واحد راغلے وي لکه حتی تنکح زوجا غیره دا آیت خاص دے پدے کښ چه نکاح بعبارة النساء جائز دے ددے په مقابل کښ حدیث دے چه ایما امرأة نکحت بغیر اذن ولیها فنکاحها باطل باطل باطل نو ددینه عدم جواز د انعقاد د نکاح بعبارة النساء معلومیږي عمل په دواړو باندے ممکن ندے نو موږ خاص د کتاب الله معمول اوګرځولو او ددے په مقابل کښ خبر واحد موږ متروك کړو۔

د عام تنویع ئے اوکړه نوعینو ته عام مخصوص عنه البعض او عام غیر مخصوص عنه البعض۔

د عام غیر مخصوص عنه البعض حکم قطعیت دے په شان د خاص د کتاب الله او امام شافعی وائی چه حکم د عام د ظنی دے او دے استدلال نیسی پدے مقوله د ابن عباس باندے چه ما من عام الا وقد خص عنه البعض مونږ وایو دا احتمال غیر ناشی عن دلیل دے او داسے احتمال قادح په قطعیت کښې نه وی۔

او عام مخصوص عنه البعض حکم ظنیت دے۔

نو عام غیر مخصوص عنه البعض قطعی دے په شان د خاص د کتاب الله نو کچرے په مقابل ددے کښې دلیل ظنی راشی نو کچرے عمل په دواړو باندے ممکن وو نو فبها ونعم او کچرے عمل په دواړو ممکن نه وو نو مونږ به عام د کتاب الله معمول اوګرځوو او د هغے په مقابل کښې دلیل ظنی به متروك وی۔

پدے باندے ئے تفریع ذکر کړیده چه قطع د ید د سارق اوکړے شوه پس د هلاکت د مال مسروقه نه په ید د سارق کښې نو وجوب به په سارق باندے نه وی علاوه د قطع الید نه بیا ئے قول د امام محمد په طور د تائید ذکر کړو پدے چه کلمه د ما عامه ده۔

دارنګه فاقرؤا ما تیسر من القرآن کښې کلمه د ما عامه ده۔

نو پدے حدیث سره چه لا صلاة الا بفاتحة الکتاب دے مونږ به داسے عمل کوو چه مطلق قرائت ته مونږ فرض وایو او قرائت د فاتحے واجب وایو په حق د منفرد او د امام کښې نه په حق د مقتدی کښې ځکه چه قرائت د امام قرائت دپاره د ماموم وی۔

دارنګه په ولا تأکلوا مما لم یذکر اسم الله علیه کښې کلمه د ما عامه ده نو مونږ وایو چه متروك التسمیه عامداً مرداره ده او ددے په مقابل کښې دا حدیث د نبی علیه السلام چه کلوا فان تسمیة الله فی قلب کل مسلم۔ دا تقاضا کوی د حل، او حل او حرمت خو په یو ځائے کښې جمع کیدے نشی نو مونږ د عام د کتاب الله معمول اوګرځوو او ددے مقابل کښې خبر واحد چه دلیل ظنی دے هغه مونږ ترك کړو۔

دارنګه وامهاتکم اللاتی ارضعنکم په اعتبار د عموم ددے سره مطلق رضاعت محرم

دے او په حدیث کښې راغلی چه مصه او مصتین او املاجه او املاجتین سره حرمت رضاعت نه راځی نو حل او حرمت خو په محل واحده کښې جمع کیدے نشی نو مونږ به په عام د کتاب الله عمل اوکړو او ددے په مقابل کښې دلیل ظنی به مونږ متروك کړو ـ

دویم قسم هغه عام دے چه په هغے کښې تخصیص د بعض افرادو راغلے وی حکم ددے دادے چه دا به واجب العمل وی په طریقے د ظنیت سره دا ما هو المختار قول دے ځکه چه دے ذو شبهین دے من وجه مشابهت ئے د استثناء سره دے په اخراج کښې او من وجه مشابهت ئے د ناسخ سره دے په استقلال کښې او کوم شے چه ذو شبهین وی نو په دواړو شبهین باندے ئے عمل پکار وی نو قطعیت پکښې ختم شو او مفید دپاره د ظن شو او واجب العمل دے ـ

بیا د خاص عام اتفاقی نه روستو خاص عام اختلافی ذکر کوی چه مطلق او مقید دی دا د امام شافعی په نزد د عام د قبیلے نه دی او په نزد د احنافو باندے مطلق د خاص د قبیلے نه دے او مقید د عام د قبیلے نه دے نو مونږ پدے باندے عمل په شان د عام او عام د کتاب الله کوو ـ

بیا پنځه صورتونه په حمل د مطلق علی المقید ذکر کوی دوه صورتونه اتفاقی دی او درے اختلافی دی (۱) حمل د مطلق په مقید باندے چه کله حادثه او حکم جدا جدا وی نو دلته حمل د مطلق په مقید باندے جائز ندے اتفاقاً عندنا وعند الشافعی ـ

(۲) حادثه یوه وی او حکم هم یو وی خو یو حکم مطلق وی او بل مقید وی نو دلته حمل د مطلق په مقید باندے اتفاقاً دے عندنا وعند الشافعی ـ درے صورتونه اختلافی دی (۱) حادثتین مختلف وی او حکم یو دے نو دلته حمل د مطلق علی المقید عندنا نشته دے او عند الشافعی شته لکه کفاره د قتل جدا حادثه ده او کفاره د یمین جدا حادثه ده او حکم ئے یو دے چه تحریر د رقبے دے نو دلته امام شافعی دواړه رقبے مقید کوی په قید دایمان سره مطلق رقبه حمل کوی په رقبه مومنه باندے او مونږ حمل د مطلق په مقید نه کوو بلکه مطلق په خپل اطلاق او مقید په خپل تقید جاری کوو ـ

(۲) چه حادثه یوه وی او حکم ئے مختلف وی لکه حادثه د ظهار چه حکم ددے دپاره

اعتاق د رقبے دے دارنگه روژی دوه میاشتے پرله پسے ۔ دا دواړه مقید دی په قید د من قبل ان یتماسا باندے دارنگه حکم د اطعام دے شپیته مسکینانو ته دا په قید د من قبل ان یتماسا باندے مطلق دے نو امام شافعی دا په مقید حمل کوی او مونږ ئے نه حمل کوو۔

(۳) چه مطلق او مقید داخل شی په اسبابو باندے لکه حدیث کښ راځی ادوا عن کل حر وعبد ۔ نو عند الاحناف وجوب د صدقه د فطر په مولیٰ لازم دے که عبد مومن وی او که کافر۔ او امام شافعی حمل د مطلق په مقید کوی چه کچرے عبد مومن وو نو مولیٰ باندے وجوب صدقة الفطر لازم دے او که رقبه کافره وه نو بیا په مولا باندے وجوب د صدقة الفطر نشته د طرفه دده نه، دے دلیل نیسی په دے قول د نبی علیه السلام چه ادوا عن کل حر وعبد مؤمن ۔ مونږ وایو چه اسبابو کښ تضاد هم نشته مطلق هم ددے دپاره سبب دے او مقید هم ددے دپاره سبب دے ۔

بیا پدے باندے سوال راځی چه کتاب الله مسح د رأس کښ مطلق مسح د بعض لازموی دارنگه مطلقه ښځه چه د بل خاوند سره نکاح اوکړی نو د حرمت انتهاء په مطلق نکاح سره راځی او تاسو مسح د رأس په ربع الناصیه باندے مقید کوئ دا تقید دے په حدیث سره چه ظنی دے ۔

دارنگه انتهاء د حرمت غلیظه په وطئ سره وائی تاسو په حدیث د رفاعه سره دا تقید د کتاب الله دے په خبر واحد ظنی سره ۔

ده د هغے نه جواب کړیدے چه په مسح الرأس کښ کتاب الله مجمل دے او خبر واحد د هغے دپاره بیان دے او دارنگه تقید د انتهاء د حرمت غلیظه بالوطی دا ددے آیت نه معلومیږی او یا د حدیث د رفاعه نه ئے معلوموخو دا خبر واحد نه دے بلکه خبر مشهور دے او تقید د کتاب الله په خبر مشهوره سره جائز دے عندنا ۔

بیا بحث د مشترك او مؤول کوی او د دوی تعریفونه کوی بیا تائید په قول د امام محمد سره ذکر کوی چه اذا اوصی لموالی بنی فلان او د فلان دپاره موالی اعلیٰ او اسفل دواړه وی نو دلته عمل په وصیت باندے ممکن ندے نو قول به کیږی په لغویت د کلام د موصی باندے۔

دارنګه په عموم د مشترك باندے احناف قائل ندی او شوافع پرے قائل دی پدے باندے متعدد تفریعات صاحب شاشی کړیدی۔

بیا دویم تقسیم د کتاب الله بحسب الاستعمال دے چه ددے نه اقسام ما حصل څلور دی حقیقت، مجاز، صریح، کنایه وجه د د حصر پدے څلورو کښ دا ده چه دا لفظ مستعمله موضوعه به خالی نه وی یا به مستعمل وی په خپله معنی موضوع له کښ وی یا به نه وی که وو نو حقیقت دے او که نه وو نو مجاز دے هر واحد ددے نه یا به په طریقه د وضوح سره وی او یا به نه وی که وو نو صریح او که نه وو نو کنایه۔

ددوه انواع د استعمال او دوه نوعین د جریان دی۔

او دا الفاظ مترادفه دی او معنی ئے واحده ده صرف فرق اعتباری دے۔

بیا حقیقت او مجاز اقسام اولی دی او صریح او کنایه اقسام ثانوی او اقسام الاقسام دی۔

حقیقت په څلور قسمه دے حقیقت لغویه، حقیقت شرعیه، حقیقت عرفی د عرف عام او حقیقت عرفی د عرف خاص۔

جمع بین الحقیقة والمجاز عند الاحناف جائز نده نو کله چه معنی مجازی اراده کړے شی نو معنی حقیقی به بیا نشی اراده کولے نو په هغه حدیث کښ: لاتبیعوا الدرهم بالدرهمین ولا الصاع بالصاعین مراد مونږ د صاع نه معنی مجازی اغستے ده چه ما یحل فی الصاع دے او دا عام دے برابره خبره ده چه د قبیلے د مطعوماتو نه وی او که د غیر مطعوماتو نه وی نو پدے حدیث کښ اعتبار د صاع حقیقی نشی کیدے۔

دارنګه په آیت د ملامسه کښ چه کله د لمس نه مونږ معنی مجازی واغسته چه وطی ده نو معنی حقیقی چه مسح بالید ده دا به متروك وی ځکه که دواړه معنی ګانے اراده کوو نو جمع بین الحقیقة والمجاز راځی وهذا لا یجوز عندنا۔

بیا تائید په قول د امام محمد ذکر کړو په وصیت د موالیو باندے چه د موصی دپاره موالی بالذات هم وی او موالی بالواسطه هم وی نو دا وصیت د موالیو بالذات په حق کښ دے موالی بالواسطه چه معتق المعتق دی د هغوی په حق کښ نه دے صحیح۔

دارنگه چه موصی وصیت للابناء اوکړو نو ابن بالذات به په وصیت کښې داخل وی او ابن الابن به پکښې داخل نه وی ـ

سوال پرې راتلو چه کله سړې امان طلب کړو دپاره د ابناؤ نو دا ابن او ابن الابن دواړو ته شامل دې او اطلاق د ابن په ابن باندې حقیقةً دې او په ابن الابن باندې مجازاً دې نو دا خو جمع بین الحقیقة والمجاز کښې ده ـ

ده جواب کړې وو چه دا مسئله د حقن الدم ده نو ددې وجې نه مونږ تناول ظاهری شبهه معتبره کړه نو امان ابن الابن ته شامل شو ـ

سوال پرې راځی چه حق الدم پکار ده چه په آباؤ او په اجدادو کښې هم معتبر کړئ کله چه سړې امان طلب کړو دپاره د آباؤ او په امهاتو نو پکار ده چه جد او جده هم پدې کښې داخل کړی او دلته خو ئې تاسو په امان کښې نه داخلوئ ـ

نو صاحب شاشی جواب کوی چه دلته مونږ ابن الابن په امان د ابن کښې داخلوو بالتبع چه دا تبع دې او جد اصل دې هر کله چه دې مونږ تابع د اب اوګرځوو یا جده تابع د ام اوګرځوو نو دا خلاف الوضع دې نو امان به دوی ته نه وی شامل ـ

سوال پرې راځی چه سړې قسم اوخوری چه والله لا اضع القدم فی دار فلان نو وضع القدم خو دیته وائی چه حافیاً دې وضع د قدم اوکړی او تاسو حنث د حالف باندې قائل ئې چه راکبا وی او که متنعلا وی او که حافیا وی نو دا جمع بین الحقیقة والمجاز ده ـ

ده **جواب** کړې وو چه دا په اعتبار د عموم د مجاز سره ده عموم د مجاز دیته وائی چه مونږ یوه معنی ثالثه اراده کړو او معنی حقیقی او مجازی ولره فردین ادعائین اوګرځوو۔

دارنګه دار مسکونه د فلان عام دې که په طریقې د ملك سرهٔ وی او که په طریقې د عاریت سره وی او که په طریقې د اجارې سره وی خو سکونت فی الدار عام دې چه حقیقةً وی او که حکماًوی نو کچرې حالف دار معطله د فلان ته داخل شو نو هم حانث دې ځکه چه هغه هم دار مسکونه د فلان دې ـ

بیا حقیقت انواع ثلاثو ته متنوع کوی حقیقت متعذره، حقیقت مهجوره، حقیقت مستعمله۔ حقیقت متعذره کښې صیرورت معنی مجازی ته کیږی او حقیقت مهجوره

عرفا یا شرعا کښې هم صیرورت معنی مجازی ته کیږی او په حقیقت مستعمله کښې د امام ابوحنیفه مذهب دا دے چه عمل کول په حقیقت اولیٰ دی او د حقیقت مستعمله صورتونه درے دی یو هغه حقیقت مستعمله دے چه د هغے په مقابل کښې مجاز نه وی نو دا اتفاقی دے بل هغه چه مجاز وی خو متعارف نه وی نو دا هم اتفاقی صورت دے دریم هغه حقیقت مستعمله دے چه د هغے په مقابل کښې مجاز متعارف راشی نو دلته صاحبین مجاز متعارف اولیٰ بالعمل وائی او امام ابوحنیفه عمل بالحقیقت اولیٰ بالعمل وائی ده دے دپاره ئے دا قسم د سری ذکر کړو چه والله لا آکل الحنطه نو اکل د دانو د حنطے عند الاحناف مستعمل دے نو کچرے ده دانے د غنمو اوخوړے نو حانث دے او که روټئ ئے اوخوړه نو حانث ندے او صاحبین وائی چه ما یتخذ من الحنطه باندے به حانثیږی په طریقے د عموم د مجاز سره بیا یوه بله مسئله اختلافیه ذکر کوی چه امام ابوحنیفه وائی چه مجاز خلف د حقیقت نه په تلفظ کښې دے او صاحبین وائی چه په حکم کښې دے۔

مقدمات خمسه دی څلور اتفاقی دی یوه اختلافی اتفاقی دا دی (۱) حقیقت اصل دے مجاز خلف دے (۲) حقیقت به متصور الوجود وی نو هله به صیرورت کیږی معنی مجازی ته که نه وو نو صیرورت معنی مجازی ته نه کیږی (۳) حقیقت چه متعذر شی نو هله به صیرورت کیږی معنی مجازی ته والا فلا۔

(٤) حقیقت او مجاز صفات د لفظ دی او صفات د معنی او استعمال بالواسطه دی۔

(٥) مقدمه اختلافی چه مجاز خو خلف دے د حقیقت نه په حکم کښې دے او که په لفظ کښې دے صاحبین ئے فی الحکم وائی او امام ابوحنیفه ئے فی التلفظ وائی ثمره د خلاف دا ده چه اصغرسناً اکبر سناً ته اووائی چه هذا ابنی نو صاحبین وائی کلام لغوه دے ځکه چه حقیقت به متصور الوجود وی او دلته ندے متصور او امام ابوحنیفه په لغویت ندے قائل او مجاز ئے گرځولے د عتق نه ځکه هغه مجاز خلف د حقیقت نه فی اللفظ وائی۔

بیا مدار د حقیقت او د مجاز په علاقے باندے وی یوه علاقه د علتیت او معلولیت ده او بله علاقه د سببیت او مسببیت ده کوم ځائے کښې چه علاقه د علیت او معلولیت راشی

نو هلته استعاره د جانبينو نه صحيح ده او كه علاقه د سببيت مسببيت وه نو هلته استعاره د اصل دپاره د فرع صحيح ده ذكر د سبب او مراد ترينه سبب صحيح دے او عكس صحيح نه دے ۔

بيا اقسام د استعاره ذكر كوى څكه چه استعاره مراد ده د مجاز سره اقسام د استعاره دا دى استعاره مصرحه استعاره مكنيه عنها استعاره تخيليه ۔ استعاره ترشيحيه ده او په علت او معلول كښ هم چه پده باندے تخفيف نه وو نو بيا به استعاره وى او كوم ځائے كښ چه تخفيف راتلو نو د ظاهرى تهمت د وجے نه به قاضى دده نيت نه معتبروى بلكه دده كلام به رد كړى نو پدے باندے ئے كلمه د ملك او د شراء ذكر كړه ۔

دارنګه انعقاد د نكاح په الفاظو د بيعے او د شراء سره ئے هم ذكر كړه څكه دلته علاقه د سببيت او مسببيت ده خو شرط به پدے كښ دا وى چه دا سبب مختص په مسبب پورے نه وى او كچرے وو نو بيا ددے حال په شان د علت او معلول دے استعاره پكښ د جانبينو نه صحيح ده ۔

بيا اقسام اخرين ذكر كوى صريح او كنايه ۔ په صريح كښ نيت ته ضرورت نه وى او په كنايه كښ يو نوعه قصور وى نو نيت ته به پكښ ضرورت وى ۔

دريم تقسيم بحسب البيان دے ددينه دوى تعبير كوى په متقابلاتو سره ۔ اقسام ما حصل ددينه څلور دى ظاهر، نص، مفسر، محكم، وجه د حصر پدے څلورو كښ دا ده چه دا لفظ ظاهر المراد به خالى نه وى يا به محتمل د تاويل وى يا به نه وى كه وو نو يا به سوق د كلام د معنى دپاره شوے وى او يا نه وى شوے كه سوق شوے وو نو نص او كه نه وو نو ظاهر او كه محتمل د تاويل نه وو نو بيا به خالى نه وى يا به پدے كښ احتمال د نسخ وى او يا نه وى كه احتمال د نسخ پكښ وو نو مفسر او كه نه وو نو محكم دے د ظاهر او د نص دپاره ئے مثال ذكر كړو : احل الله البيع وحرم الربا ۔ سوق د كلام دپاره د تفرقے دے خو ظاهر هغے ته وائى چه ماظهر المراد منه بنفس الصيغه نو د نفس صيغے نه حلت د بيع او حرمت د ربا معلوميږى ۔

دويم مثال ئے ذكر كړو فانكحوا ما طاب لكم من النساء مثنى وثلاث ورباع – ظاهر

دے په اباحت د نکاح کښې او سوق ئے شوید ے دپاره د بیان د عدد ۔

مفسر : د تفسیر نه ماخوذ دے مکشوف ته وئیلے کیږی پدے کښې هم کشف تام وی مثال ئے دا دے چه یو سړی اقرار اوکړو لـه علیّ الف من نقد هذا البلد نو دا من نقد هذا البلد دده طرف نه تفسیر شو ځکه الف احتمال لری چه غالب نقد البلد ډوی او یا نور نقود ډی وی نو هر کله چه ده تفسیر په من نقد هذا البلد سره اوکړو نو هغه احتمال ختم شو ۔

ددے څلورو په مقابل کښې څلور انواع د خفاء دی خفی مشکل، مجمل، متشابه ۔

وجه د حصر پکښې دا ده چه دا خفاء د خفی به یا د وجے د امر عارض غیر د صیغے د خفی نه وی نو دیته خفی وائی او یا به د نفس د صیغے د خفی د وجے نه خفاء راغلی وی نو دا به بیا خالی نه وی یا به ازاله د خفاء په تأمل سره کیږی او یا به نه کیږی که ازاله د خفاء په تأمل بعد الطلب سره کیده نو دا مشکل دے او که ازاله د خفاء په تأمل بعد الطلب سره نه کیده نو دا به بیا خالی نه وی یا به ئے بیان د طرفه د مجمل نه ممکن وی او یا به نه وی که ممکن وو نو دا مجمل دے او که ممکن نه وو نو دا متشابه دے امثله د هر واحد للوضاحت ئے هم ذکر کړه۔

بیا په طور د جملے معترضے سره مترکات د حقیقت هم ذکر کړل چه کله د عرف د وجے نه ترک د معنی حقیقی کیږی کله نا کله د نفس کلام د وجے نه ترک د معنی حقیقی کیدے شی کله د سیاق د وجے نه ترک د معنی حقیقی کیدے کله د طرفه د متکلم نه معنی حقیقی ترک کړے شی لکه فمن شاء فلیؤمن ومن شاء فلیکفر ۔ نو دلته د امر معنی حقیقی نده مراد چه وجوب دے ځکه ایمان حسن لعینہٖ دے (اقول قد مرّ ان الایمان حسن لغیره) او کفر قبیح لعینہٖ دے تعلیق په مشیت پورے قبلوی نه نو دلته امر د توبیخ دپاره دے

کله ترک د معنی حقیقی د محل د کلام د وجے نه کیدے شی لکه انعقاد د نکاح د حرے په لفظ د بیع سره نو دلته د محل د کلام د وجے نه معلومه شوه چه د بیع معنی حقیقی ترک کړے شویده او معنی مجازی مراد ده چه نکاح ده۔

بیا څلورم تقسیم د کتاب الله په حسب د استدلال سره دے ددے نه صاحب شاشی تعبیر کوی په متعلقات النصوص سره اقسام ما حصل ددینه هم څلور دی : عبارة النص،

اشارة النص، دلالة النص، اقتضاء النص۔

عبارة النص هغه ته وائی : ما سيق الكلام لاجله ۔

اشارة النص ما ثبت بنظم النص بغير الزيادة۔

د دوارو دپاره ئے مثال ذکر کړو : للفقراء المهاجرين الذين اخرجوا من ديارهم ۔ امام شافعی رحمه الله وائی چه مراد ددے فقراؤ نه فقراء حقيقيه دی ځکه چه دوی په مکه مکرمه کښ فقراء وو مونږ وايو په مکه کښ دوی فقراء نه وو ځکه دوی ته نسبت د ديارو شويدے په اخرجوا من ديارهم واموالهم سره که تاسو اووائے چه اطلاق د فقراؤ پدوی باندے مجازا دے د وجے د بعد اليد نه نو مونږ وايو چه کله معنی حقيقی صحيح کيږی نو صيرورت معنی مجازی ته ضرورت نه لری نو مونږ وايو چه اطلاق د فقراء په دوی باندے حقيقةً شويدے ځکه استيلاء د کافرو سبب دے دپاره د ثبوت د ملك د کافر دپاره امام شافعی وائی چه دا يو محظور دے او ملك نعمت دے پدے سره ملك نشی مرتب کيدے پدے باندے ئے احکامات کثيره مرتب کړی وو ۔

بيا ئے يو دويمه مسئله ذکر کړے وه چه جنابت منافی د صوم سره ندے ځکه قرآن کښ حکم دا دے چه احل لکم ليلة الصيام الرفث الی نساء کم الخ ثم اتموا الصيام الی الليل ۔ نو دا خطاب به ورته په هغه صورت کښ متوجه وی چه په کوم وخت کښ د صيام حکم ورته متوجه شی نو که په هغه وخت کښ جنابت وی نو خير دے ۔

دارنگه چه يو سړی په روژه کښ څه شی اوڅکل نو دا منافی د صوم سره ندے ۔

بيا دلالة النص او اقتضاء النص ئے ذکر کړل ۔

دلالة النص هغه دے چه د هغے علت د منصوص عليه دپاره معلوميږی لغةً نو بناء پدے مثال ئے ذکر کړو چه ولا تقل لهما اف ولا تنهر هما ۔ نو دلته اف د نفی د ايذاء دپاره دے نو هر هغه شے چه ايذاء الوالدين ته رسيږی نو هغه حرام دے نو ضرب ا وشتم او استخدام د والدينو نه حرام دے ۔

دارنگه قول د قاضی امام ابوزيد قول ئے نقل کړو چه يو قوم اف کرامت د والدينو دپاره استعمالوی نو بيا اف وئيل والدينو ته حرام نه دے د هغوی په اصطلاح کښ۔

دارنګه سعی الی الجمعة ئے ذکر کړه نو کچرے بیع پداسے طریقه سره وه چه مخل د سعی الی الجمعه نه وه پدے شان سره چه په ګاړی ، کشتۍ کښں ئے بیعه کوله چه هغه جمعے ته روان وه نو بیا بیع حرامه نه ده۔

اقتضاء النص : امر زائده وی په نص باندے ګویا چه دے نص د هغے اقتضاء اوکړه بیا بحث د امر ذکر کوی ځکه امر د خاص د قبیلے نه دے د امر معنی لغوی او اصطلاحی ئے ذکر کړه بیا موجب د امر ذکر کوی چه امر تقاضا د تکرار نه کوی بلکه موجب د امر عند جمهور الاصولین لزوم دے پدے باندے ئے شعر د حماسی ذکر کړو بیا ذکر کړل چه امر بالفعل تقاضا د تکرار نه کوی عند الاحناف او امام شافعی رحمه الله وائی چه تقاضا د تکرار کوی بیا په مونږ اعتراضات واردیدل چه عبادات خو مکرر دی او امر پکښں یو ځل شویدے د هغے نه ئے جواب اوکړو چه دا مکرر دی د امر تقدیر د وجے نه او یا د وجے د تکرار د اسبابو نه۔

په امر سره مامور به لازمیږی نو د مامور به تقسیم ئے اوکړو نوعینو ته مامور به مطلق او مامور به مقید په درے قسمه ده د هغے اقسام ئے ذکر کړل ۔

بیا کوم شے چه واجب بالامر شی نو هغه په دوه قسمه ده قضاء او اداء د اداء درے انواع دی او د قضاء څلور انواع دی نو (۷) شول نو (۷+۷= ۱۴) نو مجموعه (۱۴) انوع دی خو ده اختصار نه کار اغستے دے بعض صورتونه ئے ذکر کړیدی او بعض ئے ندی ذکر کړی ۔

بیا نهی هم د خاص د قبیلے نه ده دا هم ذکر کوی بیا نهی په دوه قسمه وه نهی د افعال شرعیه و نه او نهی د افعال حسیه و نه مسئله اختلافیه وه عندنا وعند الشافعی نهی د افعال حسیه و نه تقاضا د قباحت لعینه کوی بالاتفاق او نهی د افعال شرعیه و نه تقاضا د قباحت لغیره کوی عندنا او عند الشافعی تقاضا د قباحت لغیره کوی پدے باندے متعدد تفریعات ئے اوکړل۔

بیا ئے طرق د معرفت د مراد د نصوصو نه ذکر کړل چه بعض د هغه طرقو نه دا دے چه یو لفظ حقیقت وی په یوه معنی کښں مجاز وی په بله معنی نو مونږ به ئے معنی حقیقی اخلو۔

دارنګه بعض د هغه طرقو نه دا ده چه یو د محملینو نه چه په یو کښں تخصیص

لازمیږی او په بل کښې عدم تخصیص لازمیږی نو حمل کول ئې په عام باندې اولیٰ دی۔

دارنګه نص چه مقروء په قرائتینو باندې وی نو حمل په هغه قرائت چه عمل په دواړو وجهینو سره راځی دا اولیٰ دے د هغه قرائت نه چه په هغې سره عمل په یوه طریقه راځی بیا طریقه د تمسکاتو ذکرکړه۔

بیا ئې تمسکات ضعیفه ذکر کړل چه ددینه تعبیر په تمسکات فاسده و سره کیږی چه تمسک پدې حدیث چه انه قاء فلم یتوضأ ددینه تمسک نیول په عدم د نقض الوضوء باندې دا صحیح نه دے مونږ وایو چه فاء د تعقیب مع الوصل دپاره متصل ئې اودس اونکړو او یا ددینه قئ قلیله مراد دے۔

دارنګه تمسک پدې قول د نبی علیه السلام (فی اربعین شاةً شاةٌ) پدې تمسک نیول پدې چه ورکول د قیمت په زکوٰة کښې جائز ندی دا تمسک صحیح نه دے۔

بیا ئې په طریقه د جملې معترضې بحث د حروف معانیو ذکر کړو حروف عاطفه کثیر وو نو هغه ئې مقدم کړل په حروف عاطفه و کښې واو د مطلق جمع دپاره وو نو هغه ئې مقدم ذکرو بیا ئې غلبه ورکړه اسماؤ لره په حروفو باندې تول ئې مسمی کړل په بحث الحروف باندې۔

بیا حروف جاره ذکر کړل بیا ئې انواع د بیان ذکر کړل چه کتاب الله احتمال د بیان لری نو د هغې دپاره ئې اووه (۷) انواع ذکر کړل بیان تقریر، بیان تفسیر، بیان تغییر، بیان ضرورت، بیان حال، بیان عطف، بیان تبدیل د هر یو دپاره ئې مستقل فصلونه ذکر کړل۔

بیا ئې بحث د سنت ذکر کړو کوم تقسیمات چه په کتاب الله کښې وو نو هغه په سنت کښې هم وو خو د ما یختص به السنت تقسیم ئې اوکړو انواع ثلاثه و ته خبر واحد، خبر مشهور، خبر متواتر د هر یو حکم ئې ذکر کړو۔ د خبر واحد دپاره ئې اته شرائط ذکر کړل څلور شرائط د مخبر او څلور شرائط په مخبر عنه کښې ئې ذکرکړل د هر یو دپاره ئې مثال ذکر کړو۔

بیا ئې بحث ثالث فی الاجماع ذکر کړو اجماع د امت حجت ده بعد وفات النبی ﷺ دا اجماع تقسیم ئې اوکړو درې نوعو ته اجماع مرکب، او اجماع غیر مرکب او اجماع عدم قائل بالفصل۔ بیا واجب په مجتهد باندې طلب د حکم د حادثې وی د کتاب الله نه د سنت رسول نه د اجماع نه او اخیره کښې قیاس دے نو څلورم بحث د قیاس ئې ذکر کړو۔

قیاس ئے مستعمل کړو په مباحثه سته و باندے ۔ حجت د قیاس، شرائط د قیاس پنځه شرائط د قیاس ئے ذکر کړل (۱) قیاس به په مقابله د نص کښې نه وی (۲) متضمن به نه وی تغیر د حکم د نص لره (۳) حکم معدیٰ به غیر معقول المعنی نه وی (٤) دا تعلیل به د امر شرعی دپاره وی د امر لغوی دپاره به نه وی (۵) په فرع کښې به نص موجود نه وی پدے باندے ئے تفریعات ذکر کړل او د هریو دپاره ئے مثال بیان کړول۔

معنی لغوی او معنی اصطلاحی د قیاس ئے ذکر کړه چه ترتب د حکم دے په غیر د منصوص علیه کښې په یوه معنی چه هغه علت وی خو علتیت چه ئے معلوم وی نو عندنا ملایمت او عدالت ورلره شرط دے او عند الشافعی طرد ولره شرط دے ۔

بیا دفع القیاس کښې ئے اعتراضات ثمانیه زمونږ د طرفه په علل طردیه و باندے واردیدل هغه ئے ذکر کړل دارنګه د شوافعو د طرفه بعض اعتراضات په علل مؤثره و واردیدل د هغے تذکره ئے اوکړه او د هغے د دفع دپاره ئے طرق بیان کړل او دا اساس وو د علم مناظره ۔

موضوع د علم الاصول الادلة والاحکامات وو نو د احکاماتو دپاره ئے ما یتعلق به الاحکام الشرعیه ئے ذکر کړل دا څلوردی، اسباب، علامه، علت، شرط ده اختصار اوکړو د سبب تذکره ئے اوکړه او علت او علامه او شرط ئے ندے ذکر کړے ۔

د سبب تنویع ئے انواع اربعه وته اوکړه د بعض عباداتو اسباب ئے ذکر کړل لکه د صوم دپاره شهر رمضان او د صلوة دپاره اوقات د صلوة اسباب دی اصل کښې وجوب ددے حکم د الله دے خو ایجاب د الله زمونږ نه غائب دے نو ظاهری سبب قائم مقام د سبب خفی شو ۔

بیا ئے تذکره د شرط اوکړه او شرط رفع د مانع ده نو ذکر د موانعو ئے تبعا اوکړو او څلور موانع ئے ذکر کړل (۱) هغه مانع چه مانع وی د انعقاد د علت نه (۲) هغه مانع چه هغه به تمام د علت منع کوی (۳) هغه مانع چه هغه به ابتداء د حکم منع کوی (٤) هغه مانع چه هغه به دوام د حکم منع کوی د هریو دپاره ئے امثله ذکر کړل ۔

بیا احکامات شریعه ئے منقسم کړل قسمینو ته عزیمت او رخصت د عزیمت ئے څلور اقسام ذکر کړل فرض واجب، سنت، نفل د عزیمت معنی او د اقسامو تفصیل ئے اوکړو ۔

د عزیمت مقابله کښې رخصت دې او د رخصت دوه اقسام ئې بیان کړل رخصت حقیقي او رخصت مجازي هر واحد د دوی نه اکمل او اخص دې صاحب شاشي اختصار کړیدې د هریو دپاره ئې مثال نه دې ذکر کړې.

د احتجاج بلا دلیل مختلف انواع ئې ذکر کړل.

یو پدې کښې تمسك کول دي په استصحاب الحال باندې چه دا صلاحیت دپاره د الزام نه لري او صلاحیت دپاره د دفع لري نو پدې باندې ئې مسئله د مفقود ذکر کړه.

زمونږ په نزد د علت د قیاس دپاره ملایمت او عدالت شرط دې نو د عدم د حکم دوجې د عدم د علت نه پدې باندې استدلال نیول صحیح نه دي البته که علت مختص وو په دغه معلول پورې نو بیا به عدم د علت مؤثر وي په عدم د حکم کښې.

بیا پرې اعتراضونه وارديدل نو په قول د امام محمد سره چه استفسار ئې کولو د امام ابوحنیفه نه جواب د هغې ئې اوکړو چه عدم د علت باندې استدلال په عدم د حکم سره صحیح نه دې ځکه د یو شي دپاره علل شتئ کیدې شي نو چه د یو علت د وجې نه ثابت نه وي نو د بل د وجې نه دې ثابت شي.